د

# احمد شاه ابدالي

# ژوند او فن

(د ایم فل تحقیقي مقاله)

تحقیق

قاضي حنیف الله حنیف

پیش لفظ

پروفېسر ډاکټر سلمیٰ شاهین

پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي

With Compliments of the Director
Pashto Academy
University of Peshawar

د

# احمد شاه ابدالي

# ژوند او فن

(د ایم فل تحقیقي مقاله)

تحقیق
قاضي حنیف الله حنیف

پیش لفظ
ډاکټر سلمیٰ شاهین

پښتو اکېډېمي پېښور یونیورسټي

حقوق د پښتو اکېډېمۍ پېښور يونيورسټۍ
په حق کښې محفوظ دي.

د پښتو اکېډېمۍ د مطبوعاتو سلسله نمبر **۲۴۴**

د کتاب نوم ـــــ د احمد شاه ابدالي ژوند او فن
ليکوال ـــــ قاضي حنيف الله حنيف
کمپوزر ـــــ ارشاد خان (پښتو اکېډېمي)
خوروونکي ـــــ ډائرېکټر پښتو اکېډېمي پېښور
يونيورسټي
شمېر ـــــ پنځۀ سوه (۵۰۰)
اشاعت ـــــ ۲۰۰۹ء
پرېس ـــــ جدون پرنټنګ پرېس پېښور
بيعه ـــــ څلور سوه (۴۰۰) روپۍ

د محمد جاوېد خليل په اهتمام په جدون پرنټنګ پرېس
پېښور کښې چاپ شو او د پښتو اکېډېمۍ پېښور
يونيورسټۍ نه خور شو.

پښتو اکېډيمي پېښور يونيورستي ددې کتاب د

اشاعت د پاره د اکادمي ادبيات اسلام اباد

د مالي تعاون مننه کوي۔

ACKU

ACKU

# فهرست



| شمیر | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | ځو خبرې پروفېسر ډاکټر سلمیٰ شاهین | ۷ |
| ۲ | مننه قاضي حنیف الله حنیف | ۱۰ |
| | **اول باب** | |
| ۳ | د ابدالي قوم مختصر تاریخ | ۱۲ |
| ۴ | د احمد شاه بابا د ژوند حالات | ۲۰ |
| ۵ | سیاسي رجحانات | ۳۳ |
| | **دویم باب** | |
| ۶ | احمد شاه بابا په حېث د یو شاعر | ۴۲ |
| ۷ | په حېث د یو پښتون | ۷۷ |
| ۸ | په حېث د یو بادشاه | ۹۲ |
| | **دریم باب** | |
| ۹ | تصوفي رجحانات | ۱۲۷ |
| ۱۰ | د هغهٔ پیر مرشد | ۱۹۸ |
| | **څلورم باب** | |
| ۱۱ | د احمد شاه بابا په شاعرۍ کښې پښتونولي | ۲۱۱ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۲ | د وطن او قام مینه | ۲۳۴ |
| ۱۳ | رومانیت | ۲۴۴ |
| ۱۴ | د اسلام او مذهب مینه | ۳۰۷ |
| | **پنځم باب** | |
| ۱۵ | د احمد شاه بابا شاعرانه مقام او د هغهٔ په دیوان او کلام کښې شعري محاسن | ۳۴۷ |
| ۱۶ | د احمد شاه بابا سیاسي عظمت او اهمیت د نورو دانشورانو ، محققینو او لیکوالو په نظر کښې | ۳۹۸ |
| ۱۷ | د احمد شاه بابا دروند شخصیت او د هغهٔ ادبي مقام د پښتنو دانشورانو لیکوالو په نظر کښې | ۴۱۵ |
| ۱۸ | کتاب نامه او ماخذونه | ۴۴۲ |

# ښو خبري

پښتو اکېډيمۍ دا فخر لري چې په پېښور يونيورسټۍ کښې يا ددې نه بهر د پښتو ژبې ، ادب ، ثقافت او تاريخ په څۀ موضوع يا کوم اړخ هم چې څۀ تحقيق د پي ايچ ډي (Ph.d) يا ايم فل (M.Phil)په سطح کېږي .هغه دې اکېډيمۍ شايع کړي . د پښتو اکېډيمۍ اغراض او مقاصد هم دا دي . چې دا قسم کارونو ته هر کلے اوکړي او داسې ادارې دي هم دې دپاره چې د علم و دانش رڼا خوره کړي.

زما دپاره دا ډېر د وياړ مقام دے چې په حېث د پښتو اکېډيمۍ د ډائرېکټرۍ زما په شپږ کاله وخت کښې د پبليکېشن په اړخ کښې ډېر کار شوے دے .او کېږي .سره ددې چې زۀ دا اعتراف کوم چې د څنې سېکشنونو کار ډېر ښکاره نۀ دے .د هغې وجه دا کېدے شي چې ما خپله ټوله توجه هم زياته پبليکېشن ته کړې ده .په دې کار کښې پبليکېشن افسر راسره پوره پوره مرسته کوي . ولې کۀ څنې اړخونه کمزوري پاتې شوي هم وي خو زۀ دا خپله خوش قسمتي ګنړم چې د تاريخي اهميت وړ کتابونه په دې

وخت کښې شایع شو ۔او د هغې د اهمیت اندازه دد ې نه لګي چې زمونږ شایع شوي کتابونه په ملکي او بین الاقوامي سطح ستائیلے شي او د تحقیق ضرورتونه پرې پوره کېږي ۔په خصوصي توګه د لوک ورثې په شراکت د ځلوېښتو ( ۴۰ ) هغه پراجېکټونو ذکر کول غواړم چې ډېر ضرورت ئې محسوسېدو ۔دوېم اهم تاریخي کار د خدیجه فیروزالدین په خوشحال خان خټک د پي ایچ ډي تحقیق ؤ ۔ چې په ۱۹۴۰ء کښې شوے ؤ ۔ولې تر چاپه اوس اورسېدو او نن ددغه پبلیکېشن سره سره د یو ډېر اهم شخصیت د پښتنو قومي اتل ( هېرو ) احمد شاه ابدالي چې د جاه و جلال سره ئې د شعرو فن هنر هم لرلو ۔په ژوند او فن تحقیق شایع کېږي۔

تاریخ او ادب دواړه د ژوند سره تړلي څیزونه دي ۔ادب د تاریخ محافظ دے ۔د تاریخ ګواهي د حکمرانانو تابع وي کله چې ادب د سوچه او ریښتوني جذبو ترجماني کوي او جذبې د مبالغې نه مبرا وي ۔احمد شاه ابدالي د هندوستان د تاریخ جوړونکے هم دے ۔خو د خپلو لطیفو جذباتو ترجماني ئې هم د شاعرۍ په ذریعه کړې ده ۔او د هغه حالاتو عکاسي ئې کړې ده ۔دا یقیناً چې د خلقو د دلچسپۍ سبب کېدے شي ۔چې یو بادشاه پخپله سینه دننه یو حساس زړۀ لري ۔او په زړۀ کښې د خپل اولس درد هم لري۔

زۀ ډېره خوشحاله یم چې پښتو اکېډیمي دد ې جوګه ده چې د پښتو تاریخي ، ادبي ، ثقافتي آثار راتلونکي نسلونو ته منتقل کوي ۔په دې کوشش کښې د ۱۹۵۵ء نه تر دې دمه دا کار په ډېره کامیابۍ سرته رسوي ۔

په احمد شاه ابدالي د اېم فل دا تحقيقي مقاله يقيناً چې د خپل نوعيت يو ډېر اهم کار دے او دا تحقيق به د پاکستان نه علاوه د افغانستان، هندوستان او ايران د محققينو او مؤرخينو دپاره هم د دلچسپۍ او استفادې باعث وي۔

قاضي حنيف الله حنيف چې زمونږ د اکېډيمۍ ملګرے دے۔ يو مشهور شاعر دے۔ هغه د شعر په روح پوهېږي۔ په دې وجه ئې د احمد شاه بابا په ژوند د څېړنې سره سره د هغۀ په شعرو فن هم په نوؤ زاويو او نوي انداز تحقيق کړے دے۔ چې د شعر و ادب د خاوندانو دپاره د اهميت وړ دے ۔دا تاريخي او ادبي دستاوېز د پښتو اکېډيمۍ پېښور يونيورسټۍ په مطبوعاتو کښې يوه غوره اضافه ده۔

پروفېسر ډاکټر سلمٰی شاهين
ډائرېکټر
پښتواکېډيمي پېښوريونيورسټي

# مننه

زۀ د پروفېسر ډاکټر شاهجهان صېب ، پروفېسر ډاکټر اقبال نسیم خټک صېب ، پروفېسرډاکټر سلمٰی شاهین صاحبې ، پروفېسر ډاکټر راج ولي شاه خټک صېب او د خپل ایم فل سپروائزر پروفېسر ډاکټر هدایت الله نعیم صېب د زړۀ د تل نه شکریه ادا کوم د چا په نګرانئ او سرپرستئ کښې چې د ایم فل په دومره بشپړه موضوع عظیم پښتون بادشاه ، عظیم فاتح او جرنېل، لوئے شاعر او نامور تاریخي ، ادبي شخصیت په ژوند او فن ما دا خپله تحقیقي مقاله په ښۀ طریقه سرته اورسوله.

زۀ د لوئے سکالر پروفېسر ډاکټر عارف نسیم صېب نوموړي محقق او شاعر همېش خلیل صېب ، جلال الدین کونړي صېب ، ډاکټر زرغونه زېور ریښتین صاحبې او پروفېسر ډاکټر قبله ایاز صېب په خصوصي توګه مننه کوم چې د هغوي خلوص او رهنمایئ ماته دا ګران کار آسان کړو.

د محمد جاوېد خلیل صېب هم ډېره مننه کوم چا چې ما دپاره دا دومره ښکلې او باوقاره موضوع خوښه کړې وه او په دې سلسله کښې ئې زما مرسته هم کړې ده.

زۀ د پروفېسر ډاکټریار محمد مغموم صېب ، پروفېسر ډاکټر محمد اسلام ګوهر صېب ، پروفېسر ډاکټر پرويز مهجور صېب او ډاکټر احمد علي عاجز صېب شکريه هم ضروري ګڼم چې تل ئې زما حوصله زياته کړې ده .

په آخره کښې د اکېډيمۍ د خپلو ټولو ملګرو محمد رسول، ارشاد خان ، نصرمن الله ،عبدالرحيم ، سجاد خان ، اسرار وغېره ډېره مننه کوم چې په دې سلسله کښې ئې دفتري امور ډېر په اخلاص ترسره کړل.

قاضي حنيف الله حنيف
ايم فل ، (پي ايچ ډي سکالر)
پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي
کلې بډهنۍ تحصيل پېښور

# اول باب

## ا - د ابدالي قوم مختصر تاريخ
## ب -د احمد شاه بابا د ژوند حالات
## ج - سياسي رجحانات

---

احمد شاه ابدالي خو په حېثيت د يو لوئے فاتح هر څوک پېژني - ولې د ډېرو کمو خلقو ته دا معلومه ده چې هغه که يو طرف ته يو نامتو جنګيالے او زبردست سپاهي وو- نو بل طرف يو رسېدلے صوفي ، لوړ عالم او خوږ ژبے شاعر هم ؤ - او په پښتو او فارسي دواړو ژبو کښې ئې شعر وئيلے دے - او ديوانونه لري - خو ددې نه مخکښې چې د لوئے بابا يعني احمد شاه ابدالي په حقله څۀ اوليکم زۀ دا ضروري ګڼم چې لوئے بابا چې د پښتنو کومې قبيلې سره تعلق لري يعني ابدال ، د هغې لنډه شان پېژند ګلو وړاندې کړم.

**د ابدالي قوم مختصر تاريخ** :- د ابدالي قوم باره کښې بهادر شاه ظفر کاکاخېل داسې ليکي :-

,, ابداليان ، ابداليانو کښې د زيرک د اولاد نه علاوه ددې قبيلې نورې خېلې په پنجپائے مشهورې دي.

د ابدالیانو علاقه تقریباً څلور سوه میله اوږده ده ـ او اووۀ شلې میله پلنه ده ـ د دوئي د علاقې حد د قطب په لور د هندوکش کوه بابا او کوه سیاه هغه حصې سره جنګېدلے دے چې هلته هزاره او ,,ایماق،، آباد دي ـ د دوي قبلئیځ حد د ایران سره او قبله په سویل د ,,شوراوک،، او د خواجه عمران غرونه دي ـ په دې غرونو کښې د ابدالیانو یوه طائفه اُڅک زي ، اوسېږي ـ او ددې غرونو په نمر ختیځه حصه کښې کاکړ آباد دي[1]،،.

لکه چې د شجره نسب نه معلومېږي د ترین درې زامن وو ـ چې ,, تور ، سپین او اودل ،، نومېدل ـ لیکن د تاترین په نامه صرف تور او سپین مشهور شول ـ

اودل په خپله نامه ځان له بیله څانګه شوه ـ تور ترین په پشین اودکې کښې او سپین ترین هرنائي دکې او چوتیره په علاه کښې استوګن دي ـ ترین په رسم و رواج او خویونو خصلتونو کښې د ابدالیانو په څېر دي[2]ـ

دا مصنف وړاندې لیکي :-

,, د ترین په زامنو کښې اودل کشر ؤ ـ ولې د پلار نه پس هغه د قام مشر شو ـ او د خپل ریاست په وخت کښې ئې خپل خلق د ځان نه خوشحاله اوساتل ـ داودل دوه زامن پاتې شول ـ سلیمان او زختر ـ په پلار پسې زختر د قام مشر شو ـ د روایاتو مطابق شپږ شلې کاله ژوندے ؤ او خپل اولاد ئې تر درې پشته اولیدو ـ د زختر

---

[1] پښتانۀ د تاریخ په رڼا کښې ، ص ۱۰۲۰

[2] هـــمـــدغـــه ، ص ۱۰۲۱

نه پس د هغهٔ د وصیت مطابق عیسیٰ د قام مشر شو ـ د عیسیٰ نه درې زامن پاتې شول ـ زیرک ، میر او نور ـ په پلار پسې زیرک د قام مشر شو ـ د زیرک څلور زامن وو ـ بارک ، الکو ، مستي او پوپل ـ زیرک په خپل ژوند کښې خپل ځائے بارک ته ورکړو ـ ولې څهٔ موده پس پوپل په چل ول مشري خان ته کړه ـ او خاني د پوپل کور ته راغله[1] ـ

د پوپل نه درې زامن پاتې شول ـ حبیب ، بارو او ایوب ـ ایوب د اولس خاني کوله ـ دوه پنځوس کاله ژوندے ؤ ـ د دهٔ شپږ زامن وو ـ چې د یو نوم پکښې بامي وو ـ د مشرۍ دپاره په وروڼو کښې جنګونه شروع شول ـ ولې وروستو د جرګې په صلاح بامي د قام په مشرۍ اوټاکلے شو[2] ـ

دا مصنف د ابدالي په حقله مخکښې لیکي :-

د بامي نه درې زامن پاتې شول ـ نصرت ، ګني او شها ـ په دوئي کښې یو هم د مشرۍ قابل نهٔ ؤ ـ په بامي پسې بهلول د قام مشر شو ـ چې د ,,ګني ،، زوئے ؤ ـ د دهٔ نه دوه زامن پاتې شول ـ مصروف او علي خان ـ

مصروف د قام مشر شو ـ په دهٔ پسې مشري عمر ته اورسیده ـ د عمر نه درې زامن پاتې شول ـ صالح ، اسدالله او دام ـ د قام مشري د اسدالله اورسیده ـ دغه سړے چې په عوامو کښې په سدو مشهور دے ـ او د دهٔ په نامه دا قبیله په سدوزي مشهوره ده ـ او د احمد شاه

---

[1] پښتانهٔ د تاریخ په رڼا کښې ، ص ١٠٢١

[2] همدغه ص ١٠٢١

غازي مشر نيکهٔ دے ـ اسدالله يو قابل سړے ؤ ـ د ابداليانو ټولې ټپې او د غلجيانو څنې څانګې ئې په خپله پره جنبه راواړولې او په ډېر عزت ئې خپل ژوند تېر کړو ـ د بادشاه اعظم د لوري د ابداليانو رئيس منلے شوے ؤ[1] ـ

اسدالله خان د فراه په جنګ کښې د مير محمود غلجي د لاسه اووژلے شو ـ ددې نه پس زمان خان د ابداليانو مشر شو ـ ددهٔ په وخت کښې په ابداليانو کښې بې اتفاقي پېدا شوه ـ د سردارۍ پحقله په دوئي کښې جنګونه شروع شول ـ او دا حالت د نادرشاه د حملې تر وخته قائم ؤ ـ دغه وخت ابداليان د مجبورۍ نه د دښمن مقابلې ته متفق شول ـ د زمان خان زوئے ذوالفقار خان ئې د فراه حاکم اومنلو ـ او الله يار خان ئې د هرات حاکم کړو ـ او دواړه د دښمن مقابلې په تابيا کښې لګيا شو ل ـ د نادرشاه او ابداليانو د جنګونو په موقع د ذوالفقار خان مدد ته شاه حسېن غلجي هم د قندرهار نه فوځي کمک راليږلے ؤ ـ ولې د نادرشاه په مقابله کښې دوي کامياب نهٔ شول[2] ـ

وړاندې ليکي :-

ذوالفقار خان د خپل ورور احمد خان (چې روستو احمد غازي شو) سره قندهار ته په تېښته لاړ ـ او د شاه حسېن غلجي سره دېره شول ـ ليکن د قندهار د استوګنې په وخت کښې شاه حسېن په دوي بدګمانه شو ـ او دوي ئې نظربند کړل ـ او کوم وخت چې د نادر شاه

---

[1] پښتانهٔ د تاريخ په رڼا کښې ، ص ۱۰۲۱
[2] هـــــــــدغــــــه ص ۱۰۲۳

په لاس قندهار تسخیر شو. دغه وخت دا دواړه ورونه هم د قید نه آزاد کړے شول. نادرشاه ددې ورونو د شکل شباهت، اخلاق او شرافت نه ډېر متاثره شو. او دوئي سره ئې ډېر ښۀ سلوک اوکړو. ددې نه پس د احمد شاه دپاره د ترقۍ لاره ازاده شوه. تردې چې د نادر شاه د مرګ نه پس هغه د پښتنو منتخب بادشاه شو. د ابداليانو دا ړومبے سلطنت چې باني ئې احمد شاه ؤ. په پوپلزو کښې د سدوزو په څانګه کښې ؤ. احمد شاه او د هغۀ اولاد په افغانستان او د پنجاب په څنو حصو باندې د ۱۷۴۷ء نه تر ۱۸۱۸ء پورې حکومت لرلو[1].

د ابدالي قوم په حقله انسائیکلوپیډیا داسې معلومات وړاندې کوي.

,, ابدالي د هغه افغان قبیلې نوم دے. چې اوس د دراني په نامه موصوف دے. دا قبیله د افغانانو سړبني شاخ سره تعلق لري. ددې قبیلې د خپل روایت مطابق ددې نسبت ابدال (یا اودل) ابن ترین بن شرخبون بن قیس سره دے. ابدال ورته ځکه وئیلے کېدل. چې هغه د چشتیه سلسلې د یو ابدال یا ولي الله خواجه ابو احمد ملازم ؤ.

ابدالي ډېرې مودې پورې د قندهار صوبې کښې ژوند کولو. خو د شاه عباس اول د حکومت ابتدائي زمانه کښې د غلزو قبیلې د دباؤ په وجه هغه صوبه هرات ته منتقل شو. شاه عباس د پوپلزي خیل سدو نومې سړے ددې قبیلې سردار جوړ کړو. او هغۀ ته ئې د

---

[1] پښتانۀ د تاریخ په رڼا کښې، ص ۲٤ — ۱۰۲۳

مير افاغنه خطاب ورکړو. دا خلق اګر چې د شاه عباس وفادار پاتې شول. خو سل کاله پس هغوئي هم د غلزيانو تقليد اوکړو. او خپل ځانونه ئې عملاً آزاد کړل.

نادر شاه (رک بان) روستو ابداليان زير کړل خو هغه هغوي سره د نرمۍ سلوک اوکړو. او د هغوئي ډېر سړي ئې په خپل فوځ کښې بهرتي کړل. په دې ابداليانو کښې د محمد زمان سدوزي زوئے احمد خان هم ؤ. ابداليانو د نادر شاه ښۀ خدمت اوکړو. او هغۀ دوئي ته ددې دا صله ورکړه چې هغوئي ئې خپله زړه علاقه قندهار کښې بيا مېشتۀ کړل.

۱۷۴۷ء کښې د نادر شاه په قتل کېدو احمد خان خود بخود قندهار کښې بادشاه شو. د خۀ خوب په نتيجه کښې يا (د صابر شاه) نومې د يو فقير د اثر لاندې احمد خان د در دراني (در دوران) لقب اختيار کړ و. ممکنه ده چې صحيح لقب در دوراني وي. چې مخفف ترې دراني جوړ شو. او د هغې وخت نه دې ته دراني قبيله وئيلے کېږي. ددې دوه غټ ښاخونه پوپلزي او بارک زي وو[1].

دا خو ؤ د ابدال قام مختصر تاريخ چې ابدال نوم څنګه په تاريخ کښې رقم شو. ابدال د اودل، وران شوے تکے دے. چې د ترين په زامنو کښې د کشر زوئے نوم اودال ؤ. او د پلار نه پس د خپل تدبر او د پوهې په بنا د خپل قام مشر شو. خپل خلق ئې ډېر خوشحاله ساتل. او هم دغه شان مشري د اودل چې په تاريخ کښې

---

[1] انسائيکلو پيډيا اردو دائرة المعارف، جلد اول، ص ۳۴۴، ۳۴۵

په ابدال یاد پاتې شو .د هغهٔ په اولاد کښې پاتې شوه .احمد شاه بابا هم ددهٔ په نمسو کښې ؤ .چې خپل پښتون قام ورته لوئے احمد شاه بابا وائي.

ACKU

# د احمد شاه ابدالي شجرهٔ نسب

پښتانهٔ د تاریخ په رڼا کښې بهادر شاه ظفر کاکاخېل داسې بیانوي[۱] :-

بامي

نصرت | کن | شها

بهلول

معروف خان | علي خان

عمر

ملک سدو ( د سدو زو مورث اعلی. د قندهار د مرزبان متولد ۹۲۵هـ ،
وفات ۱۰۲۱هـ

خواجه خضر خان ( مرزبان قندهار وفات ۱۰۳۲هـ

شیر خان ( مرزبان قندهار) | خداداد سلطان (مرزبان قندهار ۱۰۵۰هـ

سرمست خان

دولت خان ، مرزبان قندهار مقتول ۱۱۱۵هـ

رستم خان ( مرزبان قندهار ) وفات ۱۱۱۹ء | محمد زمان خان رئیس هرات ۳۲ ـ ۱۱۲۵هـ | نظر محمد

---

۱ پښتانهٔ د تاریخ په رڼا کښې ، ص ۱۰۱۲

ACKU




# د احمد شاه بابا د ژوند حالات

د احمد شاه بابا شجره نسب د ,,پښتو شعر و ادب تاریخ،، په رڼا کښې داسې ده.

,,احمد شاه ابدالي په تاریخ کښې د یو مجاهد بادشاه په حېثیت لوئے شهرت لري د پښتنو د جدامجد قیس عبدالرشید په شجرهٔ اخلاف کښې ابدال په څلورمه پېړۍ او اسد الله سدو په یؤلسمه پېړۍ کښې په نظر راځي .سدو د احمدشاه ابدالي ورنیکهٔ ؤ-او سدوزي قبیله د اسدالله نه شروع شوې ده .چې روستو ئې ښاخونه او څانګې خورې شوې دي .ځنې محققین وائي چې احمد شاه د خپل پیر خواجه احمدابدال چشتي په وجه ابدال مشهور شوے دے بعضې دهٔ ته دراني هم وائي .په دې درېو خبرو کښې به یوه ضرور

ACKU

صحیح وي ـ مناسب ښکاري چې لږ غوندې په دې موضوع بحث اوکړے شي ـ چې د عقل په نزد کومه خبره صحیح ښکاري ـ

په تاریخي لحاظ د پښتنو د جدامجد قیس عبدالرشید نه د څلورمې پیړۍ په وجه د ابدال نه د پښتنو د قبائلو زیږون او بیا په چشت کښې چې د یو کلي نوم دے ـ د خواجه احمد ابدالي روحاني شهرت هم د پښتنو د شجرهٔ اخلاف سره تعلق لري ـ نو په دې سبب په دواړه لحاظه که احمد شاه ته ابدالي ووئیلے شي نو هیڅ فرق نهٔ پرېوځي ـ کېدے شي چې د خواجه احمد ابدال نوم د سلسلهٔ نسب په حقله خپل مور پلار د یو نیکهٔ ابدال په نوم غوره کړے وي ـ کوم چې په څلورمه پیړۍ کښې د پښتنو نیکهٔ ؤ[1] ـ

اوس به د دراني په سلسله کښې ددې خبرې وضاحت وکړو چې دراني د یو قوم یا قبیلې نوم نهٔ دے ـ محققین وائي چې څهٔ وخت نادر شاه افشار د دهلي سلطنت دړې وړې او د مغل بادشاه محمد شاه خزانه ئې سره د کوه نور د هیرې تر لاسه کړه نو دا خزانه ئې د یوې پټې قافلې په شکل د ایران په لوري روانه کړه ـ دا قافله د ایران په ځائے په غلطه لاره لاړه ـ بل طرف ته نادر شاه افشار چې د دهلي نه واپس ایران ته روان شو نو په لاره د سفر په دوران کښې د خپل یو جرنیل د لاسه قتل کړے شو ـ د نادر شاه د ظلمونو نه خلق په اور کښې پر اتهٔ وو ـ پښتانهٔ تر پښه ډېر تنګ وو ـ او په زړهٔ کښې ئې لویه انتقامي جذبه لرله ـ

---

[1] د پښتو شعر و ادب تاریخ ، ص ۲۳۰

په دې وخت کښې د پښتنو لوئے سرداران په قندهار کښې راغونډ شول او د احمد شاه په سر ئې د بادشاهۍ توپۍ کېښوده. هغه په دې وخت کښې د ځلېريشتو کالو زلمے ؤ. وائي چې يو طرف ته د افشار په مرګ د احمد شاه ابدالي په مخکښې طاقتور دشمن ختم شو او بل طرف ته عېن په دغه موقعه هغه ورکه شوې قافله سره د خزانې او کوه نور هيرې د نوي بادشاه احمد شاه ابدالي په سپايانو پېښه شوه او ددې غيبي مدد په سبب ورله خلقو د دراني خطاب ورکړو. په تاريخ کښې ورته دراني او ابدالي دواړه وئيلے شي. بادشاه په خپله د پښتو ژبې عظيم شاعر ؤ. خو په خپل کلام کښې ئې د تخلص په شکل ابدالي يا دراني د خپل نوم په ځائے نۀ دے استعمال کړے[1].

د احمد شاه ابدالي د تاريخ پېدائش په حقله وئيلے شي چې په کال ۱۷۲۳ء کښې پېدا شوے ؤ. د پښتو شعر و ادب په تاريخ کښې ددۀ مقام د خپلو همعصرو او پېشرو شاعرانو نه هېڅ کله کم نۀ ؤ. البته د يو پښتون شاعر په حېث ددۀ کلام ته په دې فوقيت حاصل دے چې يو خو دے مجاهد بادشاه ؤ او بل دۀ ته د پښتنو د قبائيلو د شيرازه بندۍ او د يو نوي مملکت د افغانستان د باني حېثيت حاصل دے[2].

د احمد شاه بابا د زېږېدنې په حقله مؤلف مير غلام محمد غبار داسې ليکي:-

---

[1] د پښتو شعر و ادب تاريخ، ، ص ۲۳۱ ــ ۲۳۰

[2] هــــمـــــدغــه ص ۲۳۱

,, افغان احمد شاه بابا پر ۱۱۳۵ سپوږمیز ۱۷۲۳ زېږدي ) کال په هرات ښار کښې وزېږېد . د ۱۱۲۰ ـ س پر شوال = د ۱۷۴۷ زېږ اکتوبر ) په قندهار ښار کښې د افغانستان پر باچاهي وټاکل شو او د ( ۱۱۸۲ س پر رجب ۱۷۷۳ زېږ سپټامبر) په توبه غرکی له نړې لاړ[1] ،،

ښاغلی صابر شاه صابر د احمد شاه بابا پحقله لیکي :-

,, د لوئے افغانستان باني احمد شاه ابدالي د خپل وخت لوئے سیاسي ، ادبي او اجتماعي شخصیت ؤ . هغهٔ د افغانستان او ورسره د هندوستان د نیمې اوچې د مسلمانانو لپاره د یو نوي خپلواک ژوند تیره کښوده . او په سیمه کښې ئې د پښتنو او نورو مسلمانانو دپاره یوه لویه او د فخر او احترام وړ بادشاهي جوړه کړه احمد شاه بابا په کال ۱۷۲۲ ء کښې د زمان خان سدوزي او زرغوني اناکره د هرات په ارګ کښې زېږېدلے ؤ . لوئے بابا هم ددغه وخت نه په خپل کور کښې زد کړې ته دېن شهٔ . او د هغه وخت مروجه علوم ئې په خپل کور کښې اولوستل . وروستو ئې ورو ورو ځان د ادب او تصوف سره هم بلد کړو[2] .

د ډاکټر شېر زمان طائزي د وینا مطابق :-

,, احمد شاه ابدالي ۱۷۲۲ ء کښې په ملتان کښې پیدا شو او په ۱۷۷۳ ء کښې په حق اورسیدو ،، .

---

[1] احمد شاه بابا افغان ، ص ۷

[2] د لوئے احمد شاه بابا د ۲۲۰ تلین په مناسبت یو ورځنے سیمینار ، ص ۹۴

احمد شاه ابدالي د قوم موروثي مشر ؤ - چې روستو ئې ورله دراني نوم ورکړو[1] -

حافظ محمد منیر منیر د احمد شاه ابدالي لنډه پېژندګلو داسې کوي -

,, احمد شاه ( ۱۱۶۲ ـــ ۱۷۷۳ ) د افغانستان اولنی امیر ؤ - احمد شاه د ابدالي قبیلې نه ؤ - هغه د خپلې قبیلې د یوې دستې د مشرۍ سره د ایران د امیر نادرشاه په فوځ کښې ګډون اوکړو - چا چې د افغانستان زیاته او د هند څۀ حصه فتح کړه - کله چې نادرشاه وفات شو نو احمد شاه دراني د افغانستان یو خودمختار باچاهت جوړ کړو - هغه د هند په پنجاب شپږ حملې ۱۷۴۸ء نه ۱۷۵۲ء پورې وکړې په دهلي ئې حمله وکړه او ۱۷۶۱ء کښې ئې د پاني پت په مقام د دښمن فوځ ته ماتې ورکړه - هغه یو مضبوط فوځي رهنما ؤ - خو هغه په هند کښې په مستقل باچاهت جوړولو کښې کامیاب نۀ شو - او افغانستان ته واپس لاړو[2] -

د پروفېسر افضل رضا مطابق ,, احمد شاه بابا په ۱۱۲۵هـ کښې هرات کښې د زمان خان کره زېږېدلے ؤ - په کال ۱۱۲۰هـ کښې د نادر شاه د مرګ نه پس هرات نه قندهار ته راغے - او پښتنو ورته د مشرۍ پټکے په سر کړو - د بخارا خراسان د فتح نه پس ۱۱۷۷هـ کښې ئې پاني پت کښې مرهټو ته ماتې ورکړه - د دهلي تخت ئې شاه عالم ته اوسپارلو - خپله افغانستان ته راغلو - ۱۸۲۲هـ کښې

---

[1] ظهورونه ، ص ۴۳

[2] هـــــمـــــدغـــه ، ص ۴۴

وفات شو ـ او قندهار کښې ښخ کړے شو ـ احمد شاه بابا د تورې نه علاوه د قلم خاوند هم ؤ ـ ديوان ئې چهاپ دے ـ پښتو ژبې او ادب ته ئې دربار کښې ځائے ورکړو ـ احمد شاه بابا د رحمان بابا نه هم زيات اثر اخستے دے ـ وطنيت مليت ئې د کلام ذاتي علامې دي[۱] ـ
مير غلام محمد غبار د احمد شاه بابا د نسب په حقله داسې ليکل کړي دي :-

,, احمد شاه د زمان خان زوئے د دولت خان نمسے د سدوزيو له کوچيني ونړ څخه دے ـ چې د افغانستان د پښتنو قبيلوي ويش له مخې د سړبنو ابداليانو د لوئې څانگې اړوند دي ـ
دلته د دغه ونډيزو ويش سړنه چې لومړے ئې د کورنيو له نومونو نه سرچينه اخستې او بيا قبيلې پرې نومول شوې چې هرې يوې څو ورې او سترې څانگې موندلې او په دې توگه ئې د ملي يو والي د رنگېدو او د ويجاړتيا لار برابر کړې سم د لاسه بې گټې او له دې څېړنې نه بهر ده ـ خو د احمد شاه د نسب په اړه يو شمېر ليکوالو چې غوښتنې ئې دي د پښتنو د نسب پوهنې په اړه وغړېږي ـ لکه چې د احمد شاه ابدالي د نسب په اړه وائي ـ هغه د زمان خان زوئے ، د دولت زوئے ، د سرمست زوئے ، د شير خان زوئے ، د خواجه خضر زوئے ، د سدوزوي د عمر زوئے د معروف زوئے . د بهلول زوئے ، د کاني زوئے ، د بامي زوئے ، د حبيب زوئے ، د پوپل زوئے ، د زيرک

---

۱ پښتو غزل ، ص ۱۲۷

زوئے ، د عیسٰی زوئے ، د ابدال زوئے ، د ترین زوئے ، د سرخبون زوئے ، د سړبن زوئے ، د قیس عبدالرشید زوئے دے[1] .

هم دا لیکوال وړاندې د احمد شاه بابا د نیکهٔ په حقله لیکي :-

,, د احمد شاه بابا نیکهٔ دولت خان د دولسمې هجري پېړۍ په پېل کښې د کندهار د ابدالیانو مشر ؤ . هاغه محال د افغانستان ملی مشران د هیواد په ختیزو لویدېزو او شمالي سیمو کښې په ریښتني مانا ( معنٰی ) د ملت واکمن ؤ . او د پارسن هندو وزبکو حکومتونو هم د دوي یو ډول کورني خپلواکي ته درناوي لرهٔ . تر دې چې هغوي واکمنو دد غو مشرانو له مخګرتیا پرته له افغاني ملت سره اړیکې نهٔ لري . سلطان محمد څرګندوي چې پارسي واکمنو تل د کندهار د مالیې راټولولو په اړه کښې افغاني مشرانو له اړیکې ساتل[2] ،،

دا مصنف د احمد شاه بابا د پلار په باب داسې وېنا کوي .

د احمد شاه پلار زمان خان نومیالے سړے دے . خو د تاریخ په تیارو کښې ئې ډېر لږ وینو . په اټکلي توګه پر ۱۱۱۵ سپوږمیز کال چې پلار ئې دولت خان او مشر ورور ئې نظر محمد خان د ګرګین په کرغړن لاس ووژل شول . او د ابدالیانو مشرتوب ددهٔ ورور رستم خان ته ورسید[3] .

---

[1] احمد شاه بابا افغان . ص ۱ ــ ۲

[2] همـــــــــــدغـــه . ص ۴

[3] همـــــــــــدغـــه . ص ۸

وګړي د احمد شاه مور زرغونه بولي .زرغونه له آره پښتو وي او مانا( معنی ) ئې شنه ده .ډېرې افغاني ښځې په دغه نامه نومول شوې هماغسې چې افغانان د احمد شاه مور ,, زرغونه انا ،، بولي . زوئے ته ئې بابا وائي .او ونډئې الکوزي ګڼي . ,,کوه،، کلی چې د احمدشاه د مور هديره په کښې ده .د هغې تر ژوندانهٔ مخکښې تر اوسه پورې د شمېر الکوزيو ټاټوبی دی .احمد شاه هم د خپلې مور هديره هماغه ځائے وټاکه .له دې نه ښکاري چې مورې الکوزي وه او د پښتنو د دود له مخې د خپل ونډ په ديره کښې ښخه شوې ده . پرګڼې وائي چې د احمد شاه مور د اوسني کندهار ښار تر ودانېدو وروسته (۱۱۷۴) مړه شوې او ددغو وېناؤ له پاره کيسې هم لري[1] .

دا مصنف د احمد شاه بابا د زېږېدو ځائے او نېټه داسې ښائي .

,, په ملتان کښې د احمد شاه بابا د زېږېدو خبره يو ښکاره تېروتنه ده .چې له ځينو هندوستاني ليکوالو نه اورېدل شوې يو شمېر نوروي پېښې کړي .لکه محمود حسن هندي چې پرته له کوم لاسونده د خپل کتاب په يو ځائے کښې وائي :-

,, احمد شاه خطه ملتان ميں پيدا ہوا،،

احمد شاه د ملتان په سيمه کښې زېږېدلی .او دا دوه بېتونه هم د هغه د ټولواکېدو په اړه وائي .

---

[1] احمد شاه بابا افغان ، ص ۱۱ ــ ۱۲

چونشت احمد شاه نامدار
به تخت خلافت بعد اعظم شان

نداذ دلبشرم زسال جلوس
بود تا آید این خدیو جهان[1]

فیض محمد هم د تاریخ ,, احمد ،، له مخې دا قیصه لیکي چې د احمد شاه نیکونه د ملتان اوسیدونکي وو۔ دي هم هلته زېږېدلي وو۔ او په ماشومتابه کښې د ځینو پښتنو له کبله له خپل پلار ,,محمد زمان ،، سره کندهار و له هغه ځایه هرات ته لاړ دي۔ مونږ پوهېږو چې دا روایتونه بې بنسټه دي ۔ او ,, تاریخ احمدي ،، د ,,مرات الاشباه ،، په څېر ئې د احمد شاه کورنۍ د ابدالیانو پخوانۍ مشر د حیات سلطان د زوئے عبدالله خان کورنۍ سره په ملتان کښې کډه وال وو۔ کډه کړې ده حیات سلطان چې کندهار د ابدالیانو د خانۍ تر ړنګېدو ورسته په یؤولسمه لمریزه پېړۍ ملتان ته لاړ ۔ څۀ موده روسته ئې زوئے عبدالله خان پر ۱۱۲۲کال کندهار ته راغے او یو ځل بیا د ابدالیانو د ,, خان ،، په توګه هرات ته لاړ ۔ عبدالکریم او نورو احمد شاه د نوموړي عبدالله خان نمسی ګڼي او داسې پایله ئې اخیستې چې احمد شاه په ملتان کښې زېږېدلی دے ۔ خو داسې نۀ ده ۔ دا دواړه یو تر بله جلا او سیالې

---

۱ احمد شاه بابا افغان ، ص ۱۸

کورنۍ دي ـ د احمدشاه کورنۍ له پخوا را هسې د اوسني کندهار ختيځ خوا ته د صفا ښار د ابداليانو په مينځ کښې اوسېدهٔ[1] ـ

هم دا مصنف مخکښې ليکي :-

لکه مخکښې چې ؤيل شول يوازې د احمد شاه پلار زمان خان څو کاله پر کرمان کښې اوسېدل ـ له دې نه ښکاري چې په ملتان کښې د احمد شاه د زوکړې سکالو چوره درواغ ده ـ په کلک اټکل سره به ئې لاندې ولولې چې احمد شاه په هرات ښار کښې په ۱۱۳۵ لمريز کال زېږېدلی دی ـ

تاريخ پوهانو د احمد شاه د زوکړې نېټه ښودلې نهٔ ده ـ ډګروال ,,مليسن ،، او ,,محمد حيات ،، وايي چې احمد شاه د ټولو اکېدو پر مهال ( ۲۳ ) کلن ؤ ـ ښکاري چې دوي دواړه تېروتي دي، ځکه چې د احمد شاه پلار زمان خان پر ۱۱۳۵ نمريز کال مړ شوی دی ـ محمد حيات د سلطان محمد غوندې د هغهٔ دمړينې دا نېټه سمه ګڼي ـ که احمد شاه د ټولواکېدو پر کال ( ۱۱۴۰ ) ( ۲۳ ) کلن ؤ ـ نو بويه چې د خپل پلار تر مړينې دوه کاله وروسته زېږېدلے وي ـ چې دا ناشونې ده ـ نور تاريخ ليکونکي چې د احمد شاه تر مړينې وروسته ددهٔ د منګ په اړه غږېږي يو ,, علامه سيد جمال الدين ،، او بل پېرنګے ,, سرجن ملکم ،، دے ـ چې دا دواړه د احمد شاه مړينه پر پنځوس کلني ښيئ[2] ـ

دا مصنف وړاندې ليکي :-

---

[1] احمد شاه بابا افغان . ص ۱۹

[2] هـــــمـــــــــــدغــــه . ص ۱۹

,, د احمد شاه دا د منګ تاکنه تر ډېره ریښتینې ښکاري -او دا منلای شو چې احمد شاه تر پنځوسو کلونو خو را ډېر ژوند کړی نهٔ دی -لومړی ځکه چې له یوې خوا د احمد شاه پلار زمان او ورور ذوالفقار خان او له بلې خوا د کورنیو سیالانو او پارس واکمنی ترمینځ په ټولو جګړیزو پېښو کې تاریخونو هېڅکله هم د احمد شاه د ګډون یادونه نهٔ ده کړې -خو په دغو جګړو کښې د زمان خان او ذوالفقار خان د پوځی افسرانو او کوماندانو نومونه راغلي -له دې نه زیاتېږي چې دا مهال (د زمان خان د مشرتابه له پیله ۱۱۳۲ کال دهرات له واکمنی نه ذوالفقار خان تر لاس اخیستو ۱۱۳۲ کال پورې یا احمد شاه نهٔ ؤ او یا دومره کوچنی ؤ چې د جګړې پر ډګرې د ګډون ورتیا نهٔ لرله -که نه داناشونې ده چې د یوه افغان مشر زوی دی د ځوانې په ورځو کې د پلار په ملاتړ د کورنیو او بهرینو دښمنانو پر وړاندې، تورې ونهٔ وهي او نوم ئې وانهٔ خستل شي[۱] -

وړاندې لیکي :-

,, حیات افغانی وائي چې د زمان خان له مړینې او پر هرات د هغوي د سیالې کورنی (د عبدالله خان کورنی) تر واکمنیدو وروسته، د احمد شاه مور له خپل کوچنی زوی (احمد خان) سره بته د فراه لوري ته لاړ[۲] -

---

۱ احمد شاه بابا افغان، ص ۲۰ ـ ۱۹

۲ همـــــــدغـه ص ۲۰

مخکښې لیکي :-
,, د محمد حیات دا وینا چې احمد شاه ئې د خپل پلار د مړینې پر مهال کوچنی ښوول ـ د ,, انسائیکلوپیډیا آف اسلام ،، له لیکنې سره چې په کندهار کې ی پر کوچنیوالي د احمد شاه بندیتوب په نخښنه کړی ـ سمون لري ـ
بله د احمد شاه تر خپلې مړینې درې کاله مخکښې د هند په سیزونکو ډاګونو او د هېواد شمالي لوېدیزو سیمو کښې د اس په سپرلی په جګړو ( ۱۱۷۷ـ۱۱۸۳ ) بوخت ؤ ـ سره له دې چې احمد شاه د تېمور و سلېمان په څېر زامن او د شاه ولي او جهان خان غوندې سرداران لرل ـ دا لرې ښکاري چې په خپله په بوډاتوب کې د جګړو دپاره د اس په سپرلی دغه اوږدهٔ واټنونه اؤهي ـ نو ښايي اووېل شي چې احمد شاه له نړۍ نه د تګ پر مهال پنځوس کلن ؤ ـ
دا چې پلار ئې له ( ۱۱۲۳ ) سپوږمیز کال نه روسته تر مړ کېدو (۱۱۳۵) کال پورې (۱۲) کاله په هرات کې وینو ـ راته څرګندېږي ـ چې که احمد شاه پنځوس کاله او یا هم تردې ډېر ژوند کړے وي ـ بیا د زېږېدو ځای ئې هرات او په کلک اټکل هرات ښار دی ـ انسائیکلوپیډیا آف اسلام هم دا ټکي مني او وایي پر ۱۷۲۲ زېږدي کال دې کورنې ( د احمد شاه کورنۍ ) خوراسان اونیو ـ او د مشهد پر لوری وړاندې لاړل ـ دا مهال احمد شاه هم زېږېدلی ؤ ـ او ډېروي چې ,, احمد شاه چې ټولواک شو ( ۲۵ ) کلن ؤ ـ
له پورتینو څرګندونو نه دا پایله اخلو چې احمدشاه پر ۱۱۳۵ کال په هرات وزېږېدو ـ چې ۱۲ کلن شو پر ۱۱۵۰ کال ئې په کندهار

کبنبې د خوراساني نادرشاه له دربار سره اړیکې وموندل. چې **۲۵** کلن شو پر ۱۱۲۰ کال په همدغه ښار کبنبې ټولواکی ته ورسید. او چې یو پنځوس کلن شو پر **۱۱۸۲** کال د کندهار په اړوند ,, توبه غر،، کی ئې له نړۍ نه سترګې پټې کړې[1].

---

[1] احمد شاه بابا افغان ، ص ۲۰

# د احمد شاه بابا سیاسي رجحانات

د احمد شاه بابا د سیاسي رجحاناتو په باب کښې یو لیکوال غلام محمد زرملوال داسې لیکي :-

,, احمد شاه بابا د افغانستان د ملي ټولنيز او سياسي وحدت باني او ویاړمن سمبول دی . باید د هغهٔ له ژوند او کارنامو څخه د وطن ددې اساسي اړتیاؤ د خوندی کولو لپاره زده کړه وشي . پوره دوه نیم سوه کاله پخوا په ۱۷۳۷ کال کې د افغانستان د مشر د ټاکلو لپاره په شیر سرخ کې د نور محمد خان غلجي له خوا د رابلل شوې جرګې په اتم مابنام لاهم د افغانانو راټول شوي مشران بریالي نهٔ شول کومې پریکړې ته ورسېږي . جرګه څکه دومره اوږده شوه چې د هېواد د لویو قومونو استازو ، هره یوه خان ملي مشرتابه ته کاندید باله . غلجو ، نورزو ، پوپلزو ، اسحٰق زو او نورو یو بل پسې خانونه مستحق ګڼل . د جرګې په نهمه ورځ جرګه والو له کابل څخه راغلي صوفي ، فقیر صابر شاه کابلي ته واک ورکړو . چې د دوئي له منځه یو تن د افغانستان ملي مشر وټاکي . کابلي فقیر چې یو صادق انسان او د افغانانو تر منځ په نیک خوي مشهور او درناوی ئې کېدهٔ . اودرېد او بې له ځنډ ، شک ، تردید څخه ئې ځوان احمد ابدالي ته ،چې د جرګې په نهٔ ورځو کښې هلته حاضر ؤ خو د افغاني دود او حیا له کبله پټه خوله ناست ؤ. او د خپل ځان

به حقله ئې هېڅ څۀ هم نۀ ؤ ويلي ـ ګوته اونيوله ـ دغنمو (او په يو بل عبارت) د اوربشو ځو وږي ئې له پټي نه را اوشو کول او د تاج په حېث ئې ددۀ پر سر کېښودل په دې توګه احمد شاه ابدالي د افغانستان لومړے بادشاه او بيا وروسته د افغان ولس له خوا دباباد لقب ګټلو په نتيجه کښې احمد شاه بابا شو[١].

دا مصنف وړاندې ليکي :-

,, که څۀ هم احمد شاه بابا چې د تاج پوشۍ ددې ساده او وياړمنو مراسمو په وخت کښې پينځه ويشت کلن ځوان ؤ ـ خو د خپل ولس له ستونځو په ملي سويه او بهرني ډګرکي د دنيا له سياسي او نظامي حالاتو څخه په کافي توګه خبر ؤ ـ په ملي سطح ځوان ابدالي او افغان مشرانو ته جوته شوې وه چې د هغې زمانې د هېواد د ستونځو او سبيځواکي ولې په خپل منځي شخړو کې پرتې وې ـ د صفوي بابري او نادر شاه افشار د حاکمانو د استبداد ځوبو نه تېري او ناروا وې لاد افغانانو په ککرو کې ؤ ـ او د دوي مخې ته د ميرويس نيکۀ د ارمانونو او تجربو ډيوه هم ځليده[٢].

بناغلي عبدالحئ حبيبي د احمد شاه بابا د مشرۍ په بابله داسې ليکل کړي دي ـ په ١١٥٠هـ کښې چې نادر افشار قندهار فتح کاوۀ ـ احمد شاه بابا د (١٢) کالو ؤ او ددۀ په دربار کې ؤ ـ روستو چې د خراسان په فتح اباد کښې د يکشمبې په شپه (١١) د جمادي الاخر ١١٢٠هـ نادر شاه مړ کړے شو نو احمد شاه بابا قندهار ته

---

[١] اوسني افغانستان د خپل جوړښت په بهير کښې، ص ١٢

[٢] هـــمـــدغـــه، ص ١٢

راغے او د عمر په ۲۵ کال په ۱۱۲۰هـ کښې د قندهار د شیر سرخ په کلی کښې پاچا سو [۱]. په دغه وخت کښې د شوال میاشت وه.

په دې حقله ګنډا اسنګهـ په خپله مقاله کښې د تاریخي غونډه د عنوان لاندې لیکي:-

,, د یو نوي مشرتاکل کېدو دپاره په بشپړه توګه اړتیا حس کېدله دا خبره سمه ده چې د ځان ځخه د دفاع د ضرورت په اساس ابدالیان او غلزي د یوه واحد قوم په توګه سره نزدې شوي وو. او دا وخت دوي د یو متحدې ډلې په څېر وړاندې تلل. خو دوي د سختو دښمنانو په یوه پردی سیمه کښې ؤ.

په دې سبب دوي په درېم پړاؤ کښې د یوې جرګې (د قبیلوي مشرانو شورا چې د مشرتابه د مسالې (مسئلې) په باره کښې پرېکړه کوي.) د جوړېدو دپاره تم شول

د ابن محمد امین عبدالحسین ګلستاني په حواله دوي داسې بحث اوکړ و. (په دغه اوږدهٔ سفر کښې موږ باید یو داسې څوک ولرو چې د هغهٔ تر اوامرو لاندې خپل ځانونه سنبال کړو. له یوه ستر مشر ځخه پرته به موږ ته ګرانه وي. (نه ده ممکنه چې د قزلباشانو د خطر له امله د خپلو ټولو پوځیانو ملاتړ او پیروانو سره یو ځائے ځانونه کندهار ته اورسؤ. نو راځئ چې د یو مشر ټاکلو په هڅه کښې سو. چې د مقصد ځائے ته تر رسېدو پورې د هرې پېښې سره مقابله اوکړو). دغه مسئله په اسانی سره حل ته اونهٔ رسیده.

---

[۱] د لوئے احمد شاه پیل، صفحه، و

او هره يو قبيله په دې لټه کښې وه چې د خپل کانديد دعاوي وړاندې کړي.
اتۀ ورځې پرله پسې غونډې روانې وې چې په جلا جلا دعا ويانو باندې بحث اوشي. په نهمه غونډه کښې د محمد زيو مشر حاجي جمال خان درايو اکثريت لاس ته راوړو. خو اقليت پياوړي او د تضميم نيول لا بيخې لرې او ناممکنه برېښېدۀ. سدوزي ابدالي احمد خان چې اصل او کورنی ئې تر ټولو لوړۀ په دغو زوړ ناکو غونډو کښې حاضر او په ډېره سړه سينه سره ئې دا ټولې خبرې واورېدې د صابر شاه په نامه يو ملنګ په داسې يو مناسبه ګړۍ کښې د احمد خان ادعا وړاندې کړه چې نور ټول وېنا کوونکي مشران له اوږدو او تودو خبرو څخه ستړ ي شوي وو.
دۀ وئيل (د څۀ له پاره دومره اوږدې خبرې، خدائے احمد خان له تاسو هره يوه څخه ډېر ستر پيدا کړے دے. ددۀ کهول تر ټولو نورو افغانانو درونند دے. نو د خدائے امر اومنئ که تاسو ورڅخه سر غړوئ نو په غضب به ئې اخته شئ)
حاجي جمال خان چې ډېر معتقد سردار ؤ او داسې هم معلومه شوه چې ډېرې رائې ورته موجودې وې. سملاستي د سدوزي د ادعا حقانيت او لوړتيا ته ئې غاړه کېښوده[1].
د احمد شاه بابا د مشرۍ او بادشاه کېدو باره کښې بهادر شاه ظفر کاکاخېل داسې ليکي:-

---

[1] احمد شاه ابدالي ، ص ۳۵

,, د بادشاه د انتخاب په غرض مشرانو د قندهار د علاقې د ټولو قامونو مشرانو ته دعوت ورکړو .او په دې جرګه کښې د ابدالیانو، غلجیانو، بلوڅو، هزاره او قزلباشو ټولو مشران شامل شول .د انتخاب جرګه د قندهار سره نزدې د شیر سرخ بابا په مزار کښې جمع شوه .ولې په دومره مشرانو کښې چې د هرې قبیلې مشر به خپل حق د نورو نه زیات ګڼلو د بادشاه منتخب کول څۀ اسانه خبره نۀ وه .پرله پسې په دې غرض اتۀ جرګې اوشوې او په هره جرګه کښې د هر سردار حق پېش شو او بحث پرې اوشو .ولې تر اوسه پورې په دې جرګو کښې د احمد خان یاد ګیرنه هیچا نۀ وه کړې .او نۀ پخپله هغۀ خپل ځان وړاندې کړے ؤ .په نهمه جرګه کښې د حاجي جمال خان محمد زي پحقله ډېر سرداران مائل ؤ.دا سردار د هغۀ ,,محمد،، داولاد نه ؤ .کوم چې د شاه عباس د لورې نه دملک سدو سره د بارکزو قبیلې مشر مقرر شوے ؤ .خو فېصله په دې جرګه کښې هم اونۀ شوه .ځکه چې ځنې طاقتور سرداران د جمال خان مخالف هم وو.

په دې جرګه کښې د صابر شاه نومې یو پرهېزګار او نیک سړے هم موجود ؤ.او هغۀ داحمد شاه سنجیده رویې نه ډېر متاثر شوے ؤ.(د مشرۍ خصوصیات و اثار ئې پکښې لیدلي وو) .ځکه چې احمد خان تر اوسه د خپل ځان په حقله هېڅ هم نۀ ؤ وئیلي.

په نهمه جرګه کښې چې هم څۀ فېصله اونۀ شوه نو صابر شاه پورته شو او دې سردارانو ته ئې اووئېل .د خدائے په خاطر دا جرګې پرېږدئ احمد خان په تاسو کښې د بادشاهۍ لائق دے .هغه یو ډېر

دروند، سنجیده او د سوړ دماغ خاوند دے .او د بادشاهۍ ددې لوئې ذمه وارۍ اوچتولو دپاره خدائے پاک پیدا کړے دے . که چرې تاسو هغه پخپله خوښه اورضا صلاح خپل بادشاه او نهٔ منئ نو د خدائے په قهر به اخته شئ . ددې نه پس هغه د یو نزدو پټي نه د اوربشو د خیل یو قوده راپرېکړه او د احمد خان سر نه ئې تاؤ کړه . او ورته ئې اووې دا دې خدائے پاک ستا تاج کړي . ددې کاروایۍ نه پس نورو سردارانو هم خپلې خپلې دعوې پرېښوې او د هغهٔ په بادشاهۍ رضا شول . او ټولو په اتفاق د هغهٔ بیعت اوکړو . ولې د جمال خان دا خبره هم اومنلې شوه چې د وزارت عهده به د بارک زو په قبیله او په بارک زو کښې د محمدزو په څانګه کښې وي . احمد شاه په اکتوبر کال ۱۷۴۷ کښې په قندهار کښې د پښتنو بادشاه شو د تخت نشینۍ په وخت کښې د هغهٔ عمر درویشت کاله ؤ[۱] .

خو داحمد شاه ابدالي د مشرۍ او بادشاهۍ په باره کښې ډاکټر شېرزمان طائزي داسې لیکلي دي .

„ احمد شاه خپل یو منشي یعني سیکرټري محمودالحسن هراتي ته دا دنده سپارلې وه چې د هغهٔ د وخت تاریخ اولیکي هغهٔ فارسۍ کښې د تاریخ احمد شاهي په نوم کتاب مرتب کړو . په دوو جلدونو کښې ددې کتاب (چې فارسۍ کښې دے) فوټو سټیټ نقل د پېښور پوهنتون د ایریا سټډي سنټر پېښور ترلاسه کړے او خپله لائبرېرۍ کښې ئې خوندي کړے دے .

---

[۱] پښتانهٔ د تاریخ په رڼا کښې مذکور ص ۸۵۲ . ۸۵۷

دلته د نادر شاه د وژلو او د احمد شاه قندهارته د واپسۍ توتې د هغې کتاب نه اخستې شوي دي . دې واقعاتو کښې د شير سرخ د جرګې ذکر نشته .
هم د احمد شاه په وېنا حافظ نومې يو شاعر شاهنامه احمديه اوليکله . د هغې د مطالعې نه داسې ښکاري چې حافظ چې ځان ئې د مرغز معرفي کړے دے احمد شاه سره نزدې پاتې ؤ . او په ځينې جنګونو کښې ئې هم برخه اخستې وه . يوه شاهنامه د ليک په حال کښې د هغۀ لاس ته ورغلې وه خو احمد شاه لکه شاهنامې سره ډېره دلچسپي لرله . حافظ بله شاهنامه اوليکله . د هغې واقعات هم هغه شان دي کوم چې محمودالحسن په ريکارډ راوستې دي . البته دې دواړو کښې يو فرق شته او هغه دا چې محمود الحسن هرات کښې د صابر شاه د خلې پېشګوئي بيان کړې ده . چې د احمد خان د بادشاه کېدو پيشن ګوئي ئې کړې وه او حافظ د مياں عمر د څوکنو د خولې د پېشنګويۍ ذکر کړے دے . چې په لاهور کښې ئې په هغه شپه کړې وه . په کومه شپه چې نادر شاه وژلے شوے ؤ . دا دواړه بيانونه د منلو وړ دي . د مرغز حافظ د څوکنو مياں عمر صېب ته نزدې ؤ او منشي چې په جام کښې اوسيدو صابر شاه پير ته نزدې ؤ . په هغه هنګامي حالاتو کښې د دؤو همعصرو بزرګانو په يو وخت د يو راتلونکې پېښې په حقله پېشنګوئي امکان لري . د حافظ هغه يوڅو شعرونه چې د مياں عمر صېب د پېشنګويۍ ذکر ئې پکښې کړے دے داسې دي .

چې معروف په میاں عمر دے
پرې روشن تمام کشور دے

له خوکنو صاحب روان شو
په دا لار د هندوستان شو

په لاهور کښې شو داخل
تمام طے شو منازل

دا اواز شو په هر لور
چې داخل شو په لاهور

د لاهور چې علماء ؤ
د فنونو فضلاء ؤ

په خدمت واړه تیار
د مشکل په استغفار

دلدن ؤ امتحان
چې عالم کوي بیان

ACKU

اما وخت د نادرشاه ؤ
د هر چا ترحلق ساه ؤ

په دنیا د ظلم زور ؤ
لګیدلے په هر کور ؤ

په مجلس د ذوالکرم
چا بیان که تمام غم

چې عالم شو ګرفتار
د نادر په ظلم خوار

تهٔ صاحب زبان اثر ئې
مهربان غریب پرور ئې

په درګاه د خدائے قبول ئې
په مجلس د پاک رسول ص ئې

اوس دعا کړه په دا باب
چې نادر کړي خدائے خراب

درست عالم شي ځنې پاک
په هوا شي لکه خاک

چې میاں صاحب نظر کۀ
تامل ئې په دفتر کۀ

یو ساعت ګوره خاموش ؤ
که مظلوم وهلے جوش ؤ

نور ئې لاس که په دعا
چې روشن ؤ تر شُعا

خدایه خاورې کړې نادر
تۀ په هر څیز ئې قادر

دا دعا چې شوه تمام
په دا باب د خاص و عام

په تقریر ګوهر فشان شۀ
په فصیح ژبه ګویان شۀ

ښـــهٔ کـــلام ئـــې کـــړهٔ بیـــان
پـــه لاهـــور کـــښې زمـــا جـــان

پـــه دا لـــور د قنـــدهار
بـــل بـــه راشـــي شـــهريار

چـــې الهـــام ؤ د ولـــي
و هـــر چاتـــه شـــهٔ جلـــي

کـــه سـنجر کـــه د افـــشار ؤ
درسـتـه شـپـه پـه دا اختيـار ؤ

سيد جمال الدين افغاني هم هغه وخت ,, تتمة البيان فی تاريخ الافغان ، په نوم يو کتاب کښې د افغانانو لنډ خو په زړهٔ پورې تاريخ مرتب کړو . کله چې د امير شير علي خان د امارت په دوران کښې انګريزانو په افغانستان بريد کړے ؤ . جمال الدين افغاني په ١٨٦٩ء کښې افغانستان پرېښے ؤ . او هغه وخت په مصر کښې ؤ . چې انګرېزانو په کال ١٨٧٨ء کښې په افغانستان حمله کړې وه عبدالرحمان په کال ١٨٨٠ء کښې کابل ته ستون شوے ؤ . مطلب دا چې هغه کتاب د عبدالرحمان د امير جوړېدلو نه پخوا ليکلے شوے ؤ . د عربي کتاب علي يوسف کرد چې د جريده ,, العلم ، ، مالک او ايډيټر ؤ . قاهره کښې ئې په کال ١٩٠١ء کښې خور کړو

د هغې کتاب اردو ترجمه علامه سید عبدالقدوس هاشمي کړې ده جمال الدین افغاني د احمدخان ابدالي باره کښې داسې لیکي :-
۱۷۴۷ء کښې چې نادر خان قتل کړے شو نو احمد خان سدوزي پاسیدو ـ هغه وخت هغه د افغانانو او ازبکو ټولګیو سره د نادر شاه فوځ کښې شامل ؤ ـ هغه په ایرانیانو حمله اوکړه ـ او سختو انښتو کښې ئې هغوي اوو هل ـ هغې پسې توند راغلو او په قندهار ئې قبضه اوکړه ـ د کابل او سنده صوبې نه چې نادر شاه ته کوم خراج لیږلے شوے ؤ ـ هغه چې قندهار نه تېرېدلو نو احمد خان ابدالي اونیوۀ په دې وجه د هغۀ اقتدار ډېر قوي شو ـ بیا هغه د خود مختارۍ دعویٰ اوکړه او د شاه افغان او دردران لقبونه ئې خوښ کړۀ ـ خپلې قبیلې ابدالي ته ئې د دراني نوم ورکړو ـ هغې نه پس ئې د خراسان سیمو ، هرات ، مشهد او سبحستان په پورې لښکرې اولیږلې ـ
څنګه چې مخکښې بیان شوے دے دا عظیم الشان باچا د سدوزۍ قبیلې نه ؤ د افغانانو په نظر کښې د هغې قبیلې ډېر درانوښت ؤ ـ خلقو ورته په درنه سترګه کتل ـ پرته له دې باچا پخپله بهادر او د ارادې خاوند ؤ ـ د هغۀ تدبیرونه ټینګ او رائې صحیح وه ـ هغه د انصاف نه کار اخستو ، په کمزورو مهربان ؤ او د حالاتو د رغولو دپاره به ئې رعایه ته توجه ګرځوله ـ

د جمال الدین افغاني بیان د محمود الحسن المنشي تاریخ احمد شاهي او د حافظ شاهنامې سره زیات نژدیکت لري .او دا ښائي چې احمد خان قندهار په توره نیولې ؤ [١] .

هر څهٔ چې وي خو د ټولو شواهدو نه دا خبره څرګندېږي چې احمد شاه ابدالي د ګڼو صلاحیتونو خاوند ، بهادر ، مېړنې او د تدبر او عظمت څښتن ؤ .او د هغهٔ په مشرۍ او بادشاه کېدو کښې د هغهٔ ددې ټولو عواملو لاس ؤ .او هغهٔ د بادشاه کېدو نه پس هم دا په ښهٔ طریقه ثابته کړه چې د قدرت دا فیصله د حکمت نه خالي نهٔ وه او احمد شاه ابدالي په هغه کسانو کښې ؤ چې په هره زمانه کښې ئې خدائے پاک د انسانانو او قامونو د ښېګړې او فائدې دپاره پېدا کوي.او لویې لویې کارنامې تر سره کوي.

---

[١] ظهورونه ، ص ٣٨ ، ٣٩

# دویم باب

# احمد شاه بابا

# په حیث د یو شاعر

احمد شاه بابا له تنکۍ ځوانۍ نه تر مرینې پورې پرله پسې شاعري کړې او زیاته ادبي پنګه ئې مونږ ته راپرېښې ده. مونږ دا اندازه لګولی شو چې احمد شاه بابا شاعري د بادشاهۍ نه ډېره وړاندې شروع کړه. دا اټکل او قیاس به مناسب وي چې دې ادیب باچا به له زندان د زمانې نه د ادبي مدرسې په توګه خپله شاعري او خپل ادبي فعالیت رانښلولي وي.[۱] ځکه چې په زندان کښې ادبي او شعري تخلیق ته یو انسان فارغه او لایه وي.

علامه اقبال فرمائي:

مثل فاتح آن امیر صف شکن
سکۀ هم زد به اقلیم سخن
از دل و دست گهر ریزے که داشت
سلطنت ها برد و بے پروا گذاشت

---

[۱] ظهورونه ، مخ ۶۸

ACKU

نکتـه سـنج و عـارف و شمـشيرزن
روح پـاکش بـامن آمـد در سـخن

د شعرونو مفهوم دا د ے چې هغه صف شکن امیر د فـاتح پـه توګه خـو مـشهور د ے ولـې دۀ د ژبـې پـه اقلـیم او وطـن خپلـه سـیکه اوچلوله. د شعروادب پـه سلطنت ئې هم خپل حکـم اوچلولـو. د دې عظیم فاتح لاس او زړۀ دواړو ملغلرې اوشیندلې، څومره سلطنتونه ئې واخستل او هم داسې په بې پروائۍ ئې پرېښودل. ښۀ نکتـه سنج شاعر ؤ.عارف ؤ، توریالے ؤ. زما په کلام کښې هم د هغه پاک روح راننوت.[1]

احمد شاه بابا د باچا کېدلو په لومړیو دوو کلونو کښې خپل وړومبے دیوان راغونډ او ترتیب کړۀ.

احمد شاه بابا په پښتو او فارسۍ دواړو ژبو کښې شعر وئیلے د ے. او د ے دیوانونه لري، د پښتو او فارسۍ کلام مجموعې ئې د کابل پښتو ټولنې ډېر مخکښې چاپ کړي هم دي[2] د پېښور یونیورسټۍ پښتو اکېډمۍ هم د دوئي پښتو دیوان په کال ۱۹۲۳ء نومبر کښې چاپ کړو چې ترتیب او تدوین ئې قاضي هدایت الله کړے د ے.

---

[1] مثنوي مسافر د علامه اقبال، اروابناد تقویم الحق د دې شعرونو ترجمه څۀ داسې کړې ده.

د فاتح غوندې امیر د ے صف شکن — لري حکم په اقلیم هم د سخن
په آزاد لاس د سخي، په فراغ زړۀ — ډېر ملکونه ئې اخسته او پرېښودۀ
دې تورزن او دې عارف او دې دانا — وکړه ما ته و پاک روح ئې دا وېنا

[2] دیباچه د دیوان احمد شاه ابدالي، مخ ج، ز

ACKU

د پښتو ستر دانشور اروا ښاد علامه عبدالحئ حبيبي د لوئے احمد شاه بابا د اشعارو سمُون د خوشحال خان ختهک د ادبي مکتب سره تړي. د بابا وېنا ته دے ساده او له پېچلو استعارو نه لرې، خوږه او خونده وره وائي.[1] ولې دا خبره عجيبه ده چې دا د پښتو لوئے استاد خپله خبره واپس اخلي او په خپل کتاب "پښتانهٔ شعراء" کښې احمد شاه بابا د رحمٰن بابا د مکتب پيرو گڼي.[2]

علامه عبدالحئ حبيبي د خوشحال خان ختهک د ادبي سبک او مکتب خصوصيات څهٔ داسې شمېري:

(۱) د شعر مېدان ارت بېرت شهٔ. (غزل، مثنوي، قصيده، رباعي، مخمس ترکيب بند)

(۲) په دې سبک کښې، صوفيانه، اخلاقي، فلسفيانه، فکاهي مضامين، مدح، رثا، محاکات او اجتماعي خبرې شته.

(۳) د پښتو او د پښتونولی، احساسات، ملي جذبات لري.

(۴) بدائع او صنائع ورکښې راننوتل، ولې شاعرانو سادگي او سلاست په تکلف او صنعت قربان نهٔ کړل. ډېره پېچلې وېنا ئې او نهٔ کړه.

(۵) حماسي احساسات راغلل.

(۶) تنقيد او هجو هم په دې سبک کښې شته.

(۷) په دې شاعری کښې ډېر حِکم او نصائع شته. د پند او حکمت خبرې لري.

---

[1] لوئے احمد شاه بابا ـ مخ ۵

[2] پښتانهٔ شعراء، مخ ۳۳۰

(۸) د ادبي ارزښت له خوا دا سبک تر ټولو جامع دے، معنوي او شعري دواړه قوتونه لري.

(۹) دا سبک د نزاکت ډک شاعرانه تخیلات هم لري [۱]

اروانښاد علامه حبیبي د رحمٰن بابا د سبک خصوصیات داسې بیانوي:

(۱) د دې سبک شاعر د روح الهام مني، دمادي دنیا سره ډېر سرو کار نۀ لري. د ادبي دڼیا خبرې کوي.

(۲) دا شعر له مادي کثافاتو څخه لرې دے. د صلحِ کل په اړخ تګ کوي. د دې خاورینې نړۍ شور ماشور پکښې نشته.

(۳) دا سبک په ادا او د احساساتو په تصویر کښې سپېڅلے سلیس او آسان دے. ابهام پښۀ نۀ ګني، د شعر الفاظ ساده او ښکلي خوښوي.

(۴) غزلیات، قصائد، رباعیات او د شعر ټول اقسام په سپېڅلي ډول وائي. د مینې او اخلاقو څخه غګیږي.

(۵) د عشق او مینې په دنیا کښې د واقعیت خوا ته ځي. د خیال پېروي کمَوي.

(۶) د دې سبک شاعر عشق او الهام د ژوندون مدار ګني یقین او ایمان په عقلیت غوره ګني [۲]

د حبیب الله رفیع په نیز د احمد شاه بابا شاعري ځانله سبک دے چې د خوشحال بابا د سبک لړې لړې نخښې هم پکښې شته. د

---

[۱] پښتانۀ شعراء، مخ ۲۸، ۲۹

[۲] هـــــــــــــدغـــه ، مخ ۳۰، ۳۱

رحمن بابا د سبک خصوصیات هم لري په دې کښې د روښانیانو د سبک او د پیر محمد کاکړ د سبک رنګ هم شته [1] داسې به اوواېو چې د احمد شاه بابا د شاعرۍ په تصوفي اړخ کښې د رحمان بابا د سبک سره سره د روښاني تصوف رنګونه هم جوت او ښکاره دي. د وحدت رنګ کافي واضحه دے. تر ډېره حده د بابا شاعري د رحمان بابا د شعر سلاست لري البته د دوئي شعر د خوشحال خان صلابت ته هم لږ راتېټ دے.

د دوئي په کلام کښې فني ګڼه وډے دے. د قافیو عیبونه هم لري. ځنې اشعار د بحرونو او سېلابونو له کچ مېچ نه پرېوتي دي. اروانښاد مولانا عبدالقادر لیکي چې د لوازماتو نیمګړتیا ته کتل نۀ دي پکار. ځکه چې د دۀ عقائد، ایماني قوت، اخلاص، مینه او پت او بیا د دۀ علم او تصوف په دې مجموعه کښې د دۀ شخصیت په یو نوي رنګ کښې ښکاره کوي. [2]

د احمد شاه بابا په کلام کښې یو خونده ور اړخ د اولسي ادب رنګ دے. د دوئي ډېر بېتونه او غزلونه له تاریخي نارو، غاړو او د مېندو او ماشومانو سندرو سره نزدې والے لري. اولسي ژبه او ادا هم رانغاړي. لکه دا بیت.

مخــــامخ راغلــــه زیـــــړې
رنـــګ ئـــې ګـــل ســـترګې کلـــې

---

[1] ظهورونه. مخ ۷۱
[2] دیوان احمد شاه ابدالي، مخ ه

دا شعر کتې متې د "غاړې" په رنګ او بڼه د ے. د دیوان مطالعه که ژوره اوشي نو داسې احساس لوستونکي ته کیږي لکه چې د احمد شاه بابا ځانله انفرادي سبک د ے بیل والے ډیر محسوس کیږي [۱].

نو زما په خیال احمد شاه بابا د خوشحال خان د سبک او مکتب سره تړل ځکه صحیح نۀ دي چې د احمد شاه بابا په شاعرۍ کښې هغه دبدبه هغه شدید او ژور حماسي افکار د همت درس او ترغیب د خوشحال بابا غوندې نۀ ښکاري . او نۀ پکښې د خود دارۍ هغه جذبه او آئیډیا په نظر راځي کوم چې د خوشحال خان خټک د شاعرۍ روح د ے او د هغۀ کلام ته ئې یو انفرادي حېثیت بخښلے د ے.

پاتې شُو د روښانیانو د سبک اثرات نو هغه هم د احمد شاه بابا په کلام او شاعرۍ کښې هغسې ژور نۀ دي . کوم چې د روښانیانو د سبک جوت خصوصیات دي . د روښانیانو شاعرۍ کښې د تصوف او سلوک ، وحدة الوجود او وحدة الشهود او د تصوف د مختلفو مقاماتو اظهار په داسې طریقه شو ے د ے چې د هغوي خپل مشاهدات ، تجربات او دلي واردات پکښې صفا ښکاري د هغې په مقابله کښې د احمد شاه په کلام کښې د تصوف او سلوک بیان اثرناک خو د ے ولې داسې صفا محسوسیږي چې د اولیاؤ کرامو، صوفیاؤ کرامو او خاص کر د میاں عمر صیب د مجلس او صحبت د اثر نتیجه ده . چې د تصوف د مقاماتو ذکر او تصوفي اصطلاحات پکښې ښۀ ډیر دي . ولې د روښانیانو غوندې ذاتي

---

[۱] ظهورونه ، مخ ۷۲

مشاهدات ، دلي کیفیات او واردات پکښې نۀ محسوسيږي. او دا انداز د مختلفو ژبو د ځنې صوفي شعراؤ په کلام کښې په نظر راځي -چې د تصوف او سلوک داسې سرسري اظهار او افکار پکښې ښکاري -ان تر دې چې د تصوف پحقله د روښانیانو د مکتب او سبک په شان تصوفي شدت او ادراک د خوشحال خان په شاعرۍ کښې هم نشته -نو ځکه مونږ په دې امتیاز احمد شاه بابا د روښانیانو د سبک او مکتب سره هم نۀ شو تړلے -پاتې شوه د رحمان بابا د سبک خبره نو د احمد شاه بابا د کلام خصوصیات اورنګ د رحمان بابا سبک سره ښۀ تړون لري -ځکه چې د عشق او حقیقي مینې سوز ګداز ، د خدائے او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سره مینه او د مذهب سره مینه چې د رحمان بابا په کلام کښې په کوم انداز او کوم شان غزونې کوي او د هغۀ شاعرۍ ته ئې یو ابدي سوز او تاثیر بخښلے دے -هم هغه سوز ګداز د دنیا بې وفائي او بې ثباتي هم هغه تاثیر د احمد شاه بابا په کلام کښې سره د هغسې روانۍ ، سلاست ، او سادګۍ موجود دي -ځکه نو مونږ احمد شاه بابا د رحمان بابا د سبک او مکتب نه نۀ شو بیلولے او زما په خیال احمد شاه بابا هم د رحمان بابا د مکتب او سبک سره تړون لري. دا لاندیني شعرونه ئې د مثال په طور وړاندې کولے شي.

تۀ چې ما ګورې له ورائے
په زړۀ څۀ دي راته وائے
لږ په زړونو نظر بویه
اے د زړونو دلربائے

عاشقي نـﺉ ده مشكله
چې ئې ته مشكل كشا ئے
احمد شاه د عشق سفر كا
عشق ئې خود وي رهنما ئے [۱]

او دا شعرونه هم :-

كه شاهي ده كه مې سر
تول به جار كړم تر دلبر
راته يو دے بحر و بر
څه كه سمه وي كه غر
توري خاورې ستا د دَر
دي توتيا زما د بصر [۲]

يا دا شعرونه :-

چې زما مينه په تا ده
هر چې كړې زما رضا ده
زړه مې خدائے په تا مئين كړه
چې و خپل ځان ته ئې شاه ده [۳]

---

۱ ديوان احمد شاه بابا . ص ۱۷۲
۲ همدغه . ص ۴۰
۳ همدغه . ص ۱۱۴

## د احمد شاه بابا شاعري:

د احمد شاه بابا په دیوان کښې درې حمدونه دي. دا دیوان غزلې، رباعیات، حمدونه، نعتونه او نور قسم اشعار لري. مخمس پکښې هم شته چې څلور پنځوس بندونه لري، مربع هم شته.

د احمد شاه ابدالي د شاعرۍ روح روان مینه ده. الله تعالی سره مینه، رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سره مینه، اسلام سره مینه، خپل قام سره مینه، خپل وطن سره مینه، د انسان نسل سره مینه لنډه دا چې دا مینه په خپل ځان پورګنې، لکه چې وائي.

اے احمده! تا چې مینه په ځان پور کړه
نور وفا کړه د دنیا فاني رباط[1]

د مینې نه علاوه دوئي د شجاعت، وفادارۍ، صداقت او سیرت اړخونه را اخلي، د ژوند مقصد هم په ګوته کوي.

د احمد شاه بابا په دیوان کښې درې حمدونه دي. اولنے حمد د "بسم الله الرحمٰن الرحیم زما" اولنۍ مصرعه لري په ټول حمد کښې دا مصرعه په هر بیت کښې په اوله مصرعه کښې تکرارېږي. په حمد پسې نعت راځي دا مربع ترجیع بند دے: د ترجیع تکرارېدونکې مصرعه ده. فریادرس یا مصطفٰی.

په رسول ص مې زړهٔ نازېږي
کل اُمت پرې هوسېږي

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي، مخ ۴۹

چـــې پـــه مـــونږ بـــه ورحميــږي
فريـــادرس يـــا مـــصطفیٰ ص[1]

د احمد شاه بابا دوېم "حمد" د نظم په شکل کښې دے بحر ئې لنډ دے دريم حمد د "يا حفيظ!" رديف لري

نفـــس غلـــيم راتـــه ولاړ دے
ســـتا پـــه لاړ يـــم يـــا حفـــيظ[2]

د بابا ديوان الف نامه هم لري د پښتو داتۀ دېرشو حروفِ تهجي په ترتيب د غزلو ليکلے شوې ده. الف نامې ډېرو شاعرانو ليکلې دي. روښانيانو هم ليکلي دي، د ملا ارزاني پنځۀ الف نامې دي. اخون درويزه هم او کريم داد هم ليکلې ده، عبدالعظيم بابا ليکلې ده. علي حېدر جوشي په تپو کښې ليکلې ده.

مثال: د احمد شاه بابا د الف نامې :- (الف)

الـــــف اســـــم د الله دے
د همـــــه زړونـــــو آګـــاه دے
الـــف اســـم کـــه ئـــې ګـــورې
ذات مـې خـود پـه خپـل ګـواه دے[3]

د احمد شاه بابا ديوان همه حروف تهجي د قافيو د آخري توري په حيث راوړي ګرانې قافيې هم لري او هم دا رنګ ډېر ګران د عربي او فارسي تکي لري داسې معلومېږي چې هغوئي لکه د نورو

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۱
[2] هـــــمـــــدغه ، مخ ۴۹
[3] هـــــمـــــدغه ، مخونه ۱۹۸ تا ۲۱۷

شاعرانو د تهجي (Alphabetic) یا تورو راوړل ضروري ګڼل. په هر حال داسې ګرانه برخه بیخي کمه ده. مجموعي اشعار د سلاست او آسانۍ اډانه لري. د ت ح خ د ش ص ض ط ظ ق توري دا ګرانۍ او مشکلات لري. ډېر ګران الفاظ په کښې شته چې معنی ئې مبهمه ده.

مثلاً:

عیوث، هموث، دیوث، حدوث، رغوث، اکثوث، مواس، باص، غاص، قاص، قماص، لصاص، ملاص، حضاض، احقاض، رضراض، مقراض، رباص، وطواط، اخطاط، حطاط، استخراط، حناط، حماط، حظاظ، ظاظ، جواظ، لاظ، عکاظ، جظاظ، لظاظ، کناظ، حیاظ، جعاط، شواط، طاظ، تصدیع، احقنراذ، انفاذ انقیاذ، انجذاذ، انتیاذ، استیلاذ، احناذ، استحواذ، عریقه، شقیقه[1]، په دې کښې د اکثر ټکو معنٰی فهم ته نۀ راځي۔ د کتاب غلطۍ هم کېدے شي د شاعر هم۔

دا د دیوان غوښتنه وه چې داسې ټکي د قافیو په توګه راشي. ولې دا حصه په اوړو کښې د مالګې هومره ده. دا د عربۍ الفاظ د دې خبرې ګواهي کوي چې بابا عالم ؤ، د عربۍ په ژبه ئې درک لرلو. د دې ګرانو ټکو او استعارو په مقابله کښې ساده روان ښکلے انداز هم په نظر راځي. لکه:

په زړګي چې ناقرار ځې
په هوا د مئین یار ځې

---

[1] د احمد شاه ابدالي د دیوان د بیلو قافیو د جدا جدا پاڼو نه۔

د آشنا لوري دِ كوم دے
چې دا هسې ناقرار ځې
دا مقام دې د پټ خوليو
راته ولې په گفتار ځې [1]

يا دا اشعار:

چې زما مينه په تا ده
هر چې كړے زما رضا ده
زړۀ مې خدائے په تا مئين كړه
چې و خپل ځان ته ئې شا ده
زۀ پوهېږم مينه اور دے
په دې خوښ يم چې په تا ده
كه مې سر په مينه بائلو
بيا نو څۀ گيله زما ده
عاشق بې له رڼا درومي
په غافل تيارۀ بلا ده
چې سر ستا په ننگ و بائيلي
د هغو ولې ژړا ده؟
په ننگ مړ خو څۀ مړ نۀ دے
د بې ننگ ژوندون جفا ده
هر مېړۀ چې شي بې ننگه
پلار ئې سپے دے مور ئې غوا ده

[1] ديوان احمد شاه ابدالي، مخ ۱۸۵

ACKU

لاس بــــه وانخلـــم لـــــه ننگــــه
کــــه پـــه ننـــگ پـــاتې دنيـــا ده
بـــې ننګـــي د يـــار ننـــګ نـــۀ ده
بــــې ننګـــي ئـــې مـــدعا ده
چـــې ســـر پرېکـــړي احمـــد شـــاهه!
د هغــــــو مينـــــــه رښـــــتيا ده[۱]

ډېر ښکلي سپېڅلي، آسان د ننګ شعرونه دي. د بې ننګۍ غندنه ده، ډېر اعلی بيان دے، څکه دانشورانو ورته پېرزوينې وړاندې کړي دي.

الفنستن مُستشرق چې د تاريخ افغانستان مصنف دے ليکي:

" احمد شاه ابدالي د اوچتو اخلاقو، عدل و انصاف او انتظامي صلاحيتونو نه علاوه شاعرانه ذوق هم لرلو. او دا شاعري دۀ پخپله پښتو ژبه کښې کړې ده. اګرچې حکومتي مسکوکات ټول په فارسۍ ژبه ليکلے شو"[۲]

ښاغلي بهادر شاه ظفر کاکاخېل په خپل کتاب "پښتانۀ د تاريخ په رڼا کښې" ليکي:

احمد شاه ابدالي نۀ صرف يو بېدار مغزه بادشاه ؤ، بلکې د پښتو ژبې يو ښۀ شاعر او علم دوسته انسان ؤ. د شعرونو يو ديوان ئې موجود دے. دۀ ته خلقو د ولي الله په نظر کتل" [۳]

---

[۱] ديوان احمد شاه ابدالي. مخونه ۱۱۴، ۱۱۵

[۲] Mount Stewart Elphinstone, The kingdom of Kabul,

[۳] پښتانۀ د تاريخ په رڼا کښې. ص ۸۸۲

پښتون اديب او شاعر ميا سيد رسول رسا د خپل کتاب "د رحمان بابا ديوان" په ديباچه کښې ليکي:

" د احمد شاه ابدالي په کلام کښې د تصوف رنګ موجود ؤ، او په دې سبب د دهٔ کلام ته په پښتو ژبه ډېر ادبي او علمي اهميت حاصل دے. د دهٔ ټول عمر لکه د خوشحال خان په جنګ و جدل کښې تېر شوے دے. د تېغ نه ئې د قلم په نسبت ډېر زيات کار اخستے دے، خو د دې باوجود په ديوان کښې ئې د تېغ و سنان رنګ ډېر کم دے. په تخت ناست دے، د تصوف غزلې، بدلې وائي... د چا د لاسه پرېشان او سرګردان نهٔ شو خو د تصوف د علامتي لېلى د زلفو د لاسه پرېشان او سرګردان ښکاري لکه چې وائي:

زما زړهٔ ګوره چا يوړو
په دؤ زلفو لېلى يوړو
دا د زلفو بلا نهٔ ده
بې بلا محبوبا يوړو
د دنيا په مخ ئې مخ کړو
مخ ئې مخ د دنيا يوړو
دا کتاب زما د سترګو
سېلابو په ژړا يوړو [1]

د دې اقتباس نه دا مطلب راخيژي چې دا د رزم د مېدان غازي په شعر کښې د رزم خبرې کمې کوي. د بزم او معرفت زياتې خبرې خوښوي.

---

[1] ديباچه د رحمان بابا ديوان، ص و

د احمد شاه بابا په شاعرۍ کښې د پښتونولۍ، د وطن او قام مينه، رومانيت، د اسلام او مذهب مينه او تصوفي رجحانات د سرخط لاندې بابونو کښې به انشاء الله نور بحث کؤ.
د احمد شاه بابا د ديوان ګڼې قلمي نسخې موندلے کيږي. موږه د دۀ د ديوان نسخې په دوو ډلو وېشلے شو. يو د هغه ديوان نسخې دي چې دۀ د خپلې واکمنۍ په څلورم کال راغونډې کړې او زياته برخه ئې ددۀ د ځوانۍ اود باچاهۍ تر دورې وړاندې شعرونه دي. دا ديوان بيا بيا نقل شوے دے. د دې په پايه کښې ئې دا بيتونه راغلي دي.

کتـــاب تَـــم پـــه دوشـــنبې
مـــوږ بـــه ځـــو تاســـو دلـــې
پـــــه آخـــــر ورځ د روژې
ســـن هـــزار و صـــد شـــصت رسـې( ۱۱۶۰ )
چـــې آرام وربانـــدې نـــۀ وي
بيـــا شـــي صـــبر تـــسلې
احمـد هغـه وخـت کـښې يـاد کـړئ
چـــې پکـــار نـــۀ وي تـــوبې

د دې دفتر په اکثرو شعرونو کښې د دۀ نوم تش"احمد" راغلے دے. د احمد شاه تخلص په هغه اشعارو کښې دے چې د شاهۍ په وخت ئې وئيلي. بل د دۀ د ديوان هغه نسخې چې د دۀ د مړينې وروسته

راغونډې شوې او ټوله شاعري پکښې خوندي ده، دا بشپړې نسخې محدودې او معدودې دي.[١]

د کابل او د پېښور په چاپو نسخو کښې لانديے باندے شته باید چې دا لانديے باندے ختم شي چې جامعه بشپړه مجموعه جوته شي. تیاره شي او د تصحیحاتو سره چاپ شي. د بابا د کلام سره کاتبانو لوبې کړي دي.

د احمد شاه په دیوان کښې د فارسي غزلې هم شته. ټولې پنځه غزلې په نظر راځي لکه:

مـازنِ حاملـه بـوديم درکنـارِ عـرش مُجیـر
بـود فرزنـدِ مـا در زیـر چـادر دایـهٔ پیـر[٢]

په دې شعرونو کښې د انسان د پیدائش مدارج درج دي. بچے پیدا شي، د مور تے روي بیا ورو ورو لوئیږي د کبر، کفر، عشق د پرله پسې مراحلو نه تېرېږي، بیا سر اوخوري او لمبولے شي، کفن ئې جوړ شي، ښخ شي. اے احمده ستا وجود داسې راغے اوس دا روح دې اومره چې ضمیر دې رابیدار شي.

یو بل غزل دے :-

دیـدم شخـصے در صـحرائے عـدم
نـے سر داشــت نـے دم نـے قـدم[٣]

---

[١] ظهورونه ، مخ ٧٢، ٧٣
[٢] دیوان احمد شاه ابدالي، مخ ٤١
[٣] هم دغه، مخ ٧٣، ٧٤

دلته د یو خدائے ته رسېدلي انسان ذکر دے. چې د طریقت منازل ئې طے کړي دي. ما ته ئې دا نصیحت او کۀ چې د شرط نه تېر شه او په طریقت کښې قدم واخله، طریقت ګل دے معرفت د دې اغزے دے. د دې دواړو نه چې نور هم بره شې نو نور به شې.
یو بل غزل دے:

بسته سحر از سروَے پائے ستم
بیاتو دا د جان بلبل حاضرِ منم [1]

په دې غزل کښې د معمٰی خبرې دي. پیچیده، دا دنیا څۀ عجیبه د کشمکش ځائے دے، یوه معمٰی وائي. "احمد بس کن مګو این معما را در عالم". یعنې اے احمده دا پیچیده خبرې مۀ کوه. څوک چا ته دا خبرې نۀ کوي.
یو ښکلے د فارسي غزل ئې په دیوان کښې دے:

چو برمن تیر مژګان میزند آن شوخ ګلګونم
چولاله داغ بردل تاسراپا غرق درخونم

دلِ احمد زتو دارد همیں یک آرزوئی خود
به دیدارت رسم مانند زِګریه چشم جیحونم [2]

ډېر ښکلے غزل دے، په وزن او ردم بېخي پوره دے، د اعلی شعریت خوند ترې تر لاسه کېږي لکه د حافظ شیرازي شعرونو خوند پکښې موجود دے.

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۷۴
[2] هم دغه ، مخ ۸۷

محبوبه د ښو غشي راوروي. د لاله غونډې سر تر سره وینې یم، زخمي زخمي یم، د زړۀ له سوزه د حسرت اوښکې بهیوم، د زړۀ د وینو نه مې دریاب (جیحون) ساز شۀ. ستا د عشق اور زړونه بل کړل، زما دا زړۀ داسې اوسوزېدو چې د ځانه خبر نۀ یم، که پښتنه زما نه کوې نود زړۀ حال ته مې اوګوره چې لکه د بید مجنون (د ولې ونې غونډې) د غېرت نه په مزکه پرته یم. ستا د مخ په خزانه مې چې د زړونو ښاماران اولیدل نو داسې سوزم، داسې ژاړم چې نۀ یم خبر چې څۀ راباندې اوشو.

دلِ احمد زتودارد همیں یک آرزوئی خود
به دیدارت رسم مانند زگریه چشمِ جیحونم

د احمد زړۀ ستا نه یوه آرزو لري چې ستا په دیدار زما د جیحون (دریاب) غونډې اوښکې لارې نخښې جوړې کړې.

یو بل غزل:

دل میــــرو د لبــــسوئې تــــو
غــــم نــــرود ســــوئې تــــو[1]

زړۀ مې تا ته درځي، غم نه، دې ژړا ته مې ګوره، په زلفو دې تړلے یم، که ستا د مخ نمر اووینم د ذرې غونډې به درشم. کونتره یمه ستا په کوڅه چغې وهم، چې ستا د نسیم بوئې راغے د زړۀ بلبل په چغو شو....

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي، مخ ۱۰۰

بل آخري غزل دے:

رو کـه رویـم میخانـه وطـنِ ما است
گر بمیریم درینجا عشق کفن ما است[1]

راځه چې د مېخانې په طرف ورشو هغه مو وطن دے، او که دلته مړۀ شو نو د عشق کفن به زمونږ کفن وي. هر ګاه چې د اسلام په تلاش کښې یُو نو مېخانې ته ځکه ځو چې د ایمان د نور په شرابو مو خُلۀ ډکه وي. وجود مو د عشق له کبله معدوم شي نو په قبر مو د وجود ځلے یعني لوح اودرېږي. د دوو کون وجود له "کان" راغے. په عشق کښې اصل مکان زمونږ عدن دے.

احمدا بیا قدم به افلاک زنیم
نیستی ما هستی شکنِ ما است

اے احمده راځه چې په افلاکو قدم کېږدو. زمونږ نیستي (عدم) زمونږ هستي ختموي.

زۀ د یو رېسرچ سکالر په حیث د تحقیق کښې بوخت طالبعلم یم دا په باب کښې ټینګه ومنم چې د احمد شاه بابا د کلام اصلاح ضروري ده. کاتبانو چې غالباً په پښتو ډېر پوهه نۀ وو د پښتو د رسم الخط نه ډېر واقف نۀ وو نو ځکه د بابا کلام هغه شان راورانډې نۀ شو لکه چې په کار وو او څنګه ؤ. نو د اصلاح ضرورت موجود دے. ځکه چې په غزلونو کښې ئې بې شمېره غلطۍ موجودې دي. ډېر شعرونه بې وزنه دي. او ډېرو شعرونو کښې د قافيې پابندي هم نشته. خو دا خبره یقیني ښکاري چې دا ټولې

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي . مخ ۲۱۸

غلطي د کاتب غلطي دي. ځکه چې د احمد شاه بابا د غزلونو د معيار نه او د تخيل د لوړتيا نه او د هغه په کلام کښې چې څومره صنائع بدائع دي چې په روستي ,, پنځم باب،، کښې ما په تفصيل سره په ګوته کړي دي. ددې خوبيو نه دا معلوميږي چې احمد شاه بابا د شعر په فن ښه پوهېدو او د داسې خاميو امکان ترې نشته ځکه نو په کلام کښې ئې چې کومې کمزورۍ او خامۍ د وزن او قافيو موجودې دي. دا د کاتبانو نه شوې دي. او يا ئې کړې دي.

# د احمد شاه بابا

# د شاعرۍ باره کښې يو اهم وضاحت

ځنې خلقو د احمد شاه بابا دشاعرۍ پحقله شک کولو چې دا د هغه ده او که نه نو ما ضروري اوګڼل چې دې خپله مقاله کښې په دې اړخ هم تر خپله وسه پورې کار او تحقيق اوکړم د احمد شاه بابا د ديوان او کلام په ژور نظر د لوستو په وخت دا صفا محسوسيږي چې همه خصوصيات کوم چې د احمد شاه بابا په ژوند او ذات کښې موجود ؤ ـ هغه د هغه په شاعرۍ کښې په ښه ډول په نظر راځي.

د صوفياؤ کرامو اولياؤ د مجلس او صحبت اثر، تصوف او سلوک سره ذهني تړون د دنيا بې ثباتي او د تصوف بې شمېره اصطلاحات، د مذهب او دين مينه، تصوفي رجحانات او په تېره تېره د بادشاهۍ احساسات او جذبات، د وطن نه لرې پاتې کېدل

او د مسافرۍ احساسات دا ټولې داسې خبرې دي . چې د هغۀ په کلام کښې په شدت سره په نظر راځي . يعنې د احمد شاه بابا ذات چې د کومو خصوصياتو حامل ؤ هغه ټول خصوصيات د هغۀ په شاعرۍ او کلام کښې په ښۀ ډول موجود دي . او دا منلے شوے حقيقت دے چې د يو اديب شاعر او ليکوال کلام او فن پاره د ليکونکي د ژوند او د هغۀ د ذات د هغۀ د احساساتو او جذباتو او د هغۀ د نفسياتو ترجمان وي . څومره چې د هغۀ ذات او ژوند ګڼ اړخيز وي هم هغه هومره به د هغۀ کلام متنوع وي . دا هيڅرې ممکنه نۀ ده چې کلام دې د يو وي او احساسات اوجذبات دې پکښې د بل په پوره ډول ځائے شوي وي .

نو لکه چې ښکاره خبره ده چې په پښتنو کښې (بلکه په ټوله نړۍ کښې) داسې بل شخصيت نۀ دے تېر شوے چې هغه دې په يو وخت هم بادشاه او فاتح وي هم صوفي وي هم شاعر وي او هم دې پير مرشد لري او د هغوي صحبت او مجلس کښې دې د زړۀ نه شامل وي . او د خپل وطن نه دې لرې هم پاتې شوے وي . او د وطن ارماني دې وي . دا ټول احساسات ، جذبات خصوصيات او حېثيتونه صرف د احمد شاه بابا سره تړلي دي . او هم دا واړه خصوصيات او دا ټول حېثيتونه د هغۀ په کلام کښې ښکاره دي . او ډېره ښکاره او ژوره عکاسي پکښې محسوسېږي .

نو ځکه دا ممکنه نۀ ده چې دا کلام دې د چا بل شاعر وي او دا ټول احساسات، جذبات او نفسياتي رنګونه او دا واړه اوصاف او خصوصيات دې پکښې داسې په شدت سره موجود وي . او داسې

تاثیر ناک اظهار دې پکښې شوے وي۔ دا کلام صرف او صرف د احمد شاه بابا کېدے شي ۔او دا د احمد شاه بابا د کلام انفرادیت دے ۔د مثال په طور د رحمان بابا کلام کښې که تصوف او اخلاقیات شته نو شاهانه دبدبه پکښې نشته ۔لکه چې د خوشحال خان کلام کښې ننګ ناموس ، حماسیت شته نو هم شاهانه افکار او احساسات پکښې داسې نۀ ښکاري که د اردو شاعر بهادر شاه ظفر په کلام کښې شاهانه احساسات ښکاري چې هغه هم بادشاه ؤ نو د تصوف او سلوک داسې ژور اظهار پکښې نشته۔

زۀ دا په ډېره زړۀ ورتیا سره وایم چې بل د یو شاعر په کلام کښې دا ټول خصوصیات ، احساسات او جذبات په نظر نۀ راځي کوم چې د احمد شاه بابا په دیوان کښې په یو وخت جمع دي ۔ځکه چې صرف هغه په پښتنو کښې یو داسې شخصیت ؤ چې بادشاه هم ؤ فاتح هم ؤ صوفي هم ؤ شاعر هم ؤ د وطن نه لرې هم پاتې شوے ؤ ۔او دا جامع اثرات د هغۀ د شاعرۍ او کلام د پېژندګلو او انفرادیت دپاره کافي دي او هم د هغۀ د کلام او شاعرۍ خاصه کېدے شي ۔دلته داحمد شاه بابا د ټولو حیثیتونو او احساساتو هنداره شعرونه د مثال په طور رانقل کووم۔

شاهانه احساسات :-

اے احمده دنیا تېره په هر چا ده
ستا په توره به بل وخت فخر پښتون کا [1]

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، ص ۲۸

احمد شاه به دغه ستا قدر هېر نۀ کا
که اونیسي د تمام جهان ملکونه

که مې برق د سپیني توري بیا برېښنا کړه
ستا په مهر په هر لوري عالمګیر یم

چې خدائې لوئې کړلې احمده
تل د خوارو دستګیري کړه [1]

په برېښنا د توري ژوند کوه احمده
د بري جولان په لور د هر د یار که

بادشاهان که خوښ وي د ټنګو په مغزینه
ماله یار بس دے نۀ د زرو دفینه [2]

چې ښۀ کاتۀ د یار شاه احمده بادشاهي ده
او که نظر نۀ وي په شیونو کښې څۀ شے [3]

ستادتورو سترګو مې په زړۀ کښې مات خدنګ دے
زۀ به ورته ګورمه تېرۀ توبري د جنګ دے

---

[1] دیوان احمد شاه ، ص ۲۱۳
[2] همدغه، ص ۱۴۹
[3] همدغه، ص ۱۷۲

چا چې ستا تېرۀ خدنګ په زړۀ ئې دے خوړلے
اوس له خپله کوره هم په تاپسې ملنګ دے[١]

احمده خوبن په بادشاهي ئې
او که عشق ورې له جهان[٢]

ربه زۀ ستا د در ګدا یم
څۀ شو نن که احمد شاه دراني یم[٣]

د غم دې راغلۀ په ما فوځونه
تاخت و تاراج شو د زړۀ کورونه[٤]

نور هم ډېرو شعرونو کښې داسې نفسیات ، احساسات او تشبیهات شته چې د هغۀ د بادشاهي او جنګونو فاتحانه حېثیت اظهار ترې کېږي -د هغۀ ډېر تشبیهات او استعارات د میدان جنګ سره تعلق لري-یعني رزمیه دي بزمیه نۀ دي.

چې لښکر د یار د زلفو مخامخ شي
زړۀ که هر څۀ بادشاه شي ماتې پېدا کا[٥]

---

[١] دیوان احمد شاه دیوان ، ص ١٧٢
[٢] همدغه ص ٢٠٢
[٣] همدغه، ص ٢١٢
[٤] همدغه، ص ٢٣٣
[٥] همدغه، ص ١٢٢

دا اشعار د احمد ابدالي د دیوان د مختلفو صفحو نه راغستے شوي دي

احمد شاه فکرونه پرېږده
بخره مومه له جرأته[۱]

احمد شاهه د همت توره درواخله
نفس شیطان هندو دې وباسه له کچه[۲]

هغه خپل اصل به تهٔ هله بیا مومې
چې د کبر ګردن وباسې له خرچه[۳]

که د خولې داد پرې وکړې
احمد شاه کړې سربلند[۴]

او دې لاندې شعرونو کښې ئې هم خپل شاهانه ژوند سره تړلي استعارات او تشبیهات راوړلي دي

دا د زلفو له تاراج
اخلي سر و مال په باج

نهٔ په زرو نه په زور شي
بادشاهان باسي له باج

[۱] دیوان احمد شاه ، ص ۱۰۲
[۲] همدغه ص ۱۱۰
[۳] همدغه، ص ۱۱۰
[۴] همدغه، ص ۳۲

دا اشعار د احمد ابدالي د دیوان د مختلفو صفحو نه راغستې شوي دي

ACKU

چـــې د حـــسن قـــافلې ځـــې
ځـــه پـــروا ئـــې لـــه خـــراج[۱]

کاتـــه سـبف ابـرو کمـان بـانړه خـدنګ دي
پـه سـر تـور کاکـل سـنبل زلفـې تالـه کـا[۲]

کـه احمـد بادشـاه د يـار پـه در قبـول شـي
ځـه پـروا کـه د رقيـب لـه دې لالـچ[۳]

احمدشـاه ځکـه زاري سـتا پـه دربـار کـا
چـې نيـولې دے د حـسن پـه فرمـان سـتا[۴]

تـه چـې هسې تيره غـشي همېشه ساتې لـه ځنګـه
داعاشق به ځه رنګ وېره نه کوي ستاله خدنګه[۵]

کـــه زړه شـــاه عقـــل وزيـــر شـــي
ځـــه پکـــار پـــه دا دربـــار دي[۶]

---

[۱] ديوان احمد شاه ، ص ۲۲
[۲] هـــمـــدغه ص ۲۸
[۳] هـــمـــدغه، ص ۲۸
[۴] هـــمـــدغه، ص ۸
[۵] هـــمـــدغه، ص ۱۳۱
[۶] هـــمـــدغه، ص ۱۳۰

دا مهم د عشق آسان نهٔ دے احمده
دا مهم د خدائے په داد که ئې خدائے راکا[1]

د دنیا چارې احمده په همت شي
په همت به ئې د زلفو شي تارونه[2]

که غره دے په طاقت خلق احمده
بارې تهٔ له غریبانو دعا غواړې[3]

وروځې ئې لیندې دي
بانهٔ ئې سکڼې زغرې[4]

په همت به ئې تسخیر کړم
شاهانه په شان وفر[5]

که شاهي ده که مې سر
تول به جار کړم تر دلبر

---

[1] دیوان احمد شاه. ص ۱۳۰
[2] هـ دغه ص ۱۴۸
[3] هـ دغه. ص ۱۵۱
[4] هـ دغه. ص ۱۲۴
[5] هـ دغه. ص ۴۰

راتـــه يـــو دے بحـــر وبـــر
کـــۀ څـــه ســـمه وي کـــه غـــر

داسې بې شمېره شعرونه د احمد شاه بابا په ديوان کښې شته .چې پکښې د هغۀ شاهانه او د مړانې نفسياتي رنګونه صفا ښکاري او ددې نه علاوه پکښې داسې استعارات او تشبيهات راوړلے شوي دي کوم چې د بادشاه او فاتح د ژوند سره تړلي دي.
اوس به ئې د مثال په طور هغه شعرونه رانقل کړم چې د هغۀ د صوفيانه مذاق او د تصوف او سلوک سره ذهني تړون او د صوفيائے کرامو د مجلس او صحبت اثر او صوفيانه اصطلاحات پکښې صفا ښکاري.

ســاقي جـــام د لالـــه ميـــو مالـــه راکـــړه
اوس د ميـــو پـــه خمـــار ســترګې مـــشال ځـــم

اوس چـــې د جبـــروت[۱] پـــه صـــحرا راغلـــم
د لاهوت[۲] مارغـۀ پـه لاس پـه ښـکار د خـال ځـم

د ملکـــوت حميـــل مـــې جـــوړ کـــړو
د وحـدت فکـر مـې کـړو بـې پـر و بـال ځـم

[۱] لوئے والے عظمت
[۲] الله تعالی ته د رسېدو هغه مقام چرته چې يو سالک د فنا فی الله درجې ته اورسي.

د ددریـــاب پـــه دود ځـــي لـــه ځانـــه راغلـــے
ځکـــه بحـــر پـــه موجونـــو مـــالامـــال ځـــم

د هویـــــــت اوره پـــــــه وحـــــــدت ؤرې
د احـــدیت بـــاران پـــه لاس پـــه پـــشکال ځـــم[1]

دا ټول غزل هم د تصوف او سلوک ښکلے اظهار دے .

کـــۀ مـــې زړۀ پـــټ حـــال ښـــکاره کـــا
عـــالم بـــه ئـــې مـــړ یـــا مـــسخره کـــا

هلـــــه زړۀ لـــــه ځانـــــه خـــــوښ ؤ
اوس وماتـــــه ننـــــداره کـــــا

مـــدام د زړۀ پـــه بورجـــل بانـــدې
تیـــغ د لاهـــوت ئـــې ســـراره کـــا

لـــه جبـــروت میـــدان تـــازي کـــا
ملکـــوت د دولـــت اس پـــرې کـــره کـــا

ناســـوت فـــاني بـــه نـــۀ شـــۀ
مکـــرر پـــر ســـر د ســـیره منـــاره کـــا

[1] دیوان احمد شاه . ص ٨٠

چــې نــهٔ ســیر نــهٔ معرفــت وي
د روح نـــور د نـــوره ننـــداره کـــا

چــې نــور لــه نــوره ننــداره کــا
تــرو معرفــت انــسان و لــې دوبــاره کــا

د مثــال بــازار مــې ولیــدو پــه ســترګو
ســـود ســـودا زمـــا پـــه بـــشره کـــا

کــه زمـــا بــشره ئــې خوښــهٔ نــهٔ وه
بیــا دې بــل عــالم جــوړ ســرا پــرده کــا

مثـــال لـــه احاطـــه جـــوړ احاطـــه دے
د عـــرش پیـــک و ماتـــه اشـــاره کـــا

عـــرش لـــه محـــیط عـــالم محـــیط دے
عـــالم بـــه درســـت د مـــخ آئینـــه کـــا

د مـــرات نظیـــر لـــه آئـــین دا دے
لکــه نمــر ـ خــان پــه خیــر جــوړه ســایه کــا

نـــور عـــالم پـــه خولـــهٔ خبـــرې کانـــدي
احمـــد ئـــې د زړهٔ پـــه چوتـــاره کـــا[1]

---

[1] دیوان احمد شاه ص ۵۹ .

د احمد شاه بابا دیوان کښې داسې ګڼ شمېر شعرونه بلکه سالم سالم غزلونو کښې د تصوف او سلوک بیان دے او ددې مقاماتو او اصطلاحاتو اظهار پکښې شوے دے. خو زۀ ځکه په دې اشعارو اکتفا کوم چې په درېم باب کښې به د تصوفي رجحاناتو د عنوان لاندې د بابا په دې اړخ په تفصیل سره بحث راشي.

دې لاندې شعرونو کښې ئې د مسافرۍ احساسات او د وطن د ارمان دے.

د هر چا وطن یادېږي
ځکه زانې کـه کوکار[1]

دا جهان ډېر پرې نازېږي
احمد شاه د خپل وطن ارمان کا[2]

احمد شاه به دغه ستا قدر هېر نۀ کا
که اونیسي د تمام جهان ملکونه[3]

---

[1] دیوان احمد شاه ص ۳٦
[2] همدغه، ص ۱۲۸
[3] همدغه، ص ع

## أ) احمد شاه بابا په حیث د یو پښتون:

د یونان سپلاني مؤرخ هیرودوټس چې په خپل تصنیف "استوریا" کښې د کومو پختایانو (Paktians) ذکر کړے دے. هغه اولني پښتانۀ قبائل دي. د دې قوم ذکر په ویدونو کښې هم په نظر راځي. څومره تاریخي شهادتونه چې مونږه ته تر لاسه شوي دي د هغې نه جوته ده چې درې زره کاله آګاهو د پښتنو قبائلي اتحاد یا قامي وحدت موجود ؤ. د پښتون قوم ابدالي په کال ۱۷۴۷ء کښې په دراني بدل کړے شو.[1]

د احمد شاه ابدالي تعلق د ابدالي قبیلې سره دے او هغه د دې نوم دراني اوګرځولو. او دا د یو صوفي درویش صابر شاه د خولې عطا شوے لقب ؤ. یعنې در دوران چې احمد شاه بابا ترې در دُران جوړ کړو. او شاید چې د دې لقب په عطا او بخښلو کښې د څوکنو د میا عمر صاحب هم اشاره وي. د تاریخي شواهدونه صفا معلومېږي چې میا عمر صاحب د ابدالي پیر مرشد ؤ، مخکښې به ذکر راشي. د دُران په مناسبت د ابدالي قبیله "دُراني" اوګرځېده. او دا حکم داحمد شاه بابا د طرفه اوشو.[2]

دلته به دا خبره کول مناسب وي چې د پښتنو د نسل ابتداء د قیس سره تړلے شي. ځنې دوئي ته بني اسرائیل هم وائي. څوک ئې د آریاؤ

---

[1] ظهورونه ، مخ ۴۷،

[2] دي پتهان (اردو ترجمه) مخونه ۳۵۴، ۳۵۵

نــه ګرځــوي. د قــېس نــه دريٍ نــسله اوچلېــدل. ســړبن، بېــټن، غورغشت، کرلان.[1]

د سړبن (د ټولو نه مشر) دوه ځامن ؤ، شرخبون او خرشبون. اولف کېرو وائي چې د بحث خلاصه دا ده چې شرخبون د افغانانو يعنې ابداليانو چې ورته اوس درانيان وئيلے شي. او د هغوئي د قرابتدارو قبيلو "اور نيکۀ" جد امجد دے او خرشبون د پېښور د وادی او د نژدو شمالي غرونو کښې د ختيزو برخو يعنې د يوسفزو (مندڼ هم)، مهمندو، خليلو، داؤدزو او محمدزئي قبيلو "اور نيکۀ" (جدامجد) دے. اولف کېرو خپل دې خبرې سره نقشه هم ورکړې ده. چې د هغې له مخه د شرخبون د ابدال نومې نمسي د دوو ځامنو پنج پاؤ او زيرک نه نورزئي، علي زئي، اسحاق زئي (د پنج پاؤ اولاد) اواچک زئي، بارک زئي، علي کوزئي، پوپل زئي (د زيرک اولاد) راځي. د پوپل زئي نه سدوزئي ښاخ دے. هم دوئي د کال ۱۷۴۷ء نه تر کال ۱۸۱۸ء په افغانستان حکومت کړے دے. چې باني ئې احمد شاه ابدالي دے.[2]

د احمد شاه اصلي نوم احمد خان دے. احمد شاه ابدالي د قندهار اوسېدونکے ؤ. دا خالص د پښتنو اهمه ښاريه ده. دلته سکندراعظم، چندراګپتا او اشوکا هم رارسېدلي دي.[3]

---

[1] دي پټهان، اردو ترجمه ، مخ ۳۳

[2] هــــمــــدغه ، مخ ۳۴

[3] ظهوررونه ، مخ ۳۱

د پښتو میرویس بابا (غلزئي هوتک ښاخ) هم دلته د افغانانو د خپل حکومت د بنیاد تیګه کېښودلې وه. اولف کېرو په خپل کتاب "دي پټهان" کښې لیکي چې کوم نادر شاه د ایران په تخت قبضه کړې وه، هم هغه په یوه توګه د افغانستان د دراني سلطنت د بِنا سبب ؤ.[1]

په دې ضمن کښې ځنې بنیادي خبرې کول مناسب دي.

د پښتون "ابدال" نوم د خپل نسلیاتي قوم اېفطال سره تړون لرلو، په دې حقله مؤرخین لیکي چې لکه د پښتنو اېفطلي وفاق مات شۀ، لویه جرګه ئې خوره وره شوه نو د قبیلو او خېلونو لوئے او وړې جرګې فعالي او حرکت کوُنکې شوې. د هندوکش نمر قطب ته پرتو اېفطلیانو (ابدالیانو) د وفاق ماتېدو باوجود د جُدا شوو قبیلو سره خپله رشته او رابطه ختمه نۀ کړه او دوئي د قامي عمارت اډانه کولو کښې لاس کولو. د هندوکش غر په سویلي علاقو کښې هم د ایفطلي خېلونو د حکمرانئ عسکري قوت او حېثیت کم شوے ؤ نو مضبوط او زورورو قبیلو هغه د سلېمان غر لمنو ته اوشړل. د هغو ځایونو وړو قبیلو دوئي ځان سره شامل کړل. ځنې تاریخي شواهد دا خبره ثابتوي چې دغلته کښې د پښتون د نوي نسلیاتي او قامي ساخت بنیادي تیګه اېښوے شوې وه. د نولسمې صدئ پورې به د هندوکش کافرو قبیلو ټول پښتانۀ د ابدال په نسلي نامه بلل، کوشیانانو او توخاري قبیلو هم د پښتون په نسلیاتي تشکیل

[1] دي پټهان ، اردو ترجمه، مخ ۳۴۷

کښې شمولیت کړے دے. د قومیت سازۍ په وړومبي منزل کښې پښتانهٔ په ګاونډي ملکونو کښې د افغان په نامه یادېدل[۱]

مورخین لیکي د هندوستان نه بره قطبي قبلئیزه علاقه کښې اوګانان، یعنې افغانان اوسي. هوِن سانګ[۲] هم په خپله سفرنامه کښې د پښتنو ذکر کړے دے. دغسې په لسمه یؤلسمه صدۍ کښې مؤرخینو د اباسین دریاب نه تر آمو دریاب پورې علاقو ته د پښتنو ملک وئیلے دے. البېروني[۳] او ابنِ بطوطه[۴] (تحفة النظر کتاب) هم په دې علاقه د پښتنو د مېشتهٔ والي بیان کوي. انګرېز مؤرخ راورټي لیکي چې د کرم، ګومل او سلېمان غر علاقې په پښتون پښت یادېدې[۵]. په دیارلسمه څوارلسمه پېړۍ کښې پښتانهٔ قبیلې د سوات، دیر، مردان، پېښور، بنون، کوهاټ، وزیرستان، کابل، غزني، قندهار، ژوب، لورا لائي کښې سر دوباره آبادې شوې. د پښتنو تر مېنځه د جنګونو له کبله پښتنې جرګې به ماتېدې. قبائلي اتحادونه به کله ترلي او کله پرانستلي وو. کله چې د پښتونخواه ټوله خاوره پښتنو د بهروني غاصبانو نه آزاده کړه او په خپل نسبي ملک ئې پښې اونیولې نو بیا د لوئے جرګې د قیام او قامي وحدت دپاره هلې ځلې شروع شوې. ولې په دې کښې

---

[۱] (۱) ظهورونه ، مخ ۴۸

(ب) (کتاب اوسنے افغانستان د خپل جوړښت په بهیر کښې) مخ ۱۰۹

[۲] هوِن سانګ، چیني سیاح وو.

[۳] البېروني مسلمان عالم تاریخ دان دانشور وو

[۴] ابنِ بطوطه د ډېرو ملکونو، براعظمونو سېلګر وو

[۵] د پښتون قامي تشکیل او احمد شاه ابدالي . مخ ۴۸

جاګيري نظام خرنډونه پېدا کول. بيا داسې اوشوه، د لارو د محصول اخستواو فوځۍ دستو ساتلو اختيار مغلو، ترکو، غوريانو، ايرانيانو نه ترلاسه شو. په دې د پښتنو په معاشره کښې د مساوات اډانه ګډه وډه شوه.[1]

هم دا وجه وه چې د سدوزئي جرګې باني د ابدالي قبيلې مشر د احمد شاه ابدالي غُر نيکۀ اسدالله خان ("سدو" پېدائش ۱۵۵۸ء) جرګو له ترقي ورکړه. د هغې په زور ئې او خوښه ئې خپله حکمراني ټينګه اوساتله.[2]

البته دا خبره وه چې په دغه جرګو کښې کمزورو طبقو او اقليتونوته د رائے حق حاصل نۀ ؤ. د محرومۍ دې احساس په هغوئي کښې بېداري پېدا کړه. دوئي راويښ شو، دوئي غاصبانو ته اودرېدل، دوئي داخلي او خارجي غاصبانو ته پتون اوتېږؤ. تاريخ ګواه دے چې په دغه تحريکونو کښې روښاني تحريک د ټولو نه مضبوط، زيات عمري او منظم تحريک ؤ. د بابر بادشاه تزکِ بابري د وېنا مطابق د روښانيانو نه وړاندې يو بل فعال تحريک شروع شوے ؤ. د دې تحريک مشر شهباز قلندر ؤ. بابر ليکي چې زما په حکم د هغۀ هډوکي د قبر نه را اويستے شول او په اور اوسوزولے شول، ايرې ئې اباسين ته واچولے شوې[3]

---

[1] ظهورنه مخ ۴۹

[2] هم دغه. مخ ۵۰

[3] هم دغه . مخ ۵۰

خوشحال خان ختک هم په ۱۲۹۱ کښې د مغلو خلاف ټکره واخسته. دهٔ هم د پښتون ریاست غوښتو، د پښتنو معاشره کښې د اولسي معاشرتي جدوجهد او جرګئیزو هلو ځلو د استحکام او واحد پښتون قوم په جوړولو کښې هغو تحریکونو تاریخي کردار ادا کړے وُ. چې د اتلسمې صدۍ منځومانه کښې ئې ټول پښتون قام دننه د لوئے افغانستان په خاوره راغونډ او متحد کړو. لوئے بابا میرویس راپورته شو، پښتانهٔ ئې منظم کړل، په کال ۱۷۰۹ء کښې ئې د ګورګین (جارجین ګورنر) په مرۍ چاړهٔ تېره کړه، له دې سره ئې د هغوئي شیعه سلطنت ډیوه مړه کړه. د پښتنو د ملي حکومت بنسټ (بنیاد) ئې کېښودو. د نادر شاه افشار طوفاني حملې په وجه د مغلو سلطنت کمزورے شو. د هندوستان په ټولو صوبو کښې د خودمختارۍ، خپلواکۍ تحریکونه شروع شول. نادر شاه په واپسۍ کښې ایران ته رسېدو سره د غلجیانو سره جنګ تود کړو[1] بل طرف ته ابدالیانو د محمد زمان خان او جمال خان په مشرۍ کښې مشهد ونیولو. نادر شاه چې په ۱۷۲۸ء کښې د غلجو سردار اشرف خان له په شیراز کښې قطعي شکست ورکړو نو بیا د ے ابدالیانو ته متوجه شو. د یو څو جنګونو نه پس نادر شاه د سیاسي پوهې نه کار واخستو او ابدالیانو سره ئې روغه اوکړه. د دوستۍ لوظ نامه ئې ورسره اوکړه. په کال ۱۷۳۸ء کښې ئې د قندهار محاصره اوکړه. هلته د ابدالیانو د ملک محمد زمان خان دوو زامنو پناه اخستې وه. هغه ئې خلاص کړل. احمد خان په دغه وخت

---

[1] اوسنے افغانستان . مخ ۹۱

د پنځلسو کالو هلک ؤ. نادر شاه د هغهٔ د مړانې او زړهٔ ورتیا نه ډېر متاثره شو. څهٔ موده احمد خان د نادر شاه افشار د افغاني فوځ په دسته کښې برتي شو. دغه په ټول فوځ کښې د نادر شاه د افغاني فوځ د وردی جوګه باقاعده دسته وه. په دې دسته کښې د ابدالیانو شمېره د نورو پښتنو نه زیاته وه. په کال ۱۷۴۷ء کښې قزلباشو نادر شاه په دې سبب قتل کړو چې هغهٔ افغانانو لره په ترکمنو فوقیت ورکولو[1]. د نادر شاه د قتلېدو نه پس احمد خان قندهار ته راغے. دا فکر ئې وکړو چې غلجیانو افغانستان او ایران فتح کولے شو نو مونږه ابدالیان او نورو پښتنو کښې د څهٔ کمے دے. او ما سره خو د ایشیاء د ټولو نه غوره فوځ دے. دهٔ ته د غلجیانو دکامیابی او تباهی دواړه لارې معلومې شوې وې. هغهٔ په زړهٔ کښې دا فیصله وکړه چې د قبلې نه نمر خاتهٔ طرف ته تګ غوره دے[2].

ځکه چې د مغل سلطنت په بنیادونو د پښتنو د حکمرانی عمارت جوړول پکار دي. احمد خان ابدالي فطري پښتون لیډر ؤ. هغه په تُوره، مړانه او سیاسي پوهه، حالات د خپل طبیعت مطابق سم کړل. او احمد شاه دراني په نامه قندهار کښې د پښتون بادشاه په حېث په تخت کښېناستو[3].

---

[1] احمد شاه ابدالي ، مخ ۴۱، ۴۲

[2] (ا) احمد شاه بابا افغان ، مخ ۴۲ ، ۴۳

(ب) ظهورونه ، مخ ۳۲

(ج) دي پټهان، مخ ۳۵۴

[3] ظهورنه ، مخ ۵۴

د دهٔ بادشاه کېدل د پښتنود جمهوري روایاتو له کبله یوه اهمه پېښه وه. لکه چې مخکښې ذکر شوے دے. لوئے جرګې او ټول قام په یوه خُله او جمهوري طریقه خوښ کړے دے. دا لویه جرګه حاجي جمال خان بارکزئ د شېرسرخ د مزار په احاطه کښې غونډه کړه چې دا لویه جرګه په جمهوري طریقه او په اتفاق د بادشاه انتخاب اوکړي. په دې جرګه کښې هغه پښتانهٔ سرداران شامل ؤ چې هر یو خپل ځان د قوم د مشرۍ اهل او حقدار ګڼلو. په دې مشرانو کښې د یاد وړ نومونه دا ؤ. حاجي جمال خان بارکزئ، محمد خان پوپل زئ، موسیٰ خان، اسحاق زئ، نصرالله نورِ زئ، نور محمد خان غلزئ. د انتخاب شرط دا ؤ چې تر څو پورې ټول مشران په یوه خُله یو سړے خوښ نهٔ کړي. او یو مشر پکښې هم مخالفت وکړي نو د هغهٔ انتخاب به نامنظور وي. جرګه اتهٔ ورځې کښېناسته والې په یو کس د ټولو په جمع صلاح رانغله. وجه ئې دا وه چې په پښتنو کښې اکثر قبائلي رقابت موجود وي. یوه قبیله هم ځان د بلې نه کم نهٔ ګڼي. نو د هر یو پښتون سردار دا خواهش ؤ چې هغه دې بادشاه او مشر شي. په نهم ځل چې جرګه راغونډه شوه او لا فېصله او نهٔ شوه چې صابر شاه نومې فقیر د احمد خان نوم وړاندې کړهٔ.[1]

---

[1] ا ظهورونه ، مخ ۳۹، ۴۰

ب اوسنے افغانستان د خپل جوړښت په بهیر کښې ، مخ ۲۳

ج اوسنے افغانستان د خپل جوړښت په بهیر کښې ، مخ ۴۸

احمد خان په دغه جرګه کښې د ټولو نه کم عمره او کشر ؤ. د هغوئي نه چې پښتنه اوشوه، هغه چُپ ؤ. په مزاج کښې ئې انکساري وه. بادشاهي مشري ئې لوئې بوج ګڼلو. د دۀ نوم د بادشاهۍ دپاره داسې فقير او درويش وړاندې کړۀ چې د ټولو خلقو په نيز د عزت وړ ؤ. د دې بزرګ نوم صابر شاه ؤ چې په مستان شاه مشهور ؤ. هغه راپاسېدو او د احمد خان ابدالي په پټکي کښې ئې د غنمو د وګو قوده لکه چې د څُغې کېښودله. اعلان ئې اوکړو چې دے د بادشاهۍ جوګه دے. اول خو جمال خان بارکزئ، موسیٰ خان، اسحاق زئ، نصرالله نورزي او محمد خان غلجي د احمد خان ابدالي د کم عمرۍ، ناتجربه کارۍ په وجه د هغۀ مخالفت وکړو چې دا ځليرشت کلن هلک به تخت، حکومت او سلطنت څنګه سنبهال کړي. خو په خپلو کښې ئې د صلاح مشورې نه پس د صابر شاه فېصلې ته غاړه کښېښوده. د هغوئي دا خيال ؤ چې احمد خان ابدالي د سدوزئ خېل سره تعلق لرلو. چې د کمزورې پوپلزۍ قبيلې يو شاخ دے. که چرې د سدوزو نه اخستے شوے بادشاه د مضبوط او زورورو قبيلو په اشاره نه چلېدو نو د دۀ د تخت نه کوزول به څۀ مشکله مسئله نۀ وي. د هغوئي د رضامندۍ نه پس د لوئے جرګې مشران د احمد خان په انتخاب رضا شول.[1]

---

[1] ا. احمد شاه ابدالي ، مخونه ۴۲، ۴۸، ۴۹، ۵۰.
ب. (ظهورونه) ، مخ ۵۴،
ج. احمد شاه بابا افغان ، مخونه ۴۴-۴۶
د. دي پټهان، اردو ترجمه، مخ ۳۵۴

دلته به دا خبره کول مناسب اوګڼو چې په دغه جرګه کښې د پښتني فوځ چې د نادر شاه خصوصي باوردي، قوي، مضبوط فوځ ؤ اعلی افسران، کوماندانان موجود وو. جمال خان، د فوځ سپه سالار ؤ، نور محمد د فوځ میر افغان یعنې اِن چیف ؤ، احمد خان هم یو کمانډرؤ دا د ښې وسلې پښتني فوځ د نادر شاه د قتل نه پس قندهار ته په تېزۍ راغے. د دې فوځ وجود پښتنو دپاره ډېر اهم شو ځکه چې هر څوک بادشاه شو نو د اردو یا فوځ کمے به نۀ محسوسوي بلکې دا به داسې فوځ وي چې په ګواښونو، د پښتني حکومت د پراخۍ او فتوحاتو اهم سبب به وي.

د لوئې جرګې په واسطه احمد خان بادشاه شو. دۀ احمد شاه لقب اختیار کړو. صابر شاه درویش ورته در دوران خطاب ورکړو. احمد شاه هغه دُر دران اوګرځولو اود خپلې ابدالي قبلیې نوم ئې دراني اوګرځولو. او دا حکم ئې اوکړو چې د ابدالي نوم به نور نۀ شي اخستے.[1]

د بادشاه جوړېدو نه پس دۀ څۀ شاهي تاج وانۀ چولو. د پښتو پګ یا عمامه ئې په سر کېښوده.[2] ساده پښتني لباس به ئې اچول. لویه خلکه به ئې وه، دوئي د پښتنو قبیلې را اوغوټلې او د سلطنت د چلولو، د علاقو د فتحه په حقله به ئې د هغوئي نه رائے اخسته. احمد شاه دراني د غټو غټو قبیلو نه نهۀ مشران واخستل. بابا دوئي په یوه مشاوراتي جرګه (شورئ) کښې راټول کړل. دوئي ئې د

---

[1] احمد شاه بابا افغان، مخونه ۴۵، ۴۶، ۴۷.

[2] (اوسنے افغانستان د خپل جوړښت په بهیر کښې)، مخ ۱۱۲

واک خاندان کړل. دوئي ته ئې دغه احساس ور نهٔ کړو چې ګني تاسو بېکاره، رد شوي خلق يئ. د دې غړو په مشوره به بابا داخلي او خارجي فېصلې کولې. د دې جرګې دوه فائدې وې يوه دا چې دا مشران ئې په روزګار کړل. د توطيو، سازشونو او کوهي کنستو نه ئې لرې کړل او بله ګټه ئې دا وه چې د نوي هېواد دپاره ئې د دوئي عقل او انرجي په کار راوسته. په دې دواړه صورته کښې فائده هېواد ته رسېده. بل کار بابا دا اوکړو چې د پښتنو د ټولو قبيلو سر شمېرنه ئې اوکړه. دوئي ئې حکومتي چارو کښې شامل کړل. د دوئي مشران او سرداران ئې د ورې او غټې قبيلې په بنسټ (بنياد) منصبداران کړل، چې فوځي او ملکي منصبونه ؤ. بابا يو سخت ګير مرکزي حکومت جوړ نهٔ کړو بلکې د ويشلي واک په بنياد ئې جوړ کړو. دا ځکه چې دا پښتون بادشاه د خپل قوم له خوئي او خصلت نه خبر ؤ.[1]

بابا د پښتنو دپاره د واک وېش درې ډګرونه جوړ کړل. اول مېدان کښې بابا په خپله او د دهٔ هغه مشران ؤ چې د مرکزي حکومت داخلي او خارجي چارې ئې په لاس کښې وې. دوېم مېدان کښې د مختلفو قبيلو مشران غټ پيران، حضرتان، سيدان، ستانه دار تاوېدل راتاوېدل. درېم مېدان کښې ئې د کلي او علاقې په سطح واړهٔ ملکان، خانان او ملايان ؤ چې دوئي مقامي واک در لودهٔ. د مرکزي حکومت او مقامي خلقو تر مېنځ به رابطه د قبائلي سردارانو په ذريعه ساتلے کېده. کهٔ چرې بابا ټول واک د مرکزي

---

[1] (اوسنے افغانستان د خپل جوړښت په بهير کښې) ، ص ۹۵

حکومت بیورو کرېسي ته ورکړے وے نو د ګړ بړ (ګډوډ یو) ډېر امکانات وو. دوئي واک تقسیم کۀ، دغه د بابا کمال ؤ. هم دا د پښتون د مزاج مطابق کار ؤ. بابا د یو ښۀ پښتون په حېث د پښتنو د نفسیاتو نه واقف وو. ورته د دوئي بې حرصي، لالچ، ضد، کینه، بې اتفاقي، سخاوت، پیاوړتوب، ننګ او خود سري ورمعلوم وو. یو ځل چرته د بابا فوځ مېشتۀ ؤ د شاهي ګارډ عسکرو په تازي سپو یو میلو په مخه کړے ؤ. وارخطا میلو د خوګیانو په خېمه ورننوتو. پته شو، د ګارډ عسکر غوښتل چې میلو له خېمې نه رااوباسي او ښکار ئې کړي. خوګیانو وئیل میلو مونږه سره پناه اخستې ده. لویه جګړه جوړه شوه. احمد شاه بابا خبر شو، هغۀ اووې چې د خوګیانو په پناه کښې دے، نو زما هم دے. دا وه د یو پښتون باچا رویه. پناه چې پښتون ورکړي نو بیا په خپل سر دغه پناه قائمه وي. د دۀ د مرکزي جرګې مشران د تجربې خلق وو. لکه وزیراعظم جناب بیګي خان بامیزئ (شاه ولي) مارشل جناب جهان خان پوپلزئ غوندې د قدر خلق وو.

بله اهمه خبره دا وه چې بابا د افغانستان چاپېره د دوستانو یا دوستو هېوادو یو شپول جوړول غوښتل. دغه دوست سلطنتونۀ ئې نۀ ډېر طاقتور کېدو ته پرېښودل او نۀ ډېر کمزوري کېدو ته. د دې مطابق بابا اول هندکي مغلي مرهتې سیکنې قوتونه اوتکول خو هند ئې قبضه نۀ کړو. دا ځکه چې بابا په شعوري توګه د خپلې

خاورې نه لرې هندکي حکومت نه غوښتو ولې هند ئې دومره مستۍ ته هم نۀ پرېښودو چې افغاني خاورې ته خطره شي.[۱]

دا اهمه فېصلې او پرېکړې د احمد شاه بابا پښتوني فراست ښائي. دۀ قومي مشران ځان سره ملګري کړي وو. د دۀ سر ته نۀ د ځوانۍ نشه ختلې وه او نۀ ئې د پرېکړې او مشورې په وخت شاهي دبدبه ځان ته مخکښې کړې وه. دا په رښتيا د پښتنو خوش قسمتي وه چې خدائے دې قوم ته داسې مشر ورکړو. بلکې خوش قسمتي ئې دا وه چې بابا ته د سياست عسکريت او علم خاوندان په لاس ورغلي وو. شاه ولي خان، بيګي خان باميزئ او مارشل جناب جهان خان پوپلزئ او نور ډېر.[۲]

د بابا سياست دا ؤ چې د دۀ خواؤشا، چاپېره کمزوري وي. په ظاهري توګه مغل پاتې شول ، ولې په حقيقت کښې بابا مغل ختم کړل. د دې مغليه سلطنت فوځي غاښونه مات وو، دوئي د پښتنو په وجود چک نۀ شو لګولے. بادشاه مغل ؤ ولې بابا واک او اختيار پښتون نواب نجيب الدوله ته ورکړو. نواب نجيب الدوله زبردست پښتون ؤ، د بابا کلک ملګرے ؤ. دے د مغلي هندي سلطنت وزيراعظم شو. فوځي او ملکي اختيار دۀ سره ؤ بابا ته د مغلو ناکړدې معلومې وې. مغليه ؤ هم او د ايران صفويانو هم په پښتنو ډېر ظلمونه کړي وو. دوئي سره ئې غورځېدلے سلوک کړے ؤ. دې طاقتونو وار په وار پښتونخوا ويشلې وه، برباده کړې وه نو ځکه

---

[۱] اوسنے افغانستان د خپل جوړښت په بهير کښې ، مخونه ۹۵-۹۸

[۲] هــــــمـــــدغه ، مخونه ۹۷-۹۹

بابا د دوئي طاقت لاندې غوښتو چې چرې بيا دوئي د پښتنو سره خپلې کانې اونۀ کړي. ځکه خو ئې مغل او ايرانيان د پښتنو د حکومت خلاف ودې ته پرې نۀ ښودل. دۀ د نادر شاه افشار کورنۍ په واک کښې پرېښوده.[1] او دا هم د نادر شاه سره د يو لوظ په حقله. نظام الملک د چين قليج خان[2] چې د نادر شاه افشار په خصوصي دسته کښې احمد خان اوليدۀ نو د دۀ د بادشاهۍ پېشنګوئي ئې اوکړه. هغه زبردست قيافه شناس ؤ.

د کاشغري مسلمانانو په وينا چې د چين نه ځان ساتۀ. بابا ته پته وه چې کۀ چرې مرکزي ايشياء د چين په لاس ورشي نو د دوئي دوېم قدم به افغانستان وي نو بابا په تندۍ مرکزي اسلامي ايشياء ته مدد ورکړو. چينيانو ماتې اوخوړه، بابا دغه علاقه (تاشقند، سمرقند، بخارا) په خپل حکومت کښې شامله نۀ کړه. مقامي اميرانو ته ئې پرېښوده، د بخارا سره ئې د آموسين پوله اوټاکله.

وئيلے شي چې د حضرت نظام الدين اولياء په روضه کښې د هندوستان روهيلي سردارانو ملاقات کړے ؤ په دوئي کښې نجيب خان (نجيب الدوله)، عبدالاحد خان، سعد الله خان او حافظ رحمت وو. دوئي هر يو بل سره د هر قسم مرستې وعدې اوکړې. نواب احمد خان بنګش ته هم بابا خط اوليږلو او ځان سره ئې ملګرے کړو. بادشاه دۀ ته د غالب جنګ خطاب ورکړو.[3]

---

[1] اوسنے افغانستان د خپل جوړښت په بهير کښې. مخونه ۹۵ ـ ۹۸.

[2] د مغليه ؤ يو زوړ وزيراعظم وو.

[3] د پښتو د شعر اوادب تاريخ ، مخ ۲۴۲

دا رنګې د پښتنو يو مضبوط ملي اتحاد د بابا په لاس سر ته اورسېدو او دے د ملتِ افاغنه د اتحاد باني اوګرځېدو. دوئي هندوانو، سيکهانو، بلکې عيسايانو ته هم د خپلې عقيدې مطابق د ژوند تېرولو اجازت ورکړو. بادشاه د طلاق او ميراث او د کونډو رنډو د حقوقو په حقله اصلاحات جاري کړل.[1]

دے بېدار مغزه او دوراندېش بادشاه ؤ، دوئي د محراب خان او عبدالکريم خان په نګرانئ کښې په مکه معظمه د حاجيانو د آرام و آرائش دپاره يوه سرائے جوړه کړه.[2]

علامه اقبال هم دا سوچه وېنا کوي چې ابدالي يو عظيم علامت او معجزه وه. چې افغانانو ته ئې د ملت اساس ورکړو، وائي:

مـــردِ ابــدالي وجـــودش آيـــتے
دا د افغـــان را اســـاس ملـــتے[3]

ميا بهادر شاه ظفرکاکاخېل ليکي:

"ډېر پښتون طبيعته او په وطن مئين انسان ؤ."[4]

شېخ نور محمد سواتي چې د تانې اوسېدونکے ؤ د څوکنو نازولے خادم ؤ، هغه وائي:

بـل رحمـت پــه کـل افغـان شـئ
چـــې ئــې شــاه در دران شــئ

---

[1] د پښتو د شعر او ادب تاريخ،

[2] هم دغه ، مخ ۲۳۲

[3] جاوېد نامه، مخ ۱۷۲

[4] پښتانۀ د تاريخ په رڼا کښې ، مخ ۲۳۲

هـم عـالم ؤ هـم سُـني ؤ
فقيـر دوسـت ؤ ښـهٔ دينـي ؤ

چـې دا د خـواه د درست جهـان شـهٔ
احمـد شـاه غـازي سـلطان شـهٔ[1]

قابل اورکزئي د احمد شاه ابدالي په حقله دا اشعار وئيلي دي

دا کتـاب قابـل پـښتو کـړهٔ
جـوړ ئـې نظـم پـه پـښتو کـړهٔ
بادشـاهي د احمـد شـاه ده
تـر دکنـه ئـې غوغـا ده
عالمـان د تيـراه واړه
پـه زارۍ دي رب تـه واړه
هـم ئـې اس او سـپائي دواړه
پـه امـان لـري تـهٔ واړه
بادشـاهي د احمـد شـاه
برقـرار لـري الله[2]

---

[1] نورالبيان ورق نو ، په حواله د حيات و آثارې محمد عمر چمکني مخونه ۳۹۵-
۳۹۶

[2] ورکه خزانه ، مخ ۲۳۷

شاید چې بادشاه په دغه وخت سخت ناجوړه ؤ او قابل دا مناجات اووې. قابل اورکزئ ډېر زوړ شاعر دے. دوه نیم سوه کاله نه زیات زوړ دے. دے د بادشاه په ژوندانهٔ دعا کوي.

احمد شاه د مزکې وروره
خلیفه دے کتاب گوره
دے په ما طلب کړي یاره
تل د دین په کار بیداره
عالمان تهول د تیراه
امیدوار دي له بادشاه
نیک نظر په مونږه اوکړه
دا زمونږه خاطر ښهٔ کړه
احمد شاه اوبخښې خدایه
اے قادره رهنمایه[1]

حافظ گل محمد مرغزي چې د احمد شاه په باره کښې شاهنامه لیکلې ده وائي.

دے سکندر کشور کشا دے
وَجهان ته راهنما دے
شه مولد ئې خراسان
په مزاج وۀ عالي شان

---

[1] د پښتو شعر و ادب تاریخ، مخ ۲۳۸

په طالع د خسروان وۀ
د سرتاج ئې په کېوان ؤ
د تخت ځائے ئې قندهار شۀ
تمام ملک پرې لاله زار شۀ
د طالع بخت ئې په موج شۀ
د هما پر ئې په اوج شۀ
سرو بن بلند شو نوم
په حبش په زنګ په روم[1]

مولوي دادين د څوکنو د ميا صاحب مريد ليکي.

چې بادشاه د دين پناه ؤ احمد شاه ؤ
ننګيالے د دين په کار کښې د جم جاه ؤ[2]

او دا ځکه چې بابا عجيبه شاه ؤ. د خالد غوندې تورزن ؤ، شهنشاه ؤ.

علامه اقبال د احمد شاه ابدالي په مزار حاضري کوي. د اقبال د اشعارو د منظومې ترجمې يو څو شعرونه:

د هغه روشن ضمير بادشاه تربت
چې له زړۀ ئې يو ملت شۀ رااوچت
د تلاش په خوند ئې پورته کړو ملت
فرښتې ئې درود وائي په تربت

---

[1] شاهنامه احمد شاه ابدالي . مخ ۱۲
[2] مناقب مولوي دادين . مخ ۳۹۲

اے چې خدائے درکړے زرۀ دے او نظر
تـۀ د ملـک او دیـن لـه رازه ئـې خبـر [1]

د اتلسمې پېړۍ په نیمائۍ د احمد شاه دراني بابا د مشرۍ لاندې په پوره ډول افغانستان آزاد شو. احمد شاه چې کومه جمهوري امپرا توري جوړه کړه د هغې برېدونه په نمر خاتۀ او سوېل تر کشمیر، دهلي، وړوکي تبت او دعربو سمندر پورې غزېدلي وو. آموسین ئې شمالي برید ۇ، ایران او خراسان ئې باجګذار وو[2].
دا د پښتنو وړومبے بادشاه ۇ، چې په جمهوري طریقه راغے، په جمهوري طریقه ئې سلطنت اوچلولو. دا لوئے پښتون د شاه حسېن هوتک د درنې پښتنې کورنۍ نه ۇ. دۀ پښتانۀ راټول کړل په خپلې پښتنې مزکې ډېر مئین ۇ. دۀ هندوستان فتح کړو، خلقو ورته منت اوکړو چې د هند په مزکه پاتې شه، ولې دۀ دا نۀ غوښتل چې د خپلې خاورې نه دې لرې وي. او هسې نه چې بیا دغه مزکه د بیروني استعمار لاندې راشي[3]. د قندهار په هندوستان حکم چلول ګران وو، دۀ د مغلیه بادشاه په تخت پرېښودو. دۀ شاه عالم ثاني د دهلي د بادشاهۍ دپاره قبول کړو او د هغۀ په غېرحاضرۍ کښې ئې د هغۀ زوئے جوان بخت ته د سلطنت کاروبار چلولو خواست اوکړو. دوئي د نوي حکمران خطبه او سکه په ځائے اوساتله. د

[1] مثنوي مسافر پښتو منظومه ترجمه، مخ ۲۵۱. ۲۵۲
[2] (ظهورونه). مخ ۴۴
[3] هم دغه) مخ ۲۷

منیرالدوله په معرفت ئې شاه عالم ثاني ته پېغام اولېږلو چې تخت له دې راځه دا د یو پښتون ستائېلے شوے عمل ؤ[1]

د ډیلي تخت هېرومه چې رایاد کړم
زۀ د خپلې پښتونخوا د غرۀ سرونه[2]

## احمد شاه بابا په حېثیت د یو بادشاه:

د پښتنو د غلجیو د هوتک د خاندان یو اهم تورزن او ننګیالي میروس بابا نه پس یو بل ننګیالي د احمد شاه ابدالي پلار محمد زمان خان هم د ابدالي خاندان سره تعلق لرلو. دے د ملک سدو په اخلافو یعنې جانشینانو کښې راځي. محمد زمان خان او حاجي جمال (بارک زئ) یو ځل د ایرانیانو نه د مشهد په اخستو کښې کامیاب شوے ؤ. ولې په کال ۱۷۲۹ء کښې د نادر شاه د دوئي سره ځلور جنګونه اوشول. نادر شاه غالب راغے. ډېر بد سلوک ئې ورسره او نۀ کړو ځکه چې دې ابدالیانو د شاه عباس ډېر خدمت کړے ؤ او نادر شاه د ابدالیانو د جنګي صلاحیتونو نه هم خبر ؤ. د محمد زمان خان دوه زامن ذوالفقار خان او احمد خان د قندهار د جنګ په موقع چې نادر شاه د میر سلطان حسین غلجي خلاف

[1] احمد شاه ابدالي ، اردو ترجمه، مخ ۲۲۰
[2] (ظهور ونه) ، مخ ۵۷

کړے ؤ په لاس رِاغلل احمد خان هغه وخت د پنځلسو کالو هلک ؤ. نادر شاه د دهٔ د بهادرۍ د کړو وړو نه متاثره شو. د فیاضۍ نه ئې کار واخست او په خپل افغاني لښکر کښې ئې دے واخستو. دا افغاني دسته د نادر شاه ډېره اعتباري باوردي فوځي دسته وه. د دې دستې سره د ترکمان فوځیانو چې د قزلباش په نامه مشهور ؤ ډېر حسد کولو او هم له دې حسد له کبله نادر شاه د محمد قلي خان قاچار د لاسه قتل شو. څهٔ وخت چې نادر شاه په خپله خېمه کښې قتل شۀ نو په دغه وخت د افغاني جنګي دستې کمان د احمد خان په لاس کښې ؤ. احمد خان ته د نادر شاه افغانۍ بي بي پټ خبر ورکړو. او احمد خان په ډېره بهادرۍ د قزلباشو د فوځیانو د مزاحمت باوجود خېمې ته اورسېدۀ. د نادر شاه مړه جوثه ئې اولیده احمد خان بیا واپس په ډېره بیړه او په تندۍ د خپلې دستې سره قندهار ته اورسېدو. احمد خان ته د ایراني فوځ کمزورۍ معلومې شوې وې. دۀ غوښتل چې پښتانهٔ راجمع شي او خپل حکومت جوړ کړي. سر اولف کیرو د امیر عبدالرحمان لیکلو سوانحو نه د احمد خان د افغانستان د بادشاه جوړېدو حال راخستے دے.[۱]

د هغې مطابق احمد شاه ابدالي لکه چې بیان شوے دے ۱۷۴۷ء کښې قندهار ته نزدې د شیر سرخ په مزارد قبیلو سردارانو په یوه جرګه کښې بادشاه جوړ کړے شو، دا وخت د دۀ عمر څلریشت (۲۴) کاله ؤ.

---

[۱] دی پټهان، مخونه ۳۵۰-۳۵۴

احمد خان یو فطري لیډر ؤ. د ډېر صلاحیت خاوند ؤ، د احمد خان په ځائے ئې خپل نوم احمد شاه کېښودو. صابر ملنګ دۀ ته د "در دوران" خطاب ورکړو. احمد شاه هغه لقب په در دران بدل کړو. او هم د دې دران د ټکي د وجې نه د دۀ نوم احمد شاه دراني اوګرځېدو. ورسره ابدالي قبیله دراني قبیله اونومېده. او د دې اعلان هم اوشو.

دا هم وئیلے شي چې سمدستي د بادشاه کېدو سره دۀ ته هغه قافله مخامخ شوه چې د نادر شاه دپاره ئې د هندوستان نه لوټ شوے مال وړو، دا خزانه د یو کروړ مالیت وه او هم په دې کښې د کوهِ نور مشهوره هیره یعنې د دنیا نامتو لال هم موجود ؤ. اولف کېرو د دې خزانې په حقله خپل شک ظاهروي.[1]

ګنډا سنګهـ لیکي چې احمد شاه د نادر شاه خېمې ته اورسېدو نو بادشاهي ګُته یعنې مهر او د کوهِ نور[2] هیره ئې هم دغلته تر لاسه کړه. او د نادر شاه جوثې ته ئې آخري سلامي ورکړه.[3]

حافظ مرغزي په شاهنامۀ ابدالي کښې د احمد شاه د بادشاه کېدو په حقله اشاره ورکوي.

احمـــد شـــاه درِ آبـــدار
پـــه جلـــوه شـــۀ نمـــودار

---

[1] دی پټهان، ، مخ ۳۵۴

[2] د تاریخ په رڼا کښې لیکي۔ د نادر شاه د قتل په موقعه کوه نور احمد خان تر لاسه کړو۔ روستو دغه قیمتي کاڼے د شاه شجاع نه رنجیت سنګهـ اوترورلو او د سیکانو د حکومت د سقوط نه پس انګرېزانو ته په لاس ورغے۔

[3] احمد شاه ابدالي ، مخ ۴۲

بنـــهٔ طلــوع شــهٔ معنــوي
د کـــــلاه خـــــسروي
چــې تــاريخ ئــې د خــروج ؤ
درز پـــه درزي د عـــروج ؤ
د هـــاتف پـــه زبـــان دا ؤ
شهنـــــــــشاه در دران ؤ
مـــسخر د بحروبـــر شـــهٔ
پـــه ثنـــا د هفــت کــشور شــهٔ
پـــه هـــر ملــک پـــه هـــر ديــار
مـــشهور شـــهٔ شـــهريار[۱]

حافظ مرغزي قندهار ته د احمد شاه د رسېدو بيان کوي او د خزانې تر لاسه کولو خبره کوي.

چې داخل پـه قنـدهار شـهٔ
پـه تنظيم ئې جوړ نګار شـهٔ
د نـــادر چـــې خزينـــه وه
قنـدهار کـښې ګنجينـه وه
پـه دا فـوځ ئـې کـړه نثـار
خزينـــه چـــې وه تيـــار
تمـــام فـــوځ ؤخـــوش خـــرم
پـه دنيـا ئـې ورک شـهٔ غـم

---

[۱] شاهنامه احمد شاه ابدالي . مخ ۲۹

کـــهٔ تقـــي وو د شـــيراز

پـــه خلعـــت شـــهٔ ســـرفراز[1]

دا محمد تقي خان شيرازي دے۔ چې سندھ او پنجاب کښې د نادر شاه بګلربيګي وو۔ د کابل ګورنر د ناصرخان او د لاهور ګورنر محمد ذکريا خان منلے نمائنده ؤ۔

ګنډا سنګھ هم د خزانې ذکر کړے دے. او د فرئر حواله ئې ورکړې ده چې احمد شاه ته تقريباً د دوه کروړو خزانه تر لاسه شوه. دا خزانه په درې سوه اوښانو بار وه. احمد شاه دا خزانه په خپل فوځ کښې اووېشله. په کال ۱۷۴۷ء (جولائي) کښې تاج پوشي اوشوه، د دهٔ د نوم سيکه جوړه شوه. په دې دا ټکي درج وو.

حکـم شـد از قـادر بـی چـون بـه احمـد بادشـاه

ســکه زن برســيم و زر ازاوج مــاهي تابمــاه

په شاهي فرمانونو به مهر ثبت کېدو. الفاظ ئې دا ؤ:

" الحکم لله يا فتاح احمد شاه در دران" د دې مهر په آخر کښې د طاؤس تصوير ؤ. د دوئي مهري ګُته د يوې کرې شانې وه. يعنې وړوکے غونډې پنډوس.[2]

## د آزادئ اعلان:

احمد شاه په افغانستان کښې د پښتنو ځانله بادشاهي اوټاکله. د دنيا په مخ د افغانستان نوم راڅرګند شهٔ. په دې کښې همه

---

[1] شاهنامه احمد شاه ابدالي ، مخ ۲۹

[2] احمد شاه ابدالي ، مخونه ۵۴ – ۵۹

پښتونخواه او د افغانانو نورې حصې هم شاملې شوې. په جرګه کښې دا فېصله شوې وه چې د ایران نه څان په پوره توګه راخلاص شي.

احمد شاه د ډېر غوره صلاحیتونو خاوند ؤ. هغهٔ د جمهوري روایاتو خیال اوساتهٔ. څان ئې د تخت و تاج بادشاه نهٔ ګڼلو. د تاج په ځائې ئې پټکے په سر ؤ. د تخت په ځائے به په مزکه ناست ؤ. هغهٔ باقاعده د شوریٰ جرګه اوټاکله. دهٔ سره په جرګو مرکو کښې د پښتنو نه علاوه تاجک، ازبک، هزاره، قزلباش، بلوچ، بیات هم شامل ؤ.[1]

احمد شاه ډېر قابل خلق خپل وزیران او حاکمان کړل. شاه ولي خان د اشرف الوزراء د خطاب سره وزیر اعظم شهٔ. سردار جان خان د جهان خان په نوم اعلیٰ سپه سالار شهٔ یعنې کمانډر اِن چیف او د جنګ وزیر. شاه پسند خان د لښکر امیر شهٔ یعنې چیف آف آرمي، دا رنګې برخوردار خان، عبدالله خان، نورالدین ته هم مناصب ورکړے شول.[2]

احمد شاه ابدالي یو فطري منظم او اعلیٰ مدبر ؤ.

صابر شاه زبرګ د دهٔ په تندي کښې د بادشاهۍ علامې لیدلې. او د نادر شاه د قتل نه درې ورځې مخکښې ئې د دهٔ د بادشاهۍ خبره کړې وه. نظام الملک چین قلیج خان سابقه وزیراعظم ډېر زبردست

---

[1] فارسي مقاله نقش وحدتِ ملي، مخ ۱۱۲

[2] (ا) احمد شاه ابدالي ، مخ ۵۲

(ب) احمد شاه بابا افغان ، مخ ۹۷

قیافه شناس ؤ. هغهٔ هم د دهٔ په تندي کښې د بادشاهۍ آثار اولیدل او دا ئې اووې چې دے به په تخت کښیني. دا خبره نادر شاه ته اورسېده. او هغهٔ احمد شاه رااوبللو په غوږ ئې ورته د خنجر څوکه کېښوده چې بادشاه شې نو زما د اولاد سره به ښهٔ سلوک کوې. د خنجر دا څوکه به درته د دې یادگیرنه درکوي.[1]

احمد شاه د نادر شاه د طرزِ حکومت تقلید او نقل او نهٔ کړو. د ایران او افغانستان حالات ځان ځان له ؤ. په ایران کښې د صدو، پېړو شاهي نظام ؤ. نادر شاه په یو آزاد، خودمختار قوم باچائي جوړه کړه. هغه په خپله د حکومت کولو په ځائے په سردارانو حکومت کول اختیار کړل. دا جاگیردارانه نظام ؤ، بادشاه په کلیدي آسامو درانیان اولگول. نور قبائل ئې خفه نهٔ کړل.[2]

احمد شاه بابا د نادر شاه افشار د هندوستان د حملې له کبله د هندوستان د کمزورونه خبر ؤ. هغه په ځائے د مغرب او شمال مشرق طرف ته د سلطنت د خورولو هڅه اوکړه. د دې یو سبب دا هم ؤ چې د مرهټه هندوانو، سېکهانو دغه وخت اسلامي حکومت ته ډېره خطره پېښه کړې وه.[3] احمد شاه د دې جوگه ؤ چې لوئے لښکر تیار کړي. مونږ دلته د احمد شاه د یونونو، حرکتونو، سفرونو د لنډیز احوال وړاندې کوو له دې نه به د دهٔ د شجاعت، پوهې او شاهانه صلاحیتونو اندازه اوشي.

---

[1] احمد شاه ابدالي د گنډا سنگهه، مخ ۳۷، ۳۸

[2] هم دغه، مخ ۲۰، ۲۱

[3] (اوسنے افغانستان د خپل جوړښت په بهیر کښې)، مخ ۲۴ تر ۲۷

# لومړے یون ۱۱۶۱هـ

## په کابل قبضه:

په کابل کښې ناصر خان حاکم ؤ اول دے د مغلیه سلطنت له غاړې ګورنر ؤ بیا احمد شاه دے په ګورنرۍ اوساتلو. دے احسان فراموشه سړے ؤ. د قېد نه پس ئې آزاد کړے ؤ، او ګورنري ئې ورکړې وه. د احمد شاه سره د دهٔ لوئې زوئے یرغمال هم ؤ. لور ئې احمد شاه ته وادهٔ کړې وه. ولې چې کابل ته اورسېدهٔ نو د هغې ځائے نه پېښور ته لاړ او د احمد شاه خلاف ئې تیارۍ شروع کړې. احمد شاه ورپسې روان شو اول ئې په غزني او کابل قبضه اوکړه. د ناصِر خان ښځه د درانیانو په لاس راغله او ورسره ښهٔ سلوک اوشهٔ د کابل نه سردار عبدالصمد خان محمدزئي د پېښور په لور روان شهٔ. دهٔ جلال آباد او هشت نګر اونیول (هشت نګر د جلال آباد سره علاقه وه). سردار جهان خان د خیبر درې ته په تندۍ لاړ او د دې د بندیز نه مخکښې اورسېدهٔ، بیا احمد شاه هم وروستو اورسېدهٔ. دلته اکثر پښتانهٔ د احمد شاه د قبیلې نه ؤ. ډېره مرسته ئې اوشوه. ناصر د اباسین نه اخوا چچ هزارې ته لاړ. احمد شاه د عظیم فاتح او د یو لوئے هیرو په توګه پېښور ته راغے. اباسین پورې ټوله علاقه دهٔ شوه.[1]

---

[1] (ا) احمد شاه ابدالي مخونه ۹۹، ۱۰۰

(ب) هم دغه ، مخونه ۲۲ – ۷۰

حافظ مرغزي دا احوال څهٔ داسې بيانوي.

چې ناصر د دين دښمن ؤ
مشهور په مرد و زن ؤ
صمد خان راغے په جوش
په ماتم ئې تللے هوش
وكابل ته شهٔ روان
په ماتم ځيري ګرېوان
چې ناصر شهٔ اوس باغي
په عالم كښې شهٔ داغي
خبر راوړو خبردار
چې ناصر كوي فرار
دے لاهور ته شهٔ روان
چې دے ورک كا خپل ارمان[1]

## د لاهور تسخير:

د لاهور ګورنرشاه نواز خان ؤ. حيات الله خان ئې نوم ؤ، د زكريا خان دوېم زوئے ؤ. زكريا خان د نادر شاه سره دهلي ته تلے ؤ. شاهنواز احمد شاه ته د راتلو بلنه وركړه. احمد شاه ابدالي خپل سفير، خاص معتمد بغرا خان پوپلزئي لاهور ته اولېږلو. شاه نواز د احمد شاه ملګرتيا خوښوله ولې د ادينه بېګ (د جالندهر دوآب فوځدار) د سازش له كبله چې د وزير قمر الدين خان ته ئې خط

---

[1] شاهنامه احمد شاه اُبدالي. مخونه ۳۴ – ۳۷

اولیکلو چې خورئے دې باغي شو. هغه شاه نواز خان ته خپل سفیر (محمد نعیم) خط سره رااولیږلو چې ستا د نائب ګورنرۍ شرط منظور دے. او په دې ډول شاه نواز بیا د مغلیه سلطنت مرستیال شۀ. او د احمد شاه نه یې لاس واخستو.[1]

احمد شاه ابدالي هندوستان ته روان شۀ په کال ۱۷۴۷ء کښې د دسمبر په مینځ کښې د اتلس زره فوځ سره د پېښور نه روان شۀ. په اټک د اباسین نه په کیشتو پورې وتو، په جهلم کښې ئې د روهتاس قلعه واخسته. احمد شاه خپل پیر صابر شاه لاهور ته واستوۀ. د جهانګیر بادشاه په مقبره کښې دېره شو. بیا د راوي دریاب نه پورې وتو، شالامار ته اورسېدۀ. شاه نواز تېښته اوکړه، په لاهور قبضه اوشوه، د شاه نواز خان مشر ورور یحيٰ خان چې د شاه نواز بدي شو د اطاعت په توګه د جرګې سره راغے. د دۀ په وجه ښار د لوټ کېدو نه بچ شو. یحيٰ خان د دېرشو لکهو روپیو ورکولو وعده اوکړه. دغلته احمد شاه نوې سیکه ډهال کړه. الفاظ پرې دا کنده شو.

"در دران احمد شاه بادشاه دارالسلطنت لاهور جلوس میمنت مانوس احمد"[2]

د لاهــــور چـــې شـــاه نـــــواز
شـــــۀ خبـــــر شـــــه پـــــه دا راز

---

[1] احمد شاه ابدالي. مخ ۷۲-۸۷

[2] هم دغه . مخ ۸۸

کــــه یحـــــيٰ ؤ د دۀ ورور
دۀ بنـــد کـــړے ؤ پـــه زور
پـــه لاهــور شــۀ هــائي و هــوئي
چـــې دا غــم شــۀ بانــدې تــوئ[1]

## د مان پور جنګ:

ناصر خان چې لاهور ته رارسېدلے ؤ خو شاه نواز خان ورته څۀ خاصه مخه او نۀ کړه. هغه دهلي ته اوتښتېدۀ. محمد شاه مغليه بادشاه ته چې پته اولګېده چې احمد شاه راروان دے نو هغه د دهلي نه را اووت. په لاره ورته پته اولګېده چې په لاهور احمد شاه قبضه اوکړه. احمد شاه وړاندې په سرهند قبضه اوکړه. دا ډېر اهم ځائے ؤ. د وزير قمر الدين زنانه د احمد شاه په قبضه کښې راغلې. قمر الدين اووژلے شو. د هغۀ زوې او ميرمنو هغه د خېمې دننه ښخ کړو. چا ته ئې پته او نۀ لګېده. ميرمنو ډېره بهادري اوښوده. د صفدر جنګ امداد ورته هم را اورسېدۀ. د بدقسمتۍ نه د درانيانو په بارود خانه کښې اور اولګېدۀ. احمد شاه سرهند ته واپس شۀ او د هغه ځائے نه ئې د افغانستان د تلو تيارۍ شروع کړې. د صلحې شرطونه شهزاده او ميرمنو او نۀ منل. په لاره کښې ورته خبر راغے چې ورارۀ لقمان (بـــن ذوالفقار) په قندهار کښې بغاوت کړے دے.[2]

وي کـــه صـــلحه پـــه مېـــدان
د عــــالم بـــه شـــي امـــان

---

[1] شاهنامه، مخ ۴۰، ۱۴، ۵۷
[2] احمد شاه ابدالي، مخ ۹۲-۱۰۵

امـــا نـــهٔ و پـــه تقـــدير
نـــهٔ تـــدبير لـــري تـــاثير

## په هند دوېمه حمله، دوېم يون ۱۱۶۲هـ (۱۷٤۸ء):

### د سيالکوټ، اورنګ آباد، ګجرات او پسرور نيول:

امير معني الملک (ميرمنو) د پنجاب ګورنر ؤ. هغه ناصر خان دوباره د کابل صوبې ګورنر مقرر کړو. دا ښهٔ اوشهٔ چې احمد شاه بابا په هرات حمله اونکړه ګنې په کابل به حمله شوې وه. بادشاه سمدستي فېصله اوکړه چې په هندوستان بيا حمله پکار ده. د دهلي بادشاه محمد شاه وفات شهٔ. شهزاده احمد شاه په تخت کښېناستو، ناتجربه کاره ؤ حمله ضروري وه د سبکهانو طاقت هم يوه لويه خطره وه. دا چقول پکار وو.

په پېښور کښې بابا د شېخ محمد عمر د څوکنو په خدمت کښې حاضري ورکړه، د سردار جهان پوپلزئي په قيادت کښې د فوج دسته روانه شوه په اټک ورته ډېر ختېک راغلل. ميرمنو د صلحې خواهش اوکړو او د صلحې په نتيجه کښې د اباسين ټوله علاقه د دراني حکومت برخه اوګرځېده. او د څلورو ضلعو (محال) سيالکوټ، اورنګ آباد، پسرور او ګجرات محاصل (څوارلس لکه روپۍ) احمد شاه ته اولېږلے شو. احمد شاه واپس ستون شو، د ملتان او د ډېرو لار ئې واخسته. زاهد خان بن عابد خان سدوزئي (شاه حسن سدوزئي نمسے) ئې د ملتان ګورنر اوټاکلو. د ډېره غازي

خانڼ او د ډېره اسماعیل خان قبیلو د احمد شاه دراني بادشاهي قبوله کړه. میر نصیر خان د قلات سردار هم د احمد اطاعت اوکړو.[۱]

د منــــو چـــې ؤ اســـرار
پــــه ایلچـــي شـــونمودار
و بادشـــاه تـــه شـــهٔ معلـــوم
تمـــام راز چـــې ؤ مرقـــوم
پـــه دا صـــلح شـــه خوشـــحال
چـــې ئـــې خبرلیـــدهٔ مـــآل

۱ (ا) احمد شاه ابدالي ، مخ ۱۱۰-۱۱۱
(ب) احمد شاه بابا افغان ، مخ ۱۰۲-۱۰۷

ACKU

# دریمه حمله

## هرات:

قندهار ته په واپسی کښې د احمد شاه بابا د قتلولو منصوبه جوړه وه. نور محمد ئې مشر ؤ. دۀ ته احمد شاه د میر افغان خطاب ورکړے ؤ. پته اولګېده او په سازش کښې د شاملو قبیلو لس لس سرو ته هم په هغه غر (مقصود شاه) د مرګ سزا ورکړے شوه چرته چې د بابا د قتل منصوبه وه پدې امن راغے. او بادشاه هرات ته مخه کړه. هرات ئې واخست او انتظام ئې علي خان هزاره ته حواله کړو. دا رنګې د ابدالیانو وطن د افغان صوبو سره شامل شۀ. د افغانستان په نوم واحد ملک راڅرګند شۀ.[1]

د هرات د اخستو نه پس احمد شاه ته د مشهد او نیشاپور د اخستو خیال راغے. په مشهد کښې بدنظمي وه. بادشاه شاه رخ (نابینا) سره صلحه اوشوه. د نیشاپور محاصره ګرانه وه. سخته سړزې هم شروع شوه. واپسي ضروري وه وروستو بیا دا علاقې فتح شوې.

بیا هرات ته شو روان
که محکوم شي خراسان
نشاپور ته شۀ قریب
منصوبه شوه دا عجیب

---

[1] احمد شاه ابدالي، مخ ۱۱۹.

لــــه آســـمان بـــه واوري اوري
د هـــر چـــا بـــه ورک کـــا تـــوري

ورسره نورې ډېرې علاقې د بدخشان، شبرګان، بلخ باميان فتح شوې.

ګنډا سنګهـ ليکي چې د احمد شاه د شاه رخ سره صلح د احمد شاه د عقلمندۍ ثبوت دے. ګنډا سنګهـ په دې موقع د سرجان مېلکم رائے وړاندې کړې ده. چې احمد شاه په دغه وخت ټول ايران فتح کولے شو ولې حالات مناسب نهٔ ؤ او د شيعه سني معامله هم وه.[1]

د دې صلحې په نتيجه کښې دا فېصله اوشوه چې شاه رخ به په خراسان قابض وي ولې سکه به د احمد شاه چلېږي، په فرمانونو، دستاويزونو مهر به د دهٔ لګي. احمد شاه ته د تربت شيخ جام يعنې خزر، تربت حېدري او د خاف ضلعې تر لاسه شوې. د عباس قلي خان خور احمد شاه په نکاح واخسته، خپله خور ئې د دهٔ مشر زوئي له ورکړه. د عباس قلي خان په وجه نيشاپور تر لاسه شوے ؤ.[2]

احمد شاه بابا عباس قلي خان د نيشاپور صوبه دار اوټاکلو. د ايران نه چې فارغ شو نو بابا پنجاب ته مخه کړه ځکه چې خراج نهٔ رارسېدو، ناصر خان د دوه کالو ماليه د ميرمُنو نه تښتولې وه. ميرمنو کمې پېسې رااولېږلې. د بادشاه کمانډران جهان خان، برخوردار خان او عبدالصمد خان ؤ. په مارچ ۱۷۵۲ء کښې آخري جنګ اوشو. ميرمنو (معين الملک) د بادشاه سره ملاقات اوکړو،

---

[1] احمد شاه ابدالي ، مخ ۱۲۸
[2] هم دغه ، مخ ۱۵۲

صلح اوشوه، شپږ ویشت لکهه روپۍ ادا شوې، د کشمیر حالات هم ابتره وو، بابا هلته عبدالله خان اولېږلو. کشمیر فتح شو، ابوالقاسم غرونو ته اوتښتېدو، ملتان د شاه په ولقه کښې راغے، دلته علي محمد خان خاکواني نائب ناظم مقرر شو. د بهاول پور خېرپور د حاکمانو سره صلح اوشوه.

د مُتّـــو راغــــے اِدبـــــار
پـــه اِدبـــار بــه شـي مـــسمار

وۀ جـــان خـــان ســـپه ســـالار
پـــه دا ســـر د فـــوځ تيـــار

د منـــو تقـــصير معـــاف شـــۀ
کـــه بلنـــد تـــر کـــوهِ قـــاف شـــۀ

په دهلي کښې د بابا خلاف سازش روان ؤ. صفدر جنگ د مرهټه ؤ مدد تر لاسه کړے ؤ. مرزا شاه رخ هم لمسولے شوے ؤ. په دغه دوران کښې میرمنو وفات شۀ. بابا د پنجاب صوبېداري د دۀ د نابالغ بچي په نوم کړه. په دغه وخت ثریا بېګم چې د میرمنو کنډه وه او د مراد بېګم یا مغلاني بېګم په نوم مشهوره وه، هوښیاره او باتدبیره ښځه وه. په پنجاب د دې اثر ؤ. د دې د لور عمده بېګم د وادۀ وعده د بابا د زوئي شهزاده تیمور سره شوې وه. دا په جلال آباد کښې وه.

د دې د جهېز تيارے شروع شو، بيا مغلاني بېګم او لور ئې ډيلي نه لاړل مغلاني بېګم احمد شاه ته د وزير (غازي الدين) د خودسرۍ شکايت اوکړو. په دې بابا جنګ باز خان لاهور ته رااولېږلو. جنګ باز په ۱۷۵۶ء کښې په لاهور قبضه اوکړه. خواجه عبېدالله ئې صوبېدار او مرزا جان خان ئې نائب صوبېدار مقرر کړو. ادينه بېګ اوتښتېدو.

بادشاه راروان شۀ، د وزير غازي الدين د زماني بېګم اود شاهي حرم د نورو زنانو سره سلوک ښۀ نۀ ؤ. په دې موقع شهزاده تيمور د فوځ سپه سالار ؤ. بابا د ۱۷۵۷ء په وړومبو ورځو کښې د لاهور نه بهر اووتو. ستلج درياب نه پورې وتو او د دهلي په لور روان شو. په دهلي کښې د مزاحمت اثرات نۀ وو. وزير غازي الدين سره لوئے غم پيدا شوے ؤ. هغۀ د صلحې دپاره خبرې کولې. مغلاني بېګم ئې د سفير په حېث رااولېږله. دا ئې خوښه هم نۀ وه. ولې سخت مجبور شوے ؤ، د صلحې خبرې خوند اونۀ کړو.

بادشاه احمد شاه د دهلي د لوټ کولو نه خپل فوځ منع کړو. البته د وزير غازي الدين د حويلۍ نه د يو کروړ روپو جواهرات رااووتل، دېرش لکهه اشرفۍ هم رااووتې. د خانِ خانان انتظام الدوله د حويلۍ نه په کنستو يو نيم کروړه کېش، هيرې، ملغلرې، جواهرات، قالينونه د سرو سپينو امساګانې، د انسان د قد د سرو زرو موم بتۍ تر لاسه شوې. دا خزانه د محمد امين خان او قمرالدين خان چې تر پنځه اويا کاله د اورنګ زېب د وخت راسې جمع کړې وه. په يوه ورځ د احمد شاه ابدالي په لاس راغله. د نورو

امیرانو هم تلاشي واخستے شوه. د صمصام الدوله، کوتوال فولاد خان کورونه اوسپړدے شول.

د بادشـــاه لـــښکر تیـــار شـــۀ
جهـــان آبـــاد تـــه پـــه دا لار شـــۀ
چـــې داخـــل پـــه جهـــان آبـــاد شـــۀ
تمـــام ملـــک ســـره فریـــاد شـــۀ
تمـــام شـــهر شـــۀ پامـــال
ګویـــا لاتـــدې شـــۀ تـــر جـــال
پـــاتې نـــۀ شـــۀ دا اســـباب
نـــۀ شـــالونه نـــۀ کمخـــواب
نـــۀ نـــیلم جـــوهر المـــاس
نـــۀ زېـــده د کـــور اجنـــاس
تمـــامي شـــو پـــه تـــاراج
نـــه شـــو پـــاتې تخـــت و تـــاج

چې کوم خلق تښتېدلي وو. (سعد الله خان سماں راجه ناګرمل، هیرانند جوهري) هغوئ ته خطونه اولیکلے شول. مغلاني بېګم بچ شوه هغې ته د سلطان مرزا خطاب تر لاسه شو. او ورسره د دوآبه بست جالندهر اود جموں کشمیر د صوبو جاګیر هم حاصل شو. د بادشاه په نوم سیکه اوچلېده، په دې ۱۱۷۰هـ کال لیک ؤ. د تیمور شهزاده وادۀ ګوهر افروز بانو بېګم لور د عالم ګیرثاني سره اوشوه. په جهیز کښې د سرهند علاقه ورغله. د مغلاني بېګم لور عمده

بېګم غازي الدين ته وادهٔ شوه، د علي قلي خان لور ګنابېګم مغلاني بېګم ته ورکړے شوه.[۱]

په ډيلي کښې بابا د جاټو او مرهټو د بغاوت بوئي محسوس کړو. په کال ۱۷۵۷ء کښې شل زره درانيانو په مرهټو ناساپه حمله اوکړه. دوئي د سورج مل علاقې ته اوتښتېدل. درانيانو فريد آباد ته اور اولګؤ د متهرا ښار هم اولوټلے شو. بيا بندرابن کښې هم وينې توئے شوې. څلور زره بربنډ سادهوان (هندوان ملنګان) چې په وجود ئې ايرې لګولې وې د افغانانو د جنګ دپاره رااووتل. ډېر مړهٔ شول دغه هومره افغانان هم مړهٔ شول.

برهمن دي په دا تن
نهٔ ئې جامه شته نهٔ کفن
پرې د پاسه ګرد غبار
پرې پرتې خاورې انبار
په هر لور دي ځائے په ځائے
نهٔ څوک لاس لري نهٔ پائې
(مخ ۱۲۰)

په دغه زمانه په افغان کېمپ کښې د هېضې بيماري اولګېده. يو نيم سل سپايان به هره ورځ مړهٔ کېدل. املي په سل روپۍ سېر خرڅېده. (د علاج دپاره په کار راوستے شوه).

هم دغه وخت احمد شاه د محمد شاه د لور شهزادي حضرت بېګم سره د وادهٔ خواهش ظاهر کړو. د ملکه زماني بېګم دپاره دا خبر

---

[۱] احمد شاه ابدالي، مخ ۱۷۲

تندر ؤ. ژړل ئې چې د دې رشته د افغانانو سره د کولو په ځائے د دې وژل به غوره وو. (مغلیه اوچت وو کنه!!).

بادشاه احمد شاه ابدالي چې واپس لاړ. نود هندوستان حالات مخدوش شول. تیمور شاه امن امان قائم کړو. ادینه بېګ مفرور ؤ. د سېکهانو په مدد ئې حمله غوښته. د سېکهانو حملې په لاهور، بټاله، کلان پور او جالندهر دوآبه جاري وې. ماتې به ئې هم خوړه. بیا مرهټه رااوپارېدل. بالاجي راؤ چې د پېشوا د ورورو رګهوناتهه سره په ډیلي کښې ؤ. نجیب الدوله ئې د ډیلي نه اوسهارنپور نه ایستلے ؤ. ادینه بېګ مرهټه ؤ ته پنجاب ته د راتلو بلنه ورکړه. سېکهانو ځنې افغان قېدیان امرتسر ته بوتلل او هلته ئې پرې هغه مقدس تالابونه پاک کړل چې جهان خان ډک کړي وو. په کال ۱۷۵۹ء د قلات نصیر خان بغاوت او کۀ هغه اوچقولے شو. احمد شاه د نصیر خان د ترلې سره وادۀ اوکړو. په پنجاب کښې سېکهانو ډېره لانجه جوړه کړې وه. مرهټه ؤ هم ګزارونه کول، یو مرهټه سردار ټکوجي هولکر تر پېښوره هم رسېدلے ؤ. رګهوناتهه د پنجاب علاقه په ۷۵ لکهه روپۍ سالانه خراج ادینه بېګ ته حواله کړه. ادینه بېګ د دې نه پس څلور میاشتې ژوندے ؤ. هغۀ پوره کوشش اوکړو چې سېکهان اوټکوي ولې ناکامه شو.[1]

ادینه بېګ چې مړ شۀ (۱۵ ستمبر ۱۷۵۸ء) نو سېکهانو مېدان ته را اودانګل. مرهټه بیا پنجاب ته راغلل. وزیر غازي الدین مرهټه ؤ ته د اووۀ اتو لکهو روپو وعده هم ورکړه. جنکوجي په کال ۱۷۵۹ء

---

[1] احمد شاه ابدالي، مخ ۱۲۶

کښې راروان شۀ. د تيري د خوشحال خان خټک د مرهټه ؤ سره په حسن ابدال مقابله اوشوه. خوشحال پکښې اووژلے شو، وروستو بيا جهان خان هم ماتې اوخوړه، د جهان خان زوئے اووژلے شو، جهان خان د اباسين نه پورې وو.[1]

## په هندوستان پنځمه حمله، د مرهټه ؤ سره جنګ ۱۷۵۹تر ۱۷٦۱ء:

په اکتوبر ۱۷۵۹ء احمد شاه د خپلو قبضه شوو علاقو د راستنولو دپاره د يوې بلې حملې اراده اوکړه. د دې حملې بلنه نجيب الدوله ورکړې وه. هغه په ډيلي کښې د بادشاه نمائنده ؤ. مرهټه ؤ هغه د ډيلي نه اوويستۀ. دا بلنه د بت پرستو خلاف د جنګ وه. د جے پور او مارواړ هندو راجګانو هم دا خواست اوکړو. د ډيلي باچا هم پټ خطونه اوليکل د چې وزير غازي الدين نه ځان خلاصول غواړم.[2]

احمد شاه د ځانه مخکښې سردار جهان خان را اولېږلو په خپله په کال ۱۱۷۳ د بولان په لار هند ته راننوت. د بنوں مروت (سردارن بېګو، سردار ذکاخېل) خلق هم ورسره شول. جهان خان سباجي د اټکه اوويستو. جهان خان تښتېدونکي مرهټيان په رُهتاس کښې رااونيول ډېر اوتښتېدل او ډيلي ته اورسېدل. افغانانو ډېر غنيمت تر لاسه کړو (ځلور زره اوښان، زر اسونه، د سرو سپينو سکې) ډېر

---

[1] (ا) احمد شاه ابدالي . مخ ۲۲۲ . (ب) احمد شاه بابا افغان . مخ ۱۲۲

[2] (ا) همدغه . مخ ۲۲۷ . (ب) همدغه . مخ ۱۲۹

مرهټه اووژلے شول. په لاهور کښې د سېکهانو سره سخت جنګ اوشو. د بابا احمد شاه دوه زره سړي مړهٔ شول، جهان خان زخمي شو. حاجي کريم داد خان د لاهور ګورنر مقرر شهٔ. د بادشاه (بابا) اراده وه چې په دکن باندې حمله اوکړي. اود مېنځ علاقې د سېکهانو د لوټ نه خلاصې شي. نو ځکه هغهٔ په لاهور کښې افغانان ډېره کړل. او د دې وېنا ئې اوکړه چې دا کار ضروري دے. جهان خان سرهند ته رسېدلے ؤ، بابا ورپسې ؤ، په لسم دسمبر بابا د روپړ په علاقه په خضر آباد کښې پړاؤ اوکهٔ. غازي الدين باندې دهشت راغے.[1]

غازيي الدين بادشاه عالمګير ثاني قتل کهٔ، ځکه چې دهٔ احمد شاه بابا ته د هند د راتلو بلنه ورکړې وه. دهٔ د خان خانان انتظام الدوله مړيه هم خپه کړه. بابا په دې ډېر غصه ؤ. داتاجي مرهټه د بابا مقابلې له راغے ولې ماتې ئې اوخوړه، دا جنګ د تراوړی په مېدان شوے ؤ چې تهانېسر ته نزدې دے. دلته د مرهټه ؤ کمانډر بهوئټے سره د ځلورو سؤ مرهټه ؤ هلاک شهٔ.[2]

سهارنپور ته نزدې نجيب الدوله د بابا په خدمت کښې حاضر شهٔ. دواړه د ډيلي غاړې ته روان شول. په يو څو ورځو کښې روهيله افغان سردار حافظ رحمت خان، دوندے خان، سعدالله خان، فېض الله خان، فتح خان (خان سامان) او ملا سردار خان بخشي د بابا سره شامل شول. بابا ډيلي ته نزدې په لوني پړاؤ شهٔ. د تراوړي د

---

[1] (ا) احمد شاه ابدالي، مخ ۲۲۹، (ب) احمد شاه بابا افغان، مخ ۱۲۹

[2] (ا) هــــمـــدغه، مخ ۲۲۹، (ب) هــــمــــدغــــه، مخ ۱۲۹

جنګ نه داتاجي ډيلي ته وړاندې شوے ؤ. بيا براري ته راغے دغلته جنګ اوشۀ، داتاجي اووژلے شو. جنکوجي د مدد دپاره راغے، تيګ نۀ شۀ، مرهټه اوشلېدل، په تېښته شول. تر څلوېښت ميلو پورې افغانانو ورپسې منډه اوکړه، دلته د داتاجي سر پرېکړے شو او بابا ته حاضر کړے شو.[1]

پـــه لـــوني بانـــدې مقـــام
ښـــۀ ئـــې او کـــۀ خپـــل نظـــام
کـــه دا فـــتح مـــې نـــصيب شـــي
پـــه حرمـــت د پـــاک حبيـــب شـــي
پـــه جنکـــو بانـــدې ناتـــار شـــۀ
تمـــام فـــوځ ئـــې تـــار پـــه تـــار شـــۀ

(مخ ۱۲۲،۱۱۷، ۱۲۳)

د ډيلي حالات ډېر ګډ وډ وو. دا دارالخلافه بې وارثه وه، د شاه عالمګير ثاني د وژلو نه پس غازي الدين محي الملت بن محي السنت بن کام بخش بن اورنګزېب عالمګير په تخت کښېنولے ؤ. ولې دے ډېر بې وسه ؤ، احمد شاه نوي باچا له اجازت ورکړو چې په لال قلعه کښې ډېره اوسي. د بهار نه شاه عالم ثاني احمد شاه ته خط اوليکلو خواست ئې اوکړو چې د هندوستان باچائي هغۀ ته حواله شي.[2]

---

[1] احمد شاه ابدالي ، مخ ۲۳۱، (ب) احمد شاه بابا افغان ، مخ ۱۳۲

[2] هـــــــدغه. مخ ۲۳۲

ACKU

د ډيلي د معاملو نه پس بابا د بهرت پور د سورج مل د چقولو اراده اوکړه. بابا سورج مل ته او د جے پور، ماروا‌ړ راجګانو، مادهو سنګهـ او بجے سنګهـ ته پېغام ورکړے ؤ چې په خضر آباد کښې ما ته مخامخ شئ او خراج راوړئ. بابا په يوؤيشت جنورۍ د نظام الدين اولياء په مزار حاضري هم اوکړه. سورج مل هيڅ جواب ورنکړو نو بابا خضر آباد پرېښودو. ډګ ښار ته مخامخ دېره شو.[1]

بابا د ډګ نه راتاؤ شو چې سورج مل مرهټه ؤ سره يو ځائے نۀ شي جهان خان د مرهټه ؤ د چقولو دپاره روان شوے ؤ.[2]

ملهار راؤ هولکر نارنول سره نزدې پړاؤ اچولے ؤ. بابا د محاصرې نه پس د دغه ځائے مخه اوکړه. مرهټه سردار چې د احمد شاه واورېدل نو په پته په قطبي رېګستان کښې غيب شۀ. بيا په بهادر ګړهـ کښې راښکاره شۀ. او وروستو بيا سکندرآباد ته اورسېدۀ د شاه پسند خان، قلندر خان او جهان خان د ناساپي چپاؤ په وجه ئې ماتې اوخوړه تېښته ئې اوکړه. په دې جنګ کښې آنندرام، شيتا جي، کهاراډے زوئے فقير جي کهاراډے مړۀ شول. هولکر وار خطا شۀ او هغۀ په تُندۍ آګرې طرف ته وروستو شۀ، مرهټه ؤ داسې جنګ نۀ ؤ ليدلے. حوصله ئې بائيله، راجه کېشورائے پېشوا بالاجي راؤ ته د نااميدۍ خط اوليکلو دا ئې هم اوليکل چې ابداليان د مغلو په شان نۀ دي. د مدد خواست ئې اوکۀ جادو ناتهـ سرکار دا

---

[1] احمد شاه ابدالي ، مخ ۲۳۳

[2] هم دغه، ، مخ ۲۳۳

ليکلي دي چې د مرهټه ؤ د سپکو دستو جنګ د ابداليانو خلاف ناکامه شوے دے. د هولکر غوندې قابل ترين کمانډر هم فېل شئ. هولکر د صلحې کوشش کولو. د بابا فوځونو د کول (علي ګړه) قلا فتح کړه. د دې نوم ثابت ګړه ؤ، ثابت خان جوړه کړې وه. سورج مل د دې قلا نوم رام ګړه کېښوده.

وه قلعــــــه د ثابــــــت خــــــان
پــــه کوئــــل کــــښې عاليــــشان
د بادشــــــاه چــــې ؤ نــــــشان
و کوئــــــل تــــــه شــــــئ روان
چــــې دا فــــوځ ئــــې ســــلطاني
تمــــــام تنــــــدر آســــــماني
د قلعــــې ســــپاهيان شــــو تنــــګ
چــــې بــــه ئــــې جنــــګ کــــا ؤ پــــه تنــــګ
کــــــئ وزيــــــر راکــــــئ امــــــان
چــــې پــــه خبــــر شــــوي مــــونږ روان
(صفحه ۱۳۰، ۱۳۱)

نجيب الدوله بابا ته دا مشوره او التجا اوکړه چې مرهټه مات شوي دي. نو دوئي دې د ګرمۍ او برسات موسم په علي ګړه کښې تېر کړي. په دې بابا د مفرور غازي الدين ټولې علاقې نجيب الدوله ته عطا کړې.[1]

---

[1] احمد شاه ابدالي. مخ ۲۳۲، احوال نجيب الدوله مخ ۳۱، ۳۳

د بابا په دربار کښې دغلته په ډېر شان د تحفو سره نواب احمد خان بنګش راغے. د تحفو تبادله اوشوه، بابا په علي ګړه کښې دوه میاشتې دېره ؤ. د ګنګا په سیند طغیاني راغلې وه، بابا بېکاره نۀ ؤ ناست. هر طرف ته د هغۀ سفیران لاړل چې اتحادیان پېدا شي. د اودهـ شجاع الدوله اهم ترین غړے ؤ. هغه ئې مرسته اوکړه.[1]

شجاع الدوله ته بابا د فرزند خان خطاب ورکړۀ. دا اهم شیعه لیډر ؤ. او ورسره ډېر قابل شیعه وزیران وو. د هغۀ راجپوت راجګانو سره هم خط و کتابت ؤ. سوائے د مادهو سنګهـ نه او نورو ته بابا خطونه اولیکل. دا د تسلۍ او مینې خطونه ؤ. بابا ورته اووې چې مرهټه خپلو علاقو ته مۀ پرېږدئ او مۀ ورله لار ورکوئ. بابا ډېر باصلاحیته منتظم ؤ. دې راجګانو ورسره پت اوپالو.[2]

د سورج مل سره د بابا خبرې سودمندې نۀ شوې. دې مغروره جاټ د بېروني حمله کوُنکو سره د اتحاد هر پېشکش رد کۀ. د دۀ د دکن خلقو سره اختلافات وو ولې هغه ئې د مذهب خلق وو. هغۀ ملهار راؤ هولکر، جنکوجي شندے او د هغوئي ملګري غازي الدین ته او نورو ډېرو خلقو ته پناه ورکړې وه.[3]

سورج مل د سداشیو بهاؤ د فوځ سره ډیلي ته راغے او د دې ښار په فتح کولو کښې ئې د هغوئي مدد اوکۀ. ولې بهاؤ د سورج مل د

---

[1] (ا) احمد شاه ابدالي ، مخ ۲۳۸ ، (ب) احمد شاه بابا افغان ، مخ ۱۳۲

[2] هم دغه، مخ ۲۴۱

[3] هم دغه ، مخ ۲۴۱

غازي الدين سره د کړو وعدو لحاظ او نهٔ کړو. په دې سورج مل خفه شهٔ، او خپلې علاقې ته واپس لاړ.[۱]

بابا د مرهټه ؤ سره خبرې اترې کولې، ولې هر کله چې د سداشيو بهاؤ د کمان لاندې تازه فوځ را اورسېدهٔ نو د مرهټه ؤ په رويه کښې تبديلي راغله. حافظ رحمت خان هم د روهېلوؤ خلاف د مرهټو سره د اتحاد ملګرے نهٔ ؤ.

په ډيلي (دهلي) باندې د مرهټه ؤ قبضه اوشوه. سداشيو بهاؤ کښې د جنګ صلاحيت ؤ. د رګهوناتهـ راؤ په ځائے دے غوره شوے ؤ. دهٔ سره د پېشوا بالاجي راؤ اوولس کلن زوئے وشواس راؤ هم ؤ. (په نوم سپه سالار اعلى). يعقوب علي خان د مرهټو مقابله اونکړے شوه. د پشکال په وجه د بابا له غازې نه مدد نهٔ شو راتلے. په دوېم اګست يعقوب علي خان قلا خالي کړه. سدا شيو بهاؤ پرې قبضه اوکړه.[۲]

په دارالخلافه کښې مرهټو ته هيڅ په لاس رانغلل. دا دولت مخکښې لوټ شوے ؤ. احمد شاه او غازي الدين هر څهٔ وړي وو. د شاه جهان بادشاه د ديوان خاص سپين زر اوشوکولے شو. څهٔ غازي الدين شوکولي وو.

مرهټو ګوډاګے شهنشاه شاهجهان احمدثاني د تخت نه کوز کهٔ او د شاه عالم ثاني د بادشاهۍ اعلان ئې اوکړو. د هغهٔ د غېر حاضرۍ په وجه د هغهٔ زوئے جوان بخت ولي عهد اوګرځولے شو.[۳]

---

[۱] احمد شاه ابدالي، مخ ۲۴۱

[۲] همدغه ، مخ ۲۴۲

[۳] همدغه، مخ ۲۴۳

بهاؤ د دهلي حکومت د دغه ځائے ګورنري ناروشنکر پنډت ته حواله کړه. او خپله د براري په ګاټ کښېناست چې روهيلي فوځ د راپورې وتو نه منع کړي. په ګنج پوره کښې د خوراک او غلې ذخيرې وې، په دې مرهټو قبضه اوکړه ځکه چې د مرهټو فوځيان او اسونه د لوږې د لاسه تنګ ؤ. د ګنج پورې د دفاع دپاره لس زره خلق وو. په دې جنګ کښې عبدالصمد مړ شۀ. قطب شاه زخمي شۀ، بهاؤ ته ډېر غنيمت په لاس ورغے. دوه لکهه منه غله او د لسو لکهو نور سامان، شپږ نيم لکهه روپۍ نغدې، درې زره اسونه، اوښان او توپې د مرهټو لاس ته راغلې. د ښار حاکم نجابت خان او قطب اونيولي شول. قطب شاه اوو‌ژلے شو. دۀ د داتاجي شنډے سر پرېکړے او بابا ته ئې لېږلے ؤ. د عبدالصمد او قطب شاه سرونه په نېزو اوچت شول.[1]

پـــه هـــر ځـــائے شـــوه دا غوغـــا
چـــې بـــاهو شـــۀ پُـــر دغـــا

د دوئـــي جنـــګ تـــه شـــۀ تيـــار
ګنجپـــوري تـــه پـــه دا لار

صـــمد خـــان ګـــوره ســـعيد شـــۀ
د بـــاهو پـــه جنـــګ شـــهيد شـــۀ

---

[1] احمد شاه ابدالي ، مخ ۲۴۳

په نېزې ئې سر روان کۀ
په عالم کښې نمايان کۀ

ګنجپوره شوله مسمار
د ملک ګوره ناتار

دا دې څۀ وکړۀ باهو
و دوزخ ته شې لاهو

## د پاني پت فيصله کوونکې جنګ (۱٤ جنوري ۱۷٦۱ء):

هر کله چې سداشيو بهاؤ ډيلي ښار فتح کړو نو احمد شاه په انوپ ښار کښې خېمې اچولې وې. د مرهټو سره د شجاع الدوله د صلح خبرو خوند اونکړو. د مرهټو په لاس د عبدالصمد او قطب شاه د سرونو بې عزتي بابا ته ډېره سخته اولګېده. هغۀ افغان سرداران رااوبلل، هغوئي ته ئې اووې چې زۀ په خپل ژوند کښې د پښتنو دا رسوائي نۀ شم زغملې. بادشاه د دعاګانو او د عبادت د تاثير قائل وو. هغۀ دوه ورځې روژه اونيوله، د الله پاک نه ئې دعا اوغوښته.[۱] په پنځويشتم اکتوبر بابا په يو غشي د قرآن پاک آيتونه اولوستۀ او درياب ته ئې اوغورزولو. دغه د باغپت سره نزدې ګاټ ؤ. افغان

[۱] احمد شاه ابدالي، مخ ۲۴۳

فوځ د بابا په حکم د جمنا په دریاب کښې اسونه واچول. بابا په خپله په پنځویشتم اکتوبر د دریاب نه پورې وتو.

شاه پسند د څلور زرو سپاهیانو سره د سوني پت زر سپاهیان اووژل. سداشیو بهاؤ ته چې پته اولګېده نو هغه سمدستي د مقابلې دپاره راستون شۀ. په پاني پت ئې فوځونه برابر کړل. بابا د نومبر په اوله نېټه را اورسېدۀ او د مرهټو فوځ نه په پنځۀ میله فاصله پرېوتۀ.[1]

دلته نزدې د هندوستان قدیم لوئے جنګ د کورو پانډو تر مېنځه شوے ؤ. دلته بابر هم ابراهیم لودي ته ماتې ورکړې وه.

اوس دلته یو بل ته مخامخ مرهټه او مسلمانان ؤ. په دې جنګ کښې بابا د ډېر لوئے صلاحیت نه کار واخستو. دا تدبیر ئې اوکړو چې خپله یوه مورچه دې پرېښودے شي. د مرهټو خیال ؤ چې دا باچا بزدلي کوي. هغوئي توقع لرله چې باچا به په شا شي افغانستان ته به لاړ شي. د هغوئي سترګې هله اوغړېدلې چې باچا مضبوطه مورچه جوړه کړه. تر دوو میاشتو معمولي ګوابښونه اوچلېدل. د ابراهیم ګاردي ورور فتح علي خان چې د مرهټو ملازمان وو د شپې چپاؤ اوکړو (شبخون) او یو څو توپې ئې یوړې.[2] د سندهیانو سپاهیانو په شاه ولي خان ناساپي حمله اوکړه. په وخت امداد را اورسېدو. روهیله ؤ د شپې په تیارۀ کښې د دې موقعې انتظار کولو. هر ګاه چې مرهټه خپلې مورچې ته ستون شول نو د

---

[1] (ا) احمد شاه ابدالي، مخ ۲۵۱، (ب) احوال نجیب الدوله، مخ ۳۷

[2] هم دغه، مخ ۲۵۲

نجیب الدوله ورور سلطان خان دزرو سورو او پنځو زرو پیاده فوځ سره په هغوئي ورپرېوتل. روهیله د ټوپکو د ګولیو داسې باران اوورولو چې د توپو محافظ مرهټه سرداران په تېښته شول. مرهټه بیا د جنګ تیارے کولو چې پیاده فوځ پرې ګولے اوورولې. او تعاقب کؤنکي ئې په شا اوتمبول. د مرهټو په توپو باندې قبضه اوشوه. په دې موقع ابراهیم ګاردي راغے هغۀ حمله اوکړه. هغه روهیلیانو ته سخت نقصان اورسولو. درې زره خلق مړۀ شول. دهلي غاړې نه سردار بلونت راؤ هم هلاک شۀ. دا د سداشیو ډېر اعتباري وو. دا د مرهټو لوئے زیان ؤ.[1]

بیا بابا د مرهټو ناکه بندي اوکړه. سخته پهره شروع شوه دا کار سردار جهان خان او سردار شاه پسند خان کولو. د دوئي مشن دا ؤ چې هیڅ رسد مرهټه فوځ ته او نۀ رسي او نۀ دې مرهټه د بهیر بنګاه (مزدورانو) په ذریعه د پاني پت د ځنګلونو د ځناورو دپاره خوراک راوړے شي. د ډیلي سړک د مخکښې نه بند ؤ. اوس ټول دارومدار د پټیالې په سردار آلاسنګهـ ؤ. هغۀ د مرهټو مدد کولو. په پاني پت کښې د غلې ذخیرې نۀ وې، خلق د لوږې مړۀ کېدل.[2]

ګؤند لال ریونیو کلکټر ؤ. هغه اټاوه ته لاړو او د نجیب الدوله په ریاست کښې ئې لوټ مار اوکۀ. بابا د کریم داد په مشرۍ تازه دم فوځیان د هغۀ د چقولو دپاره اولېږل. دې ځلمي په جلال آباد کښې

---

[1] احمد شاه ابدالي ، مخ ۲۵۲

[2] هم دغه. مخ ۲۵۳

ګونډ لال راتینګ کۀ. سر ئې ورله پرېکړۀ او بابا ته ئې اولېږلو. کافي غله او د رسد سامان د افغانانو په لاس راغے.[1]

ګوپال ګنېش او کرشنا رائے د اصول چند او نورو باغي زمیندارانو په مدد په لاندې دوآب کښې د حملې کوشش اوکړه ولې د شجاع الدوله فوځ دا غنډه ختمه کړه.

سدا شیو د صلحې درخواست اوکۀ. شجاع الدوله ته ئې خواست او منت اوکړو چې په څۀ هم وي روغه راله اوکړه. شا ولي د مصالحت په حق کښې ؤ. بابا هم ؤ، ولې نجیب الدوله او افغانانو چې د قاضي ادریس د جهاد فتوې راپارولي وو هغوئ په جنګ اصرار کولو.[2]

مرهټه د لوږې د لاسه تنګ ؤ، تنګ آمد بجنګ آمد، شجاع الدوله هم ورته چورلټ انکار اوکړو. نو مرهټه ؤ د جنګ کولو تابیا اوکړه.

شجاع الدوله بابا د خوبه راویښ کړو. د شپې د خوب په جامه کښې په خپل محبوب اس "چوکي" سور شۀ، فوځ ته ئې د تیارۍ حکم ورکړو. یو میل مخکښې لاړ چې صفونه اووینې. بهاؤ د بائیلاتي جوارګر په شان هر څۀ داؤ کړل په مرکز کښې خپله اودرېدۀ، په ښئے او په چپه ئې ابراهیم خان ګاردي او ملهار راؤ هولکر او جامو جي شنده ے کېنودل.

د بابا فوځ منظم ؤ. د یو پېدائشي جرنېل غوندې د خپلو خدائي ورکړو صلاحیتونو مظاهره ئې اوکړه. شاه ولي خان په مېنځ کښې د

---

[1] احمد شاه ابدالي، مخ ۲۵۳
[2] همدغه، مخ ۲۵۴

اتلس زرو سره ، په ښئے غاړه د افغانانو دوه دستې وې. په چپه (ګس) نجیب الدوله او شجاع الدوله ؤ. کمان د شاه پسند خان په لاس کښې ؤ. د ګنګا پورې حافظ رحمت خان او دولت خان ؤ. یمین او یسار (ښے او ګس) د هلال په شان راکوږ ؤ.[1]

محمد خان بنګش، دوندے خان، امیر بېګ خان او برخوردار خان هم په خپلو خاصو ځایونو تیار ولاړ ؤ. ټول فوځ شپېتهٔ زره ؤ.

د مرهټه ؤ کمانډر سدا شیو بهاؤ، وشواس راؤ، ابراهیم ګاردي، داتاجي ګائیګواړ، وټهل شودیو، انتاجي مائکشور، ستوجي جادو، جسونت راؤ پوار، شمشیر بهادر، بنکرجي شنډے، ملهار راؤ هولکر، د دوي ټول فوځ دوه څلوېښت زره ؤ.

د جنګ شروع ابراهیم ګاردي اوکړه. لاس په لاس جنګ کښې مرهټه مړهٔ شول. بابا نوې طریقه اختیار کړه. د بابا فوځونو مرهټه د درېو غاړو نه ګېر کړل. سدا شیو بهاؤ د بهادر سپاهي په شان تر اخره جنګېدهٔ مړ شهٔ. شاهي فوځ د درېو غاړو ګوله باري کوله. یو باران ؤ د هرې غاړې نه مرهټه ؤ خپل صفونه منظم او نهٔ ساتل، وشواس راؤ په ګولۍ مړ شهٔ.

ملهار راؤ اوتښتېدهٔ، جنکوجي تېنګ شهٔ زخمي شهٔ او د زیانه سره وروستو شهٔ. په دې جنګ کښې اتهٔ ویشت زره مرهټه مړهٔ شول افغانانو ته ډېر مال په لاس راغے. پینځه زره سړي او ښځې د سردارانو زامن، ښائسته بامبنې ښځې به په یو تومان (لس روپۍ)

[1] احمد شاه ابدالي . مخ ۲۵۲

خرڅېدې مرهټه داسې اوچقېدهٔ چې بیا ئې سر اوچت نهٔ کهٔ. د مرهټهٔ د هندوستان د بادشاهۍ خوب تنې ونې شو.
بابا د دې جنګ نه هیڅ سیاسي فائده اوچته نهٔ کړه. دهٔ دلته بادشاهي نهٔ غوښته. په پاني پت کښې ئې د شېخ بو علي قلندر په مزار حاضري ورکړه. بیا ډیلي ته لاړهٔ. ملکه زینت محل او نمسي جوان بخت ئې استقبال اوکهٔ. د بابا دلچسپي صرف تر پنجابه وه، هغه په پنجاب کښې خپل منتظمان مقرر کړل، شاه عالم ثاني ئې باچا او مانهٔ (هغه په بهار کښې ؤ).
بابا ته د پېشوا بالاجي د غم احساس ؤ. د هغهٔ ځوان زوئې هلاک شهٔ، د ترهٔ زوئې سداشیو بهاؤ هم هلاک شهٔ، ډېر سرداران او په زرګونو خلق مړهٔ شول. بابا ورته د همدردۍ خط اولېږلو، لوئې وزیر شاه ولي خان هم پېشوا ته دوستانه خط اولېږلو، د سورج مل سره د مصالحت خبره اوچلېده. زینت محل د دې مصالحت په حق کښې نهٔ وه. دهٔ ( سورج مل ) د دې د خاوند قاتل (غازي الدین) ته پناه ورکړې وه. هغهٔ کریم داد خان د پنجاب ګورنر مقرر کهٔ.
په واپسۍ کښې ئې د سکهانو خلاف اثرناکه اقدامات او نهٔ کړل. سربلند خان ته ئې د ملتان او کهتوچ ته د دوآبه لست جالندهر نظامت ورکړو. سعادت خان او صادق آفریدي ئې هلته خپل نائبان مقرر کړل.[1]
د شاه نامې شعرونه په راتلونکي پاڼو کښې ورکړے شوي دي.

---

[1] (ا) احمد شاه ابدالي، مخونه ۲۵۲ تر ۲۶۱، (ب) احمد شاه بابا افغان، مخونه ۱۳۲ تر ۱۴۲

د احمد شاه ابدالي بابا د حملو او د فتوحاتو حال بیان شو د دې نه اندازه لګي چې هغه څومره عظیم الشان فاتح او ورسره ښهٔ مسلمان، د فراست خاوند، د اولیاء الله قدردان ؤ.

ګنډا سنګهـ په احمد شاه بابا تحقیقي کار کړے دے. هغه وائي دې عظیم بادشاه سره انصاف نهٔ دے شوے. ګنډا سنګهـ وائي چې په ما دې انسان یو نهٔ ختمېدونکے نقش لګولے دے. احمد شاه د ایشیاء د مېنځ یوه تاریخي معجزه وه. دهٔ ته په تاریخي کتابونو کښې هغه ځائے ورنهٔ کړے شو چې د کوم دے جوګه ؤ. دے ډېر لوئے فاتح، کشورکشا، منتظم او مدبر ؤ. دهٔ ایشیاء ته افغانانو ته نوے ژوند او نوې ولوله ورکړه. ګنډا سنګهـ فخر کوي چې د داسې هسک، چیګ، اوچت انسان سوانح او حالات ما راجمع کړل. احمد شاه یو لوئے هیرو ؤ. د مکر و فریب نه ما ورا انسان ؤ. په زړهٔ کښې ئې هیڅ کوټ بنګار نهٔ ؤ. د دهٔ خلاف چې څهٔ خبرې خورې شوي دي، د حقیقت نه خلاف دي.[1]

د اتلسمې پېړۍ په نیمائۍ کښې د احمد شاه بابا د مشرۍ لاندې افغانستان پ پوره ډول آزاد شو. بابا چې کومه امپراتوري جوړه کړه د هغې بریدونه په نمر خاتهٔ او نیلاؤ تر کشمیر، ډیلي، وړوکي تبت، د عربو سمندر پورې غزېدلي وو. آمو سیند ئې قطبي برید ؤ. د قبلې په لور ایراني خراسان ئې د باج لاندې ؤ.[2] ډېر زر وفات شهٔ، که ژوندے وے نو څهٔ به ئې نهٔ وو کړي؟

---

[1] احمد شاه ابدالي، ابتدائیه مخونه، ۵-۱۱

[2] ظهورونه ، مخ ۴۴

احمد شاه ابدالي چې کوم اصلاحات اوکړل هغه هم ډېر اهم او د هغهٔ د بادشاه په حېث د صلاحيتونو عکاسي کوي.

## د احمد شاه د مملکت نظام[۱]:

زيات وخت ورته په دې حقله تر لاسه نهٔ شو. د دوئي د حکومت يؤلس کاله ۱۷۴۷ تر ۱۷۵۸ء په ملکي اډانه او د سلطنت په پراخه کولو اولګېدل. د ژوند آخري دوه کاله ناجوړه ؤ.

### (۱) مرکزي حکومت/باچا:

بادشاه، دردران، د حکومت مشر، د حکومت په هره معامله کښې ورته اختيار حاصل ؤ. ولې د جرګې نه به ئې رائے اخستله. خطبه او سيکه د دهٔ په نوم چلېده. ولي عهد ته هم په يوه صوبه کښې د خپل نوم د سيکې خطبې اختيار تر لاسه کېدو. د جنګ او ضلحې اختيار باچا سره ؤ. ټولې اعلی اوچتې عهدې باچا د تحفې په توګه ورکولې.

### (۲) مجلس/جرګه:

د بادشاه د مدد دپاره د نهو سردارانو يوه جرګه وه. د عامې پاليسۍ خبرې به دلته فېصله کېدې. د قبائلو دا نمائندګان به تر عمره د جرګې غړي وو. کهٔ باچا به څوک نهٔ غوښتل نو برطرفي به

---

۱ دا مواد د ګنډا سنګهه اود غبار د کتابونو نه اخستے شوے دے. د اختصار خيال ساتلے شوے دے.

ئې کولے شوه. بادشاه به د جرګې خبره نۀ غورځوله. جرګې به په هره خبره غور کولے شو. اندروني خبره به وه، که خارجي به وه.

## (۳) وزیراعظم:

دے ملکي انتظام کښې د باچا اهم ترین ملګرے ؤ. دۀ ته به ئې اشرف الوزراء وئیل. د دۀ فرائض دا ؤ.

۱. د سلطنت په معاملو کښې باچا ته مشوره ورکول.

۲. په احکاماتو د عمل کولو انتظام کول.

۳. د حکومت د ټولو څانګو نګراني.

۴. د ملک د اندروني او بهرني معاملاتو کتنه.دا عهده د احمد شاه په زمانه کښې بګي خان بامے زئي سره وه. هغۀ ته ئې د شاه ولي خان خطاب ورکړے ؤ.[1]

## (۴) وزارت مالیه:

دا وزارت د ټولو آمدني څانګو نه لوئے ؤ. دې وزارت به د محصولاتو، د زراعت د اوبۀ خور، د شاهي جاګیرونو (خالصه) تقاوي، د عامې ښېګړې کارونه، د غلې ذخیرې او شاهي ټکسال معاملې سر ته رسولې. د نورو محکمو خرچ اخراجات به ئې هم مرتب کول. ولې د تحویلاتو یعنې د جنګ د اخراجاتو سره د دې کار نۀ ؤ. د احمد شاه بابا په زمانه به ئې وزیر مال ته دیوان بیګي یا دیوان اعلی وې. دا عهده د عبدالله خان بامي زئ سره وه. څۀ موده علي رضا خان سره هم وه.

---

[1] (ا) احمد شاه ابدالي ، مخ ۳۷۷،۳۷۸ ، (ب) احمد شاه بابا افغان، مخونه ۵۹، ۶۰

خزانچي يا خزانه دار به د مالياتو د وزارت اهم عهده دار ؤ نغدي تولې پېسې او قيمتي څيزونه به د دې وزارت په تحويل کښې ؤ د دې نه علاوه د شاهي فرمانونو او د ملک د ماليئې په حقله د عامو دستاويزونو به هم دے محافظ ؤ وئيلے شي چې د احمد شاه په زمانه د افغانستان آمدني درې کروړه روپۍ (يعنې دوه ويشت لکهه پنځويشت زره پونډه) وه دا کافي رقم ؤ [1]

## (۵) شرعي محکمه:

په مرکز کښې د عدليه اعلی ترين عهده دار ته به ئې قاضي القضاه وې دۀ به د نورو فرائضو نه علاوه د پوليس افسرانو د کار نګراني هم کوله چې په ملک کښې د امن امان د ساتلو ذمه وار ؤ د احمد شاه په زمانه د قاضي القضاه منصب فيض الله خان سره ؤ په قندهار او صوبائي صدر مقامونو د قاضي د مدد دپاره اتۀ نائب قاضيان او مفتيان ټاکلي شوي وو د مقدماتو فيصله به د اسلامي قوانينو په لحاظ کېدله په ديهاتي علاقو کښې به جرګې وې هغه مقدمې به ئې فيصله کولې چې جرم به ئې ثابت شوے ؤ دا د پنچائت يو قسم ؤ، په سزاګانو د عملدرآمد دپاره محتسبان موجود ؤ.

---

[1] (۱) احمد شاه ابدالي. مخونه ۳۷۸، ۳۷۹، (ب) احمد شاه بابا افغان. مخونه ۲۱، ۲۲

## (۶) دارالتحریر حضور بادشاه (سکرتریټ):

د مالیاتو د وزارت نه پس دوېمه اهم ترینه شعبه دا وه. دا نېغ په نېغه د وزیراعظم لاندې وه. په اصل کښې دا د وزیراعظم خپل دفتر ؤ. چې د هغهٔ او د بادشاه د احکاماتو او د خطونو لیکلو، نقل کولو او د اندراجاتو د رېکارډ کار به ئې کولو. ټول سرکاري رېکارډ به په دې دفتر کښې ؤ. د دې محکمې افسر اعلی منشي باشي یاسر منشي (چیف سیکرټري) ؤ. د احمد شاه باچا په وخت سعادت خان سدوزئی او مرزا هادي خان منشي باشي وو.[1]

## (۷) واړهٔ عهده دار:

د وزیرانو نه علاوه چې هغوئي د لویو خانګو مشران ؤ، په شاهي دربار کښې واړهٔ واړهٔ عهده دار هم ؤ.

ایشک آغاسي باشي. د مهمانداری افسر یا نقیب ؤ. دهٔ به د دربار هال په دروازه خلقو ته هر کلے وي. په خپلو د ناستې په ځایونو به ئې کښېنول. د بادشاه سره به ئې پېژندګلو کوله. یعنې وزیرِ دربار (پروټوکول) غوندې غړے به ؤ. د احمد شاه په زمانه عبدالله خان په دې خدمت ماموره ؤ. په کال ۱۷۵۲ء باچا دے د کشمیر د فتح کولو دپاره لېږلے ؤ. آغاسي باشي په ترکي ژبه کښې دربان ته وائي دهٔ د افسرِ تقریبات حېثیت لرلو.[2]

ه

---

[1] (ا) احمد شاه ابدالي، مخ ۳۷۹، (ب) احمد شاه بابا افغان ، مخ ۲۳

[2] (ا) همدغه ، مخ ۳۷۹، (ب) همدغه ، مخ ۲۳، ۲۴

## (۸) اورؤنکے افسر/ عرض بیګي باشي:

دا هغه عهده دار ؤ چې باچا ته به ئې په اوچت آواز د خلقو درخواستونه او غوښتنې اورولې. او د هغهٔ احکام به ئې هم اورول، دا طریقه ځکه جاري شوه چې اکثر سائلان د دربار د آدابو نه واقف نهٔ ؤ. د خواست ژبه به غلطه وه. یا به خلق د باچا نه کافي لرې ؤ. آواز به ئې نهٔ رارسېدو. دا کار به عرض بیګي کولو. دا اهمه عهده وه. دا حاجي کریمداد سره وه.[1]

## (۹) جارچي باشي - جهرچي باشي (ویاند):

دے به د جارجیانو یعنې په زوره یعنې په جهر د حکمونو اورولو (منادي کؤنکو) مشر ؤ. د دې ځانګې تړون د عرض بیګي باشي سره ؤ. کریمداد ډېره موده په دې منصب مقرر ؤ.[2]

## (۱۰) مهماندار باشي (مېلمه پال):

دا افسر به د شاهي دربار د مېلمنو، د شاهي مېلمنو په خدمت مامُوره ؤ. د زمان شاه په زمانه فیض محمد "داحمد شاه د نمسي" په نوم ماموره ؤ.ددې منصب دپاره د احمد شاه بابا څوک خاص رشته دار نهٔ ؤ[3]

---

[1] (ا) احمد شاه ابدالي، مخ ۳۷۹، (ب) احمد شاه بابا افغان، مخ ۲۳

[2] هم دغه، مخ ۳۸۰

[3] همدغه، مخ ۳۸۰

### (۱۱) د خوراک نګران/ ناظر يعنې د پخلنځي څارن:

دې افسر به د باورچي خانو او د شاهي ضيافتونو مېلمستياګانو انتظام کوـ د شاهي محل د اخراجاتو دپاره يو خاص رقم مقرر ۏ. د دې د حساب کتاب ساتلو يوه جدا څانګه وه چې ذاتي خزانچي او محتسب ئې لرلو.[۱]

### (۱۲) اُردو باشي/عمله باشي:

دا افسر به د بادشاه د دربار د کار کوـنکو، وړو منصبدارنو، محافظانو او د سفر د فوځي منتظيمنو مشر ۏ. د ايشک آقاشي نه وروستو دا اهم منصب ۏ دا منصب څۀ موده عبدالله خان سره ۏ چې په کال ۱۷۴۷-۱۷۴۸ء د بادشاه د حملې په وخت د سرهند حاکم ټاکلے شوے ۏ. منشي عبدالکريم دوه ځله د دۀ نوم اخستے ۏ.[۲]

### (۱۳) پېش خوانچي، پېشګي خيال ساتونکے:

د بادشاه او د هغۀ د ذاتي عملې د استوګنې او خوراک پېشګي خيال ساتونکے افسر به ۏ. د لوښو کاليو انچارج به هم ۏ.[۳]

### (۱۴) نسقچي باشي (نسق چې باشي):

د نظم و نسق يعنې د نسقچيانو مشر چې تل به د بادشاه د رکاب سره په سفر حضر کښې، په تم کېدو او يُون کېدو د ملکي، فوځي او عدالتي حکمونو تابيا کولو او د حفاظت کولو ذمه دار ۏ. تيمور

---

[۱] احمد شاه ابدالي. مخ ۳۸۰
[۲] هم دغه. مخ ۳۸۰
[۳] هم دغه. مخ ۳۸۰

چې د احمد شاه د اجازت نه بغیر د هرات نه د پلار لیدو له راغے نو دې نسقچیانو هغه بېرته لېږلے ؤ [۱]

## (۱۵) خاص ندیم، مصاحب یعنې خوالګر:

دا به د بادشاه خاص اعتباري ملګرے ؤ. دے به ډېر د قدر او احترام ورېؤ. د فتح الله خان سدوزئی نوم په دې حقله اخستے شي. [۲]

## (۱۶) خواجه سرا باشي:

د محل د ملازمانو او خواجه سراؤ اعلی افسر ؤ. دوئي ته به هر وخت بادشاه ته د رسائی اختیار ؤ. دوئي به په پټو مشورو کښې هم موجود ؤ. خواجه سرا باشي یاقوت د بادشاه د ټولو نه مخلص اعتباري وو. یو بل خواجه د نواب شجاع الدوله د کورنۍ یوسف علي خان ؤ. چې د التفات خان لقب ورته ورکړے شوے ؤ. بادشاه ته ډېر خوږ ؤ. په یو موقع د سلطنت خزانچي هم ؤ. [۳]

په دربار کښې نور هم اعتباري خلق وو. لکه قابوچي باشي (د شاهي قیام ګاه ناظم) او نور باشیان.

## (۱۷) طبیب باشي:

طبیب باشي د باچا ذاتي طبیب او حکیم ؤ. [۴]

---

[۱] احمد شاه ابدالي، مخ ۳۸۰

[۲] همدغه، مخ ۳۸۱

[۳] هم دغه، مخ ۳۸۱

[۴] هم دغه، مخ ۳۸۱

## (۱۸) میرا خور باشي/د اصطبل داروغه:

دا افسر به د شاهي اصطبل انچارج ؤ. د شاهي او سرکاري څناورو، څاروؤ لکه اسونه، اوښان، هاتهیان، غواګانې، مېښې، قچرې، مال اوچتونکي څناور به د دهٔ په ذمه ؤ. د څاروؤ د نسل د زیاتولو (افزائش) د څاروؤ د وښو او خوراک د ذخیرو او د چراګاهونو انتظام به هم دوئي کولو. دهٔ سره به نور میراخور هم ؤ. د دوئي تعلق به د دفاع او دربار د وزارت سره او د اخراجاتو په خوا د مالیئې د وزارت سره هم ؤ. دا به لویه عهده ګڼل کېده. وروستو بیا دا د "کمند دفتر" په نوم اونومېدو.[1]

## (۱۹) د خبرو د دفتر داروغه ـ د خبرو څانګه ـ هر کاره باشي:

احمد شاه بابا ته د خبرورسولو دپاره د یو افسر لاندې اداره وه. د دوئي سره د پټو مخبرانو جاسوسانو څانګه وه. په دې کښې اعتباري پاک زړي نارینه او ښځې وې. دوئي د ملک د ګټ ګټ نه اهمې مفیدې خبرې رالېږلې. د ښځو شعبه بې کچه اهمه وه. فیض محمد په دې حقله بیان کړے دے چې د ملک د لرو پرتو ګرانو تیپونه باچا ته خبرې رارسېدې. خلقو به دې ته د احمد شاه بابا کرامات وئیل.

د سراج التواریخ صاحب لیکي:

---

[1] احمد شاه ابدالي ، مخ ۳۸۱

" احمد شاه د خلقو د ټولو رازونو نه واقف او خبردار ؤ. او د ضرورت په وخت به ئې تذکره هم کوله نو ځکه به خلقو دا د بابا معجزه ګڼله. دهٔ د جاسوسۍ د پټې څانګې ذکر نهٔ دے کړے. د جاسوسانو مشر ته به ئې هر کاره باشي وې. د خبر رسانې د پټې څانګې نوم "جامع اخبار" ؤ مشر ئې "داروغه د دفتر اخبار" بللے شو."

ابن محمد امین معاصر مؤرخ د هند د حکومت په څانګو کښې د هرکاره یا هرګاره ذکر کوي.[1]

## (۲۰) ضبط بیګي باشي:

دا افسر به د عوامي ساتنې نګران ؤ. غبار لیکي چې ما ته پته اونهٔ لګېده چې د دې دندې خاوند په څهٔ ډول ملکي یا فوځي چارې سر ته رسولې. د څېړنې موقع نهٔ ده. داسې اټکل لګي چې ضبط بیګي د کوتوالۍ او پولیس دنده لرله. ولې دا ناممکنه ښکاري چې د احمد شاه بابا په وخت د کوتوالۍ او پولیس څانګه نهٔ وه او د دې دپاره به هیڅ عربۍ، فارسۍ، پښتو ژبه ، نامه یاده شوې نهٔ ده. مثلاً امیر شُرطه، شحنه، عسس، میر شب، میر شبګیر، کوتوال. ولې د احمدشاه نه وړاندې وروستو په دې نومونو دا څانګه یاده شوې ضرور ده. داسې معلومیږي چې د پولیس ډیوټي د مقامي فوځي دستو په حواله وه.[2]

---

[1] احمد شاه ابدالي ، مخ ۳۸۱، ۳۸۲

[2] همدغه ، مخ ۳۸۲، (ب) احمد شاه بابا افغان ، مخ ۲۸

## (۲۱) خزانه داري:

د احمد شاه بابا په وخت نغدي او جنسي پنګې د يو مشر تحويلدار په حواله وې. ورته به ئې خزانچي يا خزانه دار هم وې. اعتباري خلق به د دې دپاره ټاکېدل. دوئي سره به د آمد او خرڅ تفصيل هم موجود ؤ.[۱]

## (۲۲) صلاح کاره (سلاکاره) غونډه:

دې ته تاسو پارلېمنټ يا تل پاتي جرګه وئيلے شئ. په دې کښې د افغاني ټبرو لوئې خانان، سرداران، او نور مهم کارداران شامل ؤ. باچا سره د غړو ټاکل او ګوښي کولو خوښه موجوده وه. بابا د بادشاه په توګه د بشپړ اختيار مالک ؤ. نامسؤل ؤ، د انتظامي امور او فوځي دستو اعلى کمانډر د ملي شورىٰ ځان ګڼړے مقنن، د قضا، سزا، جزا مذهبي لار ښود ګڼلے کېدو ولې داسې نۀ وه شوې چې دے دې جرګې د فېصلو دپاره خرنډوي. دا خلق د دۀ پاخۀ ملګري وو.[۲]

## (۲۳) د ملک بريدونه:

مملکت ډېر خور ؤر او پراخه ؤ. قطب طرف ته د آمو درياب او د کافرستان غرونه، نيلاؤ طرف د عرب سيند، د عمان خليج، قبلې ته خراسان، ايران، کرمان، د نيلاؤ نه د سرهند د علاقې نه د تبت

---

[۱] احمد شاه ابدالي. مخ ۲۷
[۲] هم دغه. مخ ۲۷

غرونو ته دا رقبه رسېدلې وه. وروستو د سرهند ملتان او د لاهور هندوستاني علاقې د لاسه اووتې. بيا د دې برید تر اباسينه ؤ [١]

## (۲۴) علاقائي تقسيم ـ ولايتونه:

د انتظامي آسانۍ دپاره ملک په ډېرو ولايتونو او برخو کښې تقسيم ؤ. يعنې ګورنرۍ او کمشنرۍ ولايات د قندهار، هرات، کابل، مزار شريف، خرآسان، بدخشان، پنجاب (لاهور) او کشمير ؤ. کمشنرۍ په فرح، مېمنا، بلوچستان، غزنۍ لغمانْ، پېښور، ډېره اسماعيل خان، ډېره غازي خان، شکار پور، سبي، سندهـ، چيچ هزاره، لبهـ، ملتان او سرهند کښې وې.

په يو ولايت کښې به ډېر محال يعنې علاقې وې چې په ښارونو او کلو کښې تقسيم وې. حاکمان ګورنران به په شاهي فرمان مقررېدل. دا رنګې د لښکر کمانډران، واړهٔ عهده داران به ګورنرانو يا وزيرانو مقررول. [٢] د دوئي نومونه وړاندې راځي.

---

(ا) احمد شاه ابدالي، مخ ۳۸۲، ۳۸۳، (ب) احمد شاه بابا افغان، مخ ۲۹ – ۷۱

[١] هم دغه، مخ ۳۸۲، ۳۸۳.

# د بابا فوځي جوړښتونه

## د بابا د فوځي نظام/ څانګې:

د ټولو فوځي څانګو مشر به یو لوئې کوماندان ؤ چې ورته به ئې سپه سالار وې.نن سباورته مارشل وائي د دۀ ترلاس بئیلې څانګې وې.

## د دفتر نظام:

دا د دفاع وزارت ؤ. تنخواه به ئې ورکوله.

## سیورسات چي:

دا افسر به د لښکر د خوراک څښاک، وښو، بُوسو وغېره برابرولو ذمه دار ؤ..

## قورخانه:

د وسلې خوندونه، پنګې، ستوروته (Ordnance) به د دې لاندې راتلل. د دې افسر به قورجي باشي وو. نن سبا ورته "وسله پال" وائي. دې سره د بارودو جوړولو کار هم ؤ. ځائے په ځائے دوسلې صنعتونه ؤ.[1]

## اُردو (لښکر):

په دې نظام کښې فوځیان او نیم فوځیان وو. وړومبۍ ډلې ته به ئې د فوځ نظام وې. د اُردو درېمه برخه جوړېده. او دوېمې ته به ئې "ارت فوځ" یا "سپاره خانان" وې. دا د ټول اُردو دوېمه برخه وه.

---

[1] احمد شاه بابا افغان، مخ ۷۲- ۷۴

## فوځي سرتيري:

دوئي ته به نغدہ د جنس تنخواه، وسله، د دولت له خوا تر لاسه کېده. په کال کښې دوئي ته به درې مياشتينۍ دمه ورکولې شوه. دوئي به په مرکز او په همه ولاياتو کښې وو.

## سپور ټولګي:

دِ دې نه د اُردو درې برخې جوړېدې. د دوئي وسله فتيلۍ ټوپک، توره، قرابين، ټوپک، او نيزې وې. د دوئي به زغرې هم وې.[١]

## يلې ټولګي:

د دې نه د اردو يوه برخه جوړېده. وسلهٔ ئې ټوپک چاړهٔ وه. د نورو وسلو اختيار ئې هم لرلو

## توپ ټولګي:

د دې دوه برخې وې. يوه د سپکې او بله د درنو توپو وه. درنې توپې به په اسونو وړے شوې. سپکې توپې به وړې وې دې ته به ئې زنبورک يا شاهين و شهنګ وئيلې. د اوښ په شا به وړې کېدې. بابا سره د باچائۍ پر لومړي کال اووهٔ سوه زنبورک لرونکي اوښان وو. وروستو شمېره ئې زياته شوه.

د بابا توپچي کوماندان (پوپچي باشي) رحمان خان بارکزئی ؤ. رسول خان د احمد شاه د شاهي لښکر کوماندان (قللراقاسي) ؤ.[٢]

---

[١] احمد شاه ابدالي، مخ ۷۵، ۷۲

[٢] احمد شاه بابا افغان، مخ ۷۲

## لښکري جوړښتونه:

يو دلګي لس تنه او لس دلګي (١٠٠) يو ټولي کېدهٔ. يو کنډک لس ټوليه (١٠٠٠) ؤ. دوه يا څو کنډکونه به چې يو ځائے شول نو يوه قطعه يا مغرزه ترې جوړېده. (برېګېډ). د اردو د افسرانو جوړښت او نومونه داسې وو.

ده باشي (دلګي مشر) يو زباشي (د ټولي مشر) منګباشي يا بيګباشي (د کنډک مشر) امير لښکر (غونډ مشر).

د سپرو شاهي ټولګيو (لښکر ماتو ويونکيو زلمو) کوماندان ته "قللر آقاسي" وئيلے کېدو. او د کشېکچي (د شاه ساتو نکيو ډلې) کوماندان به په "کشېکچي باشي" بللے کېدو. د سپکو توپو کوماندان ته به ئې "شاهين چي باشي" يا جزايرچي باشي او جنګياليو ته ئې "زنبورک چي" وئيل. د ټولو توپونو کوماندان "توپچي باشي" يا "مير آتش" ؤ.[١]

## لېږدونې (نقل و حمل):

د لښکر (اردو) لېږدوني د اس، اوښ، خرهٔ، غوايه او پيل (هاتهي) په مرسته کېده. جنګيالي پيلان به د دښمن د کرښو د ړنګولو دپاره پکارېدل.

د احمد شاه د ټول اردو دوه برخې د قامي لښکر يا سپارهٔ خانان په نامه نيم فوځي سرتيري وو. دا په درې قسمه وېشلي شوي وو.

---

[١] احمد شاه بابا افغان ، مخ ٧٧

(۱) دا به د باچا سره په جنګ وتل او د جنګ نه پس وروستو بېرته تلل. د ځنو سيمو ديواني ماليه به ئې دوئي ته بخښله.

(۲) د قامي لښکر ډلې. د قبيلو د مشرانو له خوا به جنګېدې. د جنګ نه پس به خپل کار ته واپس تلل. د مرکز د طرفه يوه اندازه پېسې او جنس به دوئي ته ورکولے شو.

(۳) د سپرو خانانو ډلې. دا په تم ورځو کښې هم د فوځي سيرتيريو په ځير وسله دارې وې.

د دوئي په ذمه د بريدوـو ساتنه د پورونو راټولول د دولتي زَيْر مو (ذخيرو) ساتل او ځۀ نور کارونه وو.[1]

## د نيم فوځي لښکرو جوړښتونه:

د باچا د فرمان نه مخې به چې د چا د کوماندانۍ رتبه وټاکلے شوه نو نوموړي به کۀ شاهزادګان وو کۀ وزير يا مامور که خان د خپلې ډلې په جوړولو به ئې پېل کاؤ. او خپل عزيزان، ګاونډي، نوکران او آشنايان به ئې پکښې راغونډول. اسونه او وسلې به ئې ورکولې. ځنو کوماندانو سره به حکومت د وسلې مرسته هم کوله. که د ډلې کوماندان به کوچنے ؤ "نو سپور مشر" که مخنۍ وه. "سپور خان" او که لوئے به ؤ نو "سپور سردار" به ئې بالۀ.

خورد ضابطه (وړوکے ټولګے) به "ده باشي" نومېدۀ. لس دلګي به د "بېرغ" په نامه يو ټولے کېدۀ او مشر ته به ئې "بېر غوال" وئيل.[2]

---

[1] احمد شاه ابدالي ، مخ ۷۷، ۷۸

[2] احمد شاه بابا افغان ، مخ ۷۹، ۸۰

## د اُردو شمېر:

احمد شاه چې له خراسانه قندهار ته راغے او باچا شۀ نو سپاړس زره وسله وال سرتېري ئې لرل. په وړومبي کال د باچايۍ دا شمېره څلوېښتو زرو ته ورسېده. دا فوځ زياتېدو، ځنو مؤرخينو دا يوسل شل زره ښودلے دے. د هر محال شمېره ځانله وه. په ۲/۳ برخې نيم فوځيان وو. او درېمه برخه سرتيري فوځيان وو.

## د اُردو تنخاه:

په تاريخ کښې د دې ذکر نشته. فيض محمد د احمد شاه د نمسي زمان شاه د تنخواه په اړه داسې ليکي چې دا د لسو نه تر پنځلسو تومانه وه. تومان د شلو روپو برابر دے. د فارس تومان پنځه روپۍ دے.[1]

## ګټه، د بابا آمدني، اخراجات:

ګټه يا آمدني به د ماليو نه راتله. باج، خراج به هم راتلو. د کرئيزو زمکو، بڼونو، ژرندو، کورتيو خارويو د کورنو او بهرنيو د کسو دا ګيرۍ د څيزونو، صنعتي توکو څخه به ټېکس اخستے کېدو. په دې کښې د خالصه جات په نامه دولتي زمکې د ګټې غوره سرچينه وه. تشه د شکارپور د ماليئې ټېکه شپږ سوه زره وه.

په کال ۱۱۷۰هـ د افغاني پنجاب د ولايتونو ماليه اووۀ نيم مليونه وه. د بنون نه د ماليئې او د لبنکر د لګښت و خواړو په نامه اتلس روپۍ اخستے کېده. د ډېره اسماعيل خان د وړې سيمې ميانوالي

---

[1] احمد شاه بابا افغان، مخ ۸۰، ۸۱

مالیه په ځلوېښتو جریبو څخه یوه روپۍ وټاکله. د احمد شاه د سلطنت کالنۍ ګټه ۳۱ ملیونه وه.[۱]

## دولتي لګښت:

د سرتېرو او افسرانو تنخواه، د وسلې او فوځي یونونو لګښتونه، د هېوادونو د کارکنانو تنخاګانې وغېره وې.

د احمد شاه بابا اُردو سل او شل زره تنه لرل. چې د هر سپاره میاشتینۍ تنخا ۱۲ روپۍ او جنس وو نو په کال ټول خرچ دولس ملیونه نهه سوه او شپېتهٔ زره جوړېږي. د هر پلي هم میاشتینۍ شپږ روپۍ او جنس تنخواه وه نو دا د کال دوه ملیونه یوسل شپېتهٔ زره روپۍ ته رسېده.

هم دا رنګې د افسرانو نغده او د جنس تنخواه چې د جاګیر په توګه له هېواد نه تر لاسه کېده. د وسلې د پېرودلو ډکولو لېږدلو کالنۍ لګښت درې ملیونه ؤ. نو په دې توګه د احمد شاه د اُردو (لښکر) ټول کالنۍ لګښت څهٔ دپاسه نولس ملیونه روپۍ وې. د هېواد ټولې کالنۍ ګټې به ۳۱ ملیونه وې.

په هېواد کښې د ودانیو چارې لکه ښار، پول، جومات، تم ځائے (سرائے) او نور تر ډېره حده د بېګارۍ په ډول سر ته رسېدې. د کار کوُنکو تنخاګانې او د دربار لګښتونه دا ټول به د بچت یعنې دولس ملیونو نه پوره کېدل.[۲]

---

[۱] احمد شاه بابا افغان، پښتو ترجمه، مخ ۸۴ – ۸۷

[۲] همدغه ، مخ ۸۸، ۸۹

## تعمیرات:

د احمد شاه بابا د تعمیراتو سره ډېره مینه وه. نادر شاه قندهار ښار وران کړے ؤ. د پاني پت د فتح نه چې واپس راغے نو د پخواني قندهار په ځائے ئې نوے قندهار احمد شاهي یا د اشرف البلاد په نوم د یو نوي ښار بنیاد کېښودو. د دې ښار د قطبي غاړې په مرکز کښې شاهي قلاګانې وې. په غاړو کښې ئې د چاوڼۍ عمارتونه، توپخانه، اسلحه خانه، جهه خانه او اصطبل ؤ. جامع مسجد یا شاهي جومات پکښې هم ؤ. د دې ښار د ټولو نه زیات ښائسته دوه عمارته وو. د رسول کریم صلی الله علیه وسلم یادګار. په دې کښې د رسول کریم صلی الله علیه وسلم خرقه وه. دوېم د احمد شاه خپله مقبره. دوئي د کابل چاپېره شهر پناه جوړ کړو. دشاه اسحاق مزار د بالاحصار نزدې مکمل شو. په مکه معظمه کښې ئې هم یوه سرائے جوړه کړه. د مزار شریف سره نزدې د تاشقرغان موجوده ښهریه د دیهه فرعون په ځائے جوړه کړې وه. د سندهـ حېدر آباد ئې هم جوړ کړو. باچا د معمارانو او د لرګي د کارکوُنکو قدردان ؤ. په خپل نوي ښهر کښې ئې په محله بنایان کښې دا خلق آباد کړل. د بابا موسیقۍ او مصورۍ سره شوق نۀ ؤ. صرف یو ځل ئې په لاهور کښې د فتحې په موقع د رقص و سرود تماشه کړې وه. حافظ مرغزي صېب ئې ذکر کوي.[1]

---

[1] (ا) احمد شاه ابدالي، مخ ۳۲۵، ۳۲۲ (ب) احمد شاه بابا افغان، مخ، ۹۱، ۹۲

# د احمد شاه

# په وخت د افغانستان نخښه/نشان

دا نخښه خو په هغه ورځ وتاکلے شوه کله چې د شېرسرخ په مزار او جومات کښې ملي جرګې احمد شاه باچا اومنلو او صابر شاه د غنمو وږے د دۀ په سر کېښودو. احمد شاه هم دا نخښه د خپل حکومت دپاره وُمنله. غنم د افغانستان درونډ فصل هم دے.
احمد شاه يواځې د غنمو وږي و نۀ ګاڼۀ. تُوره ئې هم ورسره شامله کړه چې د افغانستان د زړۀ ورتيا نخښه ده. د دغه وخت نه پس د غنم وږے او توره د افغانستان رسمي نښان ؤ. بيا په هغې "ستورے" هم زيات شۀ.
د احمد شاه د وخت په فلوسو کښې په يوه پېسه په يو مخ لوار د غنم وږے دے. د وږي شاه حصه سوليدلې ده او نۀ ښکاري. بل مخ ئې سوليدلے دے او نۀ ښکاري. په څنو پېسو د احمد شاه نوم ښکاري. څني روپۍ په مخ دوه تورې، متقاطع يعنې يو بل قطع کوونکے دوه توري وي. دپاسه پرې ستورے هم ښکاري. په سيکو دا الفاظ به هم وو.
"حکم شد از قادر بيچون به احمد شاه سکه زن بر سيم وز ازپشت ماهي تابماه سن جلوس ميمنت مانوس ضرب".

د بابا په هرات، قندهار، مشهد، اټک، روهېلکنډ، بریلي، بهکر، پېښور، ټټه، ډېره اسماعیل خان، سرهند، ډیلي، کشمیر، لاهور، مرادآباد، ملتان، نجیب آباد آګره سیکې وهلې شوي دي.

په دې نۀ پوهېږو چې د احمد شاه په وخت د افغانستان ملي رنګ څۀ ؤ او په فوځي بېرغونو کښې په کومه بڼه ؤ. شاید سورشین سره سپین رنګ کښې سپېڅلې کلمه، قرآني آیتونه د څلورو خلفاؤ نومونه لیکل کېدل.[1]

بې د نسلي تفریق نه هغۀ چې کوم اعلی غړي مامور کړل څه نومونه دا دي.

درویش علي خان "هزاره" د هرات والي، عباس قلي خان "بیات" د نېشاپور والي، اشرف خان غلجي د قلات حاکم، دوست محمد خان کاکړ د شکارپور والي، شاه رخ خراساني افشار د مشهد حاکم، خواجه عبدالله خواجه زاد د کشمیر حاکم، امیر سنګهه (سکهه) د پټیالي حاکم، نصیر خان بلوچ د بلوچستان حاکم، زین خان مهمند د پنجاب ګورنر، نور محمد شاه نوازي سندي د سندهه ګورنر، موسٰی خان د ډېره اسماعیل خان حاکم، شجاع خان ابدالي د ملتان حاکم، میرزا هادي خان قزلباش د دارالانشاء مشر، میرزا علي رضا خان قزلباش مستوفي دیوان اعلی (وزیر مالیه)، یوسف علي خان (التفات خان) خزانه دار عمومي او داسې نور.

---

[1] احمد شاه بابا افغان، پښتو ترجمه، مخ ۳۹ - ۹۲

ACKU

# د مرهټه ؤ عزائم

د اورنګزېب په زمانه کښې د سيواجي په نوم يو لوټمار، شوک مار د مرهټه ؤ د حکومت بنياد کېښود. دا حکومت د سيواجي د زامنو په ځائې بامبانړو په لاس کښې لاړ. د مشر نوم پېشوا کېښودے شۀ. ژبه مرهټي وه، سرکاري فرمانونه به په فارسۍ کښې ليکلے کېدل. پېشوا هم د فارسۍ تکے دے. د احمد شاه په زمانه چې کوم پېشوا ؤ د هغۀ نوم بالاجي وو. ډېر جوشي او معتصبه ؤ. د ټول هندوستان د هندوانو سياسي او فوځي طاقت د بالاجي پېشوا سره ؤ. د هندو رياستونو مرکز پېشوا ؤ. په دې د مسلمانانو رياستونو خاصکر افغان رياستونه احمد شاه ابدالي سره ملګري شول. د اوده شيعه حکومت او د نظام سني حکومت خپل مرکز په خپله جوړولو. سېکهان هم د مرهټه ؤ په وجه راولاړ شول. او د مرهټه ؤ کانې ئې شروع کړې. مسلمانانو ته د هرې غارې خطره وه.
د مرهټه ؤ دا خيال ؤ چې مرهټه امپائر جوړ کړي. مسلمانان په زور هندوان کړے شي. مرهټه ؤ به دا خبرې کولې چې د دهلي په شاهي جومات کښې د سومناته بت کېښودے شي. ټول جوماتونه به ورانولے شي. خاص کر د متهرا جومات ئې ډېر بدي شو. هندوانو به د مسلمانانو سره نۀ روتۍ خوړه نۀ به ئې اوبۀ څښلې. دا د ذات

پات سخت اثر ؤ. د پېوشا يو زوئے چې هندو لوئے شوے ؤ. د هغهٔ مور يو مسلمانه ډمه وه. د هغهٔ ورونړو هغه په زور مسلمان کهٔ چې بيخي لرې شي نوم ئې ورله شمشير بهادر کېښودو. د هندوانو يو لوئے عظيم طاقت جوړ شهٔ او دوئي د هندوستان نقشه بدلول غوښتل. د دوئي مدعا دا وه چې اسلامي حکومت ختم کړے شي. مسلمانان شړوني شي يا هندوان شي، دا خبرې د ګنډا سنګهه راغستے شوي دي.[۱]

په دې حالت کښې حضرت شاه ولي الله او ميا عمر د څوکنو او ځنو د هندوستان خلقو احمد شاه بابا ته خواست اوکړو چې د دې راغلې بلا نه د هندوستان مسلمانان خلاص کړي.

رکن الدين بن منير هم دغه فرياد کړے ؤ.

هند لــه کفـره پــه فتـور شــهٔ
د ظلمـت د لاســه چُــور شــهٔ
پـــښتني پـــه بنــد بيــولے
مرهټـــو پـــه زور نــتلے
د دکـــن پوښـــتون آرزو کـــا
آرزو ډېـــره دې راتلـــو کـــا

---

[۱] احمد شاه ابدالي، ضميمه

احمد شاه و هند ته تللے
و دکن ته پرېوتلے
تللے دے د دين په غم دے
کښېوتلے په تورتم دے[1]

حافظ مرغزي ليکي چې د ځوکنو ميان صاحب دعا کړې وه او د احمد شاه د راتلو خوشخبري ئې اورولې وه.

ښۀ کلام ئې کړۀ بيان
په لاهور کښې زما جان
په دا لور د قندهار
بل به راشي شهريار
مصفا صوفي مذهبه
په مذاق بلند مشربه
نېک اختر تاثير هما
مبارک عروج نما
احمد شاه درآبدار
په جلوه شۀ نمودار
مسخر د بحروبر شۀ
په ثنا د هفت کشور شۀ
راروان په دغه لور شو
د وليانو دُعا زور شو

حافظ مرغزي د پاني پت لوئے بيان کړے دے. اول ئې دعا کړې ده.

---

[1] شهنامه ابدالي. ضميمه مخ ۲۱۱ - ۲۱۵

تـــهٔ دعـــا کـــړه پـــه ســـحر
چـــې دشـــمن شـــي زيـــروزور
د بـــاهو شـــي کـــار تمـــام
غلبـــه شـــي د اســـلام
ځـــهٔ ناګـــاه ګـــوره ســـحر
نمـــودار شـــهٔ دا اثـــر
درســـت مېـــدان شـــهٔ ګرد غبـــار
جـــوړ ســـحاب شـــو نمـــودار
کـــه حـــافظ ؤ رحمـــت خـــان
د اســـلام ؤ پهلـــوان
بهـــادر د ســـړه بنـــد ؤ
د اســـلام پـــه کـــار ئـــې ژونـــدؤ
فـــبض الله ګـــوره پيـــاده ؤ
پـــه دا جنـــګ ښـــهٔ آمـــاده ؤ
کـــه بـــنګش ؤ احمـــد خـــان
ښـــهٔ مـــضبوط ؤ پـــه دا شـــان
کـــهٔ دا زوئـــې ؤ د منـــصور
نبـــت ئـــې ؤ د جنـــګ ضـــرور
د نجيـــب ؤ فـــوج بـــلا
نـــهٔ بـــه بنـــد ؤ پـــر قـــلا

چې وزيــر ؤ د بادشــاه
پــه عــروج ؤ آصــف جــاه
شــاه پــسند چــې ؤ خونخــوار
د دښــمن د ســترګو خــار[۱]
اڅکزئــي کــه برخــوردار ؤ
د پيــاده ؤ ګــوره ســردار ؤ
شــاه تيمــور عــالي نــژاد
ارجمنــد پــه خــاطر شــاد
د باشــاه چــې دا لــښکر
ځــائې پــه ځــائې پــه خپــل هنــر
پــه اتيــا زره تيــار ؤ
د دښــمن د ســترګو خــار ؤ
و بــاهو تــه هــر کــارا
چــې مــا وکــړه ننــداره
چــې څــه فــوج ؤ د اســلام
مُبَــيّن شــۀ نــام پــه نــام
دۀ هــم فــوج کــۀ خپــل تيــار
مناســب چــې ؤ دا کــار
کــه جنکــر دے کــه ملهــار
د لــښکر ســپه ســالار

---

[۱] شاهنامه احمد شاه ابدالي. مخونه. ۱۲۲ - ۱۲۸

که شمشیر دے بهادر
چې په جنګ که تبادُر
چې بسباس دے عالیشان
بهادر دے د میدان
قرابین ئې توپ خانه
وه په لاس د مردانه
براهیم غندې ځوانان
تصدق لرې خپل ځان
په درې لکهه د دکن
تمام فوج د مرد و زن
په دا جنګ راغلے تیار
په نصیب د چا شي شکار
درست میدان شهٔ ګرد غبار
د توپونو په ګذار
د حافظ شهٔ فوج روان
و دې جنګ ته په میدان
په لرزه زمین زمان شهٔ
سیاه دود په دا جهان شهٔ
جنګ د کفر د اسلام
په دا ننګ شهٔ اوس تمام
سر فدا کړئ په میدان
په پیغمبر آخر زمانؐ

چې حاجي وهلې تورې
په ګوار شوې مېندې بورې
د بادشاه وه دا دعا
خدایه راکړې مدعا[۱]

د دشمن طالع شۀ تنګ
په بسباس چې ملک شۀ تنګ
براهیم سپه سالار
د نجات ئې نۀ وه لار
په مېدان کښې شۀ زخمي
نۀ شي دے په دا نرمي
و باهو په دا ارمان
اوښکې توئې شوې په ګرېوان
داغ ئې کېښو پر سینه
پکښې جل ئې شوه اینه
په سینه ئې کېښود داغ
چې بسباس ؤ ګل د باغ
په خزان شۀ ترې جُدا
تمام داغ ئې و په دا
چې دشمن ته شۀ غول غول
په قدم شۀ بېرته تول

[۱] شاهنامه احمد شاه ابدالي، مخونه ۱۷۰ - ۱۷۲

علامات ئې د اِدبار
په جهان شو نمودار
چې بساهو د فیل په شا
درست عالم کړه تماشا
زر ئې سر کۀ تړې جُدا
دغه شور شۀ هوېدا
کۀ جنګړ ؤ کۀ شمشیر
تمام شو تر خاورو زیر
د جمعې په ورځ قیامت ؤ
په میدان د پاني پت ؤ
په دکن کښې شۀ ماتم
په هر ځائے شۀ باندې غم
دولس کاله عالمګیر
وۀ ښنۀ کړے د ځان ویر
نۀ ئې دکن وۀ مسخر
نۀ ئې نیولے بهاګ نګر
کۀ خرم ؤ شاه جهان
د دکن په غم بریان
کۀ اکبر کۀ همایون
دواړه وو په جګر خون
دا په فضل د سبحان
تمامي شو اسیران

فضل شوے په احمد ؤ
چې غلام د محمد ؤ
شۀ بادشاه که مسخر
تمام هند زیرو زبر
که تنظیم شۀ په تدبیر
تمام ملک به شي کشمیر
ملاحظه لره دا فال
د دنیا دے دا مال[1]

احمد شاه بابا څۀ عظیم بادشاه ؤ. څۀ کارنامې ئې سر ته اورسولې. ځومره فتوحات ئې اوکړل. د افغانستان ملک د پښتنو افغانانو مستحکم ملک ئې ساز کړۀ. ښکلے پخه اډانه ئې ورله ورکړه. ښکلې باچائي ئې اوکړه. د افغان او پښتون مقام ئې بلندیو ته اورسولو.

د اسلامي دنیا عظیم حکیم د زمانې علامه حضرت شاه دهلوي احمد شاه بابا ته خط لیکلے ؤ.

په دې زمانه کښې ستا غوندې طاقتور، مقتدر، باشوکت بادشاه نشته. چې کفارو (مرهټو) ته ماتې ورکړے شي. په تاسو د هر مسلمان د انتخاب نظر دے. په تاسو فرض دي چې د هندوستان په لور ګوابښ اوکړئ. د مرهټو قبضه ختمه کړئ. کمزوري مسلمانان د دوئي د پنجې نه آزاد کړئ. داسې وخت راتلونکے دے چې

[1] شاهنامه احمد شاه ابدالي، مخ ١٧٩ - ١٨۴

ACKU

مسلمانانو نه به اسلام هېر شي. په اسلام غېر اسلام کښې به فرق نۀ شي کولے. لوئے ازمېښت دے، تاسو ته د الله فضل حاصل دے.[۱]
دلته دا خبره واضحه کول ضروري دي چې ځنې تاريخدانانو د احمد شاه ابدالي حملې او جنګونه د ملکونو جاګيرونو د نيولو او لوټ مار په نېت ګڼلي دي او د هغۀ د شخصيت داغدار کولو کوشش ئې کړے دے چې رد کولو دپاره ئې د شاه ولي الله دهلوي مذکوره خط کافي دے چې هغه صرف د اسلام د سرلوړۍ او مسلمانان د مرهټو ظلم و ستم نه د خلاصولو دپاره حملې کړي دي. او هغه په دې مقصد کښې کامياب شوے هم دے. د علامه شاه دهلوي د دې خط نه علاوه د ميا عمر صېب د څوکنو د مجلس او د هغۀ د مشورو او دعاګانو نه هم دا اندازه لګي چې احمد شاه بابا دا هر څۀ د اسلام د سرلوړۍ او مسلمانان د غېر مسلمو د ظلم و جبر د پنجې نه خلاصولو دپاره کړي دي.
د شاه ولي الله اندازه صحيح وه. د دې باچا د حملو په وجه مرهټه داسې نيست نابود شول چې بيا تر شل دېرش کاله د مسلمانانو خلاف رااوچت نۀ شول. او وروستو چې رااوچت شول نو د انګرېزانو هيبت پرې کښېناستو.
د احمد شاه بابا د څوکنو د ميا عمر سره ارادتي تعلق ؤ. د هندوستان په مزکه چې احمد شاه بابا ته د اسلام دښمنه قوتونو خلاف کاميابي تر لاسه شوه په هغې کښې د څوکنو د ميان صېب ډېره برخه وه. د دوئي تائيد او مرسته ئې لرله مولانا دادين وائي:

---

[۱] د شاه ولي الله مکتوبات دوېم. مخ ۱۲

احمد شاه چې د میاں صېب د ښوکنو د مریدی امېل ترغاړه کړو او د دهٔ نوم ئې د تندي طغره او تمغه شوه نو د هغهٔ حکومت ډېر مستحکم شو.[1]

نور محمد قرېشي چې د میاں صېب مرید ؤ هغه هم د احمد شاه دراني د کامیابی راز داسې بیانوي.

په دې دور کښې د خلیفه ثاني (حضرت عمر رضی الله عنه) همنام یو افغان زلمے دے، احمد شاه د هغهٔ مرید دے هغه د ټولو افغانانو رهنما او د احمد شاه باچا غېرتي ملګرے دے. د هند په فتوحاتو کښې احمد شاه ته د دهٔ طاقت او تائید حاصل دے.[2]

د دغه وخت لیکوال دا بیان کوي چې احمدشاه بابا په تخت کښېناستل د میاں صېب د ښوکنو د دعاګانو اثر ؤ. حافظ مرغزي (ګل محمد) وایي.

خدایا خاورې کړې نادر
تهٔ په هر شیز ئې قادر
په تجدید د شهریار
منور کړې دا دیار
چې رونق شي علماء
معزز شي خوشنما

---

[1] مناقب د مولوي دادین ورق ۷۳

[2] نورالبیان . مخ ۳۹

د سکندر په دود تاج وروي
بهادر فتح کشور وي
احمد شاه در آبدار
په جلوه شۀ نمودار
چې لباس ئې سلطاني وو
مرصع په خاقاني وو[۱]

د څوکنو میاں صاحب په لاهور کښې د نادر شاه افشار د ظلمونو خلاف د علماؤ او بزرګانو په خواست ښېرې کړې وې هغوئي ته د نادر شاه د قتل او د احمد شاه ابدالي د عروج او بادشاه کېدو کشف شوے ؤ.

په نورالبیان کښې نور محمد قریشي وائي چې احمد شاه افغانانو دپاره رحمت شۀ، عالم سني، فقیر دوسته او په دین مئ انسان ؤ، وائي:

بل رحمت په کل افغان شۀ
چې ئې شاه در دران شۀ
هم عالم ؤ هم سني ؤ
فقیر دوست ؤ ښۀ دیني ؤ
چې دا د خواه د درست جهان شۀ
احمد شاه غازي سلطان شۀ[۲]

---

[۱] شاهنامه احمد شاه ابدالي. مخ ۲۵ - ۲۹
[۲] نورالبیان، مخ

یو بل شاعر ئې ذکرکوي چې ډېر دین دوسته زبردست طاقتور باچا ؤ

چــې بادشـــاه ؤ دیـــن پنـــاه ؤ احمـــد شـــاه ؤ
ننګیــالے د دیـن پـه کـار کښې جمـشید جـاه ؤ[1]

د احمد شاه درباري منشي محمود الحسېني بیان کوي چې د قندهار په تاریخي قومي جرګه کښې د احمد شاه نوم د باچایۍ دپاره وړاندې شو نو احمد شاه انکار اوکړ دا ئې اووئیل

"زۀ نۀ غواړم چې په دنیاوي کارونو کښې اخته شم زۀ د دې نه لرې اوسېدل غواړم"

ولي صابر شاه درویش (۱۷۴۷ء) چې ورته د بادشاهۍ قبلولو هدایت اوکړو نو رضامندي ئې اوښودله.[2]

احمد شاه ابدالي د افغانستان وړومبے بادشاه ؤ چې خپل قام په یوه خولۀ، په جرګه په جمهوري طریقه خوښ کړے ؤ. د ښکلي شخصیت، د اعلیٰ تدبر او د فطري ذهانت خاوند ؤ. احمد شاه ابدالي د پښتنو ګډې وډې او خورې ورې قبیلې راغونډې کړې او د یو مکمل نظام حکومت لاندې ئې راوستې. په کال ۱۷۷۳ء کښې چې احمد شاه ابدالي ساه ورکړه نو باچائي ئې د آمو. له دریابه تر عرب سینده رسېدلے وه هغه خپلواکه بادشاه نۀ ؤ بلکې د قامي جرګې مشر ؤ.[3]

---

[1] حیات و آثار میا عمر چمکني . مخ ۳۹۲
[2] همدغه . مخ ۳۹۲
[3] دیباچه دیوان احمد شاه ابدالي

يو شاعر ركن الدين ابن منير د احمد شاه ابدالي د وخت حالات داسې بيان کړي دي :-

ترحده جنګ ريزې دې
احمد شاه غازي مزرې دې
ښه ناره ئې حيدري ده
هم رحمي ده هم قهري ده
په دکن ئې لګولې شور ماشور دې
احمد شاه غازي نيولې د دين زور دې
احمد شاه بادشاه روان دې
په مهم د هندوستان دې
احمد شاه و هند ته تللې
و دکن ته پرېوتلې
هند له کفره پُرفتور شۀ
د ظلمت له لاسه چور شۀ
پښتني چې بند بيولې
مرتهو په زور نتلې
ستا ورتلو ته انتظار کا
زاري ډېره په بار بار کا
د دکن پښتون آرزو کا
آرزو ډېر ستا د ورتلو کا
که سر هند دې که لاهور دې
ستا په فتح سر سر تور دې

لــه ســکانو چــې عــذاب دے
پــه آرزو دې درســت پنجــاب دے
پنجــاب ډک پــه شــور غوغــا دے
لاس ئــې تــا تــه پــه دعــا دے
دا بادشـــاه چـــې ذوالادب دے
ناســت دې شــرع پــه منــصب دے
هـــر ســاعت درتــه دعــا کــړم
ســتا د فــتح تمنــا کــړم
تــهٔ مــې خیــال پــه زړهٔ درون ئــې
تمــام پــوزه د پــښتون ئــې
تــهٔ ئــې ســر د بادشــاهانو
ننګیـــالے د افغانـــانو
ننګیـــالے د دیـــن ســلطان ئــې
نـــن پــه دیــن کــښې پهلــوان ئــې
ســر پــه پــائې د پــاک رســول ئــې
ســر پــه خیــال د دهٔ مــشغول ئــې
ســتا پــه ذات جلــوه د دهٔ شــوه
نامــه ســتا نامــه د دهٔ شــوه
چــې پــه نــوم ئــې مــلازم ئــې
خــود پــه ذات د دهٔ قــائم ئــې
چــې ظــاهر خــود محمــد شــهٔ
نــوم د ســتا مــشهور احمــد شــهٔ

چې احمد وي خو به شاه وي
په جهان کښې په پېشوا وي
د نومونو نوم ئې سر دے
په نومونو کښې بهتر دے
چې مې خان خپل ته دعا ده
دعا ستا دعا زما ده
چې احمد بادشاه د دين وي
خود تازه به رکن الدين وي[1]

په بره ذکر شوو شعرونو کښې منيرالدين صېب ښکلې نقشه راښکلې ده. او د هغه وخت حالات ئې په پوره جذبه ليکلي دي.

---

[1] ضميمه ديوان احمد شاه ابدالي . مخونه ۲۱۱ تر ۲۱۲ رکن الدين ابن منير لوئے عالم شاعر دے. د علم تجويد او قرآت په حقله د فقهي مسئلو په حقله په زرګونو د پښتو اشعار لري. په سيد عبدالقادر ګيلاني بې کچه مئين دے. ډېر مناجات په دې حقله ئې ليکلي دي او مفسر هم دے.

## دريم باب

# د احمد شاه بابا تصوفي رجحانات

ړومبے ددې نه چې د احمد شاه بابا په تصوفي رجحاناتو بحث اوکړم پکار ده چې د تصوف تعريف اوکړے شي۔

د تصوف د کلمې په حقله علامه لُطفي جمعه په تاريخ فلاسفه اسلام کښې ليکي چې د صوفي کلمه د ثيو صوفيانه مشتق ده ۔دا يوناني کلمه ده او معنیٰ ئې حکمت الهي ده ۔ابو ريحان البيروني په کتاب الهند کښې ليکي چې د تصوف لفظ به د سين سره ليکلے شو۔ يعني تسوف او ماد ئې سوف ده۔ چې معنی ئې په يوناني ژبه کښې د حکمت ده ۔او حنفو به وئي ته سوفي با حکيم وې او بيا دا کلمه د سوفي نه صوفي شوه ۔شيخ ابوالحسن هجويري ليکي چې خلقو د تصوف په باب کښې اقوال بيان کړي دي و کتابونه ئې ليکلي دي يو تولګے وائي چې اهل تصوف ته صوفي ځکه وئيلے شي چې دوئي به د سوف يعني د وړے جامه اغوستله او بله ډله دا وائي چې هغه کس ته صوفي ځکه وئيلے شي چې دوئي د اصحاب صفه سره ډيره مينه کوي ۔

د علامه ابن جوزي خيال دے چې لفظ صوفي د صوفيه نه وتے دے صوفيه يوه قبيله وه چې د جاهليت په ورځو کښې به ئې د خانه کعبې خدمت کولو .او د حج په زمانه کښې به ئې د حاجيانو لار ښودنه کوله .د ابن خلدون او مغربي ليکوالو نولډيکي اونکلسن هم دغه خيال دے .چې تصوف د صوف نه وتے دے .ددې نه دا نتيجه را اوځي چې زيات عالمان د تصوف ماخذ سوف ګڼي .خو د تصوف يو جامع تعريف آسان نۀ دے .يو خو په دې چې تصوف يو ذوقي، تجرباتي او وجداني شے دے .او بله دا چې په هر دور کښې د تصوف ګڼ تعريفونه شوي دي اوهر يو د بل نه بېخي مختلف دے.

تر اوسه د تصوف دوه غټې نظريې د يو بلې په مقابل کښې راوتې دي.يوه وحدة الوجود ده او بله وحدة الشهود.

د وحدة الوجود فلسفه د نو فلاطونيت د فلسفې نه راوتې ده .د اسلام نه اګاهو سکندريه او مدائن د نو فلاطونيت د فلسفې مرکزونه وو.او هرکله چې د عباسيانو په دوره کښې يوناني علوم عربي او فارسي ته منتقل شول او دغه فلسفې د وحدة الوجود رنګ واخستو .نو بيا ذوالنون مصري بايزيد بسطامي، جنيد بغدادي ، حسين ابن منصور حلاج ، ابوبکر شبلي ، شيخ علي هجويري ، مولانا رومي ، خواجه معين الدين چشتي ، شيخ محي الدين ابن عربي او مولانا جامي دغه نظرئې ته ښۀ ترقي ورکړه .او په تېره تېره شيخ محي الدين ابن عربي دغه فلسفه يو خاص مقام ته اورسوله. خو په يؤلسمه صدۍ هجري کښې شيخ احمد سرهندي مجدد الف

ثاني ددغه فلسفې مخالفت اوکړو . اوږدا ئې نامکمله فلسفه اوګڼله او ددې په ځائے ئې د وحدة الشهود ۔لسفه را وړاندې کړه . ددغه مخالفت باوجود هم د وحدة الوجود فلسفه په خپل ځائے ولاړه ده . او جرړې ئې دومره مضبوطې دي چې په اسانه ئې ختمول ګران دي.
وحدة الوجود څۀ شے دے . ددې يو مختصر تعارف داسې دے . چې وجود يا هستي يوه ده . باقي ټول عدم دي . د وجود واحد نه علاوه د کائنات او مافيها د وجود هيڅ اعتبار نشته . دې ته په نورو ټکو کښې همه اوست هم وئيلے شي په دې لحاظ کائنات او مافيها يعني څۀ چې په ظاهري سترګو په نظر راځي ټول ددغه وجود واحد جلوه ده او ددې نه بيل څۀ شے نۀ دے[1] . ددې برعکس د شهوديانو دا نظر دے چې ,, صفات زايد برذات ،، دي . دا د ذات نۀ عين دي او نۀ غير[2] . ددې نظريې مفهوم دا دے چې دا کائنات د حقيقي وجود پرتو يعني عکس دے کائنات او دغه حقيقي وجود بيل بيل ځيزونه دي[3] .
راځئ چې اوس د احمد شاه بابا تصوفي رجحاناتو باندې بحث اوکړو .

---

[1] دردانې . ص ۱۰ . ۱۱
[2] د ميرزا خان انصاري ديوان . ص بط
[3] مجله پښتو جنوري ـ مارچ ۲۰۰۹ء . ص ۲

## تصوفي رجحانات:

احمد شاه بابا د ډېرو خوبيو سختن ؤ. الله تعالی ورته ډېر اوصاف ورکړي وو. پاک او دروند انسان ؤ. احمد بابا د بټالې د يو شاعر نورالعين واقف ډېر مداح ؤ. يو ځلې ئې خپل د خلافت ځائے قندهار ته رااوغوښتو. واقف د بابا د ملاقات په وخت يو ډېر ښکلے شعر اووې:

ندیده هیچ کس ظلِ پَیَمبر ص
بحمدالله که ظلِ الله دیدم [1]

د شعر معنی دا ده چې هيچا هم د خوږ پېغمبر ص سيورے ليدلے نۀ دے. د الله ثومره ستائنه اوکړم چې ما د الله سيورے دلته اوليدو. يعنې مراد دا چې احمد شاه بابا ډېر خدائي او پاک انسان دے. دلته د پېغمبر ص متعلق د مشهورې خبرې ذکر دے. چې د هغۀ سيورے چا نۀ ؤ ليدلے. ولې ما خو دلته د الله سيورے اوليدو. بادشاهانو ته خلق ظلِ الٰهي وائي. يعنې په دوئي د الله پاک سيورے ؤ[2]. ولې دلته شاعر د سيوري څۀ عجيبه استعمال اوکړو او معنٰی خونده وره شوه. د بادشاه روحاني شکل راڅرګند شو.

احمد شاه بابا د سلوک او د تصوف د مېدان يو تجربه کار شهسوار ؤ. د دۀ ديوان دا خبره جوتوي چې بابا د تصوف د احوالو او مقاماتو

---

[1] حيات و آثار حضرت ميا محمد عمر چمکني
[2] احمد شاه. اردو ترجمه مخ ۳۲۳

ښخه ډېر اشنا ؤ. د اسرار و رموزو د طريقت نه خبردار ؤ. علامه اقبال د دوئي په شان کښې فرمائي

مــــرد ابــــدالي وجــــودش آيــــتے
داد افغـــــان را اســـــاسِ ملـــــتے
آن شـــــهيدان محبـــــت را امــــام
آبــــروئے هنــــدو چــين و روم و شــــام
نــــامش از خورشــيد و مــه تابنــده تــر
خــــاکِ قبــــرش ازمــــن و توزنــده تــر
عـــشق رازے بـــود بـــر صـــحرا نهـــاد
تـــو نـــه دانـــي جـــان چـــه مشتاقانه داد
از نگــــاهِ خواجـــهٔ بــــدرو حُنـــين
فقـــر ســـلطان وارثِ جـــذب حسين
رفـــت سـلطان زيـــن ســرائے هفــت روز
نوبـــتِ او در دکـــن بـــاقي هنـــوز [1]

د اشعارو مفهوم دا دے چې د احمد شاه ابدالي وجود يوه لويه نخښه وه، چې افغانانو ته ئې د ملت بنياد ورعطا کړو. دے د مينې د شهيدانو امام ؤ. د هند او چين او روم او شام عزت او آبرو وه. د هغهٔ نوم د نمر او سپوږمۍ نه هم زيات روښانه ؤ، او د هغهٔ د قبر خاورې زما او ستا نه هم زياتې ژوندۍ دي. عشق يو راز ؤ، دهٔ صحرا ته يوړو. تا ته څهٔ پته ده چې څومره په شوق او خوند ئې ځان اوسپارلو. د بدر و حنين د ... ښتن (حضرت محمد صلی الله عليه

---

[1] جاويد نامه. مخ ۱۷۲

وسلم) په نظر ورته په بادشاهۍ کښې فقيري او د حضرت حسين رضی الله تعالی عنه د جذب و محبت وراثت تر لاسه شو. هغه بادشاه د دې اووۀ ورځنې سرائے نه يعنې د لنډ عمرې دنيا نه په داسې حال لاړ چې تل به يادوي. اوګوره کنه په دکن کښې تر اوسه د هغۀ د جلال نوبت غږيږي.

علامه اقبال د هغوئ د مزار په حقله دا ښکلے شعر وئيلے دے.

ملــــتے را داد ذوقِ جــــستجو
قدسيان تسبيح خْوان برخاک او[1]

يعنې دوئي ملت ته د جستجو او تلاش ذوق او مينه وراوبخښله. فرښتې ئې په خاوره په تسبيح کښې مشغولې دي.

د علامه اقبال نور شعرونه هم د دوئي په حقله شته چې په مزار ئې ولاړ دے وائي

از دل و دستِ گُهر ريزے که داشت
سلطنت ها برد و بے پروا گذاشت
نکته سنج و عارف و شمشيرزن
رُوح پاکش با من آمد در سخن

د اشعارو مفهوم دا دے چې دې بې بها انسان (احمد شاه) د خپل زړۀ او لاسونو په ذريعه ملغلرې اوشيندلې. سلطنتونه ئې فتح کړل او هم دغسې ئې پرېښودل. دۀ ښکلې نکتې بيانولې. عارف ؤ. توريالے هم ؤ. د دۀ پاک روح زما په کلام کښې راننوت

---

[1] حيات و آثار حضرت ميا محمد عمر چمکني. مخ۳۹۴

دا شعرونه اروابناد تقويم الحق څۀ داسې منظوم ترجمه کړي دي.

په آزاد لاس د سخي په فراغ زړۀ
ډېر ملکونه ئې اخستۀ او پرېښودۀ
هم تورزن دے هم عارف دے هم دانا
وکړۀ ما وته پاک روح ئې دا وېنا

د احمد شاه بابا د اولياؤ، صوفيانو او روحاني برزګانو سره بې کچه مينه وه. د دوئي د بادشاهۍ او د ملتِ افغان د مشرۍ په ټاکلو کښې د يو صوفي او درويش نوم ډېر جوت دے د قندهار په تاريخي، قومي جرګه کښې هم چې کله ډېرو غړو خپل نوم د مشرۍ دپاره وړاندې کړو. احمد شاه چې په دغه وخت ښکلے زلمے ؤ. خاموش ناست ؤ، د دوئي نوم د مشرۍ او بادشاهۍ دپاره صابر شاه درويش (متوفي ۱۱۲۰هـ مطابق ۱۷۴۷ء) وړاندې کړو. احمد شاه بابا د دې درويش سره ډېر عقيدت لرلو. احمد شاه اووې چې زۀ نۀ غواړم چې په دنياوي کارونو کښې مشغول شم، زۀ غواړم چې د دنيا سره هيڅ علاقه او تړون او نۀ لرم. ولې درويش صابر شاه اصرار اوکړو او دوئي مشري او بادشاهي قبوله کړله. هم دې درويش د نادر شاه افشار د قتل نه صرف درې ورځې مخکښې د احمد خان د بادشاهۍ پېشن ګوئي هم کړې وه.[۱]

---

۱ (ا) احمد شاه ابدالي. مخ ۴۸. ۴۹
(ب) احمد شاه بابا افغان.
(ج) حيات و آثار محمد عمر چمکني. مخ ۳۹۷

په کال ۱۱۲۰هـ مطابق ۱۷۴۷ء کښې هرګاه چې احمد شاه بابا د لاهور په لور د لښکرو سره روانېدو نو دوئي د خپل تګ نه مخکښې د ننګرهار، د پېښور، د پنجاب، سنده، کشمير او د هندوستان بزرګانو ته خطونه اوليکل او د دې ټولو نه ئې د دعا خواست اوکړو. په دې بزرګانو کښې د يو څو نومونه دا دي.

شيخ محمد عمر د پېښور، شيخ محمد سعيد د لاهور، ميا ثناء الله د دهلي، سيد محمود بن سيد علي، ميا عثمان، سيد نجيب د کنړ، شيخ شکر الله د ټټه، شاه بهلول د جالندهر، ميا رحمت الله د لاهور، خواجه محمد اعظم دومري د کشمير او خواجه شيخ کمال الدين د کشمير.[1]

احمد شاه ابدالي يو رسيدلے صوفي وو، ولې ګوشه نشين نۀ ؤ. يو لاس کښې ئې قرآن مجيد ؤ او بل لاس کښې ئې تُوره.، معلومېږي چې دا بادشاه بنۀ عالم او اوچت فلسفي هم ؤ. دوئي د وحدت الشهود او د وحدت الوجود په ګرانو مسئلو وينا کړې ده.[2]

مثلاً

په آشنا به خبر نۀ شم
څو خبر نۀ شم له ذاته
که له خپلې خودۍ تېر شم
خود به زۀ شمه مرآته

---

[1] حيات و آثار ميا محمد عمر چمکني. مخ ۳۹۸
[2] ديوان احمد شاه ابدالي. مخ ع او ف

معرفت به مې روزي شي
که فاني شوم و فنا ته
دا د يار مينه خوږه ده
په پريکړي سر ده زياته
عاشقان په عشق ژوندي دي
غافلان ګڼه امواته
عاشقان چې سر فاني کا
فاني خود وکه اثباته
سر فاني کړه احمد شاه
يار به وينې مخ راته[1]

دا اشعار د تصوف د فنا او بقا او د نفي اثبات باريکې راسپړي نور مثالونه.

کرشمه د شان په شان که
د نګار نقش ئې جهان که
د کثرت بازار ئې جوړ کړو
عجب نور پکښې جولان که
د عدم ها چې پخه شوه
د موجود نور ئې بيان که[2]

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي، مخ ۱۰۷
[2] همدغه. مخ ۱۲۷

دلته د کثرت د بازار نه د شهود د ننداري ښکلې ذکر دے چې نور پکښې جلوه ګر دے.
بل ځائے وائي:

علاج نهٔ لري عاشقه
پرېکړه سر په تېغ د لا
که تهٔ سر پرېکړے راشې
دا به ؤينې اعلٰی
که تهٔ خلاص شوې له رقيبه
کړې به "سېر د الی الله"
الاالله کښې هم سېرونه
مېوه واخله د بقا
د بقا مېوه هم پرېږده
کړه د "هُو" پتېکے تر ملا
که د "هُو" پتېکے تر ملا کړې
جهان ستا تر اَبدا
احمد خدائے په مل اختيار کړهٔ
مل ئې دے مشکل کشا[1]

دلته د "لا" د الی الله (د الله په طرف تګ) د الاالله (د الله نه سِوا بل معبود نشته) او د "هو" يعني د الله هو او د هو الله مستانه نعره د توحيد په نظر راځي چې انسان ته عُلا او چيګ والے وربخښي.

[1] ديوان احمد شاه ابدالي، مخ ٦

مـــــا کاتــــــهٔ د زړهٔ مـــــرآت
د عـــــشق ګــــوړم ســــموات
مـا لــــه ځانــــه معلــوم دا کــړهٔ
د مــــرآت مــــخ کړمــــه و مــــات
د مـــخ شـــــا تــــه دوه مخونــــه
دهٔ چــــي اولیــــد خپــل مــــرآت
نــار خــو زهٔ ووم پــــه ځــان ســوم
د نـــار چـــار پــــه نـــور ثبـــات[1]

د زړهٔ د آئیني نه د عشق د اوچتو جلؤ بیان دے چي په آئینه کښي دوه مخه ښکاره شول یو نور او بل نار د مادیت او روحانیت ښکلي موازنه ښکاري انسان چي اوچت والے حاصل کړي د دنیا له بدیو ځان اوژغوري او په دي فنا کښي بقا تر لاسه کړي، د ناریت نه نورانیت ته اوځي دا نور اشعار چي وحدة الشهود ځرګندوي

بـــــي حجابــــه ده و یـــــار تــــــه
د اغیـــــار پـــــه مـــــخ ردا کـــــا
لـــــه وحدتـــــه رابیـــــرون شـــوه
لـــــون لـــــون تماشــــا کــــا
هـــــم خـــــارج او هـــــم درونــــــه
یــــو محـــیط دریـــاب ســـما کـــا
نحــــــن اقـــــــرب الیــــــه
تـــــهٔ نظیـــر دغـــــه کـــه کـــلا کـــا

---

[1] احمد شاه ابدالي . مخ ۲۳

چې لـه دوه کونو وراده
عجب جوړه کبریاکَ
څرګند نمر د معرفت شۀ
څکه درست عالم ثناکَ
چې دا پاک نور منور شۀ
منور وئیل لولاکَ[۱]

دوستانو ته "هغه" بې پردې دے، اغیارو ته پټ دے "هغه" له وحدته رابهر شۀ، ګوره رنګ رنګ ئې تماشه ده. بهر دننه هر ځائے دے،د شاه رګ نه هم نزدې دے. د هغۀ کبریائي د دووه کونو نه هم اخوا ارته او بېرته ده. د معرفت یو نمر راڅرګند شۀ لا دنیا نۀ وه د محمد ص نور منور ؤ. د انوار خالق اووې که تۀ نۀ وے، دنیا به نۀ وه دا اشعار ئې هم د تصوف باریکۍ بیانوي.

که جلوه راباندې وشي
په جلوه به زۀ رښا یم
زما هله هستي نۀ وه
اوس په شوق د مینې پایم
چې "عدم" وم "وجود" راغلم
اوس عدم وجود نما یم
له "عدم" "وجود" کثرت شۀ
له "کثرته" یک تنها یم

---

۱ دیوان احمد شاه ابدالي. مخ ۵۲، ۵۷

یقین هسې پوهه راکړه
چې د لوئې ګړنګ عنقا یم
که خان وګورې احمده
له همه غېرو ورا یم[1]

دلته د "عدم" او "وجود" د هستي او نېستي، د وحدت او کثرت ښکلې بیان دے. خلاصه ئې دا بیان کړه چې یقین دا پوهه راکړه چې زۀ یو عنقا (معدوم) شے یم. د همه غېرو او پردو نه ډېر اوچت یم. دلته د فنا فی اللهیت رنګ دے. چې معدوم شوم نو موجود شوم چې فنا شوم نو بقا مې اوموندله

نور اشعارچې د تصوف او سلوک ښکلي بیان سره سره پکښې ښۀ تغزل او رواني هم ده.

زۀ هر ګوره نن د لوړو په حصار ځم
مثل نۀ لرم هیچرې چې په شمار ځم
که مې خپله بلندي موجوده نۀ وے
لکه باد هسې د غرونو په کنار ځم
له وحدته چې په امر رابیرون شوم
د کثرت په ملکو هره خوا په ښکار ځم[2]

دلته بابا د لوړو او اوچتو منازلو تابیا کوي. وائي چې لوړ یم او په طریقه چلن کوم نو مثال نۀ لرم، که خپله بلندي نۀ وي بیا خو د

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي، مخ ۷۲
[2] همدغه ، مخ ۷۱

غرونو په لاندې اړخ ګرځېدل راځي. تنزل ښکاره شي. له وحدته رابېرون شوم نو د کثرت په ملکونو زه ښکار کوم او خوند اخلم د احمد شاه بابا په الف نامه کښې د تصوف کافي رنګ ځلېږي

الف اسم د الله دے
د همه زړونو آګاه دے
الف اسم که ئې ګورې
ذات مې خود په خپل ګواه دے
ب يقين کړم زه باور کړم
عشق زه لکه د نمر کړم
ما لا عشق ليدلے نه دے
ولې عشق په ځان خبر کړم
ت توبه کړم له خودۍ
چې آخر دي پرديسۍ
ت توحيد ګوره ته زده کړه
بې توحيده وي خوارۍ
که په خپل اصل ته پوهه شې
هم دغه دي ستا ښادۍ
ټ ټال ته د زلفو تار کړه
له اغيارو ځان کنار کړه
صورت نېست کړه په هستۍ کښې
چې هستي به دې تار تار کړه

ACKU

ث ثبوت دغه ښکاره دے
د حق یاد مې راسره دے
وَ سکه یاد مې جلوه کړي
له پستۍ زړهٔ په ناره دے

ج جوړ جهوئي دے د وحدت
نهٔ ښکاره دے نهٔ وچېږي
لکه پټ هُسې ښکاره دے
ګویا پټ ښکاره بهیږي

چ چپ مشه تهٔ له دینه
چپیا عمر ضائع کړینه
روح او زړهٔ له بنده خلاص کړه
د دین چار به کړېٔ متینه

څ څهٔ وفا تري وړئ
بې وفا ده دا نړۍ
بېلتون واړه تار په تار کړل
اوس د خاورو شو کوړۍ

ح حق شته دے او حاضر دے
تهٔ منظور ئې دے ناظر دے
چې ئې ستا ختې را زلې
ستا وتلې له خاطر

خ خوبي تر تله بویه
ګوره اے د آدم زویه

تـــه همــا د لـــوئے کړنـــګ ئـــې
نـــهٔ ئـــې تـــهٔ د ناســـوت ســـويه[1]

د. د تـــــا زړهٔ عـــــرش الله دے
ئـــې خبـــر لـــه زړهٔ لـــه کـــوره؟
نحـــــن اقـــــرب اليـــــه
وَ خپـــل اصـــل و تـــبه ګـــوره

ډ . ډېـــر ډېـــر پـــه مخـــه ژاړه
اے مطلوبـــه طالـــب غـــواړه
کـــه مطلـــب دې حاصـــل نـــهٔ کـــه
پـــه نيمګـــړي عمـــل مـــهٔ ويـــاړه

ذ . ذاکـــر ذکـــر خفـــي کـــړه
پـــه دا ذکـــر ســـر فـــاني کـــړه
د دوبـــين لـــورے ســـياه دے
د وحـــدت جـــان فـــشاني کـــړه

ژ . دا ژبـــه دې تـــل ژغـــوره
کـــور بـــه خـــلاص وينـــې لـــه شـــوره
کـــه لـــه ځانـــه خبـــر نـــهٔ ئـــې
لـــر و ځبـــان وتـــه وګـــوره
کـــه تختـــه د زړهٔ صـــيقل کـــړې
ځـــان بـــه نمـــر وينـــې اے وروره

[1] ديوان احمد شاه ابدالي. مخ ۱۹۸ ۲۱۷

ر ، رؤيت دے ښه روښانه
لکه نمر وي له آسمانه
دا رؤيت هغه ليدے شي
چې سر بئيل که له خپل ځانه
ړ ، ړب واخله له خپل دله
زړۀ به خلاص کړې تل د تله
د نفس نغوته وي رنځونه
نغوته پرېږده اے غافله
ز ، زر زلفې کړه پرېشانه
خدائے دې راوله جانانه
ما به څۀ وئيل له حاله
زړۀ فاني حال نمايانه
ژ ، ژړا نارې په زوره
مئين وباسي له کوره
معرفت سحر دے، نمر دے
د غفلت صله شب کوره
س ، سکه سِر دے دا وايم
د شهی په جمال پايم
ځان زمانه دے ورک شوے
يو ذره د نمر پيدا يم [1]

[1] ديوان احمد شاه ابدالي . مخونه ١٩٨-٢١٧

ACKU

ش . شراب د وصل نوش کړه
ته زما خبره گوش کړه
د یقین په لاره درومه
فاني واړه فراموش کړه
ښ . ښ مار زلفي گذار کړه
په چندڼ غاړه سنگار کړه
اوس د روح سره آشنا شه
گوندي ستا امانت بار کړه
ص . صورت کړه بې غروره
زړۀ به بیا مومې رنځوره
طریقت باریکه لار ده
حذر بویه له زنبوره
جبروت لره چې راشي
کل جهان بویه پُر نوره
ض . ضیاء دے او رڼا دے
د جمال هسې جلا دے
د وحدت آفتاب ختلے
ولې خپل صورت پناه دے
ط . طائر غوندې طیران کړم
په جهان د عشق جولان کړم
له وحدته رابیرون شوم
په ناسوت به ښکاره خان کړم

ACKU

ظ . ظاهره ده ظهور کړه
دا جهان واړه پُرنور کړه
که خودي واخلې له میانه
بېخودي به خود حضور کړه
که زړګي دې خالي پروت وي
د جمال په نور ئې پُور کړه
ع ، عین دے بنه عیانه
چې علیم دے نګهبانه
نَحنُ اقربُ الیه
نن مې بیا موند له قرآنه
د حَبلُ الوَرید رشته ده
له مکانه لامکانه
غ . غور کړه غیر پرېږده
وحق چار وته ورمېږده
د دنیا چارې فاني دي
تل په لاره حقه ښېپېږده
ف . فارغ شه فارغي کړه
دا وجود دې خپل ستي کړه
که دې خان له ملکه وئېست
د وحدت په ملک ښادي کړه

ACKU

په عشق هسې لېونې شي
بېګانه ځې له خپل کوره[1]

ک . کافر مه شه له دينه
د کافر سزا سنګينه
که اختيار ته کميني کړې
کميني له تا بنائينه
خودبيني چې شېطان اوکړه
مخ ئې تور شه له جبينه

ل ، لا دې ځان نفي کړه
اثبات هله په راستي کړه
هستي ګوره چې نېستي ده
ته هم دا نيستي هستي کړه

م ، مهر دې په يار کړه
ځان عاشق د سپين رخسار کړه
که خپل زړۀ د "زړۀ" نه غواړې
روح په روح کښې رابېدار کړه

ن ، يو نور د محمد صلى الله عليه وسلم دے ځلېدلے
په کلي جهان دا نور دے غوړېدلے
نور يو ګل دے بنائسته بېحده ښکلے
د وحدت په باغيچو کښې دے کړلے

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي. مخونه ۱۹۸ نا تر ۲۱۷

ڼ ، خو "روڼ" دے چې راخېږي ترې رڼا
د صورت تکي له "نونه" کړم جدا
زۀ رڼا یمه رڼه، د نور مثال یم
څۀ شو دا که غړوندے مې شو تر ملا
و ، وحدت دے یګانه
یګانه له بېګانه
که صفات دي او که ذات دے
چرې نۀ دي دوګانه
ه ، همدم دے زما دم
نیست و هست یم په دې دم
دا هستي زما په هست شوه
نیستي زړۀ د جام د جَم
غنچه وا شوه ګل ئې خلاص کۀ
ژړا تا وکړه شبنم
چې ګمان له میانه ووت
عشق راتینګ کۀ یقین سم
لا ، له اصله روحاني یم
په صورت کښې لکه نے یم
ربه ستا د درګدا یم
څۀ شو نن کۀ درانے یم
ء ، همزه څۀ اراده کړه
له عامیته ئې کره کړه

ACKU

هست به اوګوري چي نيست شي
که هستي ئي ورښکاره کړه
ی، خو يو الله اکبر دے
د هر چا و زړهٔ خبر دے
زړهٔ دي اوساته له غبرو
که دي صاف د زړهٔ دفتر دے [۱]

په تصوفي رحجاناتو کښي پندونصيحت هم راځي
د بابا په ديوان کښي د پندو نصيحت او د اخلاقو د تعليم شعرونه ځائے په ځائے موندے شي

پت:

احمد شاه بې پتي ننګ کړي اے يارانو
چې په پت د ياري سر شيندي اوس "مرد" دے
سر په تيغ پريکړے ښهٔ دے
سر بې پته په دنيا
نن د يار په پت چي مړ شم
سبا نهٔ يم خواروزار

کبر:

هغه خپل اصل به نهٔ هله بيا مومي
چي د کبر غاړه وباسي له خرچه

---

[۱] ديوان احمد شاه ابدالي. مخونه ۱۹۸ تر ۲۱۷

وفا

راشه د وفا طمع تري مکوه احمده
بې وفا دنیا ده بې وفا ده زمانه

بې وفائي

مرګې بنۀ دے په دنیا کښې
نۀ چې څوک شي بې وفا

قضا و قدر

د هر چا ده خپله بخره د نصیب
ستا په بخره ئې ژړا کړه عندلیب
مادر زاد ئې په دا بخره پیدا شوے
که دې بخره د وصال وه هم غریب

خودبیني

خودبیني چې شیطان اوکړه
مخ ئې تور شۀ له جبینه

عاجزي

چې وګورم ستا لویي ته
په زارۍ د صبحګاه یم
بړهائي هرګز په خپله لوئي نۀ کړم
همېش ستا د قدمونو دامنګیر یم

فلاح

کړه له بدو چارو منده
چې تۀ خلاص شې له دې ږنده

د دنیا بې ثباتي

دا دنیــا وینـم یــو هـسې بــې وفــا ده
و حبــاب تــه نظــر کــړه ددې لــه کــاره

کبر

د کبـــــر کاســـــه نـــــسکوره
توبـــــه د کبـــــر لـــــه آســـتینه

نور هم ډېر اشعار په دې حقله موجود دي ولې کاتبانو ورسره خپلې کانې کړې دي.

د احمد شاه بابا افغان مؤلف میر غلام محمد غبار لیکي چې ډېر افغاني لیکوال احمد شاه بابا د اولیاؤ له ډلې ګڼي[۱] د دوئي د اولیاؤ الله سره ډېره مینه وه. مشائخ ئې خوښ ؤ د اولیاؤ زیارت به ئې لازم ګڼو د څوکنو د لوئې بزرګ سره ئې ډېر تړون ؤ تلل راتلل ئې وو مونږه چې د دهٔ د کلام مطالعه اوکړو نو دا پته لګي چې دوئي د استدراج، جلوت، جلال و جمال، حجاب، حضور، نفي و اثبات، سفردر وطن، سیرالی الله، عالم جبروت، عالم لاهوت، عالم ملکوت، عالم ناسوت، عالمِ هاهوت، (ذکر اذکار)، وحدت، کثرت، واحدیت، قالوابلی، الیس، هویت، ذات، صفات، احدیت، مرآة، نور ظلمت، امر ارواح، معرفت، لعل شعاع، هستي، نیستي، عدم، وجود، لا، الا، نحن اقرب الیه، من حبل الورید، مکان، لامکان، تجلي، سالک، ظهور، منصور، اناالحق،

---

[۱] احمد شاه بابا افغان. مخ ۲۳

طريقت، بقا، فنا، موج دريا، وصل، سر، رؤيت، ذکر خفي، حاضر، ناظر، د وحدت درياب او داسې نور ډېر ټکي بيا بيا په کار راولي په کلام کښې ئې د وحدت الوجود او وحدت الشهود نخښې نخښانې شته د لاالاالٰه الاالله د ذکر بار بار تکرار د دوئي د ذکر اهميت په ګوته کوي، چې د تصوف اړانه پرې قائمه ده وائي:

د نـــور څـــۀ زمـــا توبـــه ده
د حـــق مينـــه راســـره ده
دغـــه مينـــه کليمـــه ده
لاالـــــــــــــه الاالله
دا خـــودي خپلـــه حجـــاب ده
لکـــه کـــړے چـــې حبـــاب ده
د حبـــاب هـــستي لـــه آب ده
لاالـــــــــــــه الاالله
لاالـــــــه الـــــــه الله
لا فـــــاني بـــــاقي الله
د الله معنـــــــــــــى الله
لاالـــــــه الـــــــه الله
هـــسې زرۀ وائـــي لـــه نـــوره
دے نـــاظر دے زۀ منظـــوره
مـــدام دا ګنـــه حـــضوره
لاالـــــــــــــه الاالله

حــــضوري ئــــې لاخــــامي ده
زړۀ پــــه زړۀ ګــــوره دوئيــــي ده
تــــۀ زړۀ يــــو کــــړه ســــربازي ده
لاالــــــــــــــــه الاالله[1]

د ذکر لااله الاالله په حقله نقشبنديه تاکيد کوي، دوئي ته هغوئي د تصوف په اصطلاح کښې بازګشت وائي[2]
د عالم لاهوت، عالم ملکوت، عالم ناسوت مراحل په اويسيه طريقه، ډېر لازم دي په دې طريقه کښې محمدي المشرب د ولايت په اقسامو کښې ولايت محمدي هم راولي اويس قرني په باطني توګه د سرور عالم صلی الله عليه وسلم نه فيض حاصل کړے ؤ[3]
ډاکټر محمد حنيف په خپله تحقيقي مقاله آثار و حيات محمد عمر کښې د ميا محمد عمر د څوکنو د خانقاهي نظام سره د احمد شاه دراني د مسلسل تړون خبره کوي او وائي چې هر کله احمد شاه ابدالي بابا د حضرت شاه ولي الله دهلوي په تحريک د هندوستانو د کفارو خلاف د ګوابنې او فوج کشۍ اراده اوکړه نو په دې ټول مهم کښې هغوئي ته د ميا صاحب د څوکنو له خانقاهه مسلسل هدايات تر لاسه کېدل[4]

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي. مخونه ۱۹۴-۱۹۲
[2] قصه المشائخ. مخ ۹
[3] حالات مشائخ نقشبنديه مخ ۵۳۱
[4] حيات و آثار حضرت ميا محمد عمر چمکني. مخ ۲۷

په دې لحاظ سره مونږه وئيلے شو چې احمد شاه بابا د تصوف نقشبنديه اواويسيه رجحانات لرل.

د ځنو تشريحاتو مفهوم:

**بازگشت:** د کلمې طيبې لااله الاالله بيا بيا ذکر.

**تذکيه:** صفائي د سلوک د لار مخکښنے مزل.

**جلال و جمال:** د انسان فطرت د الله پاک د صفاتو آئينه ده، کوم اولياء چې جمالي صفات لري هغه جمالي صفت اولياء نوميږي. کوم چې جلال لري، هغه جلالي صفت اولياء نوميږي.

**جمعيت:** د زړۀ نه وسوسې، خيالات ختمول.

**حجاب:** د حجاب نه مراد د الله نه سيوا خيالات دي. دا په لاره خرنډ پيدا کوي.

**حضور:** د حق طلبگار چې حق يعنې الله ته مخه کړي.

**حقيقت:** چې باطني اعمال درست شي نو ځلا او صفائي راشي څۀ حقائق منکشف شي، دې ته حقيقت وائي.

**خلوت در انجمن:** د حق تعالى په حضور اوسيدل "خلوت درانجمن" نوميږي.

**ذکر نفي و اثبات:** په نقشبنديه طريقه کښې د ذکر خفي، درې اشغال دي، يعنې د اسم ذات (الله) ذکر د نفي ذکر او اثبات (لااو الا) او مراقبه.

**سفر در وطن**: یو صوفي چې د بشري طبیعت نه د فرښتو صفاتو او د ناکاره صفتونو نه حمیده صفاتو ته منتقل شي د تخلقوا باخلاق الله یعنې د الله، اخلاق واخلئ باندې عمل اوکړي

**سلطان الاذکار**: د اسم ذات (الله) د ذکر خاصه طریقه په دې کښې ډېرې باریکۍ راځي

**سلوک**: په لاره تلل

**سیر الی الله** (د سالک لار): د الله د نزدیکت د حصول دپاره مختلف مزلونه اخستل

**سیر فی الله**: هغه مزل چې سالک یعنې صوفي فنا فی الله شي د خپل وجود نه بیخي بې خبر شي

**سیر مع الله**: چې سالک ته د فنا فی الله کېدو هم خبر نهٔ راځي دې ته د فنا فنا وائي (فناء الفناء).

**شریعت**: د شرعي کارونو په ځائے راوړل

**شیخ**: مرد کامل ته وائي، دے سنت ژوندي کوي، بدعت ختموي.

**طریقت**: د ظاهري عملونو چې د کومې برخې سره تړون دے هغه فقه او د باطني عملونو چې د کومې برخې سره تړون دے هغه طریقت دے[1]

---

[1] حیات و آثار محمد عمر چمکني. مخونه ۴۹۱-۵۰۱

**عاشق** هغه مؤمن متقي چې د عبادت علم، پرهېزګارۍ، عرفان، اخلاص، او مينې مزلونه واخلي او حقيقي معشوق ته اورسي

**عالم جبروت**: صوفيان په ترتيب څلورو ځايونو (مقامات) ته ځان رسوي يعنې ناسوت، ملکوت، جبروت، لاهوت عالم جبروت دا دريمه مرحله ده

**عالم لاهوت**: (اخري مرحله) دا په اصل کښې د "لا هو اله هو" مخفف يعنې لنډيز تکے دے د دې مقام جهات او حدود نشته سالک تر عمره عمره د ذات د تجلي د ننداري نه ځروب وي

**عالم ملکوت**: دا د سلوک د سېر (سبل يا سفر) دويمه مرحله ده سالک د عادت پرستۍ نه تېر شي او د اخلاص مرتبې ته اورسي يعنې د فرښتو دنيا ته اورسي

**عالم ناسوت**: د دې دنيا نه د اجسامو او محسوساتو علم مراد دے په دې مقام عبادت د عادت په توګه کيږي د دې نه مخکښې د اخلاص مقام راځي

**علم حصولي**: د خارجي امورو په ذريعه حاصل شوي علم ته علم حصولي وائي لکه منطق، اصول، فقه او تفسير او نور

**علم حضوري**: کوم علم چې د خارجي امورو نه سوا حاصل شي هغې ته علم حضوري وائي انسان ته د خپل ذات او صفاتو علم اوشي [1]

---

[1] حيات و آثار محمد عمر چسکني. مخونه ۴۹۱ ۱-۵۰

علم لدني: هغه علم چې په هغې کښې د کسب عمل دخل نۀ وي بې د څۀ سبب د الله د طرفه بنده ته راشي. لکه د قرآن پاک آیت و علمناه من لدنا علماً[1] یعنې مونږه هغه ته (خضر) ته د خپل طرفه علم ورکړو دا صرف د الله پاک مرضي وي. د اویس قرني، ابن العربي مثالونه په دې باب راوړے شي. د ټولو نه اول خو دا علم حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته حاصل شۀ.

غوث: دصوفیاؤ په اصطلاح هغه هستي چې دعاګانې ئې قبلیږي (مستجاب الدعوات)

غیبت: د څۀ غیبي حالت د سختې غلبې نه بشري حواس معطل شي دا غیبت او محوه ده

فیض: هغه روحاني تربیت چې اهل الله (د الله نزدې بندیانو) ته ور اورسي

قربت: الله پاک ته د ډېر اطاعت په ذریعه ورنزدې کېدل.

قطب: هغه ولي چې د هغۀ د انتظام لاندې یوه علاقه وي. د اقطابو شمېره دولس ده اووۀ د اقالیمو (لویو علاقو) وي او اووۀ د ولایت وي. صوفیاء وائي چې په هر دور کښې لوئے قطب یعنې قطب الا قطاب، قطب عالم، قطب ارشاد، قطب مدار، قطب کبري، قطب جهان، قطب جهانګیر وي په ټوله دنیا د هغۀ د فیض رسائي وي.[2]

---

[1] سورة کهف آیت ۶۵

[2] حیات و آثار محمد عمر چمکني. مخونه ۴۹۱-۵۰۱

**کرامت:** د عادت خلاف د څهٔ کارونو ظاهرېدل د متقي صالح نه سوا دا نهٔ شي راتلے.

**کشف:** د حجاب اوچتېدل هغه حالت د زړهٔ چې د الله په فضل ورته ځنې پټ امور ښکاره شي.

**کشفِ عیاني:** د حالاتو تبدیلي په سترګو لیدل د وجداني کشف خاوند په سترګو نهٔ ویني په ادراک معلوموي.

**لطائف:** انسان د لسو لطیفو، باریکیو نه مرکب او جوړ دے. د زړهٔ باریکي، د روح باریکي، د سِر باریکي، خفي باریکي، اخفي (ډېره پټه) باریکي د دې ترون "امر" د دنیا سره دے، پینځه نور د نفس، خټې، اوبو، هوا، اور سره تعلق لري چې دا عالمِ خلق نه ګڼلے شي. (د نفس او څلورو عناصرو تعلق دلته ښکاري)

**محمدي المشرب:** د ولایت په قسمونو کښې یو "محمدي ص ولایت" دے. لطیفه اخفي ورته هم وائي. کوم ولي چې په دې طریقه حق ته اورسي هغهٔ ته محمدي المشرب وائي.

**وصالِ حق:** د مجازي هستئ نه جدائي او د خودئ د وهم نه بېګانګي وطنِ اصلي د عرش دپاسه مقام.

**هوش دردم:** هره ساه چې د الله پاک په یاد کښې را اوځي. غفلت پکښې نهٔ وي په دې کښې اکثر مفهومات او اصطلاحات د احمد

شاه ابدالي په کلام کښې موجود دي څکه خو ما د دې لنډ ئيز بيان ضروري اوګڼلو چې د هغۀ د کلام مفهوم لوستونکو ته واضح شي[1] د دې نه پته لګي چې بابا د څوکنو د ميا صاحب نه ډېره استفاده او فيض حاصل کړے دے

## د احمد شاه بابا پير مرشد:

د احمد شاه بابا د پيرۍ او مريدۍ تعلق د حضرت ميا عمرؒ د څوکنو سره دے. بابا چې په تخت کښېناستو او وروستو چې دوئي په اول وار پېښور ته تشريف راوړو نو د ميا صاحب د مريدانو په حلقه کښې شامل شۀ[2] مولانا مسعود ګل دا واقعه څۀ دا رنګې بيانوي.

چې واصل په پېښور په څمکنو شۀ
دے طائف په پيرخانو د پښتنو شۀ

په خدمت د ميا صاحب کښې چې واصل شۀ
دے له نورو پيرخانو وايم فاضل شۀ[3]

(يعني ضرورت ئې پاتې نۀ شو)

---

[1] حيات و آثار محمد عمر چمکني

[2] همدغه . مخ ۷۵

[3] مناقب از مولانا مسعود ګل. مخ ۶۸

احمد شاه بابا د میا صاحب سره ډېر عقیدت لرلو او د هغهٔ حکم به ئې منلو وائي

ډېر محکم ؤ به اخلاص په اعتقاد
په خدمت د میا صاحب ؤ ډېر منقاد[۱]

احمد شاه بابا چې په کله د پېښور په حدودو کښې داخل شو نو د دوئي د خانقاه زیارت له به راتلو او د میا صاحب نه به ئې دُعا اخستله

چې به راغے پېښور نه نور به تل
په ګلزار د ځمکنو به ؤ بلبل[۲]

د احمد شاه ابدالي بابا د میا صاحب د ځمکنو سره بې کچه تړون او د زړهٔ مینه وه. د باړې د پل سره نزدې به د شاهي سورلۍ راکوز شو او پښې ابلې پښې به د میا صاحب په خدمت کښې حاضر شو او د ملاقات شوق به ئې پوره کړو[۳]

بادشاهان نمانځې د فقر په آدابو
په جلال د بادشاهۍ خانقاه ښائسته کړے[۴]

---

[۱] مناقب از مولانا مسعود ګل . مخ ۳
[۲] همدغه ، مخ ۳
[۳] همدغه . مخ ۳
[۴] د رمزي اتماوي د مولانا تهانوي په شان کښې د عقیدت د شعر ترجمه

د دغه وخت لیکوال حافظ مرغز دا بیان کوي چې د احمد شاه بابا په تخت د سلطنت ناسته د میا محمد عمرؒ د دعاګانو نتیجه ده.

چې پیدا صاحب عرفان شي
په طلب ئې درست جهان شي
څوکنو صاحب روان شو
په دا لار د هندوستان شو
په لاهور کښې شۀ داخل
تمام طے شُو منازل
اما وخت د نادر شاه ؤ
د هر چا تر حلق ساه ؤ
په مجلس د ذوالکرم
چا بیان کۀ تمام غم
چې عالم شۀ ګرفتار
د نادر په ظلم خوار
ستا دُعا لري اثر
ماتوي د غرونو سر
چې میا صاحب نظر کۀ
تآمل ئې په دفتر کۀ
یو ساعت ګوره خاموش ؤ
کۀ مظلوم وهلے جوش ؤ

نور ئې لاس کړل په دُعا
چې روښن ؤ تر شعا
خدایا خاورې کړې نادر
ته په هر څیز ئې قادر[1]
په تجدید د شهریار
منور کړے دا دیار
چې رونق شي د اسلام
پرې عُروج راشي تمام
ښهٔ کلام ئې کړۀ بیان
په لاهور کښې زما جان
په دا لور د قندهار
بل به راشي شهریار
مصفا صوفي مذهب وي
په مذاق بلند مشرب وي
دا الهام ؤ د ولي
و هر چا ته شهٔ جلي
د نادر چې سر جدا شهٔ
په جهان ئې شور پیدا شهٔ
د نادر چې ؤ اقبال
په باد لاړ شهٔ د زوال

---

[1] شاهنامه احمدیه، مخونه ۲۳- ۲۵

احمد شاه در ابدار
په جلوه شهٔ نمودار[1]

ډاکټر محمد حنيف پروفيسر اسلاميه کالج پېښور پوهنتون په خپله مقاله کښې ليکي
احمد شاه دراني بابا هم د دې حقيقت منه کوله چې د هغهٔ تاج او تخت، شان او شوکت د ځوکنو د ميا صاحب د دُعاګانو اثر دے
مولانا مسعود ګل دا منه په خپلو ليکلو مناقبو کښې ښکاره کوي وائي

تا په خپله په ما کړے دے دا داد
دا ستا داد ولې له ما نه ځي برباد
کهٔ ډېر بد يم خو ستا نوم په ما يادېږي
ستا ساتلي په دعا، ولې ورکيږي[2]

يعنې تا هر څهٔ راکړي دي ولې دا رانه بربادېږي، ستا په نوم ياد يم، تا چې څوک په دُعا نمانځلي دي هغه دې ولې ورک شي
د هندوستان په مزکه د اسلام دښمنه قوتونو خلاف چې احمد شاه بابا ته کومه کاميابي تر لاسه شوه، مولانا دا دين هم دا وائي چې دا د ميا عمر د څوکنو دُ دُعاګانو او د هغوئي روحاني مدد ؤ، وائي

---

[1] شاهنامه احمد شاه ابدالي. مخونه ۲۲ – ۲۹
[2] د مسعود ګل ونيلي مناقب. مخ ۳۱

د احمـــد پـــه غـــاړه هـــار د ارادت شـــهٔ
چـــې صـــاحب د څوکنـــو ســـره بیعـــت شـــهٔ

د صـــاحب د نـــوم تیکـــه ئـــې پـــه تنـــدي شـــوه
نـــو د شـــاه د حکومـــت بنـــهٔ محکمـــي شـــوه[1]

د حضرت میا محمد عمرؒ د څوکنو یو بل مرید نور محمد قریشي وائي د احمد شاه بابا د هندوستان په جنګي مهماتو کښې د احمد شاه دراني د کامیابۍ راز پټ دے.
په دې دور کښې په افغانانو کښې یو شاه ځلمے دے چې نوم ئې عمر دے. د حضرت عمر رضی الله عنه هم نام دے احمد شاه د دهٔ په ارادت کښې دے او هغهٔ د افغانانو رهنما دے، د احمد شاه غېرتي ملګرے دے د هندوستان په فتوحاتو کښې د هغوئې قوت او مدد بادشاه ته حاصل دے[2]
جان محمد دراني چې د حضرت صاحبزاده محمدي (زوئے د میا محمد عمر د څوکنو) سخر دے او دا په میا صاحب ګران ؤ. جان محمد د احمد شاه بابا سره هندوستان او ایران ته تلے دے. خط و کتابت ئې د یو بل سره پاتې ؤ[3] جان محمد دراني د یوې واقعي د سترګو لیدو حال بیانوي چې

---

[1] مناقب از مولوي دا دین، پانه ۷۳
[2] حیات و آثار میا محمد عمر چمکني. مخ ۷۸
[3] همدغه . مخ ۴۰۸

یو خل د اسلام مجاهدین په بې کچه مشکلاتو کښې پرېوتل، حوصله روانه وه تلله. ظاهري اسباب او وسائل ناکامه کېدل. په دې حال کښې احمد شاه بابا الله پاک ته ژړا دُعا اوکړه، بیا ئې د حضرت میا صاحب عمرؒ د څوکنو په طرف مخه او توجه اوګرځوله او په ژبه ئې دا کلمات راوړل

"حضرت صاحبه! ما تهٔ د خپل روحاني پلار پیر مرشد په حېث منلے ئې، ستا زوئے (مرید) په هندوستان کښې مصیبتونو سره مخ شوے دے، غمژن دے. وخت ګران دے، مشکل راپېښ دے، په دُعاګانو او روحاني تصرفاتو خپل مرید مدد اوکړئ" [1]

احمد شاه بابا هر کله چې د پاني پت د اخري فېصله کوَنکي جنګ دپاره هندوستان ته تلو، او دوئي د قندهار نه څوکنو ته راغلل نو اول ئې د میا صاحب سره صلاح مشوره اوکړه او هر کله چې اسلامي لښکر د هندوستان په لور روان شهٔ نو میا صاحب احمد شاه ته اووې

"ستا په زړهٔ کښې د اسلام محبت موجود دے. تا ته چې په شروع کښې کومې ښوونې او هدایات درکړے شوي وو په هغې تهٔ برابر چلیږې. زهٔ وینم چې تهٔ به کامیابه ئې، ستا سینه د ایماني غېرت نه ډکه ده. ان شاء الله تعالی ستاسو فتح یقیني ده. ستاسو په لښکر کښې د الله پاک نېکان بندیان دي. مرهټه ستاسو مقابله نهٔ شي

---

[1] حیات و آثار میا محمد عمر د څوکنو، مخ ۷۸ او ۷۹

کولے، په مخه دي ښه الله پاک دې ستا مدد اوکړي، تا دې کامیاب اوګرځوي. آمین" [1]

دا د الله پاک فضل ؤ، احسان ؤ، مهرباني وه او د حضرت موصوف د ښوکنو (میا محمد عمرؒ) د دعا تاثیر او نتیجه وه چې د سامان د کمي باوجود د مسلمانانو د عدد د قلت سره سره بادشاه د خپل ځان نه په څو چنده طاقتور دښمن تس نس کړو. او د پاني پت د جنګ په مېدان کښې ئې د اسلام دښمنانو ته داسې ښکاره ماتې ورکړه چې هغې د تاریخ مخه د عمر عمر دپاره بل خواته واړوله.

په دې کښې شک نشته چې احمد شاه بابا د میا صاحب د ښوکنو په هدایاتو او مشورو عمل کولو. د در دران لقب دوئي د میا صاحب په مشوره اختیار کړے ؤ. [2] د احمد شاه بابا نه وړاندې د افغانستان نوم نهٔ ؤ. دا نوم هم داحمد شاه ابدالي بابا په تجویز اوټاکلے شو. [3]

---

[1] ننګیالي پښتانهٔ، مخ ۱۳۳

[2] حیات و آثار میا محمد عمر چمکني، مخ ۸۰. ګنډا سنګهـ دا لیکي چې بادشاه ته دا خطاب د درویش صابر شاه د طرف نه عطا شهٔ چې "در دوران" وو یعنې "د زمانې ملغلره" وروستو دا ترکیب د "در دران" اوګرځېدهٔ یعنې د ملغلرو ملغلره او هم د دې نه د ابدالي قبیلې نوم دراني جوړ شهٔ، مخکښې دا نوم موجود نهٔ وو. فقیر صابر شاه دا خطاب هغه وخت ورکهٔ چې دهٔ د بادشاهۍ تاج په سر کړو. شېر محمد په خپل کتاب رؤسائے ډېره اسماعیل خان کښې لیکي چې دا لقب میا عمر ورکړے وو.

[3] اباسین مجله، اولیائے کرام نمبر ۱۹۷۴ء مخ ۱۰۷. کېدے شي چې صابر شاه درویش "درِدوران" لقب ورکړے وي او د ښوکنو میا صاحب دا "در دران" اوګرځولو. بهرحال دا صرف تخمین دے. ګنډا سنګهـ د خپلې تحقیقي مقالې په حاشیه په مخ ۸۰

د فتوحاتو وجه مولانا دادین دا بیانوي

په ازل کښې چې خدائے اوسپنه پیدا کړه
دا ئې دوه نیمه لاهلته هویدا کړه
ساز له نیمې شۀ شمشېر د بادشاهانو
بله نیمه ئې کړه ژبه د بزرګانو
چې دا نیمه د بزرګانو ورسره شي
تېغ هاله د بادشاهانو نور پوره شي [1]

احمد شاه بابا به د دوئي په سپارښت خلقو له جاګیرونه ورکول. خاني او سرداري به ئې عطا کوله حافظ میر عبدالله اکبرپوري (م ۱۲۰۲هـ/۱۷۹۱ء) ته هم د دوئي په سپارښت، د قضا منصب ورکړے شوے ؤ. [2] دا رنګې بلند خان دولت زئی د زیدې اوسېدونکي ته د دوئي په تجویز د خانۍ لقب ترلاسه شۀ او ورسره ښکلے جاګیر هم ورته اوبخښلے شو [3]
د احمد شاه بابا د میا عمر سره د عقیدت یو بل ثبوت دا دے چې بادشاه د میا صاحب لنګرخانې ته او خانقاه ته دیارلس نیم زره جریبه مزکه وقف کړې وه. [4]

---

د شېر محمد ذکر کړے دے چې هغۀ دا خبره په خپل کتاب رؤسائے ډېره اسماعیل خان کښې راوړې ده

[1] ننګیالي پښتانۀ. مخ ۱۲۹
[2] د څمکنو میا عمر صاحب. مخ ۱۱
[3] تاریخ پشاور. مخ ۲۷۲
[4] همدغه . مخونه ۴۳۰. ۲۲۱

میا صاحب د ځوکنو احمد شاه بابا ته دا نصیحت کړے ؤ، د خپل خالق مالک حکم منه. مخلوق به ستا حکم مني یاد لره کۀ تا دخپل خالق او مالک نه بغاوت اوکړو نو د مخلوق غلام به شې د نمونځ پابندي کوه، د نشې نه پرهېز کوه، که بېلماځه شې، نشئي شې نو رعیت به هم دغه رنګې شې او هغوئي به ستا نه بغاوت کوي [۱]

د احمد شاه بابا په سیرت او کړۀ وړۀ د میا عمر صاحب د ځوکنو د روحاني فېض ژور رنګ ختلے ؤ. هم دا وجه وه چې هغوئي د دروغو نه پرهېز کولو او داسې ژوند ئې تېر کړۀ چې په عقیده پوخ مسلمان ؤ، پاک د اطمینان او سکون ژوند ئې تېر کړو.

په خدمت د فقیرانو کښې سکون دے
نشته نشته دا ګوهر په خزانو کښې
(اقبال)

د ځوکنو میا محمد عمر رحمة الله علیه د اتلسمې عیسوی صدۍ یو ډېر د شان او رتبې ولي الله دے. د دوئي آستانه پېښور سره نزدې په ځوکنو ده. دوئي په کال ۱۰۸۴ هـ ۱۶۷۱ء کښې په ځوکنو کښې پېدا شو. د شاه اورنګزېب عالمګیر زمانه وه، د والد نوم ئې ابراهیم ؤ او د نیکۀ نوم ئې کلا خان ؤ. د افغان نسل د سړبني افغانانو شیخي خېل بناخ د ترکاڼي قبیلې سره تړون لري. دوئي د حنفي مذهب سره تعلق لري ـ طریقه ئې نقشبندیه اوویسیه ده.

---

[۱] اباسین. اولیائے کرام نمبر، مخ ۱۰۷

دوئي په کال ۱۱۹۰هـ/۱۷۷۶ء حق اورسېدل، وئيلے شي چې دے مادرزاد ولي وو.

د دوئي د ولايت روښانه دور ؤ. د لرو لرو ملکونو نه ورله خلق، خانان، سرداران، بادشاهان، شهزادګان راتلل، لوئے لنګر ئې چلېدو. د دوئي تصنيفات هم شته. په فارسي، عربي او پښتو. د دهٔ نه پس د دوئي برخوردار صاحبزاده محمدي رحمة الله عليه ؤ، عالم شاعر او صاحب تصنيف ؤ. دوېم زوئے حضرت صاحبزاده احمدي وو. اديب ؤ شاعر ؤ، د دهٔ هم کتابونه شته.[۱]

د احمد شاه بابا ابتدائي تړون د درويش صابر شاه سره ؤ. هم دا هغه درويش دے چې د نادر شاه افشار د قتل نه درې ورځې مخکښې دوئي د هغهٔ د قتلېدو او د احمد خان د بادشاه کېدو زېرے ورکړے ؤ. هم دا هغه درويش دے چې د پښتنو او افغانانو د سردار په حېث د دهٔ انتخاب ئې په يوه لويه جرګه کښې تجويز کړے ؤ.

دا درويش د قندهار سره نژدې په خلوښتت ميله د شير سرخ د مقبرې مجاور ؤ. اوني ټوپۍ به ئې اچوله. جامې ئې په قول د ګنډا سنګه بيخي په نوم وې (بربنډ به ؤ). د غلام محمد غبار په کتاب کښې چې کوم تصوير د احمدخان د تاجپوشۍ په وخت جوړ شوے دے په هغې کښې د دهٔ لويه خلکه ښودلے شوې ده. وئيلے شي چې دے د لاهور ؤ. صابر شاه د دهٔ صوفيانه نوم ؤ. د دهٔ نوم ورور ؤ باقر

---

[۱] دا لنډ حالات د حيات و آثار حضرت ميا محمد عمر چمکني نه د ګېنو مخونو نه واخستے شول چې د پروفيسر ډاکټر محمد حنيف د پي ايچ ډي تحقيقي مقاله ده.

شاه په کال ۱۲۱۲هـ کښې په پېښور کښې دېره ؤ. افغان حکومت به ورته پنځه زره د کال وظیفه ورکوله. شېر محمد خان په خپل کتاب احوال نساب رؤسائے ډېره اسماعیل خان کښې لیکي چې حضرت محمدعمرؒ چمکني دوئي ته د دُران خطاب ورکړے دے.[1]

د احمد شاه بابا د افغانستان او د هندوستان (پاک و هند) ډېرو بزرګانو سره تعلق ؤ.

په کال ۱۱۷۰هـ کښې چې دوئي په اول ځل په لاهور د حملې اراده اوکړه نو دوئي د ننګرهار، پېښور، پنجاب، سندهـ، کشمیر او هند مشائخو علماؤ ته خطونه اولېږل او د دُعا خواست ئې ترې اوکړو.

د احمد شاه بابا په ذات تصوفي او روحاني اثرات خوارۀ وو هغوي د اولیاؤ کرامو او صوفیاؤ کرامو سره ډېره مینه لرله. بابا د دعاګانو د تاثیر او د اولیاؤ او صوفیائے کرامو د فېض او کرامت قائل ؤ.

د دومره لوئے سلطنت او بادشاهت باوجود ئې په ژوند کښې د دین او شریعت نه خلاف څۀ عمل نۀ کولو. صفا او پاکیزه ژوند ئې تېرولو. د شراب او زنا نه ئې پرهېز کولو د مونځ پابندي ئې کوله او په ژوند کښې ئې د ظلم او زیاتي شائبه قدرې نۀ وه. د اولیاؤ کرامو او صوفیاؤ کرامو مجلس او صحبت کښې به د زړۀ نه شاملېدو . د دې نه علاوه دوئي به د عقیدت په توګه د اولیائے کرامو مزارات ته هم تلل. په ۱۷۶۰ء کښې دوئي د حضرت خواجه

---

[1] احمد شاه ابدالي، مخ ۸۰ (حاشیه)

نظام الدين اوّلياء (م۷۲۵هـ) په دهلي کښې د مزار زيارت اوکړو. د پاني پت په قيام کښې ئې د شيخ بو علي قلندر د مزار زيارت اوکړو. په بټاله کښې، چې ډېره شو نو هلته د اولياؤ د مزارونو زيارت ئې کړے دے. د سرهند د شيخ احمد سرهندي زيارت به ئې هم کړے وي. د دوئي د جانشينانو سره ئې خط و کتابت ؤ.

# شلورم باب

# د احمد شاه بابا په کلام کښې پښتونولي

احمد شاه یوسپېڅلے ، منلے ، سوچه پښتون ؤ ـ ددهٔ په رګ رګ کښې پښتونولي اغږلې شوې وه ـ او لکه چې د هغهٔ د ژوند د حالاتو نه ښکاره ده ـ چې هغهٔ د وطن او پښتون قام سره بې کچه مینه او محبت لرلو ـ او د وطن او قام دپاره ئې هرې سختې نه مخ نهٔ اړولو او ددې مینې په جذبه ئې خپل سر هر وخت په تلي کښې اېښلے ؤ ـ دغسې د هغهٔ په شعرونو کښې هم د وطن او قام مینه او پښتونولی اظهار ډېر په ریښتونې طریقه شوے دے ـ او څکه چې د پښتون دپاره دا پنځه اوصاف ډېر ضروري دي ـ د کومو نه بغېر چې یو پښتون په هېڅ ډول پښتون نشي ګڼلے ـ یعني پت ، د ښسګړې جذبه ، تور ه ، وفا او ننګ ـ دا داسې خصوصیات او اوصاف دي چې په دین اسلام کښې هم ورته ډېر اهمیت حاصل دے ـ داسې به اووایو چې که ددې پینځه اوصافو نه بغېر یو انسان چرې هم صحیح پښتون نشي کېدے نو صحیح مسلمان هم نهٔ شي کېدے ـ
د احمد شاه بابا په شعرونو کښې دغه واړه اوصاف لکه د هغهٔ د ذات څرګند دي ـ ددهٔ شعرونه هم د پښتنو غوندې د آزادۍ رنګ

لري ـ د هر څۀ خبره چې کوي نو لکه د پښتون صفا صفا خبرې کوي ويره نۀ کوي ـد ابهام نه کار نۀ اخلي ـ نېغ په نېغه لګيا وي ـ که د مينې خبره کوي ـ که د پېزوان خبره کوي که د زلفو ، په دې هر څۀ کښې دا انداز جوت ښکاري ـ

په دې باب کښې پرې بيله بيله رڼا په تفصيل سره اچوو ـ راځئ چې دلته ئې اوس هغه شعرونه راواخلو چې پکښې پښتونولي او پښتني انداز جوت دے په دې اشعارو کښې د مذهب مينه هم شته د ځلورو يارانو مينه هم شته ـ دا مينه هم د پښتونولۍ غوندې ګرمي ، سوچه والے او خوند لري ـ

مثلاً :-

سـر پـه عـشق پرېکـړه احمـده
سـر بې عـشقه څـۀ پکـار دے

ستـا د عـشق د وينو ډک شو ځيګرونه
ستـا پـه لاره کښې بـائلي زلمـي سرونه

که هر څو مې د دنيـا ملکونه ډېر شي
زما هېر نۀ شي دا ستـا ښکلي باغونه

عالم سپزي پېزوان
دا سرو لبانو خان[1]

دا زما د صورت ختمه
په ځلور عنصره پته

که ځلور عنصره واخلې
معرفت به کړې بې وته

د يقين وابنۀ غوندي کړه
چې ګمان لکه سکروته[2]

د پښتون غوندې خبره په تاکيد او زور کوي-

دلبـــره خـــوش خرامـــه
پـــه حـــسن ده تمامـــه

پـــه حـــسن ده تمامـــه
زړۀ ئـــې يـــوړوبې آرامـــه

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي . مخ ۹۲
[2] هـــمـــدغـــه . مخ ۱۰۹

زړۀ ئې يوړو بې آرامه
دا د عشق د سر انجامه

دا د عشق د سر انجامه
عاشق شو تل ناکامه

عاشق شو تل ناکامه
دا د سرو شونډو له جامه [1]

خوشحال خان وئيل :-

وه مغل وته به نن کړم اټک پوله
ملک به خلاص کړم د مغل له غال او غوله

بابا هم دغه عزم لري او دا سوچه پښتني عزم دے د خوشحال غوندې اعلان دے چې ولې يو بهرنے طاقت د دوئي په سيمه قابض دے۔ احمد شاه بابا د پښتنو په غيرت د کابل نه په جهاد اوځي وائي -

احمد بادشاه په جارۀ دا وئيله
د غزا په نيت ور وځم له کابله

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي . ۱۳۴ . ۱۳۵ مخونه

پښتني مغلې لاندې کړې کفارو
دا خبره مې په زړه وګرځېدله

يا به قتل کړم کفار په هندوستان کښې
يا به پرې کړمه ګله پرې باندې خپله[1]

پښتني مغلې د کافرانو قبضه کښې دي بابا په غزا اوځي چې پښتون غیرت اوګټي. غیرت ئې اوګټو. واپس پښتونخواه ته خپل افغانستان ته واپس راغے.
نامتو محقق عبدالحئ حبيبي په خپل کتاب پښتانهٔ شعراء کښې د دې پښتون په پښتونخواه مئين پښتني او غيرتي اشعار راوړي دي.

ستا د عشق له وينو ډک شول ځيګرونه
ستا په لاره کښې زلمي بائيلي سرونه

تاته راشمه زړګے زما فارغ شي
بې له تا مې اندېښنې د زړهٔ مارونه

که هر څو ئې له دنيا ملکونه ډېر شي
زهٔ به هېر نهٔ کړم دا ستا ښکلي باغونه

---

[1] د اوسني افغانستان په جوړېدو کښې د احمد شاه بابا ونډه . مخ ۱۸

د ډيلي تخت هېرووم‌ه چې را ياد شي
د خپل ښکلي پښتونخواه د غرۀ سرونه

د رقيب دِ ژوند متاع به تار په تار کړم
که په تورو پښتانۀ کړي ګزارونه

د فريد او د حميد دور به بيا شي
چې زۀ اوکاندم په هر لوري تاختونه

که تمامه دنيا يو خوا تۀ بل خوا ئې
زما خوښ دي ستا خالي تش ډګرونه

احمد شاه به دغه ستا قدر هېر نۀ کړه
که راټينګ کړي د تمام جهان ملکونه[۱]

په دې شعرونو کښې د فريد خان يعني د شير شاه سوري او حميد خان لودهي ذکر دے .دواړه د فخر او قدر وړ پښتانۀ بادشاهان وو.
احمد شاه لکه د يو پښتون غوندې د تورې او د عمل مېدان خوښوي.وائي:-

[۱] پښتانۀ شعراء

پــه برېــښنا د تــورې ژونــد کــوه احمــده
د بــرې جــولان پــه لــور د هــر ديــار کــړه[1]

اے احمــده ! دنيــا تېــره پــه هــر چــا ده
ستا پـه توره بـه بـل وخت فخر پښتون کـا[2]

که مې برق د سپينې تورې بيا برېښنا کړه
ستا پـه مهـر پـه هـر لـورې عـالمګير يـم

زۀ تــسخير د ولايــت د خــدائے پـه داد کــړم
پــه مــدد د حبيــب هــره خــوا تــازه ځــم

زۀ احمــد دنيــا فــاني ګــڼم چــې نــشته
دنيــا پــاتې لــه ايمانــه بــه ســره ځــم[3]

د مينې وفا او ننګ ، پت نه بغېر پښتون چرې هم پښتون نشي ګڼلے پښتون د مينې ، وفا او پت يوه ښکلې نمونه او د غېرت مناره وي. په دې حقله احمد شاه بابا داسې وېنا کوي. هغه د بې ننګۍ ژوند نه مرګے ښۀ ګڼي.

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، ص ٦١
[2] هــــــدغــه ، ص ۱۲۸
[3] هــــــدغــه ، ص ۷۳

مـرګـې ښـهٔ دے پـه دنیـا کـښې
نـه چـې خـوک شـي بـې وفـا

سـر پـه تېـغ پرېکـړه ښـهٔ دے
تـر بـې پتـه پـه دنیـا

چـې ئـې سـر پـه مینـه کېښود
هغـه یـوړه محبوبـا [۱]

احمـد شـاه بـې پتـي ننـګ کـړه لـه یـارانو
چـې پـه پـت د یـارۍ سـر شـیندي اوس ,,فـرد،، دے

نـن د یـار پـه پـت چـې مـړ شـم
سبا نـهٔ یـم خـوار و زار

پښتون د ننګ علمبردار دے احمد شاه هم د ننګ بیرغ اوچتوي.

چـې سـر سـتا پـر ننګـه بـائیلي
د هغـوي ولـې ژړا ده

---

[۱] دیوان احمد شاه ابدالي مخ ۹

په ننګ مړ خو ښه مړ نه وي
د بې ننګه ژوند جفا ده

هر مېړه چې شي بې ننګه
پلار ئې سپي وي مور ئې غوا ده

لاس به وانه خلم له ننګه
که پر ننګ پاته دنیا ده

بې ننګي د یار ننګ نه ده
بې ننګي ئې مدعا ده

چې سر پرېکړه احمد شاه
د هغو مینه رښتیا ده

احمد شاه پښتنو ته د یؤالي غږ کوي
چې مونږ غزا هر لوري خواؤ شا ده[1]

د دنیا چارې احمده په همت شي
په همت به ئې د زلفو شي تارونه

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي مخ ۱۱۵

د بابا د بې وفايۍ ژوند نه نفرت دے او په دنيا کښې د بې وفاؤ سره ګزران او ژوند نه مور دے. د بې وفائې غندنه کوي وائي

راشه د وفا طمع ترې مهٔ کوه احمده
بې وفا دنيا ده بې وفا ده زمانه

د وطن او د پښتونخواه ياد په هېڅ حال نهٔ هېروي. وائي :-

د هر چا وطن ياد ېږي
ځکه زاني کړه کوکار

نن د يار په پټ چې مړ شم
سبا نهٔ يم خوار و زار[1]

دا جهان ډېر پرې نازېږي
احمد شاه د خپل وطن ارمان که[2]

د احمد شاه بابا په شعرونو کښې تشبيهات هم همېش پښتني دي وائي :-

تورې سترګې ئې ګولۍ دي
خطا نهٔ ځي له ګوزاره

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي مخ ۳۲
[2] هـمـدغه ، مخ ۱۲۸

عاشقان ئې زخمي کړي
جوړه سروه د جوئبـاره

برابره نشانه ځي
ددې مست بازو له زوره

شها نخښه د مئينو
تل د زړونو شو راشوره

چې ذ مينې غشي وورې
سکه د زړهٔ شوه وينه توره

چې د عشق لښکرې راشي
خراب زړهٔ باسي له کوره[1]

له سهمه ئې و مخ ته کتے نهٔ شم
جوړې سترګې دې خنجر دے د خوبانو[2]

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۱۱۸
[2] همدغه ، مخ ۹۸

مینه د یار اور ده خبر نهٔ وم چې به سوځم
لښکر د مینې راغے کړه په زړهٔ مې شواخون دے[۱]

عجب سهم دې سهم کړي
چې شاهان کاندې بې شان[۲]

دغه عشق دے چې دا رنګه رنګریزي کا
لاله شان ئې په زړهٔ داغ په وینو سور کړم[۳]

د احمد شاه بابا د اشعارو نه صفا معلومېږي چې په زړهٔ کښې ئې د پښتون یو عزم مېشتهٔ دے .پخه اراده ئې کړې ده .چې څهٔ پروګرام لري .څه به کوي .د تاریخ پاڼې بیان کوي چې د پښتون دا عزم بېخي سر ته اورسېدهٔ .هر هغه څهٔ ئې تر لاسه کړل چې بنا ئې تړلې وه .خپل تمام تېبل ئې چې کوم تهٔ کلے ؤ .هم هغسې اوشول .بابا وائي :-

چې بر کړے مې خدائے لاس په رقیبانو
ترو به زهٔ د هند په لور یه تماشه ځم

---

[۱] دیوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۹۳
[۲] همدغه ، مخ ۹۳
[۳] همدغه ، مخ ۹۲

چې د هند د ملکوفتح مې روزي شوه
نور ایران لره په توغ په نقاره ځم

په دا کړي داد دې خدائې نهٔ شې پښېمانه
تر نګین چې ایران لاندې شاهانه ځم

معشوقې د ایران ډېرې ترکې شوخې
خدائې مې راکهٔ ترکي ، هند ته دوباره ځم

زهٔ تسخیر د ولایت د خدائې په داد کړم
په مدد د خپل حبیب هر خوا تازه ځم

چې زما د ولایت فتحه روزي شوه
ترو به څهٔ د یار له نازه کناره ځم

زهٔ احمد دنیا فاني ګڼم چې نشته
دنیا پاتې آخرت ته به پاسه ځم[1]

دا ؤ د بابا عزم او د هغې تاکنه . دا هم یقین لري چې په دې به د ے که خدائے کړي پاسه او سرهٔ زر اوګرځي .

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۷۳

په لاندینو کرښو کښې داسې اشعار راؤړو کومو کښې چې د پښتنو غونډې په ډاګه او سپینې سپینې خبرې کوي ـ څهٔ چې محسوسوي او څهٔ پرې تېرېږي صفا صفا وائي ـ

د زړهٔ سر مې وجود ستا په جدایی کښې
اوس بې زړهٔ به څهٔ ژوندون په وچ ځیګر کړم

که خبر چرې د یار په محبت شوم
په دوه سر لکه قلم به دا خبر کړم

اے احمده نڼواتې یار ته راغلې
انتظار د پښتون یار د ښهٔ نظر کړم[1]

زهٔ حېران دا ستا د مخ نګارستان کړم
بیا دې قتل د دوؤ وروځو یاغستان کړم

که دا سر په سودا راؤړم نهٔ ئې پیري
هسې ورک دستور د حسن شهرستان کړم

دلبر ځائے دې موندهٔ څهٔ شي چې وګورم
بیلتانهٔ دې لېونے په کوهستان کړم

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۷۴

دواړه وروځې دې ياغي خال که وهنه
هم اسير دې د رخسار په زنګستان کړم

لاله ګون رخسار دې تورو زلفو پټ کړه
مخ ښکاره کړه ډوب د زلفو شبستان کړم[۱]

دا دلبره ګل اندام
څوارلس ماه تمام

د عشق په بخت راغلې
په غافل باندې حرام

عاشقان ئې حاجبي کړي
غافل څه زده له اکرام

واړه تشي شلومبې شاربي
خبر نه دي له پېغام[۲]

---

[۱] ديوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۸۳
[۲] همدغه ، مخ ۷۷

ACKU

د یار درد که هر څو لوئ‌ی خو دا مرهم هم
د مرهم په ابنبودو به ولې آخ کړم

اے احمده دوصال مزرې که پښښ شي
شئ به خلاص له بېلتانهٔ له لویه ګرګه[۲]

عاشق ګوره هم په تا سره ښائسته دے
لکه زیب چې د چوړا دے له مړونده

کهٔ څهٔ نهٔ وایم خود وتانه به ښکاره شي
عشق د یار په زړهٔ یوه ګرځنده مېچن ده[۳]

څهٔ عجب خوشرنګه تته
چې دا زانګي له قیامته

دي دوه دُرٔ ئې پرې پیودلي
بې بها دي له قیمته[۴]

---

[۱] دیوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۷۷
[۲] همدغه ، مخ ۶۲
[۳] همدغه ، مخ ۱۱۵
[۴] همدغه ، مخ ۱۰۲

د خوږو تـه د دنیـا بـه څـۀ نظـر کـا
چـې نظـر وي سـتا دلبـو و شـکر تـه[1]

یـو بـې مثـل یـار زمـا ؤ
زیـات تـر ګلـو ئ زینـت ؤ

ډ پـرې سـروې د چمـن دي
زمـا یـار تـرې خـوش قامـت ؤ

د دیـدن ډ پـره مـزه وه
شـیرین یـار لکـه شـربت ؤ[2]

سـمندر بـه ددې اور طاقـت رانـۀ وړي
خـو عاشـق ګـوره سـپند پـه دا مجمـر دے د خوبـانو

کـۀ مـې زلفـې سـتا د مـار پـه څېـر خوټ مـن کـا
خـوښ یـم ګـوره چـې د دوئـي پـه خُـوږ کـړمن شـوم[3]

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۱۰۴
[2] هـمـدغـه ، مخ ۹۹
[3] هـمـدغـه ، مخ ۹۲

کـه هوسـې مـې یـاره سـتا د ګړنـګ ښـکار کـړه
زۀ پـــوهېږم پـــه انګـــڼ بـــه ږدم قـــدم

دا سـتا غـم بـه یـاره هېـر کـړم پـه کـوم غـم
کـوم یـو غـم دے چـې سـتا غـم دے تـر دۀ کـم[1]

تـر دا بې پتـې و یـار تـه مـرګ بهتـر دے هـزار ځله
خدائے دې نۀ کا په یارۍ څوک بې پتـه هم بې ننګه[2]

چـې شـعله بـه د پېـزوان ښـکاره پـه ګـل شـوه
و هـــر ګـــل وتـــه ســـجده ځکـــه بـــورا کـــه

چـــې لـــښکر د یـــار د زلفـــو مخـــامخ شـــي
زړۀ کـــه هـــر څـــو وي بادشـــاه مـــاتې پېـــدا کـــه[3]

تـۀ چې هـسې تېرۀ غشي همېشه ساتې لـه څنګـه
دا عاشق به څرنګ ویـره نۀ کوي ستا لـه خدنګـه[4]

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي . مخ ۸۸
[2] هـــــمـــــدغه ، مخ ۱۳۱
[3] هـــــمـــــدغه ، مخ ۱۳۰
[4] هـــــمـــــدغه ، مخ ۱۳۱

کـﺌـ د هوسـﯽ پـﻪ زړهٔ خبـر وے
ښکاري به په کبليو ګذار نهٔ کا [1]

دا جهـان ډېـر پـرې تـازېږي
احمد شاه د خپل وطن ارمان کا [2]

بلبـل څـهٔ رنـګ هوسـېږي
چـې نـرګس چـشم پيالـه کـا

ددې خـار بـه مغـزي مـات کـا
کـه دے ګـل پـه خولـهٔ ژالـه کـا [3]

دواړه زلفـې ئـې کمنـد دي
ويـره نـهٔ کـه لـه آزاره

سـوري کـړي ئـې دي زړونـه
لا مـړه نـهٔ ده لـه ښـکاره

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۱۳۰
[2] هـمـدغه . مخ ۱۲۸
[3] هـمـدغه . مخ ۱۲۸

دا د زړۀ پـــــه مېــــدانونو
همېـــشه ګرځـــي شهـــسواره [۱]

تـــورې ســتر ګې ئـــې ګـــولۍ دي
خطـــا نـــۀ ځـــي لـــه ګـــوذاره [۲]

بـــې ژړا ئـــې بـــل راحـــت د زړګـــي نـــۀ وي
لونـــد ګرېـــوان آهونـــه كـــاږي لكـــه كنـــډه

زړۀ بـه ئـې څـۀ رنـګ غوښـې وينـې ژړا نـۀ كـا
د فـــراق اوښـــې پـــه ســترګو تـــړي ډنـــډه [۳]

دلبـــره تـــۀ چـــې ابـــرو كمـــان لـــرې
د لنـــديو پـــه دود بـــه ئـــې تـــل كـــشان لـــرې [۴]

د شـــهباز ســترګو ئـــې دا هـــسې خـــوئي دے
چـــې پـــه نظـــر د زړونـــو ښـــكار لـــري [۵]

---

۱ ديوان احمد شاه ابدالي . مخ ۱۲۰
۲ هـــمــــدغه . مخ ۱۱۹
۳ هـــمــــدغه . مخ ۱۱۲
۴ هـــمــــدغه . مخ ۱۸۸
۵ هـــمــــدغه . مخ ۱۸۲

ACKU

د بـاز پـه دود کاتـهٔ بـه همېشه زمـا د یـار ؤ
تـل ئـې منګلـې سـرې د زړونـو پـه ښـکار وي[۱]

چـې شـهباز د تـورو سـترګو ئـې نظـر کـا
لـور پـه لـوري عاشـقان ئـې شـهیدان وي

تـور بانـهٔ غـشي چـاپېر د تـورو سـترګو
تـر سـر تېـر دي دا د تـور آهـو ښـکاریان دي[۲]

چـې مئـین د تـورو چـشمو
ګـوره تـل هغـه پـه دار وي

مخـامخ عجـب شـان راغلـه
سترګې ګولۍ بانهٔ مسمار دي[۳]

مخـامخ راغلـه ریـړې
رنـګ ئـې ګـل سـترګې ګـولۍ

---

[۱] دیوان احمد شاه ابدالي . مخ ۱۷۹
[۲] همدغه . مخ ۱۷۱
[۳] همدغه .. مخ ۱۲۰

تورې زلفې ئې کمند دي
د عاشق دي سرزندی

دوه ئې لېچې مصری تورې
تل وهي د سرمری

خود پرسته پري وشه
تل په زړهٔ کوي بازی

مخ ئې نمر سترګې ګلونه
که په سترګو قصابی[1]

ژړونه بې اوره کباب پیلي
ستا د مژګانو په تورسیخونه[2]

د عاشق په ښکار راغلیه
خال دانه زلفې دامونه

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي . مخ ۱۵۸ ، ۱۵۹
[2] همدغه . مخ ۱۴۷

ACKU

د شمار منت راباندې
مخ نهٔ ئې لرې کړهٔ تارونه[1]

آهو چشم ګل بدنه
تل په زړونو تاخت کوینه[2]

لیندې وروځې بانه غشي
پر عاشق ئې ګزارونه

لونګین ئې دے په غاړه
په زړهٔ کاندي رفتارونه[3]

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي . مخ ۱۴۲
[2] همدغه . مخ ۱۳۹
[3] همدغه . مخ ۱۳۸

# د احمد شاه بابا

# په اشعارو کښې د وطن او قام مینه

د احمد شاه بابا په شاعرۍ باندې د وړاندې نه په دویم باب کښې تفصیلي ذکر شوے دے. او هلته د هغوي د شاعرۍ په حقله بحث وړاندې شوے دے. په دې باب کښې د هغوي د کلام نه مونږه مثالونه راخلو. چې د هغوي د وطن او قام سره څرنګې بې حده مینه وه.

د پښتو نامور محقق او استاد علامه عبدالحئ حبیبي په خپل کتاب "پښتانه شعراء" کښې د احمد شاه ابدالي له کلام نه د وطن او قومیت په مینه کښې یو غزل راوړے دے.

ستا د عشق له وینو ډک شول ځیګرونه
ستا په لاره کښې زلمي بائیلي سرونه

تا ته راشمه زړګے زما فارغ شي
بې لتا مې اندېښنې د زړه مارونه

ACKU

که هر څو مې له دنیا ملکونه ډېر شي
زۀ به هېر نۀ کړمه ستا ښکلي باغونه

د ډیلي تخت هېرومه چې را یاد شي
د دا خپلې پښتونخواه د غرۀ سرونه

د رقیب د ژوند متاع به تار په تار کړم
کۀ په توررو پښتانۀ کړي ګذارونه

د فرید[1] او د حمید[2] دور به بیا شي
چې زۀ اوکاندم په هر لوري تاختونه

که تمامه دنیا یو خوا تۀ بل خوا ئې
زما خوښ دي ستا خالي تش ډګرونه

احمد شاه به دغه ستا قدر هېر نۀ کا
که اونیسي د تمام جهان ملکونه

---

[1] فرید خان ته اشاره ده چې لوئے پښتون بادشاه ؤ - د شېر شاه سوري په نوم د ډیلي پ تخت ناست ؤ - د همایون مغل بادشاه نه ئې تخت اخستے ؤ - هغه ایران ته تښتېدلے ؤ -

[2] حمید خان لودي د ملتان بادشاه ؤ - عادل ، مدبر د شاعرانه مذاق خاوند حاکم ؤ -

دا اشعار ما د احمد شاه بابا په دیوان کښې اونهٔ موندل .او د پښتو اکېډیمۍ لائبرېرۍ کښې چې کومه قلمي نسخه ده .په هغې کښې هم نشته.

پښتو اکېډیمۍ پېښور یونیورسټۍ چې د احمد شاه بابا کوم دیوان شائع کړے دے .ددې په دیباچه کښې مرتب (قاضي هدایت الله) د دوئي دوه ابیات راوړلي دي .او حواله ئې په حاشیه کښې ,,پښتانهٔ شعراء،، ته کړې ده[1].

علامه عبدالحئ حبیبي[2] اروابناد په خپل مهم کتاب پښتانهٔ شعراء کښې دا اشعار درج کړي دي .دا شعرونه واضحه په میتهر ردم (وزن) پوره دي .د حبیبي مرحوم د نګرانۍ لاندې د احمد شاه بابا دیوان د پښتو ادبي ټولنې شائع کړے دے.

احمد شاه بابا یو ځائے د مړینو د یو بل سره د اتحاد وینا کوي.

مـــړني لـــه مـړنیو سره ښهٔ وي
مړني که یک تنها وي بې تقریبه[3]

مراد دا دے چې مړنیو لره د یو بل مرسته او تړون ضروري دي .که یو مړنے یک تنها وي .نو هغه نزدې والے ، کامیابي نهٔ شي تر لاسه کولے کومه چې مطلوب وي .د ننګ ډېره مننه کوي .او د بې ننګۍ غندنه کوي.

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، مخ ع
[2] د پښتو د شعر و اب تاریخ مرتبه شېر افضل خان برېکوټي ، مخ ۲۳۳
[3] هـــمـــدغه ، مخ ۲۰

چې سر ستا په ننګ وبائیلي
د هغو ولې ژړا ده

په ننګ مړ خوشئ مړ نهٔ دے
د بې ننګ ژوندون جفا ده

هر مېړهٔ چې شي بې ننګه
پلار ئې سپے دے مور ئې غوا ده

لاس به وانخلم له ننګه
که په ننګ پاتې دنیا ده

بې ننګي د یار ننګ نهٔ ده
بې ننګي ئې مدعا ده

چې سر پرېکړي احمد شاهه
د هغو مینه رښتیا ده[۱]

ننګ هم د پښتني ژوند دپاره یو لازمي جز دے او څنګه چې پښتون د غېرت او وفا نه بغېر پښتون نشي کېدے دغسې بې ننګه هم په پښتني معاشره کښې غندلے شي او ورته په سپک نظر کتلے شي۔

---

[۱] دیوان احمد شاه ، ص ۱۱۴ـ۱۱۵

او بیا د بابا ننګ او مړانه خو منلې شوې ده نو شعرونه به ئې څنګه ددې اظهاره خالي وي ـ په دې ښکلو اشعارو کښې احمد شاه بابا د ننګ او بې ننګۍ په حقله جوتې او واضحه خبرې کوي ـ د پښتنو د یو والي په حقله وائي :-

پښتانهٔ دې توره لاس سره یو کاندي
چې مو غزا هر لوري شا و خوا ده[1]

یو بل ځائے احمد شاه بابا په خپلې تورزنۍ فخر کوي ـ وائي :-

اے احمده دنیـــا تـــېره په هر چا ده
ستا په توره به بل وخت فخر پښتون کړه[2]

بابا ښکلې خبره کړې وه واقعي د احمد شاه بابا د تورې د تورزنۍ، د قام دښمنه خلقو بېخکني ، د مذهب اسلام د دښمنانو سرکوبي اوچقول ، د مرهټه ؤ په سرکوبۍ بې حده بهادري داسې پیاوړي اعمال دي چې پښتانهٔ پرې فخر کړي ـ پښتانهٔ خو لا پرېږده چې د دنیا همه مسلمانانو په هغه فخر کړے دے ـ ګنډا سنګهـ ئې بې کچه تعریف کوي ـ وائي چې هغه لوئے فاتح اوکشور کشا ؤ ـ د انتظامي صلاحیت خاوند ؤ ـ لوئے مدبر ؤ عظیم ایشیائي قوم ته ئې نوې ژوند او ولوله ورکړه ـ زهٔ په دې فخر کوم چې ما د پټهانانو خدمت اوکړو ـ او د احمد شاه غوندې د یو پیاوړي انسان ، عظیم انسان دژوند حالات مې اولیکل[3] ـ

---

[1] دیوان احمد شاه ، ص ۱۲۸
[2] هـــمـــدغه ، پښتو اکېډیمي ص ۱۲۸
[3] هـــمـــدغه ، ګنډا سنګهـ ، ص ۲

یو بل ځائے د وطن ارمان کوي - وائي

دا جهان ډېـــــر پــــرې نازېږي
احمد شاه د خپل وطن ارمان که[۱]

دا شعر ئې معلومېږي چې په مسافرۍ کښې وئيلے دے - غالباً چې دے په هندوستان کښې ؤ - ددهٔ په کارنامو همه خلقو فخر کولو - او بابا د خپل وطن ارمان کوؤ.

احمد شاه بابا يو زيرېدلے قهرمان ، مهربان ، قائد ، مېړنے عسکري او د پښتون قوم يو بې بها او نامتو ، د قدر وړ ، پياوړے په ټول جهان کښې فخر پېدلے پښتون فاتح او باچا ؤ - د خپلو فتوحاتو په بابله وائي -

په برېښنا د توري ژوند کوه احمده
د بري جـــولان په لور د هر ديار کا[۲]

د شعر مفهوم دا دے چې هغه ځان ته خطاب کوي چې اے احمد شاه د تورې په برېښنا ، شرقا ، ځلا کښې خپل ژوندون تېروه - هر چرته چې ځې ، فاتح ، بريالے او وړاندې اوسه.

همدا رنګې احمد شاه بابا له افغانستان څخه د هغه زمان يو ستر طاقت جوړ کړهٔ چې سرحدونه ئې له آمو څخه تر عمانه او له پيشاپور څخه تر اباسينه رسېدل - خپل قام ته د دښمنانو د دسيسو او سازشونو په مورد کښې داسې خبردارے ورکوي.

---

[۱] د پښتو د شعر و اب تاريخ ، پښتو اکېډيمي ص ۱۲۸
[۲] اوسنے افغانستان د خپل جوړښت په بهير کښې ، ص ۲۹

خان بـه ویښ کړو هرې خوا ته
هرې خوا تـــه دښمنـــان دي
یـــو پـه بل مو سره وژني
وائي خپل یــو ، غلیمان دي

دلته پښتنو ته تهدید کوي چې خیال کوئ چې دا تاسو ته چې وائي خپل یُو دا په اصل کښې د دوستۍ په لباس کښې د پښتون قام دښمنان دي[1].

د علامه اقبال شعرونه د ابدالي تر عنوان لاندې په جاوید نامه کښې په داسې ډول دي.

تـــن زمـــرگ دل دگرگـــون میـــشود
در مـــسا مـــاتش عـــرق خـــون میـــشود

از فـــساد دل بـــدن هـــیچ اسـت و هـــیچ
دیـــده بـــردل بنـــدو جزبـــر دل مـــه پـــیچ

آســـیا یـــک پیکـــر آب و گـــل اســـت
ملـــت افغـــان در آن پیکـــر دل اســـت[2]

یعني چې زړهٔ مرګ تن بـل شان شي . ددهٔ په مساماتو کښې وینه خوله شي . د زړهٔ په فساد تن بدن هېڅ نهٔ وي سترګې په زړهٔ اوتړه د

[1] اوسنے افغانستان د خپل جوړښت په بهیر کښې ، مخ ۲۹
[2] جاویدنامه . ۱۹۲۴

زړۀ نه بغېر بل څۀ پرې مۀ نعاره . ایشیا د اوبو او خاورو یو پېکر دے. د افغان ملت په دې پېکر کښې زړۀ دے.

اقبال د ابدالي با با په حقله دا شعار هم وړاندې کوي . منظومه ترجمه ئې اولولئ. ترجمه پروفېسر تقویم الحق له خوا شوې ده.

په بدن دې تا پوره شاهي قبا ده
دې تاسورے زمونږ خاورې ته کیمیا ده

بادشاهي ستا په وجود ځان سنجوي
ملک و مال دې تا جلال حصار وي

اے د فتح و ظفر پنګې ستا له ذاته
دبدبه د احمد شاه د تخت شوه زیاته

دا آبدار خنجر چې دے دې تا تر ملا
تیارۀ شپه ئې سحر کېږي په برېښنا [1]

اقبال دا هم وائي :- ( منظومه ترجمه ) د هغۀ په مزار اقبال ولاړ دے.

د هغه روشن ضمیر بادشاه تربت
چې له زړۀ ئې یو ملت شو را اوچت

---

[1] د مثنوي مسافر منظومه ترجمه ، ص ۲۵۴

سپين گنبد ئې خپل حرم گڼه اسمان
نمر سپوږمۍ ئې له فروغه دي روښان

د فاتح غونډې امير دے صف شکن
لري حکم په اقليم هم د سخن

د تلاش په خونډ ئې پورته کړو ملت
فرشتې ئې درود وائي په تربت[1]

احمد شاه ابدالي يو صاحب عزم مجاهد ؤ چې د علامه اقبال دعميق فکر د دائرې نه بهر نهٔ ؤ ـ په عالم بالا کښې ئې د خپل مرشد رومي په معيت کښې د لويو لويو خلقو سره تصوراتي ملاقات کړے ؤ ـ چې په هغو کښې احمد شاه ابدالي هم ؤ ـ د علامه اقبال د کتاب جاويد نامه پښتو ترجمه د امير حمزه شنواري د پښتو شعر و ادب يو بې مثاله خدمت دے ـ

علامه اقبال د ابدالي په حق کښې وائي (منظومه ترجمه)

هغه ځوان ملت چې ئې کړهٔ جوړ سلطنتونه
پس شو بيا مېشتهٔ په خپل غرونو بيابانونه
اور ئې چې بل شوے ؤ په غرهٔ له ډېره زوره
اوسوزېد که اووتو سوچه له دغه اوره

[1] د مثنوي مسافر منظومه ترجمه ، ص ٢٥١

ابدالي د اقبال په خوله خپل قوم ته پیغام رالیږي . ( د اقبال د شعرونو منظومه ترجمه له حمزه خان شنواري له خوا )

ختمه کښې زمونږه تب و تاب چې دے د زړۀ دے
خاورو کښې چې ګوري بیداري او خواب له زړۀ دے
زړۀ چې شي فاسد نو راته وایه بدن څۀ دے
بې له درده بل خواهش چې اونکړي زړۀ بښۀ دے

زور کۀ دے په دین کښې د مقامه د وحدت دے
چرته چې وحدت شي راڅرګند هغه ملت دے[1]

احمد شاه بابا په خپل کلام کښې د پښتني صفت پت په حقله وائي :-

مرګے ښۀ دے په دنیا کښې
نه چې څوک شي بې وفا

سر په تیغ پریکړے ښۀ دے
تر بې پته په دنیا

چې ئې سر په مینه کېښود
هغه یوره محبوبا

---

[1] د مثنوي مسافر منظومه ترجمه ، ص ۲۵۰

ACKU

# د احمد شاه بابا
# په شعر کښې رومانیت

د احمد شاه بابا په شعر کښې د رومانیت یوه درنه ښکلې برخه ده. د مجاز یو دریاب دے چې بهېږي. د محسوساتي عالم خوند تر لاسه کېږي. د معشوقاتي صفاتو چپې په مخه بهېږي. حېراني هم راځي چې ګوره دې صوفي منش بادشاه ته ګوره. دا د تصوف په خوږو کښې د مالګې بحث عجیبه هم ښکاري. خوند هم ورکوي دا معلومېږي چې د مجاز روماني اشعار ئې په هلکوانې کښې وئیلي دي. او هر ګاه چې هغه بادشاه شو او د نامتو صوفیانو سره ئې تعلق پیدا شو. نو په شعر کښې ئې د تصوف رنګ په ډېر جوت رنګ راجوت شۀ. او د مجاز په ژبه په روماني انداز حقیقت راسپړي. دا خبره د بابا د کلام نه پوره واضحه او راښکنده ده چې ددۀ په کلام کښې د مینې روح روان دوان دے. دا مینه د ډېرو انواعو ده. مذهبي، قامي، وطني، نسلي هم ده. او معشوقاتي، جمالیاتي، رومانوي مینه هم ده. وائي:-

اے احمده تا چې مینه په ځان پور کړه
نو وفا کړ د دنیا فاني رباط[1]

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي، ص ٧٩

دده اصلي مينه حقيقي مينه ده . د حقيقت وينا كوي . ځانله ئې يو مخصوص طرز دے . په مجاز كښې د زلفو ، مارانو د سپينو مخونو ، اننګو ، شنو خالونو ، سپينو ښاغونو ، پېزوان ، چمن ، مرغزار ، ګل لالا ، نرګستان ، زنخدان ، د باز سترګې ، بېلتون ، شراب ، رقيب ، زنخ ، طبيب ، كباب ، ساړه آهونه ، د بېلتانه خدنګ ، د بېلتانه تېغ ، حباب ، اوښكې وغېره ټكي ډېر راځي . د احمد شاه بابا دا ښكلے انداز دے . چې جمالياتي رنګينې خبرې كوي نو يكدم ترې وحدت ، حقيقت ته اودانګي . د مجاز اوحقيقت دا يو بل سره غاړه غتې كېدل اكثر زمونږ مخې ته راځي .

په خوا راغلــه محبوبــا
عجـب ښـكار كـه دلربــا

هـره چـار پـه مكـارۍ كـا
عاشـق خونـه كـا فنـا

دا پـه خپـل حسن غـره وي
پـه عاشـق پريـوځي بـلا

عـلاج نـه لـري عاشـقه
پريكـړه سـر پـه تيـغ د ,,لا،،

کـه تـهٔ سـر پرېکـړې راشـې
دا بـــه ؤینـــې ,, اعلـــی ، ،

رقیبـــان دي پـــه دا لار کـښـې
وایـــه تـــل ,, لاحـــول ولا ، ،

کـه تـهٔ خـلاص شـوې لـه رقیبـه
کـړې بـــه سـېر الـــی الله[1]

و بورجـل تـه دې ولاړ دي تـور هتیـان سـتا
تمـامي خـونې پـه حکـم دي روان سـتا

لکـه مـست پړانګـان د غـرهٔ پـه سـر ولاړ وي
د هـــاتي ولاړ دا هـــسې مهوتیـــان سـتا

د عـشق طـوق ئـې پـه ګـردن درتـه ولاړ دي
همېـشه د ,, هـو ، ، نـارې کـړي قمریـان سـتا

احمـد شـاه څکـه نـارې سـتا پـه دربـار کـا
چـې نیـولې د ې د حسن پـه فرمـان سـتا[2]

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، ص ٦

[2] همدغه ، مخ ٨

ډېرو شاعرانو د محبوب د اندامونو صفتونه
په خپلو شعرونو کښې کړي دي خو د احمد
شاه بابا انداز بېخي جدا دے.

احمد شاه بابا د معشوق د اندامونو عجيبه صفات د دنيا د مظاهرو سره تړي. مثلاً زنخ (زنه) دې آب حيات غوندې ژوند ورکوي. او غاښونه دې داسې دي لکه چې سحر خندا کوي.

آب حيات دې له زنخ معلومېږي
له غاښونو صبحدم کوې خندا[1]

د اشنا د مخ تشبيهـ د گلستان سره ورکوي . اود مخ او د جسم د څنو اندامونو دا رنگې سمون د خارجي اشياؤسره راولي :-

بهـار راغـے بيـا پـه مـخ د گلـستان سـتـا
خزان تېر شو اوس هوس کړم په بوستان ستا

سـتـا د بـاغ گلونـه واړه آراسـتـه دي
زړۀ بلبـل نـارې وهـي پـه باغـستان سـتـا

رنـگ د داغ ئـې د عاشـق لـه دلـه واخـست
څکـه رېږ دے د لالـه پـه لالـستان سـتـا

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، ص ۱۰

که تشبیه د نرګس نهٔ وے ستا له سترګو
خیال به چرې که لالا په نرګستان ستا

په خندا مې بې بلبله ژړا چا کړه
له ګلناره چې خاندي په نارستان ستا

له اندوه د دنیا به فارغ نهٔ شي
مګر شي احمد ګوښه په کوهستان ستا[۱]

یعني ستا د مخ په ګلستان بهار راغے. د زړهٔ بلبل چې ګلونه ستا د باغ اولیدل نو نارې ئې شروع کړې. د عاشق د زړهٔ د داغ ئې رنګ واخست او ستا په لالستان او لاله زار کښې د ا څومره ګلونه د لالا رازرغون شول. اشنا ستا د سترګو تشبیه د نرګس سره شوې ده. ستا به نرګستان لاله کله خیال راولي. د اشنا اننګي. شونډې لکه د انار د غوټو دي.

مخ ئې څهٔ دے یو انارستان دے په هر لور ترې خندا رابرسېره ده. په دې خندا به بې د بلبله څوک ژړا کوي. احمد شاه کهٔ ستا په کوهستان ګوښې، یوازې پرېوتهٔ نو هیله به د دنیا له غمه فارغ شي. دلته د کوهستان نه ښکلې راوتې د غرهٔ شان څېزونه مراد دي. چې د عاشق غم ورکوي. په قافیه او ردیف کښې په مناسب ترتیب د سین ( س ) اواز تهول غزل کښې یو عجیبه خوند

---

[۱] دیوان احمد شاه ابدالي، ص ۱۱

پېدا کړے دے. دا قسم فني کمال د احمد شاه بابا په ډېرو غزلونو کښې شته دے. دې نه علاوه انداز بيان او رنګ ئې رحمان بابا سره لږي. مخکښې بحث شوے دے لکه:-

تۀ چې ماته وائې اے دلبره بې وفا
ولې تۀ نۀ ګورې دا خپل جور و جفا

زۀ بې وفا نۀ يم ستا په عشق کښې که باور کړې
واغوسته لاله زما له وينو سروپا

ستا له حسن ياره د بل حسن نۀ سمېږي
ګله برابر دي د ارذالو شرفا[1]

احمد شاه بابا په خپلو روماني شعرونو کښې د علت او معلول استعمال ډېر راوستے دے. لکه چې وائي:-

چې دلبرو ته خدائے حسن د ګل ورکړۀ
ترو به ولې چغار نۀ که عندليب

دا په حسن ډېره ډېره ښائسته ده
زړۀ مې ځکه ځله کاندې بې ترتيب[2]

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۱۳
[2] همدغه ، ص ۱۲

د دلبرانو حسن لکه ګل شهٔ نو عندلیب هم راغے سره د چغاره ۔ حسن بې کچه ښائسته ؤ ۔ نو د زړهٔ بې ترتیبي ځکه راغله ۔

تــا وینښ کــړے یــم لــه خــواب
اے د زړهٔ چنـــــګ او ربــــاب

د زړهٔ فریاد ، چغار تر دومره حده اوچت ؤ چې زهٔ راویښ شوم ۔

خلقــــې ئــــې کــــړې خرابــــې
جــــوړ د زړونــــو ده قــــصاب[1]

لکه چې معشوقه د قصاب غوندې ده خلقې ( معشوقان ) ځکه ترمې ترمې او کټ کوټ شول ۔ عاشقان زخمي زخمي شول ۔

محبوبــا مــې لــه ازلــه ښائــسته وه
په ښائست ئې سیالي څو کوي مهتاب

دلته اهمه خبره کوي چې زما محبوبا له ازله ښائسته وه ۔ حسن ئې قائم دائم ؤ ۔ چرته دائمي ښائست او چرته عارضي ښائست لکه د سپوږمۍ چې کمېږي زیاتېږي ۔

کــه تمــام عــالم ئــې واړه طبیبــي کــا
د عــشاقو بــې معــشوق نــهٔ وي طبیــب[2]

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۱۷
[2] همدغه ، ص ۲۰

یعني د عشق مرض داسې مرض دے چې ددې علاج د دنیا طبیبانو سره نشته. دا علاج معشوق سره دے.
رقیب روسیاه ته په مخه ژړا کېږي. ولې د هغهٔ په ژړا څهٔ. د هغهٔ کار خو ژړول دي. او په ژړولو هم د هغهٔ زړهٔ نه سړېږي. په ژړا د هغهٔ نه خلاصے نشته.

مخ دې زیړ، زړهٔ دې تور سکور شهٔ په ګل کښې
په ژړا ژړا خلاص نهٔ شوې له رقیب[1]

د جدایۍ عذاب د زغم جوګه نهٔ دے وائي:-

تهٔ که شې خبر د جدایۍ له عذاب
تور به هر ګز نهٔ کړې آشنائي له هره باب

د آشنایۍ د نتیجې نه عاشق خبر نهٔ وي چې په دې کښې سخت بېلتون او هجران راځي. او دا عذاب د برداشت قابل نهٔ دے. که چا ته دا پته وے نو ولې به ئې آشنائي کوله. عاشق که هر څومره اوژاړي بیا هم محرومه وي.

زهٔ غریق د خپلو اوښیو په دریاب یم
بیا په دا دریاب کښې تږے لکه کب[2]

دومره مې اوژړل چې په اوښکو کښې ډوب یم ولې په دومره اوبو کښې هم تږے یم. د کب په شان یم چې بې اُوبو ئې ژوند ممکن نهٔ

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۲۱
[2] همدغه ، مخ ۲۲

دے .داسې زۀ او ژړا لاژم ملزوم يو .هم د دې شعر نه پس بابا په مايوسۍ کښې د امېد څۀ رڼا هم ورکوي.

بې زحمته راحت نۀ دے چا موندلے
د مچۍ په دود له ځانه خوره رطب

چې د عشق د يار په ژرنده بنۀ اوړۀ شي
د حنا په دود به يوسې خپل مطلب[1]

يعني تا اوژړل ، تکليف دې اوچت کۀ .اوس ممکنه ده چې د محنت ګبين او شات درته تر لاسه شي. مچۍ ته د محنت ثمره حاصله شي. نکريزه هله پېدا شي چې بنۀ مېده شي .مينه د غرۀ نه هم زياته درنه وي وائي :-

مينه د يار غر سره هيچا نۀ ده تول کړې
دوه کۀ سره تول شي ده درنه د مينې ختمه[2]

د مينې رنځورتيا څومره درنه وي. سړے د لاڈو بادو اوباسي.

زۀ هسې بورا وم چې به تل د ګل په ور وومه
مينې دې رنځور کړم پرېوتم د زړۀ له کتمه[3]

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۲۲
[2] همدغه ، مخ ۲۳
[3] همدغه ، مخ ۲۳

آزاد بورا ووم ـ زۀ ووم او د ګلونو په دنیا کښې اوسېدم ـ دا رابانديې ځۀ اوشول ـ چې په مینه کښېوتم ـ اوِ د هر ځۀ نه اووتم ـ په روماني شعرونو کښې ئې د موازنې نه ډېر کار اخستے دے وائي :-

په وصال کښې ئې قرین ووم د بلبلو
په هجران قرین د زاغ یم الغیاث

مخ د یار لکه ډیوه هجران مې شپه ده
په دا شپه اوس بې چراغ یم الغیاث[1]

په دې شعرونو کښې د زاغ و بلبل ، هجران او وصال ، د یار مخ ، جدائي ډیوه او شپه عجیبه تطابق (Comparison) لري ـ

د مینې تر لاسه کېدل ، د معشوق وصال آسان نۀ وي ـ د معشوق په زلفو کښې چې څوک اونخلي نو دا ځۀ کانې کوي ـ بابا د دې ځۀ ښکلے بیان کوي ـ

دا د زلفو له تاراج
اخلي سر و مال په باج

څو په وکړې تۀ ذکرونه
مکر وزې ، له رواج

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۲۴

که سر و مال پرې کېږدي
دا په هېڅ نهٔ ده محتاج

تعلق د زلفو هسې
مئين هېڅ نهٔ شي اخراج

مينې چرې په لاس ؤځي
که سل حجه وکړي حاج

نهٔ په زرو نهٔ په زور شي
بادشاهان باسي له تاج[1]

دلته د زلفو د تاراج حال بيانوي. عاشق سر و مال بئيلي. په ذکرونو هم نهٔ کېږي. په حجونو هم نه، نهٔ دولت پکار راځي نهٔ زور طاقت. په زلفو کښې چې أُنختې نو ددې د خلاصېدو هېڅ حيله پکار نهٔ راځي.

د معشوقې د راتلو، د ځرګندېدو څهٔ عجيبه کيفيات دي په څهٔ شان راځي. واؤرئ.

شهسواره له سمند
عجب راغله سپين مړوند

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي، ص ۲۲

وه زیرکه خودپسنده
هم له عقله دانشمنده

مخامخ دغه ده راغله
د چا خون ته آرزومنده

چې پېزوان ئې سرې لنبې کا
زړهٔ سیزي لکه سپند

توري زلفې په مخ زانګې
څوک به خلاص شي له کمند

بدرنګ نهٔ ده چې مخ پټ که
له ډېر حسنه څې څرګند

له غافله پلونسي
ده غنچه د یاسمند

صنوبر به لاخجل کا
چې ښکاره کا قد بلند

خوږ گفتار ئې زړونه خپل کا
خوله ئې ډکه ده له قند

که د خولې و داد پرې وکړې
احمد شاه کړې سربلند [1]

په دې غزل کښې ډېر رومانیت په جاري توگه بیان شوے دے. د محبوبا ډېر صفات راجمع شوي دي. او دا صفات په داسې انداز بیان شوي دي چې د محبوبا حسن د سترگو وړاندې شي ښکلې عکاسي ده. تاثیر هم لري او رېښتینې هم. د محبوب شهسواري، سپین مړوندونه، زیرک توب، خود پسندي بیان شوې ده. په داسې شان راځي چې خدائے خبر د چا چا خون به اخلي. پېزوان ئې سرې لنبې وهي او په دې اور کښې زړونه لکه د سپېلنو د دانو سوزي زلفې ئې لکه د کمندونو زانگي. څوک به ترې خلاص نشي. بدرنگه نۀ ده ښکلې ده. نو ولې مخ پټ کړي. په غفلت کښې تلونکي راتېنگ کړي داسې ئې راتېنگ کړي لکه د چنبلي غوټۍ پلۀ رانسي. د صنوبر ونه ئې قد ته حېرانه ده. خوږې خبرې لکه قند و نبات کوي. خوله ئې گویا د مصرو ډکه ده. که احمد شاه ته یوه خوله ورکړې نو څومره اوچت به شي.

د لذیذ ردیف لاندې څنې خوارۀ شعرونه به درته لذت درکړي.

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي، ص ٣٢

ACKU

خوښ په مینه یم د خپل شها لذیذ
ما خو مینه ده څکلې ستا لذیذ

عاشقي که ده په بخره د رندانو
په رندۍ کښې وړې ما ده بیا لذیذ

که پیاله د زهرو وي هم د شکرو
زهٔ د زهرو پیاله اخلم دا لذیذ

کهٔ ترخه پیاله ښهٔ نهٔ وي د شرابو
چا به څهٔ کړه د ساقي مینا لذیذ

چې د ګلو بوئې لري رنګ ئې د میو
ساقي راکړه هسې جام و ما لذیذ

تهٔ هم غوږ په ترانه کړه اے مطربه
ښهٔ په ما لګي دې تا صدا لذیذ

دغه نفس به د پتنګ په څیرې پرېږدم
عشق که اور دے تر ګلزار په ما لذیذ

ACKU

که د مینې په اور مې شوم باري څۀ شو
چې په ما تر ژوندون مرګ دے لالذیذ

که مې ژوند په اشنا باندې فنا کېږي
دا فنا په ما تر دا بقا لذیذ

آشنائي او غم سره دي له ازله
شاه احمده د یار غم په ما لذیذ [1]

یعني دا ستا مینه خومره مزېداره ده. چې ما څکلې ده. عاشقي د رندانو مئنو شراب خورو په برخه رسېدلې ده .او زما غوندې رند خو څۀ لابله مزه اخستې ده .د زهر او د شکرو په پیالو کښې زۀ دزهرو (عشق) لذیذه پیاله غوره ګڼم که د شرابو ترخې پیالې خلقو ته خوږې نۀ لګېدې نو د ساقي د لذیذې صراحې خواهش به چا څۀ کولو .اے ساقي ماله هغه جام راکړه چې بوئې د ګلو او رنګ د مئیو لري .اے مطربه لږ ساز اوچېړه دا راباندې ښۀ لږي .د پتنګ په شان به ځان قربان کړم .د عشق دا اور ماته د ګلزاره هم خوږ دے .که زما ژوند په آشنا فنا شي نو ددې ژوند نه مې دا فنا خوښه ده.

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، ص ۳۴

آشنائي او غم له ازله را روان دي ـ احمد شاه د يار غم په ما خوږ لګي ـ په يو غزل کښې څۀ ښکلې خبره کوي ـ چې د يار په مينه ځوک مړېږي نه ـ وائي -

کـــۀ پـــه يـــار مئـين ئـې ډېـر
نـــۀ شـــي زړۀ مئـــين برســـېر

کـــۀ پـــه يـــار زۀ برابـــر شـــم
خـــراب زړۀ نـــۀ شـــي دلبـــر

مخـــــامخ راتـــــــه ولاړه
نـــۀ شـــو وړے ديـــده ســـېر

د يـــــار مينـــــه ده ګلونـــــه
د اغيـــار مينـــه ګنـــډهېر

زړۀ مـــې دغـــه شـــها وړے
پـــه ګـــردن زلفـــې چـــوپېر

دا پـــه حـــسن ښائـــسته ده
هـــم تـــر درســـت جهـــان راتېـــر

پــــــرور ده ددې ګلـــــــشن ده
ســپینه خــوا یـــه لکـــه نمیـــر

احمــد شــاهه تــهٔ نــور بــس کــړه
بــې لـــه یــاره ګــړه نــور هیـــر [1]

په دې اشعارو کښې ښکلې نقشه ده . اشنا ته ګوري مړېږي نه . زړهٔ ورتیا نهٔ راځي . چې هر څهٔ تر لاسه کړي . ښهٔ راته مخامخ ده ولې سترګې پرې نهٔ مړېږي . ډېره بې حده ، بې کچه ښائسته ده . د ګلشن پرورده ده د نمر غوندې سپینه خوا لري په مطلع کښې په آخر کښې دا مجازي رنګ د حقیقت اشاره هم ورکړي او هم دا د باباد رومانیت ښکلا ده . احمد شاه بابا په اشنا هر څهٔ قربانوي . سر هم . سلطنت هم وائي :-

دواړه څـــار شـــه تـــر دلبـــر
هم مـې سر هـم مـې کـشور

زړهٔ دې دغـــې نــاوې وړے
چـــې ځلیـــږي لکـــه نمـــر

[1] دیوان احمد شاه ابدالي . ص ۳۲

لکـه لـښته وښـښېږي
تـورې زلفـې مـشک عنبـر

سـياهي د تـورو زلفـو
پـه دا سپـين مـخ د مـر مـر

عاشـقان ئـې پـه اور اوسـول
سـور پـېزوان لکـه اخګـر

زړۀ تـه کلـه پنـد وايـۀ شـي
مـخ ئـې نمـر سترګـې ګـوهر

طـراري او مکـاري کـا
لاس ئـې تـورې وهـې سـر

پـه سـرونو صـرفه نـۀ کـړي
د عـشاق کـاږي ځيګـر [۱]

په دې شعرونو کښې د محبوب صفت د ے چې د نمر غوندې رڼا راوړي .د لښتې شانې ښغـه ده .تورې زلفې لکه د مشک و عنبر دي (خوشبودارې) د تورو زلفو تقابل د سنګ مرمر غوندې سپين

[۱] ديوان احمد شاه ابدالي . ص ۳۷

مخ سره ډېره اثر لري ـ د سور پېزوان بيا بيا ذکر کوي ـ دے پېزوان خلق ستي کړل ـ د دې اشنا نه چې مخ ئې نمر دے ـ سترګې ئې ګوهر او ملغلرې يا لعلونه دي خلق څرنګې په پند منع شي ـ اوګوره طراري او مکاري ئې هم بنسئ چې تورې چلوي او سرونه پرېکوي ـ ځيګر هم چورلتېرا اوباسي ـ ډېر د فريب نه ډک قاتل محبوب دے د عاشق ايمان دا وي چې دے تل په ديدار خوښ وي ـ دلته دحقيقت خوند هم تر يو حده زړه او ذهن ته حاصل شي ـ

مئه کړه بې ياره بل کار
کار بې ياره څئه پکار

دا مذهب د عاشقۍ دے
کا بې ياره سرے خوار

د ايمان د عاشق دا دے
چې تل خوښ وي په ديدار

دين ايمان د عاشقانو
بنسئه د يار چشم و نګار

عاشق خوار وي که زردار وي
د يار مينه زر دينار

خواري غم ، ښادي له عشقه
عشق هم نور کړم هم نار [۱]

يعني د عاشق دپاره بس معشوق هر څۀ هر څۀ دے .د عاشق ايمان دا دے چې د يار په ديدار تل خوښ او سرشار وي .عاشق که غريب وي که موړ يا مالدار د يار مينه خو په څو څو چنده بې بها ده . عشق هر څۀ هر څۀ وي .هم خواري هم ښادي هم نور دے هم نار هم تريخ دے هم خوږ.
د بابا يو بل ښکلے روماني انداز اوګورئ :-

بيا د جنګ په شانې راغلې زۀ پوهېږم ستا په طور
د عاشق کور به تالاکړې څۀ پروا لرې د جور

د مخ حسن دې آفتاب دے شغلې کاندي په ملکونو
د هر ملک تيارۀ شوه ورکه ياره ستا د مخ په دور

---

[۱] ديوان احمد شاه ابدالي .   ص ۳۸

که دې حسن بیا په ښکلي څېر ښکاره کړه اے دلبره
د باغ گل قدمبوسی ته خوله غنچه کاندي بالفور

د عاشق په زړهٔ به بیا منگلې سرې کړې پرې پوهېږم
چې د خیال شاهین دې هسې شان زهٔ وینم لکه بور [۱]

بابا په اوږد بحر کښې د معشوق د جور خبره هم کوي . د بې بها حسن تعریف ئې هم کوي. د ړنا خورولو وېنا هم کوي. د استقبال خبره هم کوي چې د گلونو غوټۍ ئې قدمونه ښکلوي . د عاشق دزړهٔ خېر نشته ځکه چې د خیال شاهین ورته امزرے شوے دے. حمله کونکے دے.

بابا د معشوقې د ښکار عمل ښئ وائي . دا ښکلے انداز ، رواني او سلاست اوگورئ :-

زمـا زړهٔ گـوره چـا یـوړهٔ
پـه دوه و زلفـو لیلـی یـوړهٔ

ځکـه دے شـو بـې آرامـه
چـې د زلفـو بـلا یـوړهٔ

[۱] دیوان احمد شاه ابدالي . ص ۳۹ ، ۴۰

د جهان په مخ دې مخ کړم
مخ ئې مخ د دنيا يوړۀ

دا کتاب زما د سترګو
يو سېلاب د ژړا يوړۀ

څۀ بازار چې مې د زړۀ ؤ
نن ستا حسن په غلا يوړۀ

ما وئيل چې مينه نۀ کړم
زړۀ بې واکه شها يوړۀ

مينه نۀ وي چې ارام وي
د زړګي آرام تا يوړۀ

دلاور د يار په مخ ووم
زړۀ حيا بې حيا يوړۀ

دا تمام عالم بنادي کا
احمد غم د آشنا يوړۀ[1]

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، ص ٤١ ، ٤٢

ACKU

ځومره صفا آسان روان رومانوي خونده ور انداز دے وائي هر ځۀ تا يوړل مينه ، زړۀ ، آرام ، د زړۀ حيا خوشحالي ، هر ځۀ لاړل ، آشنا يوړل . دومره بنائسته مخ دے چې هر مخ ئې يوړۀ . هره آبروئې يوړه د اشنا د ډېر قتل و غارت ذکر کوي . بابا تورزن دے . مجاهد دے نو تشبيهات ئې هم قاتلانه اړخ لري . مخ ئې سخت قتلول کوي .

دا پـــه زړونـــو مـــړه نـــۀ شـــوه
ګوشـــت خـــوري کـــه لکـــه بـــاز

دا د مـــخ تعريـــف ئـــې څـــو کـــړم
مـــخ ئـــې سـيند ســترګې جهـــاز

دا پـــه حـــسن کـــچ روي کـــا
هـــم روش ئـــې تاخـــت و تـــاز

دغـــه خـــوار عاشـــق بـــه څـــۀ کـــا
زړۀ مـــــزرے ســـــترګې د بـــــاز

دے پـــه ســـرو لنبـــو ګـــډ ېږي
تـــر ســـر تېـــر دے جـــان ګـــداز[1]

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي. ص ۴۲ ، ۴۳

تشبیه استعاره ئې کله کله ډېره خونده وره وي .څۀ مثالونه ملاحظه کړئ.

په سپین مخ دې توري زلفې دي تاؤ کړې
ښاماران دي جوړ چندڼ د پاسه ناست

که ګلان دي او که شمس و قمر یاره
په همه ؤ کښې زما دلبر دے پاس

د شهباز په دود دې تاج چې په سر کښېخود
مئین زړونه په ریا شو له وسواس [1]

په خنجر د تورو سترګو وینې توئې کړه
دا په ذات کښې بې پروا ده له قصاص

په اخلاص د جانان اوسه احمد شاه
چې د زرو ځائے به نۀ نیسي رصاص*

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي . مخ ۴۴

* رصاص . سیکه . داب . ویلې کړي سرۀ زر

په یاری کښې تول د زړونو نهٔ شي
تول هله شي چې په ذات کښې لري غش[۱]

زهٔ احمد په زړهٔ ذره یم ستا و مخ ته
کهٔ ښکاره کړې د خپل مخ د نمر شعاع

چا د بېلتانهٔ خدنګ خوړلې زیړ ځېلې
څهٔ شو په صورت که روغ په زړهٔ ګنه ناچاغ

ستا په دم به مې دم روغ شي اے نسیمه
که د یار له لوري راوړي بیا سیراغ (سُراغ)

مخ د نمر او د سپوږمۍ ځکه زیړي شو
چې خبر شو ستا د مخ په طمطراق[۲]

نور مثالونه :-

دل آرائي عطر سائي
نهٔ ئې وینم دل بلاک

---

[۱] دیوان احمد شاه ابدالي . ص ۴۵
[۲] همدغه ، مخ ۵۱ ، ۵۳ ، ۵۲

معشوقه مې آهو چشم
کجروي ئې له افلاکَ

شکر لبه سیم غبغبه
زما خونه په تالاکَ

یار شیرین لکه شیرینه
فرهاد ځکه ځان هلاکَ

رنګ رنګ ګلونه ډېر دي
ولې داغ په کښې لاله کا

چې ځان جوړ زما صنم کا
نمر په خپله د ځان ذم کا

اوس به بیا دلبر د حسن جوړ بازار کا
عاشقان واړه خریدار د سپین رخسار کا

پر چمن به بیا لاله کا پیالې جوړې
خوار بلبل به په مستۍ ددې ګلزار کا

بې له ياره مې بهار په سترګو اور دے
که هر څو د غمژن غم ورک سرغزار کا

په ريشتني بازار تل قلبې کوته څي
سخ د هغو چې چې مخ سپين دا بازار کا

که هر څو سړے په زيب او په زينت سره ښائسته وي
چې نظر د ښښتن نهٔ وي څهٔ به زيب څهٔ به وقار کا

کيلې سترګې له عاشقه څخه زغلي
د هوسۍ په دود چې تېښته په کوهسار کا

د مئينو بيا هم خوښ هغه ساعت دے
چې معشوق ئې په سرباندې منت بار کا

هيڅ يو کار په زخمي زړهٔ نهٔ شي دلبره
هغه زړهٔ چې په يار روغ وي هله کار کا [1]

او لړ د ,,شوخ و شنګ،، دا رديف ئې اوګورئ څومره خوندور دے -

---

[1] ديوار احمد شاه ابدالي . ص ۵۷ تا ۶۳

زړۀ مې هسې په تا باندې تازه کېږي شوخ وشنګ
لکه ګل چې د سپرلي چرې غوړېږي شوخ و شنګ

د خاطر غبار به څۀ غوارې زما له دوارو سترګو
چې سپين مخ دې لکه نمر غوندې ځلېږي شوخ و شنګ

د بېلتون تيارۀ به هله دا زما د خاطر واخلي
که سپين غاښ په سرو لبانو کښې مسېږي شوخ و شنګ

د ,, جنګ پر جنګ ،، رديف هم يو انفراديت لري :-

د ښو غشي ئې تل تر تله ؤرې
چرته ځم له دې بارانه جنګ پر جنګ

که د صيد په دود شم غلے نۀ خلاصېږم
له شهي ابرو کمانه جنګ پر جنګ

د احمد شاه بابا په کلام کښې د استعاراتو ، نادرو تشبيهاتو ګڼ مثالونه شته او ځائے په ځائے وړاندې شوي .دا نور مثالونه هم اوګورئ :-

خوار بلبل همېش ناله به په ګل نۀ کړه
ولې ګل خو ستا له رنګه دے ګلرنګ

بادشـان ئـې پرېباسـه لـه تـاج و تختـه
چې د عـشق لـښکرې راغلې ښنګ تـر ښنګ

احمد شاه عشق د يار چې شين مزرے دے
خلاص بـه کله شـې د شـين مـزري لـه جنګ

لـږ وصـال ؤ خـو دا زړهٔ مـې پـرې تـازه ؤ
هجـران پرېکـړهٔ د وصـال د بهـار بـرګ

د ببلتـون غـشې بـه کلـه زمـا هېـر شـې
زوې وينـې ئـې تـل ځـي تـازه تـر سـترګ[۱]

په يو غزل کښې ,, ستا د مخ پر ګل ،، رديف ښکلے دے. قافيه نۀ لري. ازاد دے
زۀ بلبـل عاشـق د ګـل يم بلبـل سـتا د مـخ پـر ګـل
په هر ځائے کښې چې ګلزار وي مئين ستا د مخ پر ګل

بـاز د سـترګو دې زۀ يـوړم لـږ نظـر وکـړه دلـبـره
کـه شـهيد شم شـهيد ښـۀ يم بيـا دا سـتا د مـخ پرګـل

---

[۱] ديوان احمد شاه ابدالي . ص ۲۴ ـ ۲۵

زۀ هوس بې خپله یاره د هېڅ باغ او چمن نۀ کړم
که هوس کړم نو هوس مې یاره ستا د مخ پر ګل

بیا بهار د عاشقانو دا د یار د منخ ګلزار دے
اور دے ګل ګلزار مئین یم یاره ستا د مخ پر ګل

که له زمکې تر آسمانه جهان واړه سره ګل شي
نۀ رسېږي په ښائست کښې دغه ستا د مخ پر ګل

محبت لمبې کا دا زما زړګے پرې سوځي
تل مې زړۀ په لمبو سوے دغه ستا د مخ پر ګل

زۀ احمد بادشاه په دا له خپله ځانه په ځان خوښ یم
چې مئین تر خپله ځانه زۀ یم ستا د مخ پر ګل [1]

هم دا رنګې عجیبه ردیفونه ډېر په نظر راځي لکه ,, ریحان زلفې سنبل ، ، ,, ګل ځۀ ګل ، ، ,, لاله دل ، ، ,, ښائسته کاکل سنبل ، ،
ستا د مخ ولاله زار ته ګل ځۀ ګل
ستا د حسن چمن زار ته ګل ځۀ ګل

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي . ص ۲۲ . ۲۷ . ۲۹

تــه مغمــوم داهــسې چــاکړې لالــه دل
د يــار مينــې پــه غوغــا کــړې لالــه دل

مــښک بويـه عنبـر مويـه ، هـم لـه خويـه ده خوشخويه
خــوښ زبانــه ، مهربانــه ، ښائــسته کاکــل ســنبل

ښې خبرې د پېزوان دي ، چې تل زړونه پرې سوزان دي
ښـهٔ مـسند ئـې چې لبـان دي ، ښائـسته کـا کـل سنبل[1]

د يار وصال د کاميابۍ غږ څهٔ داسې کوي ـ ډېر خوشحاله او په چرت کښې ښکاري ـ

نــن بيــا هــسې د ګلــزار پــه ننــداره ځــم
چــې لــه يــاره ســره خــوښ همکنــاره ځـم

تــورې سـترګې سـرهٔ لبـان او شـنهٔ خالونــه
ســتا د لــب پــه ميــو مــست او مــستانه ځـم

مــسته ونــه د چنــدڼ زلفــې ئــې مــاران دي
رقيبــان کــه غــاښ چيچــي ســر افــرازه ځـم

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، ص ۷۰

چې رقيب د رقيبانو خدائې فنا کړو
په تېولي د ښو يارانو همواره ځم[1]

د وصال دا وخت به خو کله نا کله وي ولې اکثر عاشق خو خراب وي. او په التجا او خواست بوخت وي. د حقيقت وينا په کښې هم او کړي.

راشه نن سينه کباب يم
ومې ګوره دل خراب يم

زۀ مقتول د نور چا نۀ يم
ستا د سترګو د قصاب يم

زما ژوند دي د تا ديدن دے
بې ديدنه په عذاب يم

ستا د حسن له حېرته
تل په غتهو سترګو خواب يم

لر د حال مې کړه پوښتنه
بند د زلفو په طناب يم

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۷۳

دا زما هستي له تا ده
هم په تا سره کامياب يم

ساقي جام د مئيو راوړه
غرق د اوښکو په درياب يم

ستا د مئيو له شربته
مست د سترګو په شراب يم

ځو مې دا مستي په سر ده
زه بې غمه له حساب يم

دا جفا د يار قيامت دے
د بېلتون په اور کباب يم

يار مې ګل د نوبهار دے
په ژړا احمد سحاب يم[۱]

بل ځائے وائي :-

[۱] ديوان احمد شاه ابدالي. ص ۷۴ . ۷۵

که هر څو په زړه نادان یم
ستا د زلفو قدردان یم

چې ئې نه وینم غمجن یم
ګویا زه بېد لرزان یم

یو څو ورځې مې رضا کړه
جانه څو ورځې مهمان یم

که هر څو په بهار درومم
آخر پانې د خزان یم[1]

لړ دا رنګ ئې هم اوګورئ -

دا سفر په زوره نهٔ شي چې ئې وکړم
مګر یار پسې د زړهٔ شړی که لنګ کړم

معشوقې دې زور ورې باور نهٔ که
که د زړهٔ په وینو دوه لاسونه رنګ کړم

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۷۵

په خپل زړهٔ مې باور ؤ چې خم به نهٔ که
ولې سترې د کړو وروځو دې جنګ کړم

سېلاب اوښکو زما مخ لکه درياب کړو
د اوبو په مخ کاتهٔ لکه نهنګ کړم [۱]

اولږ دا حال ئې اوګورئ. ډېره قرباني ورکول غواړي. هر څهٔ په داؤ کوي.

زړهٔ به څرنګ بيمار نهٔ وي
چې په زړهٔ زلفو تار تار کړم

زړهٔ مې تورو زلفو بند کړو
اوس ارمان د سپين رخسار کړم

دغه ګل دې د رخسار دے
په زړهٔ داغ دې لاله زار کړم

زهٔ اودم ووم خبر نهٔ ووم
د بلبل نارو بيدار کړم

---

[۱] ديوان احمد شاه ابدالي. چاپ ص ۷۸

و اشنا لره به درومم
دا خپل سر به ور نثار کړم

که مې سر ورته نثار کړو
یار له ځانه منت بار کړم

د اشنا چې سر پکار وي
بې وئیلو به ئې ترې جار کړم

اے احمده که یار مل وي
په رقیب به زهٔ ناتار کړم[۱]

دا ئې هم یوښکلے او زړهٔ راښکونکے روماني انداز دے ډېره روانې لري

زهٔ حیران دا ستا د مخ نګارستان کړم
بیا دې قتل د دوه وروځو باغستان کړم

دلبر ځائے دې موندهٔ نهٔ شي چې وګورم
بېلتانهٔ دې لېونے په کوهستان کړم

---

[۱] دیوان احمد شاه ابدالي. ص ۷۹

دواړه وروځې د باغي، خال که وهنه
هم اسير دې د رخسار په رنګستان کړم

لاله ګون رخسار دې تورو زلفو پټ کړو
مخ ښکاره کړه ډوب د زلفو شبستان کړم

د پېزوان لنبو دې ووېستم له خوابه
بې ديدنه څه روزګار په نارستان کړم

دا د خپل زړه حال به څه ووايم چاته
زه په پته خوله ناري تل په نيستان کړم[1]

ګويا محبوبا څه ده نګارستان يعني د ډېرو معشوقو مجموعه ده. د قتلؤنکو اندامونو قتلستان ده. د نورو څيزونو له کبله د حبشيانو يو ملک دے. د زلفو شبستان، د لنبو نارستان دے او د عاشقانو زړونه لکه نيستان دي يعني د شپېلو د ونو ځنګلې دي په مخه چغې سورې وهي احمدشاه بابا ډېر رومانوي رنګونه لري -

زه د يار په لوري لکه باد هسې اوترځم
هم په ډېر تعظيم سره د ناز د زړه په سر ځم

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي. ص ۸۳ ـ ۸۴

زۀ لکه کرکنده چې په ځان ذره ذره شوم
تل جدا جدا د جدايي په خنجر ځم

هېڅ ونۀ پوهېږم د ديدن لورې دې کوم دے
زۀ لکه بورا د ګل د بوئيو په اثر ځم

ستا ديدن دلبره د غمګين د زړۀ اختر دے
مخ راته ښکاره کړه چې زۀ تل به دا اختر ځم [1]

يو رنګ ئې دا هم دے . ځان په يو دوامي حالت کښې مومي . د اشنا سره ضم وي تل په غم وي .

اے دلبره هميشه دې ستا په غم يم
په هجران کښې ستا له غم سره همدم يم

د زړۀ بوټے مې ترې په فراق کښې
په امېد ستا د وصال د ښکلي نم يم

ستا دا مينه لکه ګل زۀ لکه بوئې يم
څو دا ګل دے زۀ همېش ورسره خم يم

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي . مخ ۸۵ ـ ۸۶

ستا د وروځو ولیندو ته چې سم ګورم
که هر څو یم په زړه تېنګ په صورت خم یم

د احمد لاڅې په خوله نه دي په زړه دي
خدائے دې نه که چې په مینه تر چا کم یم[1]

په دې اشعارو کښې د صنم کېدو ، یو ځائے کېدو رنګ دے .لکه ګل او بوئې چې سره یو ځائے وي داسې دے هم د یار سره تړون لري .د ,, حقیقت ،، رنګ هم ورکوي .د ځیګر د داغ څه داسې اظهار کوي.

زۀ دردمن دا ستا په درد یم چې مدام په ځیګر داغ بږدم
چې تۀ نۀ ئې خدائے دې نۀ کا چې قدم په لور دباغ بږدم

ستا د مخ په څېر دے یاره ځکه زۀ ئې دا عزت کړم
چې په سر باندې د فخر همېشه لاله د راغ بږدم

بل ځائے وائي .ستا مینې راته یو لوړ مقام یو انفرادي حېثیت راکړۀ.

څو مې ستا د بنو غشي دي په زړۀ باندې خوړلي
د زخمي مرغۀ په څېر له خپله سبله اوس کنار یم[2]

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي . ص ۸۷
[2] هـــمـــــــدغه . مخ ۹۱

او دا شعرونه ئې هم څومره د خوند دي.

ستا کاتهٔ لکه د باز دي زړونه ریږدي
که سم ګورې زهٔ به زړهٔ درته حضور کړم

چې ستا تیغ مې تل په غاړه راځکېږي
ځکه سر په باغ کښې هسک لکه کجور کړم[1]

,, پېزوان ،، د پښتنو یو په زړهٔ پورې ، ښکلې زړهٔ راښکونکې کالې دې. احمد شاه بابا ئې ځکه په دیوان کښې بیا بیا ذکر کوي. دا شعرونه په یو غزل کښې راغلي دي.

عالم سپزي پېزوان
دا د سرو لبانو ,, خان ،،

تهٔ د ځانه خبر نهٔ ئې
چې څهٔ اور دې په لبان

خلقې دې په اور اوسوې
په لب پروت د اور په شان

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي . ص ۹۲

که ئې زېب د لبو ته ئې
ښکلې زانګې اوېزان

ته د شونډو حفاظت کړې
د خولې هم ئې نګهبان

تر سالو پورې ښکاره ئې
دائره ئې له آسمان

عجب زړونه دي کباب کړل
په مزه مزه خندان

عجب سهم دي ساتلې
چې شاهان دي کړۀ بې شان

اے صنمه رحم بویه
عاشقان پراته بې ځان

کشتګان به دي تازه شي
پلؤ واخله ناګهان

ACKU

په خندا که ورته ګوري
احمد شاه به شي شادان[1]

یعني پېزوان هم زبردست قاتل دے. او دا شعرونه هم دمزې دي. د مختلفو غزلونو نه مې انتخاب کړل.

زړۀ مې سره رېږدي بیا هډونه مې سکارۀ شي
پانه مې د عمر ستا له غمه شوه لرزان

زما د زړۀ له داغه دا لاله لا خبر نۀ ؤ
خبر شو چې له حاله نو ژړا کا په بوستان

د هغو په مخ تیارۀ کله رادرومي
هر چې ویني نمر د مخ دا ستا روښان

کۀ د زړۀ داغونه اخلي زۀ پوهېږم
په خندا به لاله زار شي کوهستان

څو مې درد دا ستا د مینې دے نوش کړے
له سوا نه ماسوا یمه جان جان[2]

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي. ص ۹۲ ـــ ۹۳
[2] همدغه. ص ۹۳ ـــ ۹۴

احمد شاه باباد خوبرویانو ، معشوقو صٔفتونه اکثر په شعرونو کښې په ډېر خوند رانغاړي.

زۀ صفت کړم له جانان
اے رقیبه څه له میان

ده خوشخویه پري رویه
سپینه خوله لري خندان

دلفریبه ده خوش زیبه
د عاشق ده قدردان

شکرلبه سیم غبغبه
سرۀ لبان در دندان

گل عذاره لاله زاره
عجب خوښه ده له ځان

سنبل مویه عنبر بویه
هم مسته ده بې شان

قدر ناکه عطر بویه
زړهٔ دي ولې دے نالان

ده نمکینه مخ زرینه
او سینه ئې بخَرستان

دلداره ، عطر سایه
خوش غاړي غزل خوان

بدخویه کج رفتاره
مئین تل تري نه نالان

خندا نه خوش دندانه
دُر اوري له دندان

دلربایه منو کمره
د قیامت لري نشان

سروِ قده سمن خنده
څوک به رسي له دي شان

آهو چشمه او شوخ رنګه
زلفان ئې دي ماران

سحر کره ، ښېوه کره
خلقې ترې نه لرزان

خوش ژبې ، مهربانه
دُر شيندي له زبان

خونريزه ، جنګ انګېزه
دل آزاره دلستان

لب رېزه ، شکر رېزه
او په زړهٔ ده مهربان

ګل اندامه خوش خرام
آرام اخلي له جهان

نازنينه ، ناز برداره
د عاشق د زړهٔ سامان

ای سبحانه مهربانه
د شاه احمد شي نګهبان[1]

په دې غزل کښې د عجيبه صفاتو اجتماع او غنډه په نظر راځي . د خلوت يوه روماني نقشه وړاندې کوي . چې د بابا د غزلونو يو خاص رنګ دے .

يو څه عجب ساعت ؤ
زما ستا سره خلوت ؤ

د مخ زيب لکه ګلونه
زړه بلبل پکښې رخصت ؤ

د ديدن په مينه مست ؤ
له رقيبه فراغت ؤ

د هجران له ډيره سوخته
نن ديدن پر دۀ جنت ؤ

چې هما ئې په سر راغے
دا ساعت دا سعادت ؤ

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي . ص ۹۲ ـ ۹۷

زړۀ به ولې هوس نه کړه
چې پرې تل د غم هيبت ؤ

په هغه چې يار نظر کړي
درست جهان ئې فراحت ؤ

دا ديدن داد الهي دے
هسې نه چې يو جهت ؤ

په يوۀ نظر و يار ته
فراموش له ما جنت ؤ

يو بې مثل يار زما ؤ
زيات تر ګلو ئې زينت ؤ

ډېرې سروې د چمن دي
زما يار ترې خوش قامت ؤ

د ديدن مې کړۀ سېلونه
شيرين يار لکه شربت ؤ

ACKU

چــې و حــسن تــه ئــې ګــورم
شــمس قمــر نــه دے اوچــت ؤ

احمــد شــاه بــه څــهٔ تعریــف کــړه
درســت عــالم ئــې پــه صــفت ؤ [۱]

په دې غزل کښې د صفاتو يو سپرلے په نظر راځي او د حسن داسې ښېرازه سپرلي د احمد شاه بابا په کلام کښې ځائے په ځائے راجمع کړے شوي دي. چې د بابا د مشاهدې د ژورتيا اندازه ترې لګي. د محبوبا د صفاتو يوه بله نمونه

چــې پــه حــسن مهيــا ده
دا د زړونــو محبوبــا ده

ګــل بــه څــهٔ ســيالي ددې کــا
دا تــر ګلــه هــم زيبــا ده

دا رعنــا ده کــه زيبــا ده
تــر همــه ؤ دا بــالا ده

---

[۱] ديوان احمد شاه ابدالي. ص ۹۹ ـ ۱۰۰

دا خوشبويه عطرناکه
دلفريبه دل ربا ده

پري رويه ماه پيکره
د آفتاب په څېر عليا ده

شکر لبه سيم غبغبه
موکمره يک تنها ده

دا ولاړه يک تنها ده
نن د سوؤ زړونو غلا ده

د غنچې غلا به ئې څوک کا
چې چاپېره اژدها ده

لېندې وروځې بانه غشي
په زړهٔ سخته تر خارا ده

په تېرهٔ خدنګ ئې ولي
د عاشق کومه سزا ده[۱]

---

[۱] ديوان احمد شاه ابدالي. ص ۱۱۳

ACKU

د صفاتو یو بل هجوم ملاحظه کړئ . ګلونه تړې د حسن خپر غواړي

دا دلبره نه قلاره
ده مشکباره ګلعذاره

نازنینه پري چهره
ده راغلیه له ګلزاره

توري سترګې ئې ګولی دي
خطا نهٔ ځي له ګوزاره

عاشقان ئې زخمي کړي
جوړ ده سروه د جوئباره

دواړه زلفې ئې کمند دي
ویره نهٔ که له آزاره

سوري کړي ئې دي زړونه
لامړه نهٔ ده له ښکاره

ACKU

دا د زړه پــــه میــــدانونو
ګرځیـــدونکي شهـــسواره

چــي دا هــــسې ښائـــسته ده
شــرم ســتا ښـــائي ګلـــزاره

ګــل بــه ولــې نــه شــرمېږي
هــزار ګــل ئــې لــه رخـسـاره

ګــل بــه حــسن ځنــې پــور کــه
کــه خبــر شــي لــه ســینګاره

پــــه اور اوســــوزې پېزوانـــــه
کــــه لمبــــه شــې لــــه انګــاره

تــه دیــار پــه شــوندو پــروت ئــې
خبــــر نــــهٔ ئــې لــــه کوکــاره

دلربـــــا ئــــې نــــاز پـــروره
خـــوش نغمـــه ئــې موســـیقاره

ACKU

بـــل پنـــاه د احمـــد نـــشته
مـــل ئـــې شـــې پروردګـــاره[1]

یو بل عجیبه رومانتیکي انداز چې مصرعې یو بل پسې تکرارېږي دې ته په فني اصطلاح کښې ردالعجز وائي - په شا تلل ، اعاده کول ، روستوني تکي بیا راوستل .

دلبـــره خـــوش خرامـــه
پـــه حـــسن ده تمامـــه

پـــه حـــسن ده تمامـــه
زړۀ ئـــې یـــوړۀ بـــې آرامـــه

زړۀ ئـــې یـــوړۀ بـــې آرامـــه
دا د عـــشق لـــه سرِ انجامـــه

دا د عـــشق لـــه سر انجامـــه
عاشـــق شـــو تـــل ناکامـــه

عاشـــق شـــو تـــل ناکامـــه
دا د سرو شونډو لـــه جامـــه

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ص ۱۱۹ ـ ۱۲۰

دا د سرو شونډو له جامه
زړه له مئيوبې آرامه

زړه له مئيو بې آرامه
عجب خاندي ګل اندامه

عجب خاندي ګل اندامه
نن راکوزه شوه له بامه

نن راکوزه شوه له بامه
هغه مسته ګل اندامه

هغه مسته ګل اندامه
عاشق وليده تمامه

عاشق وليده تمامه
په خندا له الف لامه

په خندا له الف لامه
احمد وليده تمامه[1]

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي . ص ۱۳۴ ــ ۱۳۵

د احمد شاه بابا د صفتونو د اجتماع داسې غزلې نورې هم شته چې د بابا د فني کمال او قدرت اندازه ترې لګي. د نون په قافيه په مخه داسې قسم غزلې دي. په دې غزل کښې د اندامونو د ښکلا ښکلې زړه راښکونکے بيان دے. ډېرې د خوند او مزې خبرې دي.

ښائسته د باغ ګلونه
په مخ زيب کا ښنۀ خالونه

څۀ عجيبه نازينه
تورې زلفې مه جبينه

سيمين تنه عنبربويه
تخت سينه لکه بالينه

د دلبرو سپين مخونه
ګوره زيب کا ښنۀ خالونه

مصرۍ تورې ئې لاسونه
غوځوي همېش سرونه

څـهٔ عجـب دي رخــسارونه
ښائـسته پـرې شـنهٔ خالونـه

پــه چنــدن لړلــې غــاړه
پــرې څړيــړي ښــامارونه

دا سينه ئې عجب تخت ده
سـپينې خـوا ئــې انارونـه

د ولاړې صـــــــــنوبر دي
سـرې سـترګې ئـې ګلونـه

ســـروې قـــده نازنينـــه
سـپين چـوړا ئـې مړوندونـه

مخــامخ راغلــه زيــړې
رنګ ئې ګل سترګې ګولې

د مينـــو زړهٔ ئـــې يـــوړهٔ
پــه هــوس لکــه هوســـی

دوه ئې ليچې مصرۍ تورې
تـــل وهـــي د ســـر مـــرۍ

خـــود پرســـته پـــرۍ وشـــه
تـــل پـــه زړۀ کـــوي بـــازۍ

نازنينـــــه ده دلجويـــــه
لـــه هـــر چـــا کـــوي يـــارۍ[۱]

يوبـل رنـګ د خونده ور رومانيت منظر (لـونګين ، سينه ، قند و شکر . شونډې، د غوړونو ملغلرې ، ستورې ، سپوږمۍ ) دا قسم اشعار او غزلې د هغه شاعر کار وي د چا د مشاهدې قوت چې تيز او د تخيـل زور زيـات وي او ورسره ورسره د اظهـار قـدرت هـم بې مثاله لري.

سـخ د آئينـې د ے چـې دې تـل و مـخ تـه ګـورې
سـخ د لـونګين د ے چـې دې پـاس پـه سـينه ښـورې

نـۀ دي ســتا پــه غــوږو غتــې مرغلــرې
وصل دي سپوږمۍ سره په يو سر بل سره ستورې

---

[۱] ديوان احمد شاه ابدالي ، ص ۱۳۷ تر ۱۲۸

روغ مې کړه له رنځه چې د خولې ښېرې دې واؤرم
شهد و شکر راکړه چې مې ستا شونډې وزورې

زه که ډوب په غم يم تل دې ډوب يم چې عاشق يم
تا دې خدای دلبره تل له هرې بلا ژغورې

ظلم دې د دوؤ سترګو هر ګوره په ما زور شه
څه کړم توان مجال د زور او زر لرې کمزورې

ما وته ارزان دې بيا تر مشک و تبر عنبرو
څوک که تورې خاورې ستا د پلۀ په بها پلورې

درومې ستا و لور ته په ارمان ارمان کاته که
سپين تې په کاته شو احمد شاه د سترګو تورې [1]

نور مثالونه :-

ستا د خيال شهباز دې وينم په هوا ځي
ګوره سرې منګلې بيا په زړۀ د چا ځي

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ص ۱۲۹

عجب تېغ د محبت دې د ے سازلے
چې دا تېغ همېش په زړۀ د خپل اشنا خي

سرۀ لبان د يار دي پان د عاشقانو
هم هغه به ئې زېبني چې تير تر سر وي[۱]

د معشوقې يو شان بيانوي .چې د ښکار پوره سامان د زلفو ، د رفتار ، د سترګو د وروځو لري.

په دا شان په لاله زار ځي
در پوهېږم په آزار ځي

بيا دي حسن آراسته کۀ
د ښکاري په دود په ښکار ځي

دوه دې زلفې په مخ دام کړې
له عاشقه بيا کنار ځي

دا دي واړه ستا پندونه
چې تل کجه لکه مار ځي

---

[۱] ديوان احمد شاه ابدالي . ص ۱۸۰

دوې دې ستر ګې قصابي کړه
د سرونو په بازار ځې

دواړه وروځې دې لیندې کړې
بیا د زړونو په ناتار ځې

وه هر وچاته معلومه
خوئي مجنون په زړۀ هوښیار ځې

ښتا د غقل کمے نشته
که د عقل په مدار ځې

اے احمده توکل کړه
که رښتیا په لور د یار ځې[1]

د معشوق یوبل شان او خوند ـ دخپلې بېقرارۍ وجه څه ده ـ د معشوق بې کچه ښائست د بیان انداز ئې څومره زړۀ راښکونکے دے ـ د بابا شاعرانه عظمت لږ ملاحظه کړئ.

ګوره بیا په سرۀ ګلزار کښې
لاله رنګ په سپین رخسار کښې

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي . ص ۱۸۴

لـــونګین ئــي تــل پـــه غـــاړه
بلبــل مــست کــا پــه چيغــار کــښي

هوســـــبرم ورتـــــه ګـــورم
خــزان ســوے پــه ناتــار کــښي

د وصـــال نوبـــت مـــي دا دے
نــن د ګلـــو پـــه بهـــار کـــښي

يـــار مـــي ګـــل او ګلبـــدن دے
د ښـر زينــت ئــي پــه رفتـــار کــښي

تــا چـــي حـــسن د ګـــل واخـــست
زړهٔ بـــه څـــهٔ وي پـــه قـــرار کـــښي

څـــهٔ عـــلاج څـــهٔ ئـــي طاقـــت وي
چـي شـها شـي پـه سـينګار کـښي [۱]

د روماني انداز يوه بله نمونه . عاشق څهٔ څهٔ غواړي په دي شعرونو کـښي بابـا دعـشق او رومـانيت حالـت او ارمـان و مـدعـا داسـي بيانوي .

---

[۱] ديوان احمد شاه ابدالي . ص ۱۸۲ . ۱۸۷

که کرم په ما د سرو لبو شربت کړي
ما به خلاص ته د ساقي له ډېر منت کړي

که د سرو لبو شربت دې يار راکړه
په خپل لاس به رقيب مړ په دا غيرت کړي

که په مينه ورته وائي ,, زمائي ،،
نو عاشق به ورعطا لوئے استراحت کړي

حلاتوړ که ډېر هوس وکه جنت ته
د احمد کـ.. کړے خوا پرې به جنت کړي [1]

د بابا د پنځوسو د پاسه رباعيات دي هغې کښې هم اکثر روماني دي

غم د يار وينم لکه بل اور دے
زړه مې کباب شهٔ لکه تور سکور دے

بې خپله ياره به څهٔ روزګار شي
ښادي بې ياره د غمګي کور دے

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي . مخ ۱۹۱ . ۱۹۲

په مخ زغلي مې د اوښکو حبابونه
چې را یاد شي د اشنا شنهٔ شنهٔ خالونه

که هر څو زړهٔ صبروم رانهٔ صبرېږي
اوس بې واکه شو د اوښکو بارانونه

د اشنا مینه مې تېرهٔ خنجر دے
د زړهٔ په جال مې د خنجر سر دے

زما د زخم مرهم به وکړي
دلبر ګنمه دننګ دلبر دے

د غم دې راغلهٔ په ما فوځونه
تاخت و تاراج شو د زړهٔ کورونه

اوس مې زړهٔ ناست خالي ګوګل یم
ځم په اشنا پسې بڼدم قدمونه

راغله راغله په زړهٔ بیا د اشنا مینه
بې اختیاره مې د زړهٔ رسی څکوینه

په هوا که پسې لاړم بیا مې نهٔ موند
څهٔ عجب دے که مې زړهٔ له غمه مرینه[1]

د احمد شاه بابا په روماني شعرونو اوږد بحث اوشو. د بابا اکثر تخیلات بار بار په تکرار سره په ابیاتو او شعرونو کښې راځي. اکثر شعرونه مکرر راشي. اکثر بندشونه په یو یو شان راځي. اکثر خیالات هم هغه وي. په هر حال د بابا د روماني اشعارو پښتګه درنه ده په روماني اشعارو کښې دتصوف رنګ ځلېږي. ځنې غزلې ښېخي د تصوف اداېه لري. اکثر غزلې دتصوفي خیالاتو سره سره د رومان امتزاج او ګډون لري. تولې روماني غزلې د رومانیت سر سټې لري ولې یو ښېت دوه ئې د حقیقت رنګ ته واوړي. او په دې د غزل خوند هم راپېدا شي. دا محسوسېږي چې د احمد شاه بابا د زلمیتوب شعرونه د معشوقې د صفاتو او د عشق د جذباتو نه ډک ؤ. وروستو بیا په دوئي د تصوف د وارداتو غلبه راغله. او کلام ئې د رومانیت په طرز د حقیقت په رنګ خړوب شهٔ. د رحمان انداز ئې اختیار کهٔ. او ورسره ورسره د ننګ و غېرت او دجنګ د مېدان سره تړلې ځنې خبرې هم په کلام کښې راننوتې. بابا په روماني مېدان کښې د شعر کافي حصه په خپل کلام کښې راوستې ده. په کلام کښې ئې د هند، د فرنګ د ترکو په حقله اشارې هم شته. د پان ذکر هم شته. د هاتهیانو ذکر هم شته. دا ددهٔ د ډېرسفر او زیاتو یونونوسفرونو او خورې مشاهدې نتیجه ده.

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، ص ۲۲۸ تر ۲۳۵

# د احمد شاه بابا
# په اشعارو کښې د اسلام او مذهب مینه

,, احمد شاه ابدالي بابا ته د احترام نه د ښو اخلاقو ، اهمو خدمتونو او د پرهیزګارۍ په سبب ټول پښتانهٔ ,, بابا ،، وائي ـ ددهٔ خطاب ,, غازي ،، دے ـ احمد شاه اکي یو بادشاه ؤ چې په افغانستان کښې ئې په سرتاج نهٔ کېښودو ـ ښکلے دستار به ئې په سرؤ ـ چپن او موزې به ئې اچولې ـ د تخت په ځائے به په زمکه کښېناستهٔ ـ د خلقو سره ئې بې د څهٔ واسطې ګډون کؤ ـ په دهٔ کښې ډېره خاکساري وه ـ د پراخ تندي سختن ؤ ـ نهٔ په کښې عیاشي وه نهٔ تجمل ؤ یعني د ځان ښائسته کولو خوښتیا ـ نهٔ په کښې د حرص بیماري وه ـ ډېر نرم سړے ؤ ـ مُثله ئې حرامه ګرځولې وه ـ یعني د پښې لاس پرېکول ـ دوئي دا هم حکم کړے ؤ چې د احترام په توګه تیتېدل بند دي ـ دوئي د خپلو خپلوانو بې ځایه رعایت او لحاظ هم نهٔ کولو ـ همه خلقو ته به ئې په یوه سترګه کتل د غېر مذهب په غړو او په مذهبونو پابندي نهٔ وه[1] ،،۔

---

[1] اوسنے افغانستان د خپل جوړښت په بهیر کښې ـ مخ ۱۱۲

دا عبارت د یوې فارسۍ مقالې نه ما ترجمه کړے دے .او ددې نه جوته ده چې احمد شاه ابدالي ښۀ مسلمان ؤ .دا بیان میر غلام محمد غبار هم کړے دے[۱].

په بادشاهۍ کښې ئې د ظلم شائبه نۀ وه .پاک ساده مسلمان ؤ .خلقو دۀ ته د ولي الله په نظر کتل .تر اوسه پورې مقبره ئې د عامو خاصو خلقو د زیارت ځائے دے[۲].

احمد شاه په مذهب مئین ؤ .د عالمانو برزګانو صحبت به ئې خوښولو .د فقیرانو درویشانو به ئې ډېر عزت کولو .د څوکنو د میاں عمر مرید او معتقد ؤ .ددۀ په اشعارو کښې د میاں صاحب تصوفي خیالات څرګند پراتۀ دي .چې په اشعارو کښې ئې جوت ارادت ښکاري .د حکومت غټ غټ منصبداران به د شاهي عزت او احترام دپاره ولاړ وو.ولې سیدان او عالمان به ولاړ نۀ وو هغوي به د هغۀ وړاندې ناست وو.ښۀ متقي وو .او دا ئې خواهش ؤ .چې د تقوٰی آخري منزل ته اورسي ،، دا الفاظ د احمد شاه ابدالي د دیوان مرتب په دیباچه کښې د ایلفنستن (Elphinstone) نه راغستي شوي دي[۳].

احمد شاه یو درویش متوکل علی الله دے .دنیا سره زړۀ نۀ تړي .شاهانه شان و شوکت نۀ خوښوي .هر څۀ د الله پاک ورکړه ګڼي .په خپل زور هیڅ غرور نۀ کوي .وائي :-

---

[۱] احمد شاه باباافغان ، مخ ۲۲ ، ۲۷

[۲] پښتانۀ د تاریخ په رڼا کښې مخ ۸۸۲

[۳] دیوان احمد شاه ابدالي ، مخ م او ن

زۀ تسخیر د ولایت د خدائے په داد کړم
په مدد د حبیب هره خوا تازه ځم

زۀ احمد دنیا فاني ګڼم چې نشته
دنیا پاتې له ایمانه به سره ځم[1]

احمد شاه بابا د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مینه کښې خپل خلاصے او بخښنه لټوي. او په ډېر تاکید سره د یقین محکم تلقین کوي وائي:-

د یقین ډیوه د عشق په لار پېدا کړه
په تور تم کښې دا یقین د زړۀ فلاح

نور عالم که نوره مدحه د جنت که
احمد شاه د ے د خپل یار د ورمداح[2]

احمد شاه بابا د قضاؤ قدر او تقدیر معتقد د ے. خپله عقیده ئې د غزل په رنګ کښې په څۀ ښۀ انداز کښې وړاندې کړې ده. وائي:-

د هر چا ده خپله بخره د نصیب
ستا په بخره ئې ژړا کړه عندلیب

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۷۳
[2] همدغه

مـادر زاد ئـې پـه دا بخـره پیـدا شـوے
کـهٔ دې بخـره د وصـال وهـم غریـب[۱]

هر کس ته ئې په ډکه خوله ښېرې کړې دي چې د چا زړهٔ د مینې نه خالي وي وائي:-

چې له عشقه خبر نهٔ وي خدائے ئې واخله
کهٔ ظاهر صورت بـادشاه د کل عالم وي[۲]

احمد شاه ابدالي بابا سره د دومره شان و شوکته خپل ځان د خوارو غریبو نه بې خبره نهٔ دے ساتلے. وائي:-

چې خـــدائے لوئې کړلې احمده
تـــل دخـــوارو دستګیري کړه[۳]

کله د بابا ځان ته هم فکر شي او په خپلو کړو کارونو نادم شي وائي:-

تهٔ چې نصیحت کوې احمده
ولې دنیا تـــا نهٔ کړه لتاړه[۴]

---

[۱] دیوان احمد شاه ابدالي ، ص ۲۱
[۲] هـــمـــدغه ، مخ ۱۲۹
[۳] هـــمـــدغه ، مخ ۲۱۳
[۴] هـــمـــدغه ، مخ ۱۲۲

داحمد شاه ابدالي په ديوان کښې مونږه ته د مذهب په حواله کافي مواد په لاس راغلي دي. په دې کښې اکثره برخه د تصوف ده. په تصوف مونږه وړاندې بحث کړے دے. د تصوف نه علاوه چې څۀ دي هغه راؤړو.

د ديوان ابتدا د حمد نه ده. دا عجيبه شانې حمد دے. د هر بيت اوله مصرعه ده.

بسم الله الرحمٰن الرحيم زما
بصر د زړۀ ده سليم زما[1]

په دې حمد کښې د بسم الله الرحمٰن الرحيم زما نه علاوه د الله د ستائينې تکي نشته. په هره دويمه مصرعه کښې د خپل ځان حالات دي. د بسم الله تعريف دے. چې دا زما د زړۀ د اقليم در دے. بصر دے، په نعيم زماباور دے. بسم الله يوه سخي وريځ ده. نور دے. دې پسې دويم نظم نعت دے. دامربع شکل کښې ترجيع بند دے. آخري مصرعه تکرارېږي.

مصطفٰی يا مصطفٰی
مصطفٰی يا مصطفٰی
په رسول ص مې زړۀ نازېږي
چې په مونږه ورحمېږي

مصطفٰی يــا مصطفٰی
فرياد رس يا مصطفٰی ص
کل امت پرې هوسېږي
فرياد رس يا مصطفٰی[2]

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي، ص ۱
[2] هـــــمـــدغه، مخ ۲

د رسول الله خصوصیات په ګوته کوي . کرم ئې ډېر دے . څوک ئې په دیدن نۀ مړېږي . بابا پاک رسول ص ته وائي چې زۀ ستا د کوڅې خاورې یم . زۀ د نغرې تورې ایرې یم . په خپلو ګناهونو شرمنده یم . د نفس په خوله ګنده یم ، سر تا پایه ګنهګار یم ، ستا مزدور یم ، اے حیا ته نبي ص ماته نظر اوکړه . زمونږه لاس اونیسه ددې التجاګانو نه پس په دې مربع کښې د حضور کریم صلی الله علیه وسلم صفات بیان شوي دي .

سترګې ئې ګلونه دي ، سپین غاښونه ئې ملغلرې دي ، رخسار ئې لاله ګون (سرۀ) دي ، وېښتۀ ئې ښائسته دي ، د مشک غوندې خوشبودار دي ، ښکلي خویونه لري ، اصحاب ئې ګلونه دي ، تر زنګانۀ ددۀ لاس رسیدل ، په غزاګانو کښې شامل ؤ ، په تسبیح ئې شونډې سرې وې ، د الله انوار ورسره وو ، قد ئې میانه بالاؤ ، سوچه ښائسته ؤ ، د الله حبیب ؤ ، د علم نه ئې سینه ډکه وه ، د حلم ئې نفس برخه دار ؤ ، د قاب قوسین مرتبه ورته حاصله شوه ، په نفس ئې تېږې تړلې وې ، په صبر ئې کُلمې نیولې وې ، وائي خوږه پېغمبره زهیر او غمګین یم دستګیر مې شې ، که تاسو توجه اوکړله ، نو زما زاري به قبوله شي ، ستا د کرم په باران به لکه د ګل تازه شم ، فریاد رسي اوفرمایئ ، څلور یاران ئې منور وو ، لکه د آسمان د زیرې نمر ؤ ، نبي پکښې هم ډېر درخشان نمر ؤ ، ددۀ له وجې دین تر ابده منور دے ، د رب ثنا کوم هغه یو دے هغه صمد دے .

زما د سترګو توري　　　　د رسول په لوري ګوري
که رسول راته وګوري　　　　فریاد رس یا مصطفیٰ

کلمه زما کره ده ، دا د اوړدې لارې ډیوه ده ، اے نبي ویرېږم الله ته به څرنګې اودرېږم ، زما فریاد واؤرې ، اے خوږه نبي مصطفیٰ علیک الصلوٰة والسلام[1]

درېم نظم د وحدت پلوشې دي.

ا احدیت دے ، ب د احدیت باور دے ، ت توحید دے ، ث د نور محمدي ثبوت دے[2].

څلورم نظم د تصوف اصطلاح رانغاړي. بقا ، فنا ، لاحول ولا سیر الی الله د هو پټکے تر ملا کړه ، او نور[3] وړاندې اوس د ځائے ځائے نه شعرونه راخلو :-

دغه عشق لره فنا نشته هیچرې
شي فاني باقي ، بقا شي هم فنا[4]

په دې شعر کښې د اُلوهي عشق خبرې دي. بل ځائے وائي :-

دا چې په زړهٔ مې ډېر وئیرې مصطفیٰ
په ثنا دې تل نازېږي مصطفیٰ

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، ص ۱ تا ۵
[2] همدغه ، مخ ۵ ، ۶
[3] همدغه ، مخ ۶
[4] همدغه ، مخ ۹

دا نظر په مونږه د بنهٔ خدائے ؤ
چې په نوم دې زړهٔ صافيږي مصطفیٰ

چې درود پر تا راغلے دے رسوله ص
وسکه زړهٔ مې هوسېږي مصطفیٰ

ستا امت نن فخر کا په تا نازېږي
ټول امت به دې خلاصېږي مصطفیٰ ص

احمد شاه به بيا هله د زړهٔ هوس کا
ستا لمن ته ئې لاس رسېږي مصطفیٰ[1]

په دې اشعارو کښې پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته پيرزوئنې وړاندې شوي دي. د حضور کريم ص صفت بيان شوے دے. دامت محمدي د مقام اوچت والے په ګوته شوے دے. د وحدت الوجود خبرې کوي.

مــا کاتــهٔ د زړهٔ مــرآة
بنــکاروم د عــشق سـمات

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي، ص ۱۳

رنګا رنګ خبرې کاندي
نامعلومه کائنات

احمد بې روحه ژوندے شو
دا روح بیل دے له یو ذات[1]

یعني زۀ د زړۀ په آئینه کښې ګورم او د الله پاک د عشق نخښې نخښانې وینم ـ ماته په دې نامعلومه کائنات کښې رنګارنګ څیزونه او احوال په نظر راځي ـ دا د الله پاک ویړ کائنات او په دې کښې عجیبه عجائبات انسان حیران کړي ـ احمد شاه ددې په لیدۀ بې روحه راژوندے شو ـ دا روح جدا دے او که دا هر څۀ یو ذات یا یو وجود دے ـ دشعر نه د تصوف خوند هم حاصلیږي ـ
بابا وائي چې صرف د الله پاک طلب پکار دے ـ عاجزي ، ایمان سپېځلے پکار دے ـ

تۀ بنده ئې خدائے دې غواړه بل مۀ غواړه
بې له خدایه ژوندون کم ګڼه تر پچ

یو یقین او بل باور ورسره واخله
د ګمان تیارۀ به سپینه کړې له ګچ

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۲۳

کمینـــي او عـــاجزي دې تـــا کمـــال ده
د نفـــس تنـــد خویونـــه مـــهٔ اخلـــه لـــه مـــرچ

هغـــه خپـــل اصـــل بـــه تـــهٔ هلـــه بیـــا مـــومې
چـــې د کبـــر گـــردن وباســـې لـــه خـــرچ

احمـــد شـــاه د همـــت تـــوره دې راواخلـــه
نفـــس شـــېطان هنـــدو دې وباســـه لـــه کـــچ[1]

دا ښکلې د مزې ایمان افروزه شعرونه دي .د ښو اخلاقو تلقین دے .د نفس چقول دي شېطان راپرزول دي .د همت نه کار اخستل دي .د الله پاک په حکم منلو کښې ژوندون که تېر نهٔ شي نو د پچې نه هم پلیت او بې خونده وي .په الله یقین راوله .او د گمان تیرې د چونې په څېر سپینې کړه .

بل ځائے وائي :-

د یقـــین پـــه غـــشي ولـــه گمـــان مـــوخ
د گمـــان مـــوخ وي پـــه هـــر دانـــا منـــسوخ

ځـــو دې لاس زمـــا وروره صـــرفه مکـــړه
ذا د نفـــس رقیـــب دې وباســـه لـــه تـــوخ

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، ص ۲۸

تکبــر دې لــه شــېطانه مــه ئــې نغــوړه
چــې پــه کبــر پــه ســروچ کــړې لکــه لــوخ[1]

دلته بیا د ایمـان ، دنفس د پرېکون او د تکبر نه د بچ کېدو غږ دے .د دال په توري کښې په مخ دوه دېرشم او درې دېرشم پرله پسې دوه نعتونه دي .په اول نعت کښې د محمد صلی الله علیه وسلم سره د مینې اظهار دے.

نـن مې زړۀ دے گرفتار د محمد ص
گرفتار دے په رخسار د محمد ص[2]

په دې نعت کښې بابا وائي چې نمر سپوږمی د نبي کریم صلي الله علیه وسلم وقار ته سرټيټوي .د دوئي ص خبرو تر فلکه جهان قابو کړے دے .سروه ددۀ رفتار ته خجله ده .شرمنده ده .احمد شاه ددۀ د ښکلې نامې نه قربانېږي .چې څۀ ورته الله اووئیل هغه ئې اوکړل.
بل نعت کښې رسول اکرم صلي الله علیه وسلم ته خواست دے .خطاب دے وائي :-

خسته زړونه آلوده دي محمده ص
نظر وکړه چې پرده دي محمده ص

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، ص ۳۲ ، ۳۳
[2] هــــمــــدغه ، مخ ۳۱

یعني اے خوږه پېغمبره زړونه آلوده او ګنده شوي دي . تهٔ پرې نظر اوکړه . چې دنجات سبب ئې را پېدا شي . مخکښې وائي چې ستا سو په نظر خاورې سرهٔ زر کېږي نو ستاسو نظر دوئي له پکار دے . ستا دښمنان په دوزخ کښې پراتهٔ دي شرمېدلي دي . په دې مناجات کښې د رسول کریم صلی الله علیه وسلم د اصحابو رضي الله عنهم صفت هم راغلے دے .

دا یاران دې تا ګلونه د بهار دي
هم په خپل علم پوره دي محمده ص[1]

په دې یارانو ستا د باغ ډېر رونق دے . مخکښې وائي -

ستا د نوره ټول عالم پېدا دے

بابا د اصلي وطن د حصول خبره کوي . او ددې شرط دا لګوي چې په اخلاص سفر اوکړه . د نفس سرونه پرېکړه . له قصاصه مهٔ وېرېږه .

اصلي وطن به بیا تهٔ مومې
کهٔ دې سفر کړے له اخلاص

احمد شاه د نفس سرونه پرېکړه
مهٔ وېرېږه له قصاص[2]

احمد شاه بابا په مخه وګړو ته پندونه او نصیحتونه کوي وائي :-

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، ص ۳۳
[2] همدغه ، مخ ۴۲

بهیدلے مې د زړهٔ وینې حیاض
که باور دې نشي وګوره حضاض

تهٔ زما پندونه واوره او غافله
دغه پسه ګوره نور کوه اخفاض

کمینې که دې عادت شوه تل تتل
د شیطان په سر به ووري رضراض

دا شیطان زمونږ دشمن دے دښمني که
ورانهٔ وي تل د پختو زړونو ارياض

نفس شیطان سره ملګري دي اوملهٔ دي
کړه د دواړو مینه ختمه په مقراض[۱]

یعني زما پندونه واوره او بیا خپله لاره د خاکسارۍ اختیار کړه
ځکه چې کمینې ستا عادت شي نو د شیطان په سر به کاڼي را
اووریږي . خیال کوه نفس او شیطان دواړه سره دیو بل ملګري دي
قینچي راواخله او دا دواړه د ځانه پریکړه . دوئي دواړه د پاکو یخو
زړونو باغچې ورانوي . ځان ترې ساته . بابا د دنیا سره تړون په حقله
وائي :-

---

[۱] دیوان احمد شاه ابدالي . ص ۴۲

دا دنیــــــا ده رو ربــــــاط
شـــمار ئـــې نــهٔ شـــي لـــه افــراط

د ځینــــــو پـــــه نکـــــاح ده
لـــه ځینـــو پـــاتې شـــوه ربـــاط

پــــــه هـــــسې اس ســـــوره ده
چـــې هـــر ګـــز نـــهٔ شـــي اســـقاط

نـــــادان خپلـــــه وګڼلـــــه
عاقـــل شـــا کـــړه لـــه اخـــتلاط

ددې پـــــاکې مـــــهٔ غـــــواړه
دا ده ډکـــــه لـــــه اخـــــلاط[۱]

په دې اشعارو کښې احمد شاه بابا وائي چې دا دنیا یوه سرائې ده. دې ته زیات زړهٔ ورکول نهٔ دي پکار. دا په داسې اس سوره ده. چې راغـورځېږي نـه .نادانـانو دا خپلـه اوګڼلـه ولـې عـاقلانو ورسـره اختلاط خوښ نهٔ کړو- ددې پاکي مهٔ غـواړه ځکـه چې دا د ډېرو پلیتیو نه ډکه ده. د دیوان ظ توري کښې یو ښکلے مناجات دے. د الله پاک نه خواست دے.

---

[۱] دیوان احمد شاه ابدالي . مخ ۴۸

نفس غلیم راته ولاړ دے ستا په لار یم یا حفیظ
تل په یاد ستا د بري په انتظار یم یا حفیظ

چې مې نفس و شیطان دواړه په مثال لکه د اور دي
زۀ خسته په دا دوه اوره گرفتار یم یا حفیظ

کۀ دا ستا نظر په ما وي زما څۀ غم دے له اوره
ولې زۀ په ویره بیا د خپل کردار یم یا حفیظ

تۀ نظر کوه دلبره چې عالم درهوسیږي
که نظر زاباندې نۀ کړې زۀ په نار یم یا حفیظ

زۀ په خپل عشق هوسیږم چې په تا باندې مئین یم
بې له تا نور نا امیده په هر چار یم یا حفیظ

احمد شاه به بیا هله په دا سیالانو سرلوري که
که منظور په نظر ستا د لوئے دربار یم یا حفیظ[1]

په دې مناجات کښې بابا وائي چې نفس لکه د دښمن راته په لار کښې ولاړ دے. شیطان ورسره مل دے. ستا نه د مدد خواست کوم. چې په دوئي برے بیا مومم. نفس او شیطان لکه د اور دي. او

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي، مخ ۴۹

دا اور رانه چاپېره دے . اے حفيظه خدايه ددې اوره مې خلاص کړې . زما ستا سره مينه ده . ټول امېد له تانه لرم چې ستا په دربار کښې قبول اوګرځم . د ښو مقابله کښې بد بې قيمته وي .

بابا په دې خبره زور ورکوي چې ښۀ وېنا ډېر ښکلے عمل دے په دې پردي بېګانه خلق خپل شي . وېنا دروغه نۀ ده پکار . رښتيا وئيل پکار دي .

همېشه دې ښۀ وېنا بويه شفيع
چې په ښۀ شي بېګانه عالم مطيع

رښتيا هر کله ترخه ، دروغ خوارۀ وي
اے نادانه تر ښۀ بد نۀ وي بديع[1]

بابا مونږ ته دا پېغام راکوي چې :

خدائے هما د لوئے ګرنګ کړې
تۀ ئې څۀ سيالي کړې زاغ

خدائے طوطي په مېوه سېر کړې
بخره ستا مرداره کاغ

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، ص ٥١

چــاچې نـــن مقـــصود ونـــهٔ غوښـــت
بيـــا پـــه خولـــئهٔ نـــسي پرمـــاغ

يعني تهٔ د آسمان هما ئې ، د بادشاهی خاوند ئې ،ولې تهٔ د کارغانو پيښې کوې خدائے د طوطي په ځېر د ميوؤ د خوراک دپاره را اولېږلې او تا د ځانه مرداره کاغه جوړه کړه ـ که نن دې مقصود تر لاسه نهٔ کړو ـ بيا به سخت پښېمانه ئې ـ ښکلے نصيحت دے ـ بابا غواړي چې انسان خپل ځان اوپېژني او ځان اعلی او ارفع ساتي ـ د سپکو لاندې خلقو پېښې نهٔ کوي ـ او هم دا د مذهب غوښتنه ده ـ انتم الاعلون ان کُنتم مؤمنين ـ تاسو به اوچت ئې کهٔ مؤمنان ئې ـ بابا د الله تعالی د قرب بيا بيا وينا کوي ـ

نحـــن اُقـــربُ اليـــه
تـهٔ نظيـر دغـه کـلاک[1]

يعني الله پاک فرمائي چې مونږ انسان ته ددهٔ د شاه رګ نه هم زيات نزدې يو ـ نو هم دا خبره ځان سره اوتړه ـ دا خبره خپله قلا کړه ـ او دا احساس هر وخت ساته په دې به تهٔ د الله شې او بديو نه به بچ ئې ـ بابا د هغه انسان غندنه کوي چې روحانيت پرېږدي او د نفس او ماديت غلام شي ـ

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، ص ۵۷

روحـــاني رفتــار دې پرېـــښو
پـه تـار د نفس بنـدني شـوې بـدرګ[1]

بابا د الله په حضور خپله عاجزه بيانوي . احسان ئې مني .

زۀ کـــه نـــن بادشـــاه يـــم
مغـــرور کلـــه پـــه خپـــل جـــاه يـــم

دغـــه ســـتا نظـــر پـــر مـــا دے
کنـــۀ خـــاورې ســـتا د راه يـــم

بيـــا هـــم ســـتا پـــه مهـــر شـــين شـــوم
مهـــر نـــۀ وي اوچ ګيـــاه يـــم

تـــۀ کـــريم ئـــې زړۀ مـــې رېـــږدي
چـــې د بـــې نيـــاز شـــاه يـــم

چـــې وګـــورم ســـتا لـــويئ تـــه
پـــه زارئ د صـــبحګاه يـــم

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۲۳.

یاره لاس احمد ته ورکړه
ډوب د خپل عمل په چاه یم[1]

ګوره څومره په عاجزۍ وائي چې زۀ که هر څو یم باچائي راسره ده ستا د مهر او نظر نتیجه ده خو زۀ مغروره نۀ یم .ستا د لوئۍ مخامخ زاري کوم.د ګناهونو معافي غواړم.

**د ذکر اهمیت** :- بابا د ذکر په خوند پوهـ دے .د لااله الاالله په ذکر ئې زړۀ تازه کېږي .دا افضل ذکر دے .افضل الذکر لااله الاالله (حدیث پاک) دا څومره خوږ ذکر دے .څومره ښکلے بیان دے . وائي دا ذکر زما هر وخت خوښ دے .دا زما د زړۀ خوراک دے .

لااله الاالله څۀ ښۀ نوم دے یا الله
لااله به تل وایم څۀ ښۀ نوم دے یا الله

هر نفس چې مې چلېږي زما زړۀ پرې تازه کېږي
په هر دم کښې چې دا وایم څۀ ښۀ نوم دے یا الله

که زۀ ناست یم که ولاړ یم همېشه په دا تکرار یم
تل زۀ خوښ په دا اذکار یم څۀ ښۀ نوم دے یا الله

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، ص ۸۸

که په صبح که په شام یم په ثنا د رب دوام یم
هم په دا د زړۀ آرام یم څۀ ښۀ نوم دے یا الله

که زۀ وینښ یم که ویدۀ یم که په لار روان یم څۀ یم
همېشه په دا ثنا یم څۀ ښۀ نوم دے یا الله

که مې روح دے که مې زړۀ دے هم دا اسم مې په خولۀ دے
قوت د زړۀ دے چې پرې پایم څۀ ښۀ نوم دے یا الله

منور په دا نوم نمر دے دغه نوم د زړۀ ثمر دے
په دا نوم احمد خبر دے څۀ ښۀ نوم دے یا الله [۱]

بابا د یقین اهمیت بیانوي ـ چې کۀ په خپل تخلیق سوچ اوکړې ـ د باطن سترګې واکړې ـ نو هر څۀ به درته عیان شي ـ یقین به دې راشي چې اے دخلورعنصرونه روغه انسانه ستاحېثیت څۀ دے ؟

دا زما د صورت خته
په څلور عنصره پته

که څلور عنصره واخلې
معرفت به کړې بې وته

---

[۱] دیوان احمد شاه ابدالي، ص ۱۰۳

د یقین وابنهٔ خوندي کړه
چې ګمان پرې کړې سکروټه

د غفلت خوبونه مه کړه
زړهٔ خبر د زړهٔ له کټه

ډ باطن سترګې بینا کړه
په یقین به وکړې ګټه

څو خبرې کړې احمده
ځائے ته وړه د ایمان څټه[1]

د یقین په حقله بې وټه خبرې دي .چې په دې ګمان ، شک ، شبه ، خیرے ختم شي .بابا انسان ته تلقین کوي چې د مچ غوندې د حریص خوبونه مهٔ کوه .او نورې هم ورته سپېځلې صفا صفا خبرې کوي .او داسې خطاب کوي .چې اے مچه او حریصه او مرداره ، او غافله راویښ شه .یقین تر لاسه کړه .کمیني اختیار کړه .

درست جهان په تا مردار دے او خراب دے
له ارمانه لادوه لاس مرې له غچه

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، ص ۱۰۹

اے غافلـــه دا د مـــچ خويونـــه مكـــړه
دا بينـا سـترګي دې خلاصـې كـړه لـه لچـه

تـۀ بنـده ئـې خـدائے وغـواړه بـل مـۀ غـواړه
بـې لـه خدايـه ژونـدون كـم ګنـه تـر پچـه

يـــو يقـــين او بـــل بـــاور درســـره واخلـــه
د ګمـــان تيـــارۀ بـــه ســـپينه كـــړې لـــه ګچـــه

كمينـــــي او عـــــاجزي دې تـــــا كمـــــال ده
د نفـس تنـد خويـو نـه مـۀ اخلـه لكـه مرچـه[۱]

بابا په مخه انسان ته تلقين كوي دا تابياكوي چې له بدو چارو ئې اوباسي۔

كـــړه لـــه بـــدو چـــارو منـــډه
چـې تـۀ خـلاص شـې لـه دې ډنـډه

كـۀ تـه خـلاص شـوې لـه دې ډنـډه
لار بـــــه ؤينـــــې برمنـــــډه

[۱] ديوان احمد شاه ابدالي . مخ ۱۱۰

په يقين به خپل يار مومي
نفس هوار شي لکه شنډه

په دا لار چابک روي ده
دا څار مۀ غواړه له ټنډه

نفس غافل دے اودۀ شوے
پرې را واچوه کرکنډه

احمد شاهه که يار غواړې
لرې کړه د ګمان پنډه [1]

بابا د غفلت غندنه کوي. چې عمر خو درنه په مخه روان دے. تۀ بېغمه خوب کوې.

دا دنيا وينم يوه هسې بې وفا ده
و حبات ته نظر کړه ددې له کاره

يعني حباب ته نظر اوکړه چې د هغې څۀ ژوند دے دغه دنيا ده هم په دې نظر ورته ګوره.

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۱۱۲

عالم واړه سره خوب د بېغمۍ که
او د عمر قافله په لښ تیاره[1]

بابا د غرور غندنه کوي.

څو غرور لري په سر کښې
خلاص به نهٔ شې له ضروره[2]

د غفلت د تیرو نه د ځان بچ کولو وېنا کوي او د همت بلنه ورکوي.
وائي د عاجزۍ بهانه مهٔ کوه، همت ناک شه.

چې دیوې دي د وصال همېشه بلې
د غفلت په تیارهٔ څو ګرځې عجوزه

دا یقین باور له ځانه سره ملهٔ کړه
د همت ښکارونه رانیسه لیوزه[3]

بابا دا اشاره کوي چې په طلب خپل اشنا اومومه او زړګي تر خپله
وسه تر لاسه کړه. د قناعت صفت واخله. ډېر والې مهٔ خوښوه.

اے زما زهیره نَسه
څهٔ خفه ئې له نفسه

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي، ص ۱۱۲_۱۱۷
[2] همدغه، مخ ۱۱۹
[3] همدغه، مخ ۱۲۲

په آشنا پسې تلاش کړه
څو دې لاس وي له دسترسه

بچاؤنه خپله بوريا کړه
لا کوتاه کړه له يکرسه

د مکې شرف دې بيا مونږ
بزرګي ستا توره اطلسه

اور په ځان باندې قبول کړه
هنر زده کړه له ققنسه[۱]

يعني د کعبې شريفې تور اطلس ته څومره شرف تر لاسه شۀ. ققنس يوه مرغۍ ده (فرضي) چې وجود ئې سُورے سُورے وي. عجيبه بې شمېره راګونه ترې راؤځي او چې نغمه په خوند را ولاړه شي نو ددې وجود اور واخلي. په سختو تکو کښې دحريص او د نفس و شېطان د منونکي، او په دروغو آموخته خلقو ته راګرځي. چې داکانې مۀ کوه. يقين خپل کړه. نفس اووژنه. کينه ختمه کړه. په دوئي پسې وسله راواخله ختم ئې کړه.

[۱] ديوان احمد شاه ابدالي، ص ۱۲۳

اے کم بختہ گور کښنه
څو به خورې د سرې خوښه

د دنيا په کار غره ئې
دين کښې اس تراهي له لښه

نفس شيطان دواړه زهير کړه
دښنه نهٔ وي د چا خوښه

په رښتيا وئيلو زهيرېږي
له دروغه اخلي غوښه

تهٔ دې خپل وښهٔ وغواړه
د نفس مهٔ آوره بار کښنه

د دې نفس عمل تهٔ پرېږده
د غيرت لينده پرې کښنه

دا خپل ځان کړه تورې خاورې
د کينې وکاږه کښنه

د بـــاور غـــــشي درواخلـــــه
دا د نفـــس خـــاطر پـــرې کـــبنه[۱]

د واعـظ پېرزوئنې کـوي چـې د پېغمبر علیـه الـصلوة والـسلام پـه موسله د دین ابلاغ کوي.

تـهٔ چـې وعـظ پـه منبـر کـړې اے واعظـه
دے منبـر کـړې مُعنبـر تـهٔ اے واعظـه

سـتا هـم ډېـر دي او بـسیار دي ثوابونـه
چـې ابـلاغ د پېغمبر^ص^ کـړې اے واعظـه

څـــومره ښـــکلې او ښـــې خبـــرې وائـــې
نـــا خبـــره بـــه خبـــر کـــړې اے واعظـــه

پـه دې وعـظ کـښې تحقیـق هـم درلـه بویـه
د یـوې لـم د بلـې سـر کـړې اے واعظـه[۲]

واعظ ته احمد شاه بابا تلقین کوي. چې بې مطلبه خبرې مهٔ کوه. د کار د فائدې خبرې کوه. یو غر بل غر مهٔ اوله. د پېغمبر^ص^ په موسله ناست ئې. نو سودمنې خبرې کوه.

---

[۱] دیوان احمد شاه ابدالي ، ص ۱۲۵
[۲] همدغه ، مخ ۱۲۵

د ,, ق ،، د توري په يو نظم کښې د ,, کلمې ،، خبره په داسې جامع طريقه کوي .چې دا زما ملګرې ده .د رندو سترګو ډيوه ده .لار هم په دې هواره شي .ددې اقراري جنت ته ځي منکر ئې غرق شي .په اور دننه شي .خلاصے ورله نشته .په اور کښې به تل تر تله وي .د وتو لار ئې نشته .باريکه ده .دا کلمه د دوه جهانونو کنجي ده چې چا ددې تصديق اوکړو هغهٔ ته دا دواړه جهانه بر لاسه شي .دا د توحيد مېوه ده .د دواړو جهانو کاميابي ده .د کلمې نه مراد غالباً د لااله الاالله محمد رسول الله کلمه ده .وائي :-

که ووايم له تحقيقه
کلمه مې ده رفيقه

د رندو سترګو ډيوه ده
بې له دې نشته طريقه

اقراري دے له جنته
منکر تهٔ ګڼه غريقه

په ارمان ئې نهٔ خلاصيږي
دا د اور له منجنيقه

ترا بده پکښې بند وي
د وتو لار ئې دقيقه

جهنم ددۀ سزا ده
خبر نۀ ؤ له مشفيقه (مشفقه)

دا د دوه ؤ کونو کليد ده
خپلولې ئې له تصديقه

په کلمه سړے اصلي دے
پر سش نشته له فريقه

د توحيد ميوه کلمه ده
احمد غواړه ئې له رزيقه[1] (رازقه)

چې نصيب کښې څۀ وي هغه پيښيږي . هغه رارسي . هم هغه د انسان برخه وي .
که په پاک ځائے کښې وي هم .

د نصيب له حظه هيڅ څوک تيرے نشي
که حاجي شي په مکه په مدينه[2]

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، ص ۱۲۷
[2] هــــمــدغه ، مخ ۱۴۹

بابا د دنیا د بې وفایی هم وېنا کوي ـ وائي

دنیـا هـسې بـې وفـاده
د چـا زړۀ پـرې نـۀ ښـۀ کېـږي

احمـد شـاهه مينـه مكـږه
بـې لـه خدائے نـۀ پكـار ېږی[1]

د مجاز په رنګ د الله څۀ ښکلے تعريف کوي ـ

چـې د يـار پـه دم ئـې دم وي
يـاد ئـې چـرې د مـرګ غـم دے

چـې نظـر پـرې د خپـل يـار وي
هغـه شـاه پـه زړۀ مـنعم دے

کـۀ د يـار نظـر پـرې نـۀ وي
دا جهـان پـه دۀ تـورتم دے[2]

منظور د خدائے په زړۀ منعم دے ـ انعام کړے شوے دے ـ په نعمتونو خړوب دے ـ که دا نۀ وي نو په تېرو کښې پروت وي ـ خپل

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۱۲۱
[2] هـــــمـــــدغه ، ص ۱۷۰

دوست ته څۀ ښکلې د يقين ، د اخلاص ، د تلاش تلقين، د نفس او ګمان د بديو نه د نفرت وېنا کوي وائي

بيـــا تـــۀ ولـــې نـــۀ شـــرمېږې
اشـــنا ګـــورې نـــۀ پـــوهېږې

د يقـــين پـــه لاره درومـــې
پـــه ګمـــان ولـــې درېـــږې

کـــه اخـــلاص چـــرې ونکـــړې
تـــر ابـــده بـــه نـــولېږې

عمـــر نـــن دے کـــه تـــلاش کـــړې
پـــه تـــلاش بـــه تـــۀ ښـــاد يږې

دا د نفـــس خويونـــه بـــد شـــو
ربـــه تـــۀ کـــه ورحمېـــږې

زړۀ بـــه خـــلاص کـــړې احمـــد شـــاهه
کـــه د روح پـــه خولـــه وئېـــږې[1]

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۱۸۸

د احمد شاه بابا د مذهب سره څومره مینه او تړون دے۔ یو مربع ترجیع بند ئې دا ثبوت ورکوي۔ شپږویشت کړې لري۔ د لااله الاالله د ذکر تکرار دے۔

اے زما دله چغار کړم
زړۀ په مخ باندې حصار کړم
زۀ به دا لفظ تکرار کړم
لااله الاالله

له نور څۀ زما توبه ده
د حق مینه راسره ده
دغه مینه کلیمه ده
لااله الاالله

په دې نظم کښې د تصوف خوند هم شته د مذهب هم۔ د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مینه هم۔

د دنیا فاني خبرې
بیا ئې جوړې دي سندرې
مۀ کړه دا نصیحت لرې
لااله الاالله

که کوته کړي له آسمانه
آخر دا به شي ویرانه
همیشه وایه عیانه
لاالــــــــه الاالله

مدد غواړه له سبحانه
هم مدام وایه یکسانه
توښه دا ده له جهانه
لاالــــــــه الاالله

که دا ځان و اموخته کړي
تهٔ به زړهٔ بله ډیوه کړي
هم دا ذکر ورسره کړي
لاالــــــــه الاالله

تاسو واورئ مؤمنانو
په دعا ښاد شئ یارانو
دا وېنا کړئ عاشقانو
لاالــــــــه الاالله

خوش خرام اوسه احمده
د حضرت ص ښهٔ مرتبه ده

هم په خوله دې کلمه ده
لا اله الا الله[1]

متقي او په دین مئين احمد شاه بابا د مناجات ډېره زياته مننه کوي. په دې ئې کلام معطر دے. د يو ښكلي مناجات اشعار څۀ داسې دي:-

زۀ زاري کوم الـه
شرمنده يم پر ګناه

نا اميد ستا له رحمته
تللے نۀ دے له درګاه

دې تا فضل کرم ډېر دے
له عمل يم روسياه

په عمل مې باور نشته
کليمه به کرم پناه

چې و خپل عمل ته ګورم
وايم كشكې وے ګياه

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، ص ۱۹۴ تر ۱۹۲

نفس شیطان راسره ملۀ دي
نشي یو کار عندالله

که تلاش کړم نۀ خلاصیږم
د شیطان له بده چاه

که د زړۀ ساتنه وشي
ستړګې څرنګ شي نګاه

.تۀ یاری غواړه احمده
له بنۀ خدایه نۀ له جاه[1]

په دې مناجات پسې د فاني دنیا د زوال ، د کمینګی ، شکستګی دکمال د خودبینی د تکبر د نیتجې ، د نیک خوئی د مننې په عقبی د اصلي صورت حال بیان څۀ ښکلے دے.

نن دې وخت دے ګوره تۀ نۀ شې بې راه
ګنه دا چې ورځ د عمر ده بېګاه

کمیني شکستګي دې تا کمال دے
خود بیني او بړائي ګنه تباه

---

[1] دیوان احمدشاه ابدالي ، ص ۱۹۷

نیک خوئي چې د سړي حسن کمال ده
ولې ته دا بدخوئي کوې ابلاهـ (اے ابلهه)

چې په خپل عمر غره وي ناخبره
یوه ورځ اجل ګذار وکه ناګاه

لاس به مړي سود به نهٔ ویني هیڅ کله
قافلې د عمر تللي دي کوتاه

له ګټلي څهٔ به یونسې عقبا ته
نا امید پا برهنه ځي مخ سیاه

چې دا هسې رواروې دې دے د عمر
ولې نهٔ وائې احمده الا الله [1]

د احمد شاه ابدالي ددې مناجات او د دنیاوي احوالو له آخري انجام د بیان د نظم نه پس الف نامه ده . څهٔ پینځه سوه کم زیات ابیات لري . د الف با ( د تهجي حروفو ) د ټولو تورو په ضمن کښې د هر توري شپږ اووهٔ اتهٔ نههٔ اشعار دي . دا الف نامه د تصوف ، د وحدت ، د کثرت بې بها خزانه ده . دا هم د مذهب یوه اوچته روحاني ځانګه ده . په دې الف نامه کښې د مذهب او دین نوري

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، ص ۱۹۸

خبرې هم کوي ـ د تصوف په بیان په کښې دا پوره الف نامه مونږ راوړې ده ـ وائي :-

چ چپ مشه له دنیه
په چپ عمر ضائع شینه

پیروي تهٔ د دین وکړه
چې ستا لاس به ونسینه

دنیا تیره بې وفا ده
کم نادان به زړهٔ تړینه

غم ښنهٔ د آخرت کړه
آخر پاتې دا خودبینه

د نس نغوته ګوره پرېږده
نغوته اور عمل سیزینه

چې د نس په نغوته کښېوت
اوس شیطان به ئې چیچینه

چې د دوئي په خوله عمل کا
ځائې به ئې جوړ کړه له سجينه (سجّنه)

چې په نغوته د ملک وي
هره چار به شي مهينه

په دې اشعارو کښې د دين د پېروۍ تاکيد دے. د آخرت د فکر غم دے دنيا له هر چا پاتې ده. د نفس د ترغيب نه ځان ساته د نفس او شېطان خبره که دې اومنله نو ځان به د دوزخ کړې. د دوئي په ځائے که د فربنتو په ترغيب ځې. نو هره چاره آسانه شي. د ,, خ ،، په توري کښې وائي چې د رسول ص پېروي کوه لويه ورځ به او ګټې نفس شېطان پرېږده.

خ خوبي بهتري بويه
ګوره اے د آدم زويه

ته زما خبره واؤره
ورځ به دريشي هغه لويه

اسره بله دې تا نشته
نتيجه د رسول ص بويه

د رسول ص په لاري درومه
نفس غليم دے يزيد خويه

لوئے دښمن دي تا شيطان دے
دي تا نفس دے بد ژغروُيه

يوي قاضي او بل مفتي شي
يو اودس بل كوزه تويه

د كاف په توري كښې د كمينګئ ، خاكسارئ تعريف دے.

ک كافي ګرځه كمينه
د كمين بخره سنګينه

خودبيني شيطان ده كړي
مخ ئې تور شوله جبينه

د ,, ياء ،، په برخه كښې د رسول ص د اطاعت خبره كوي . وائي د رسول ص پيروي نۀ كوونكے كافر دے.

د رسول حكمونه نغوړه
چې ئې نۀ مني كافر دے

په يو رباعي كښې د روژې په حقله وينا كوي .

روږه روږه ده عجـــــب روږه ده
ورځ ئـې ده سـخته ماښام مـزه ده

کلـه بـه تېـره مياشت د روژې شـي
د لـــوږې ډېــره پـــه مـــا غلبـــه ده

د کتاب د کتنې نه پس د مذهب په حقله ما ذا خبرې را اوېستې .او تاسو ته مې بيان کړې .د احمد شاه بابا په ديوان کښې د عشق و محبت زور دے .مجازي هم دے حقيقي هم دے .حقيقي عشق د وحدت ، کثرت ، خپل وطن ، لا ، الا ، د زړهٔ مرات ، هو يا هو ، لاهوت جبروت ناسوت چاپېره چورلي .ډېره برخه دِ کتاب هم دا عشق دے .د بابا په کلام او ژوند د مذهب هم دغه روحي اثر غالب دے.

## پنځم باب

# د احمدشاه بابا

## شاعرانه مقام او د هغهٔ په ديوان او کلام کښې شعري محاسن (صنائع بدائع)

څنګه چې د احمد شاه بابا ذات او شخصيت د بې شمېره خوبو او خاصيتونو مجموعه وه . دغسې د هغهٔ کلام هم د ګڼو اوصافو او خوبيو هنداره ده .

دا يو منلے شوے حقيقت دے چې د يو اديب شاعر ليک او فنپاره د هغهٔ د کردار د هغهٔ د ذات د باطن او ظاهر د هغهٔ د احساساتو جذباتو آئينه دار وي او اِن تر دې چې د هغهٔ د نفسياتي رنګونو عکس پکښې هم څرګند ښکاري .

د يو ليکونکي په فنپاره کښې هغه پټ څيزونه هم ښکاره وي چې هغه ئې په ارادي ډول ښکاره کول نهٔ غواړي . او دا د يو رېښتيني شاعر او فنکار خاصيت وي . دغسې د احمد شاه بابا کلام او اشعار هم د هغهٔ د متنوع شخصيت آئينه دار دي . او بې شمېره خصوصيات لري . دلته دا وضاحت کول هم ضروري ګڼم چې په احمد شاه بابا هغې هومره کار نهٔ دے شوے څومره چې پکار ؤ . او خاص کر د هغهٔ په فن خو کار د نيشت برابر دے .

په مخکښې بابونو کښې د احمد شاه بابا د ژوند او فن تفصيلي جاج وړاندې کړے شوے دے دلته د هغۀ د کلام شعري او فني محاسن په ګوته کول غواړم.

ما چې د احمد شاه بابا په فن د شوي کار پلټنه اوکړه نو د هغې په دوران کښې راته معلومه شوه چې د هغۀ په فن زيات کار اروانباد عبدالحیٔ حبيبي صيب په لوئے احمد شاه نومې کتاب کښې کړے دے .ددې نه علاوه خليل اولسي ادبي جرګې چې مرکزي صدر ئې صابر شاه صابر دے .د احمد شاه بابا د ۲۲۰ تلين په مناسبت چې کوم يو ورځنے سيمينار کړے ؤ .د هغې ځنې مقالې يا نظمونه د احمد شاه بابا فن سره تعلق لري .خو لکه چې اووئېلے شول .د احمد شاه بابا په ژوند او فن داسې کار نۀ دے شوے چې د زړۀ سود پرې اوشي.

ما د يو ريسرچ سکالر په حېث د نور کار نه علاوه دا هم ضروري اوګڼل چې د بابا په کلام او ديوان کښې شعري محاسنو (صنائعو بدائعو) باندې هم تفصيلي رڼا واچوؤم. ځکه چې د روند پوهاند اروانباد عبدالحیٔ حبيبي صيب په خپل کتاب لوئے احمد شاه کښې صرف يو صنعت او ظهور آزاد قريشي ايډوکيټ دوه صنعتونه په ګوته کړي دي. د دوئي نه علاوه چرته هم په څۀ کتاب يا مقاله کښې د احمد شاه بابا په ديوان پښتو او فارسي کلام کښې صنائع او بدائع چا نۀ دي لټولي .او شائد ضروري ئې نۀ دي ګڼلي. ځکه چې دا د هغوئي موضوع نۀ وه دې دپاره ما د نور کار سره سره دا هم ضروري اوګڼل چې د احمد شاه بابا په ديوان او کلام کښې

فني او شعري محاسن هم په تفصيل سره راواخلم چې دغسې د هغوئي د فن باره کښې پوهه او د هغهٔ فني کمال او قدرت ښکاره شي ـ ځکه چې د يو شاعر اديب د فن او شاعرئ د معيار تاکلو دپاره دا هم کتلے شي چې د هغهٔ کلام په فني محاسنو (صنائعو بدائعو) څومره موړ دے او هغه په فني تقاضو څومره پوې او په دې فن څومره عالم دے۔

صنائع د صنعت جمع ده ـ معنی ئې ده هنر او کاريګري او په اصطلاح کښې ترې نه مراد هغه باريکي عجيبه او نازکې نقطې دي چې په شعر کښې راؤړلے شي۔

دا په دوه قسمه دي يو قسم ته صنائع لفظي يعني د الفاظو ښائست او بل قسم ته صنائع معنوي يعني معنوي ښائست وئيلے شي۔ اولنے قسم په الفاظو کښې او دوېم قسم په معنو کښې لطافت او خوبي پېدا کوي، لکه څنګه چې د انسان ښائست او خاصکر د صنف نازک حُسن د کالو پتروسره يو په دوه کېږي۔ هم دغسې مثال د شعر او کلام دپاره د صنائع بدائع دے۔

راځئ چې اوس د احمد شاه بابا په کلام او شعرونو کښې بديعي صنائع او معنوي صنائع په ګوته کړو۔

**تجنيس** :- په شعر کښې داسې الفاظ راؤړل چې وزن اوتلفظ کښې يو شان وي ـ خو معنې ئې جدا جدا وي ـ ددې مختلف قسمونه دي۔

**تجنيس تام مماثل** :- چې د تجنيس الفاظ دواړه يا فعلونه يا اسمونه وي۔

دغه عشق به له تا نهٔ ځي تل تر تله
له سبواو به سبوا کړي تا سبوا

چې سبوا تهٔ له سبواو وکړې سبوا
معرفت په معرفت به شي رښا

ستا په دم به مې دم روغ شي اے نسیمه
که د یار له لوریه راوړې بیا سراغ[1]

که دې دوه سترګې د نور په نور بینا کړې
تل به وینې دا د زړهٔ انګڼ د پاسَ

دلته د تل ، سبوا ، معرفت او نور ټکي د پوره تجنیس یا جناس یعني د یو جنس د تورو په لور جوته اشاره کوي.

**صنعت تقابل** :- په شعر کښې د مقابلې معنې راوړل لکه بختور ، بې بخته ، افلاس او غنا .

د غماز لویې په تا ده اے دلبره
ګنه دے په اصل سپک دے لاتریچ[2]

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي ، ص ۵۴
[2] همدغه ، مخ ۲۸

**تجنیس مضارع** :- په کلام کښې دوه لفظونه داسې راؤړل چې د حرفونو تعداد ئې یو شان وي خو صرف یو حرف پکښې مختلف وي۔ لکه وفا او جفا۔

تـــهٔ چې ماته وائې اے دلبره بې وفا
ولې تهٔ نـهٔ ګورې دغه خپل جور و جفا

**تجنیس خطي** :- په شعر کښې داسې د تجنیس الفاظ راؤړل چې په املا کښې او لیکلو کښې یو شان وي صرف د نقطو تغیر سره پکښې فرق وي۔ لکه رحمت او زحمت۔ د احمد شاه بابا دې شعرونو کښې مثال وګورئ۔

بـــې زحمتـــه راحـــت چـــا نـــهٔ دے مونـــدلے
د مچـــی پـــه دود لـــه ځانـــه خـــوره رطـــب[1]

کـــه د ګـــل پـــه خپـــر ئـــې خیـــر کـــړم
ښائـــــست ډېـــــر لـــــري ګـــــل رخ[2]

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي، ص ۶۱

[2] هـــــمــــدغــه ، مخ ۲۲

زړۀ مې خيال دا ستا د زلفو لور په لور کا
نۀ پوهېږم بيا به څۀ غمونه نور کا [1]

**تجنيس ناقص** :- په شعر کښې داسې دوه لفظونه راوستل چې حرکات او سکنات ئې يو شان وي خو په يو کښې د بل نه يو حرف زيات وي ـ دا سر کښې هم کېدے شي او په آخر کښې هم ـ لکه لافې ، خلافې

مکړه بې ياره بل کار
کاربې ياره څۀ پکار [2]

زړۀ زما چې تا زه دم دے
يار له ما سره همدم دے [3]

**صنعت تنسيق الصفات** :- د يو څيز ګڼ صفتونه په شعر کښې جمع کول ـ د بابا په کلام کښې ددې صنعت هم ګڼ مثالونه شته دے ـ بلکه څنې سالم غزلونه ئې په دې صنعت معموره او خونده ور دي ـ
د مثال په طور دا غزل :-

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۳۱
[2] همدغه ، مخ
[3] همدغه ص ۱۵۹

ACKU

لاله رخ وتورې زلفې. پسته خلې غنچه دهان ښائسته کاکل سنبل
قدردان مهربان هم ئې مينه له جانان ښائسته کاکل سنبل

خوش گفتاره ،خوش رفتاره، تورې سترگې سپين رخساره
در دندان، ابروکمان، ښائسته کاکل سنبل

په قد سروه د چمن ده. هم دلجويه د مئين ده
لعل ده. دُر لبان ده، حيات له زنخدان ښائسته کاکل سنبل

مُشک بويه، عنبر مويه، هم له خويه ده خوشخويه
خوښ زبانه مهربانه ښائسته کاکل سنبل

د لاَرايه عطر سايه، څکه زړۀ باسي له ځايه
چندن غاړه، خرامانه آهو بويه له ميدان ښائسته کاکل سنبل

ښې خبرې د پېزوان دي، چې تل زړونه پرې سوزان دي
ښۀ مسندئې په لبان دي، دياردوه لب خندان ښائسته کاکل سنبل[1]

په پنجه لکه چنار ده. په سيين خوا لکه انار ده
همېشه تازه بهار ده زياته دا له گلستان ښائسته کاکل سنبل

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي . مخ ۷۰

احمد گوره شنهٔ خالونه زیب کا پاس په رخسارونه
تراوربل لاندې گلونه زیب کا زیب کادابې شان ښائسته کاکل سنبل [۱]

او دا شعرونه هم د تنسیق الصنفات په صنعت ښائسته شوي دي.

| | |
|---|---|
| دل آرا یه عطر سائے | مهه جبینه موه گره |
| آهو چشمه گل اندامه | دل آرامه مهه پیکره |
| سیه چشمه دلربا یه | شکر لبه قد عرعره |
| در گفتاره خوش رفتاره | سنبل مویه زرین سره |
| نازنینه دل آزاره | جوړه سروِ صنوبره |
| گلفرازهٔ مشکباره | پري رویه ده گل سره |
| سمین تنه گلبدنه | جهان گیره سرا سره |
| پر طربه سیم غب غبه | خوش آهنگه تېز نظره [۲] |

او دا شعرونه هم د لوستو قابل دي چې هم دا صنعت پکښې راوړلے شوے دے.

| | |
|---|---|
| هم په حسن ښائسته ده | آهو چشم، خوش رخساره |
| عنبر بویه، سنبل مویه | پوره وړې له عطاره |
| سسمین تنه، گلبدنه | شکر لبه، دل آزاره |
| دلربائې، ناز پروره | خوش نغمه د موسیقاره [۳] |

---

۱ دیوان احمد شاه ص ۷۱
۲ همدغه، مخ ۱۱۹
۳ همدغه، مخ ۱۲۰

د بابا د کلام د تحقیق په وخت زۀ په دې نتیجه ورسېدم چې هغوني د نورو صنعتونو په مقابله کښې په خپل کلام کښې دوه صنعتونه ډېر زیات راوړلي دي .یو صنعت تدبیج او بل صنعت تنسیق الصفات.

دا لاندیني شعرونه هم د تنسیق الصفات په کللو ښائسته شوي دي.

پري رويه ده خوش خويه        سپينه خنوله لري خندان
دلفريبه ده خوش زيب        د عاشق ده قدردان
شكر لبه سيم غبغبه        سرۀ لبان لري دردان
گلعزاره لاله زاره        عجب خوبنه ده لبه خان
سنبل موي عنبر بوي        هم دا مسته ده مستان
قدر ناكه عطرناكه        زړۀ ولي تل نالان [۱]

(جوړ په زړونو دے تالان)

## تنسيق الصفات :-

د لارائے عطر سائے        خوش قامته کمر چينه
سيه چشم دلربائے        گل اندامه ده قرينه
مه پيكره دل آرامه        زړۀ ئې خنبكله سهينه

(زړۀ ئې هر ظلم زغمينه)

شكر لبه سيم غبغبه        يو عجب دا ناز لرينه
گل رخساره خوش خرامه        د مشك بويه نازنينه
خوش آهنگه پرې رويه        گوره زړۀ اخلي په مينه
سرو قده گلعزاره        خوش رفتاره خي مهينه

---

[۱] ديوان احمد شاه   ص ۹۲

آهـــو چـشـم ګلبدنه تل په زړونو تاخت کـوينه
سنبل مـويه کج رفتاره تـل د زړونـو سر وهينه [۱]

نمکينـه مـخ زرينـه
سـينه بحـر بـې پايـان

دل آرا ئـې عطـر سـائې
خـوش آوازه غزلخـوان

ده دلبـره مـوکمره
پـټ بـه زړه وي ناګهـان

سـروِ قـده سـمن خنـده
څـوک بـه رسـي لـه دې شـان

آهـو چـشم ده خـوش چـشم
تـورې زلفـې ئـې لـرزان

سـحرګره ښـبوه ګـره
لاس نـهٔ اخلـي لـه مـان

---

[۱] ديوان احمد شاه ابدالي . مخ ۱۳۹

خـــوش زبانـــه مهربانـــه
لـــه گفتـــاره بـــنې ارمـــان

لـــب ريـــزه شـــكر ريـــزه
لـــــه زړۀ ده مهربـــــان

گـــل اندامـــه خـــوش خرامـــه
آرام وړي لـــــه جهـــــان

نازنينـــــه مُتزَينـــــه
د عاشـــق د زړۀ ســـامان[1]

**صنعت ذوالقوافي** :- شاعر كله كله په شعر يا كلام كښې د دوؤ نه زياتې قافيې راؤړي ،دې ته صنعت ذوالقوافي وئيلے شي احمد شاه بابا په دې ټول غزل كښې دا صنعت راؤړے دے چې د هغۀ قادر الكلامي ترې ښرگند ېږي .دا يو ډېر ښكلے د مذهب په حقله غزل دے .او په دې صنعت معمور دے.

هـر نفـس چـې مـې چلېـږي زمـا زړۀ پـرې تـازه كېـږي
پـه هـر دم كـښې چـې دا وائـم څـۀ ښـۀ نـوم دے يـا الله

---

[1] ديوان احمد شاه ص ۹۶ . ۹۷

که په صبح که په شام یم په ثنا د رب دوام یم
هم په دا د زړهٔ آرام یم څهٔ ښهٔ نوم دے یا الله

که زهٔ وینښ یم که ویدهٔ یم که په لار روان یم څهٔ یم
همېشه په دا ثنا یم څهٔ ښهٔ نوم دے یا الله

که مې روح دے که مې زړهٔ دے هم دا اسم مې په خوله دے
قوت د زړهٔ دے چې پرې پایم څهٔ ښهٔ نوم دے یا الله

د زړهٔ وینې چې بهېږي هم په دا رسم رغېږي
چې رغېږي تل به ئې وایم څهٔ ښهٔ نوم دے یا الله

منور په دا نوم نمر دے دغه نوم د زړهٔ ثمر دے
په دا نوم احمد خبر دے څهٔ ښهٔ نوم دے یا الله[1]

د احمد شاه بابا د کلام د لوستو په وخت داسې محسوسېږي چې هغهٔ د صنعتونو په راوړلو ښهٔ قدرت لرلو او خکه ئې څنې ثابت غزلونه د صنعتونو په کالو ښائسته کړي دي او کمال د شاعر دا وي چې صنعتونه د غزل په نازک مزاج بوج نهٔ شي او ښکلا کښې ئې اضافه پیدا کړي. د بابا داثابت غزل هم دصنعت ذوالقوافي ښکلے مثال دے.

---

[1] دیوان احمد شاه . مخ ۱۰۳

ښېلتـون ګـوره بـې يـاره، دغـه اور دے لـه يـاره، څـهٔ شـان د ښېلتـون تېـغ
وسـوم لـه انګـاره، پـه سينه شـوم پـاره پـاره، څـهٔ شان د ښېلتـون تېـغ

اے زما د زړهٔ بهـاره، د سرو ګلو لـه ګلزاره، همېش ګل اوسې بې خاره
بلبـل څـهٔ شـهٔ سـينه پـاره، څـهٔ شـان د ښېلتـون تېـغ

زهٔ دې اوويستم له کاره، تا زه غم دې دے کوکاره، زما خان لـه مـا ښېزاره
اوښـکې راغلـې مـې د سترګو لـه کوهـساره، څـهٔ شـان د ښېلتـون تېـغ

که خبر وے له دلداره، چې به رانهٔ شي يکباره، مـا بـه خبرنهٔکه لـه کـاره
مـا بـه خـلاص نـهٔ کـه لـه داره، څـهٔ شـان د ښېلتـون تېـغ

دغه څهٔ تېغ دے آبداره، تر زړهٔ مې اوخووت ياره، په ياری لا بې قراره
مګـر يـار لاړ لـه دې داره، څـهٔ شـان د ښېلتـون تېـغ

ښېداد له دنيا داره، يار دې ويويست لـه کناره، نا امېد شوم لـه ديداره
زړهٔ بـه ترکـوم وي بيمـاره، څـهٔ شـان د ښېلتـون تېـغ

برېښ رائشه سحاره لـه بلبل شم هم چغاره، څولاغم کړې بې ديداره
د احمـد تکيـه سـتا يـاره څـهٔ شـان د ښېلتـون تېـغ[1]

---

[1] ديوان احمد شاه ، ص ۵۳

**صنعت مبالغه** - په کلام یا شعر کښې یو څیز داسې وچتول یا دومره راغورزول چې د هغې شان کېدل تقریباً ناممکنه وي. دا په درې قسمه دي.

(۱) تبلیغ  یو شے دومره ښکته کول یا اوچتول چې حقیقت نۀ وي خو د عادت او عقل له مخه ئې کېدل ممکن وي. لکه دا شعر

چندن هار ئې رنګین تـر دے له ګلابو
څـۀ حـاجت ئې د ګـلانو له حمیل[۱]

که هر څو د نمر ښائست شو بیا تۀ ګوره
ستا پر حُسن وي د زړونـو اتفاق[۲]

او دې شعرونو کښې هم دغه صنعت راوړلے شوے دے.

د خطا هوسۍ په خلقو کښې یادېږي
ولې ستا زلفو جهان کړو معـطر[۳]

د جنت حورو له حُسنه لاس په سر کړۀ
چې نظر ئې د شهۍ کړۀ په ښکارونه[۴]

---

[۱] دیوان احمد شاه بابا . ص ۶۹
[۲] هـمـدغه ص ۵۲
[۳] هـمـدغه . مخ ۴۰
[۴] هـمـدغه . مخ ۱۳۲

(۲) اغراق ـ يو څيز دومره اوچته ول يا ښکته کول چې عقلي طور خو امکان لري ولې واقعتاً ممکن نۀ وي.

(۳) غلو :- يو شے دومره ښکته کول يا اوچتول چې نۀ عقلاً ممکن وي او نۀ واقعتاً :-

لکه چې ځان جوړ زما صنم کا
نمر پــــه خپله د ځان دم کا

**صنعت حُسنِ تعليل** :- دا يو ډېر نازک او لطيف صنعت دے شاعر څۀ شي دپاره داسې علت او سبب فرض کړي چې په حقيقت کښې د هغه څيز علت او سبب نۀ وي . لکه د احمد شاه بابا دې شعرونو کښې هم دا صنعت دے.

مـخ د نمـــر او د سـپوږمۍ ځکـه زيـړي شـو[1]
چـــې حبـــر شـو ســـتا د مـــخ پــه طمطـــراز

چـــې د ګلـــو خـــزان ســـتا پـــه خاتـــۀ کېـــږي
د آســـمان پـــه مـــخ تـــل کـــوز اوســـي ســـهيل[2]

يادا شعرونه :-

چې شـغله ئـې د پېـزوان ښـکاره پـه ګـل شـوه
و هـــر ګـــل وتـــه سـجده ځکـــه بـــورا کـــا

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، مخ ٦۷
[2] هـــــمـــــدغــه ، مخ ٦۹

ډُر سـر ېـټ کـۀ پـه اوبـو لـه خجالتـه
چـې مـې اوخنـدل دلبـر پـه سـپین غاښـونه[1]

د چنـدڼ د ونـې ځکـه بـوین روان شـو
هـر چـې ولـې ئـې د عـشق پـه اوبـو نـم دي[2]

او دې کښې هم دغه صنعت راوړلے شوے دے۔

لالـه ځکـه داغ د زړۀ پـه سـینه راوړو
چـې بـادام ئـې تـور شـهلا د نرګـستان دي

سرو سـتا د قـد برکـت نـه دا شـان بیـا مونـد
ځکـه سـر ئـې تېـروي تـل پـه باغـستان کښې

**صنعت مخاطبه** :- په غزل یا شعرونو کښې ځان ته مخاطبه کوي۔ دا په مطلع کښې هم کېدے شي او مقطع کښې هم۔ لکه دا مثالونه ئې وګورئ :-

---

[1] دیوان احمد شاه ص ۱۳۷
[2] هـــــــدغـه . مخ ۱۲۸

احمد شاه که د همت توره در واخلې
بیا به جوړ کړې په رقیب باندې ماتم

احمد شاهه په تلاش به یار نهٔ مومې
څو چې نهٔ وي د خپل یار له لوري کشش [1]

احمد شاه فکرونه پرېږده
بخره مومه له جراته

**صنعت تدبیج** :- په کلام یا شعر کښې مختلف رنګونه ذکر کولو ته صنعت تدبیج وئېلې شي .لکه

غنچه خُله سپین رخسار شنهٔ شنهٔ خالونه
د چنډنې ونه شها زلفې مارونه [2]

د دلبرو سپین مخونه
ګوره زېب کا شنهٔ خالونه [3]

---

[1] دیوان احمد شاه ص ۴۵
[2] همدغه . مخ ۱۳۷
[3] همدغه . مخ ۱۴۱

د ښائست مخې ئې نښته
سرۀ لبان سپين ئې غاښونه[1]

هغه وينه چې د زړه وه تکه توره
اوس تر سترګو څاڅي ګوره تکه سپينه[2]

او دې شعرونو کښې هم دغه صنعت راؤړلے شوے دے۔
څۀ عجب وطن د عشق ښۀ ميدانونه
چې پرې ګرځي تور آهو شنۀ شنۀ خالونه[3]

سرۀ لبان ئې هسې خاندي
سپين غاښونه ئې ملغلرې[4]

**صنعت لف و نشر** :- په شعر يا کلام کښې څۀ څيزونو ذکر کولو ، جمع کولو ته لف وائي .او د هغې سره نسبت لرونکي څيزونو بيانولو خورولو ته نشر وائي.شاعر په کلام کښې اول څو څيزونه ذکر کړي بيا د هغې سره مناسبت لرونکي څيزونه بيان کړي

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، مخ ١٣٨
[2] همدغه . مخ ١٤٣
[3] همدغه . مخ ١٤٤
[4] همدغه . مخ ١٢٤

ACKU

که دا په ترتيب وي نو ورته لف و نشر مرتب وائي او که بې ترتيبه وي نو ورته لف و نشر غير مرتب وئيلے شي۔

د بابا دې شعرونو کښې ئې مثالونه وړاندې کووم۔

## لف و نشر مرتب :-

زړۀ مې هسې په تاباندې تازه کېږي شوخ و شنګ
لکه ګل چې د سپرلي چرې غوړېږي شوخ و شنګ

احمد شاهه که دې يار ته سر په زمکه دے ښائېږي
چې د يار د مخ آفتاب دې جلوه کاندي په ښۀ طور [1]

نۀ پوهېږم روښنائي د صبحدم شوه
که خندا ئې سپين سحر که په ملکونو [2]

چې د شاه د زلفو خيال لري په زړۀ کښې
هغه تل په زړۀ پرېشان په صورت خم دي [3]

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۴۰
[2] همدغه ، مخ ۱۳۲
[3] همدغه مخ ۱۲۸

نـهٔ دي سـتا پـه غـوږو غټـې غټـې ملغلـرې
وصل دي په مياشتې پورې يو سر بل سر ستوري[1]

او دې شعرونو کښې هم دغه صنعت دے۔

مـخ د يـار شـمس و قمـر زلفـې رېحـان دي
هسې زېب د سپين رخسار مشکين ماران دي[2]

سـرو لبـانو دې دُر پـټ کـړهٔ نـهٔ پـوهېږم
او کـه پـټ کـهٔ صـدف دُر پـه زنخـدان کـښې[3]

## لف و نشر غير مرتب :-

په تش ياد ئې د عشاقو شيرين خوب تښتي له سترګو
نهٔ پټېږي د چـــــا سترګې ستا د سرو باهو له شرنګه[4]

د يار زلفې لـه سپين مـخه سره زېب که
که چندڼ د پاسَه پروت دي ښامارونه[5]

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۱۲۹
[2] هـــمـــدغـه ، مخ ۱۷۰
[3] هـــمـــدغـه ، مخ ۱۸۲
[4] هـــمـــدغـه ، مخ
[5] هـــمـــدغـه ، مخ ۱۵۴

لکه خاورې په بهار چې چمن زار شي
د ديدن باران دې هسې زړونه نور کا[۱]

ياداشعرونه :-

په سپين مخ دې تورې زلفې دي تاؤ کړې
جوړ ښاماران دي د چندڼ د پاسه[۲]

له خندا مې ژړا هسې څاڅي له فراق
لکه شمع په خندا ، اوښي څاڅي له فراق[۳]

انديښنې لکه مارونه ترې چاپېر شي
چې سېلاب ئې شي په زړۀ سم د فراق[۴]

اودې لانديني شعرونو کښې هم لف و نشر غېر مرتب صنعت راؤړلے شوے دے۔

د مخ حسن دې افتاب دے شغلې کاندي په ملکونو
د هر ملک تيارۀ شوه ورکه ياره ستا د مخ په زور[۵]

---

[۱] ديوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۲۲
[۲] هـمـدغـه ص ۴۴
[۳] هـمـدغـه ، مخ ۵۵
[۴] هـمـدغـه ، مخ
[۵] هـمـدغـه ، مخ ۳۹

**صنعت طباق** :- په کلام یا شعر کښې د یو بل مخالف یعني ضد څیزونه یا الفاظ راوړل .مطابقه هم ورته وائي .د تقابل او مقابلې ټکي هم ددې دپاره په کار راوستے شي .دا صنعت د ډېرو شاعرانو په کلام کښې وي .خو احمد شاه بابا په ښکلې استاذئ او ژورو معنو سره په ډېرو شعرونو کښې راوړلے دے .لکه :-

اے احمده د وصال زمرے که پېښ شي
شي به خلاص د بېلتانۀ د لویه ګرګ [1]

(وصال بېلتانۀ / زمرے ګرګ)

په وصال کښې ئې قرین ووم د بلبلو
په هجران قرین د زاغ یم الغیاث

(وصال هجران / بلبل زاغ)

شپه او ورځ مې زاري دا ده الغیاث
چې مې حُب له زړۀ مۀ باسه الغیاث [2]

(شپه ورځ)

او په دې لاندې شعرونو کښې خو ئې د تصوف د فلسفې سره په ډېر کمال دغه صنعت راوړلے دے.

دغه عشق لره فنا نشته هېڅرې
شي فاني باقي ، بقا شي بیا فنا

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي . مخ ٢٢
[2] هــــــدغه ص ٢٥

چې فـاني شـي دا بـاقي بقـا فنـا شـي
عـشق بـه شـي فنـا بقـا هـم بيـا بقـا [۱]

**صنعت معمه** :- داسې شعر یا کلام چې شاعر پکښې څۀ معمه (پېچيده خبره) وئيلې وي . يا د څۀ برخې نه ئې څۀ نوم وغېره معلومېدے شي خو حل کول او پوهېدل ئې سوچ او فکر غواړي دا صنعت هم ګران صنعت دے د فکر او تخيل کمال غواړي . خو دا صنعت هم د بابا په ديوان کښې په ګڼو ځايونو کښې او غزلونو کښې راوړلے شوے دے. لکه دا غزل -

يـو مـشكل راتـه عيـان شـۀ لکـه بـدر نمايـان شـۀ
هغـه څـوک چـې ئـې حـل وکـه هغـه صـاحب اسـرار دے

عجـب سـور راغـے لـه بـره دوه ئـې ښـپې څلـور يـې سـره
اتـۀ تاجـه ئـې پـه سـر ؤ يـو عجبـه رنګـا رنـګ دے

مجـرد پـه لاس جـوهر ؤ پـه دوؤ سـترګو کـښې عـرض ؤ
عـدمي مرکـب د لانـدې عجـب ښـکلے شهـسوار دے

تـا زيانـه د فنـا پاکـه . بـل جلـب لـه آب و خاکـه
زيـن ئـې ؤ د اور لـه بـاده دا څـۀ طـور څـۀ ئـې اطـوار دے

---

[۱] ديوان احمد شاه ابدالي . مخ ۹

يسې ايسې ئې خورجين كه وينې ئې دوه هائې پكښې لښې
دغه ها وه تكه توره سپين ترې ووزي عجب كار دے

قد دې زۀ كه په دا پوي تر اسمان تر زمكه لوې
ترسخت سخت تر نرمې نرمې پرې به پوې شي كه هوشيار دے

نۀ دے پورته نۀ دے ښكته شپه او ورځ له حركته
درست عالم و دوي ته ګوري جنبش نه كا دا څۀ كار دے

يوه ها نور ترې بې سره بله مار ځنې زر سره
دوه له دوؤ هاګو بېرون شوه څۀ عجب نعمه څۀ تار دے

هغه مار د نور خوراك شۀ مار نور هضم كه تر پاك شۀ
هر عارف چې په دا پوې شۀ هغه ګل د نوبهار دے

شهسوارٌ وائي زما جانه كه خبر شې له دې شانه
قد الف ژبه مې ب ده سر د عجب رونِګار دے

مخ د ,, ر ،، پوزه د ,, ز ،، ده دا يو څشكله آئين دے
غاړه ئې شين سينه سين ده زړۀ ئې ؤ عجب سوركار دے

پښتې دی بازو لـه قـاف بيـا زنګـون ئـې د ے لـه کـاف
لـب لـه لام کـه پـوهېږې دا يــو ښـکلـه کوکـار د ے

ميم زمـا ګـوره کـلام د ے مـدعا مـې ,, ذال ،، مـدام د ے
دال مـې وينـې اراده ,,نـون،، مـې نـاف عجب سنګار د ے

صـاد صفر پـه ضـاد ښـکار کـړم د امکـان پتکـي راڅخـه
باز اياز غوښې محمود دي دا يو ښکل عجب ښکار د ے

هـه پـښې مـاغزهٔ لـه ورځ ښې لـه ,, ف ،، کـه پـرې پـوهېږې
عجب سور عجب بيـان کـه دا مـشکل کـه د چـا کـار د ے

عالمـان دي دريابونــه دا نظـر بــه حـل کـه شـاه
دا تفصيل مې د مثـال د ے بلکـه حـال څهٔ ښهٔ ګفتـار د ے[1]

زما د پوهې مطابق پـه دې برنـي ثابت غـزل کښې د معمـه پـه ژبـه تصوف بيان شوے د ے .او دغـه بـل غـزل کښې هـم دغـه صنعت راؤړلے شوے د ے.

کــــه خبــــر شــــې اے آدمــــــه
د مُــــــلا لـــــــه لويــــــه غمــــــه

---

[1] ديوان احمد شاه ص ۱۸۰

یـــــوه هـــــسې مـــــسئله ده
چـې جـواب ئـې نـشي لـه عالمـه

مـــسئله دا ده اوس بــه ئـنې وائـــم
تـــهٔ ئـــې بنـــهٔ واوره اے عالمـــه

ځلـــور نـــوره وائـــي اتـــهٔ یـــو
حـــساب کـــر وائـــي اتـهٔ لــه بـې غمـه

حـــساب کـــر وائـــي اتـــهٔ شـــپاړس
اوس نـــم وائـــم څـــهٔ خبـــره زیـــاتوؤم

پـــه دا اتـــــهٔ نـــوره دپاســـــه
یـو محـیط دریـاب دے لـه ځانـه مقـدم

ســـل دوه ځلویـــښت ئـــې ســـره
چـې محـیط دي سـر ئـې نـشته څـهٔ وایـم

دوه نـــالي ځنـــې بیلیـــږي
یـــوه خـــوږه ده بـــل ترخـــه کـه آدم

نـــم نـــور دريـــاب ئـــې آب كـــړۀ
ځكـــه انـــسان قـــرآن وائـــي عـــالم

هـــم دغـــه نـــور بيـــا نظـــر كـــړه
يـــو بـــې مثـــل مارغـــۀ اوشـــو مكـــرم

ســـينه تـــوره زړۀ ئـــې ســـپين دے
تـــور لـــه ســـپينه يـــو دوه وايـــم

دوه ځانګـــه يـــو وايـــه شـــي
ځكـــه لـــه يـــوه ځانګـــه دوه وايـــم

دا مرغـــۀ ببرتـــه پـــه هاغـــه هـــا دے
د صـــورت مارغـــۀ وښـــو لـــه قلـــم

پـــه ځلـــور ســـره دے آغـــاز كـــه
اتـــۀ ښـــپې يـــوه مـــښوكه لـــري ســـم

اووۀ ځانګـــه دوه لاســـونه يـــوه ژبـــه
دولـــس ستركې زړۀ ئې پـه سر كـښې ؤ لـه غـم

سـر و لاس بنـسپې وې ځپلـه لـرې
مکـان پـه مکـان د مکـان جـدائي سـم

دے یـو مرغـۀ اتلـس ئـې مقامـات
وائـي پـه تېـر سـو شـپېتۀ مزلـه ورم

دوه عـرش څرګنـد یـو محـیط دے
لـه محیط وائـي پـه دا څرګنـد غلـه کرم

د هـر محـیط لـه د هـر محـیط یګانـه دے
دا د هـر صـفت لـه عـرش محـیط نـن کـوم

احمـد لـه احاطـه خـواره ځنګـون راغـے
د معنـې سـر بـه زکـواة زۀ ئـې شـیندم[۱]

صنعت ترصیع :- شاعر چې یو شعر کښې اکثر لفظونه یا ټول لفظونه په خپلو کښې هم سجع راوړي نو ورته ترصیع وئیلے شي - لکه د احمد شاه بابا دې شعرونو کښې هم دا صنعت دے -

[۱] دیوان احمد شاه ص ۸۲ ـ ۸۳

✱ ځنې شعرونه وزن نه پرېوتي دي

دغــه عــشق لــره فنــا نــشته هېچــرې
شــي قــاني بــاقي ، بقــا شــي بيــا فنــا

چــې فــاني شــي دا بــاقي ، بقــا فنــا شــي
عــشق بــه شــي فنــا بقــا هــم بيــا بقــا [1]

**صنعت ذوالقافيتين** :- شاعر كله كله په شعر كښې دوه قافيې يو بل پسې راولي او كله كله د دواړو قافيو مينځ كښې رديف راولي - دې دواړو ته صنعت ذوالقافيتين وائي -

د احمد شاه بابا په دې سالم غزل كښې دغه صنعت راوړلے شوے دے:-

دا پــه زړۀ ناتــار دے كــه غــم د يــار دے يــا الله
وخــت د ســحار دے زړۀ مــې بېــدار دے يــا الله

زړۀ زمــا بېــدار دے پــه تــسبيح د كردګــار دے يــا الله
تــسبيح د حــق ګلــزار دے زړۀ پــه چيغــار دے يــا الله

كــل اثــر د يــار دے چــې زړۀ پــه كوكــار دے يــا الله
عمر بې يـاره ځـۀ پكـار دے بې يـاره زړۀ پـه دار دے يا الله

---

[1] ديوان احمد شاه ص ۹

زړۀ زما په دار دے همېشه په دا تکرار دے یا الله
عزیز دے که خوار دے خوښ په دلدار دے یا الله

پردۀ بهار دے دا اسم د زړۀ وتار دے یا الله
زړۀ عندلیب د چمن زار دے مئین په سپین رخسار دے یا الله

د وطن په لور طیار دے هورې چې به خي یار دے یا الله
بې یاره عمر خار دے استوګنه پردۀ نار دے یا الله

عجب وقت د سحار دے د احمد د زړۀ اذکار دے یا الله
د مینې کار و زار دے د عاشق زړۀ خبردار دے یا الله[1]

ښکلې خبره دا ده چې د صنعت ذوالقافیتین سره سره هم ددې غزل اولنو دوؤ شعرونو کښې صنعت ردالعجز هم دے. روښتو نې بیان راغې. وړاندې هم ددې مثالونه راغلي دي. او دې بل غزل کښې هم د ذوالقافیتین صنعت په اثرناک انداز راؤړلے شوے دے.

بیا په مخ به زلفې چین که ګل اندام
بیا شین خال به په جبین که دلارام

بې هوشي مې د زړۀ دم تر دم ډېر برې
د لب جام که راتحسین که نرګس فام

---

[1] دیوان احمد شاه ص ۱۰۲_ ۱۰۳

په افسوس د زړۀ به بیا ورته ولاړ یم
په خندا ګوندې غابن سپین کاندي ګلفام

زما زړۀ که پرېشان ځي نه وطنه
په ما کله یقین که نازک اندام

په هیخ رنګ مې باور نشي چې به راشي
که وعده په یقین که زما ګلفام

یا پرېشان خاطر به مې پسې د زړۀ کړم
یا مې لب په لب شیرین کاندي مئے فام

په دوو سترګو د یار غم د زړۀ غورزېږي
که په سترګو بهار شین که نرګس فام

بې له یاره زړۀ په داغ همېش په دار وي
بلبل شور په نسرین که علی الدوام

که احمد عاشقي یار له تر ځائے وروړ
په عالم ئې افرین کاندي مدام[1]

---

[1] دیوان احمد شاه ص ۹۰

د اکثر شاعرانو په کلام کښې په غزل کښې په یو یا دوؤ شعرونو کښې صنعتونه راؤړلے شوي وي ـ داسې ډېر کم شاعران شته چې پوره پوره غزلونه ئې په یو صنعت کښې وئیلي دي.

احمد شاه بابا هم یو یو صنعت ثابت ثابت غزلونو کښې راؤړلے دے. او سالم سالم غزلونه ئې ډېر ښائسته کړي دي. ددې نه معلومېږي چې بابا د صنائعو بدائعو په علم ښۀ پوئې ؤ. او ددې په استعمال ئې هم ښۀ قدرت لرلو.

**صنعت ایهام** :- په کلام یا شعر کښې داسې لفظ راؤړل چې د هغې دوه معنې ګانې وي یو نزدې معنی او بله لرې. خو په شعر کښې ترې مراد لرې معنې وي. لکه د احمد شاه بابا دې شعرونو کښې هم دا صنعت راؤړلے شوے دے. د ایهام معنٰی ده په وهم او شک کښې اچول.

ستا په مخ ګوره اوربـل دے
څکه بل اور مې په ګوګل دے[1]

او یا دا :-

سرې لمبې دې د پېزوان لکه برېښنا په زړۀ خنجر شوې
اور بل واخله که بــه کــړې تۀ ددې سوي زړګي غور

او په دې شعر کښې هم دغه صنعت دے :-

---

[1] دیوان احمد شاه ص ۱۲۵

احمد شاهه که دې يار ته سر په زمکه د ے بنائېږي
چې د يــــار د مخ آفتاب دې جلوه که په څهٔ بنهٔ طور

او دا هم د ايهام صنعت د ے :-

سمندر ته که په اور کښې
هره ورځ پسې نـــــولېږي[1]

**صنعت ارصاد** :- په شعر کښې د قافيې نه اول داسې لفظ راؤړل چې د هغې نه پته لګي چې د هغې شعر راتلونکې قافيه بهٔ څهٔ وي. خو په دې شرط چې د غزل قافيه معلومه وي. لکه دا :-

د وحدت د بڼ طوطي و ے
اوس ونښتے پــــه لومه[2]

د شهې زلفې تار تار دي
احتياط بـــــويه له دام[3]

**صنعت ترافق** :- داسې څلور مصرعې چې که ترتيب ئې بدل هم شي نو چې څهٔ فرق پرې نهٔ پرېوځي. لکه دا :-

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۱۳۲
[2] هــــمـــــدغــه ، مخ ۸۰
[3] هــــمـــــدغــه ، مخ ۸۰

دا پــه زړهٔ ناتــار د ے کــــه غـم د يــار د ے يــا الله
وخــت د ســحار د ے زړهٔ مـــې بېــدار د ے يــا الله

زړهٔ زما بېدار د ے په تسبيح د کردګار د ے يا الله
تسبيح د حق ګلزار د ے زړهٔ په چيغار د ے يا الله [1]

**صنعت تعجب** :- په کلام يا شعر کښې په څهٔ خبره د خوند پيدا کولو دپاره د حېرانۍ او تعجب اظهار کول . لکه دې لاندينې شعر کښې :-

چې ضعيف تـن ئې احمده
حيران ستا و درانـــهٔ بار ته [2]

**حسن مطلع** :- د نظم يا غزل ړومبے شعر په داسې اثر ناکه او زړهٔ راښکونکې طريقه پېش کول چې اورېدونکي د نـوړ غـزل اورېدو ته بې قراره شي . لکه د بابا دا لاندينۍ مطلعې ددې ښکلي مثالونه دي .

زهٔ حېـــرانْ دا ســـتا د مـــخ نګارســـتان کـــړم
بيـــا دې قتـــل د دوؤ وروځيـــو باغـــستان کـــړم

---

[1] ديوان احمد شاه ص ۱۰۲
[2] هــــــمــــــدغــه . مخ ۱۳۲

څــهٔ عجــب وطــن د عــشق بنــهٔ مېدانونــه
چــې پــرې ګرځــي تــور آهــو ښِـنهٔ ښـنهٔ خالونــه[1]

راشــه يــاد کــړهٔ مينــې ســتا د مــخ خالونــه
چــې دي زېــب د ســپين رخــسار لکــه ګلونــه[2]

حېرانــي ده د قتــالو ســترګو تــور تــه
چــې خــدنګ ئــې پــه زړهٔ درومــي مــخ و پورتــه[3]

هغـه څـوک د ے چـې مختـاج شـي سـتا و درتـه
د هغــو بــه څــهٔ امېــد وي د بــل ســر تــه

**حسن مقطع** :- چې غزل بغېر د څهٔ کمزورۍ او کمي په مربوطه او موزونه طريقه په يو زورداره مقطع ختم شي. لکه د احمد شاه بابا د غزلونو دا مقطعې :-

احمد شاه له ارزلانو احتراز کړه
د وفا ثمر به مــومې له اشرافه[4]

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي . مخ ۱۴۴
[2] هــمــدغــه . مخ ۱۴۵
[3] هــمــدغــه مخ ۱۰۸
[4] هــمــدغــه ، مخ ۵۴

که ترياق څوک مار خوړلي لره غواړي
د احمد بادشاه د يــــار ليدل ترياق[1]

او يا دا :-

احمد شاهه بيا موړتيا د سړي نشته
که ټول ملک د دنيـــا رانيسي له جم[2]

**قلب بعض** :- په کلام کښې داسې دوه ټکي راوړل چې حرفونه ئې يو شان وي خو د يو د ځروفو ترتيب د بل نه په بې ترتيبه ډول اپوټه وي. لکه دې شعرونو کښې :-

نۀ په زرو نۀ په زور شي
بادشاهان باسي له تاج[3]

ستا د حسن داب مې اوليدو په سترګو
ځکه زۀ احمد شاه ناست يــــم په ادب

**صنعت جمع** :- په کلام يا شعر کښې ګڼ څيزونه د يو حکم لاندې راوستل لکه د احمد شاه بابا دې شعرونو کښې دغه صنعت دے.

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي ، مخ ۵۲
[2] هـــــمـــــدغـــه ، مخ ۹۱
[3] هـــــمـــــدغـــه ، مخ ۲۲

چې مې نفس او شېطان دواړه په مثال لکه د اور دي
زهٔ خسته په دا دوه اوره ګرفتار يم يا حفيظ [۱]

ما وته ارزان دي بيا تر مشک و تر عنبرو
څوک که توري خاورې ستا د پلهٔ په بها پلوري [۲]

يا دا شعرونه :-

مخ د يار شمس و قمر زلفې رېحان دي
هسې زېب د سپين رخسار مشکين ماران دي [۳]

سپين رخسار و تورې زلفې د دلبر دي
څکه بوي کاکل سنبل اشهل عنبر دي

سرهٔ لبان د يار دي پان د عاشقانو
هم هغه به ئې زېبېني چې تېر تر سر دي [۴]

---

[۱] ديوان احمد شاه مخ ۴۹
[۲] همدغه ، مخ ۱۲۹
[۳] همدغه ، مخ ۱۷۰
[۴] همدغه مخ ۱۸۰

**صنعت تفريق** :- په شعر يا کلام کښې د يو نوعيت دوه څيزونه بيانول او بيا په هغې کښې فرق پېدا کول . دې ته صنعت تفريق وائي :-

دا بلبل او زاغ په رنګ کښې دواړه يو دي
بيا بلبل په خوئي د عشق شو سر له زاغ[1]

**صنعت تجاهل عارفانه** :- په شعر کښې د خوند پېدا کولو دپاره شاعر کله يوه معلومه خبره په داسې طريقه بيان کړي چې لکه هغه ترې ناخبره وي . لکه د احمد شاه بابا دې شعرونو کښې چې دے :-

نۀ پوهېږم دغه زړونه دي که لعل دي
چې ليدۀ ئې شي په غاړه سرۀ هارونه[2]

نۀ پوهېږم روښنائي د صبحدم شوه
که خندا ئې سپين سحر کۀ په ملکونه

**صنعت سجع** :- په شعر يا جمله کښې داسې لفظونه راوستل چې آخري حرفونه ئې يو شان وي . ضروري نۀ ده چې دا لفظونه هم وزن وي او که هم وزن وي نو هم خير دے . ددې څو قسمونه دي چې څه پکښې دا دي .

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي . مخ ۵۴
[2] هـــمـــدغـه . مخ ۱۳۲

مطرف :- د شعر د مصرعو په آخر کښې داسې لفظونه راوړل چې په قافیه کښې برابر وي خو هم وزن نهٔ وي. لکه تاړه او لتاړه. لکه :-

ستا په مخ که پټه خوله یم بیا په زړهٔ کښې ګرفتار یم
که باور په عمر نشته ستا و لور ته په رفتار یم

متوازي :- د شعر د مصرعو په آخر کښې داسې لفظونه راوړل چې په وزن توراد او روي کښې سره برابر وي دې ته سجع متوازي وئیلے شي. لکه وینه او مینه.

لکه د بابا دا شعر :-

دا زما د صورت خته
په څلور عنصره پټه

دا هم :-

بله نهٔ وائې زما خته
محبوبا شوه له ما پټه[1]

کړه له بدو چارو منده
چې ته خلاص شې له دې ړنده[2]

بیا د جنګ په شان راغلې زهٔ پوهېږم ستا په طور
د عاشق کور به تالاکړي څهٔ پروا لري په جور[3]

---

[1] دیوان احمد شاه . مخ ۱۰۹
[2] هم دغه . مخ ۱۱۲
[3] هم دغه . مخ ۳۹

زړۀ چې را یاده کړي د شها مینه
تر سترګو توې کا د زړګي وینه[1]

**صنعت تلمیع** :- په شعر کښې د دوؤ ژبو استعمال ته صنعت تلمیع وئیلے شي .د تلمیع لفظي معنی ده ملمع کول ، آراسته کول ، دې ته اقتباس هم وائي .لکه

نحن اقرب الیه
تۀ نظیر دغه کلاکَ

چې دا پاک نور منور شۀ
منور وئیل لولاکَ

او دا هم :-

لااله الاالله څۀ بنۀ نوم دے یا الله
لااله به تل وایم څۀ بنۀ نوم دے یا الله

چې قالو بلی طلب شو
په عاشق بیا د مینې تلوسې وې[2]

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي مخ ۱۴۳
[2] همدغه ، مخ ۱۵۲

**صنعت سیاق الاعداد** :- په کلام کښې د عددونو ذکر کولو ته صنعت سیاق الاعداد وئیلے شي ـ د احمد شاه بابا په دې شعرونو کښې دغه صنعت دے ـ

اووۀ خــــانـــکه دوه لاسونـــــه یوه ژبه
دولس سترګې زړۀ ئې په سر کښې ؤله غم

په څلور سره دے آغـــــاز کا
اتـۀ ښې یوه مښوکه لري سم

په دې برنې شعرونو کښې د صنعت سیاق الاعداد سره سره صنعت مراعاة انظیر هم دے ـ او صنعت معمه هم ـ یعنې یو شعر کښې درې صنعته راؤړلے شوي دي ـ چې د شاعر فني کمال ترې ثابتیږي ـ او دې لاندې شعرونو کښې هم دغه صنعت راؤړلے شوے دے ـ

یو چې مـــــکر وکـــړي کثرت شي
د کثرت بې له یوه رانشي شمارونه[1]

مقتـــــدي د دوؤ مـــــې یـــــو دے
که یو نۀ وائې د دوؤ نشي شمارونه[2]

---

[1] دیوان احمد شاه مخ ۱۴۲
[2] هـــــــمــــدغــه ، مخ ۱۴۳

**صنعت تکرار** :- ددې مختلف قسمونه دي . يو قسم پکښې تکرار مطلق دے .لکه په شعر کښې يو لفظ مکرر راؤړلے شوے وي .د بابا په شعرونو کښې هم ددې صنعت ګڼ مثالونه شته.

لاس و ماته په رو رو راؤړه طبيبه
مهر وکړه لاس مې اوګوره حبيبه

دا په حسن ډېره ډېره ښائسته ده
زړۀ مې څکه ځله کاندي بې ترتيبه

محبت لمبې لمبې دا زما زړګے پرې سوزي
همېش سود کا په لمبو زما زړۀ ستا د مخ پر ګل

**صنعت ردالعجز** :- کله کله شاعر د ښائست پېدا کولو دپاره د شعر اولني الفاظ پۀ آخر کښې بيا دوباره راؤړي او کله کله خو پوره مصرعه دوباره راؤړي .د ردالعجز لفظي معنیٰ ده وروستو د شا تکي بيا وړاندې راوستل .دا ټول غزل ددې ښکلے مثال دے.

دلبره خوش خرامه
په حسن ده تمامه

پـــه حـــسن ده تمامـــه
زړۀ ئـــې يـــوړو بـــې آرامـــه

زړۀ ئـــې يـــوړو بـــې آرامـــه
دا د عـــشق لـــه ســـرانجامه

دا د عـــشق لـــه سر انجامـــه
عاشـــق شـــولو تـــل ناکامـــه

عاشـــق شـــولو تـــل ناکامـــه
دا د ســـرو شـــونډو لـــه جامـــه

دا د ســـرو شـــونډو لـــه جامـــه
زړۀ د ميـــو بـــې آرامـــه

زړۀ لـــه ميـــو بـــې آرامـــه
عجـــب خانـــدي ګـــل اندامـــه

عجـــب خانـــدي ګـــل اندامـــه
نـــن راكـــوزه شـــوه لـــه بامـــه

نن راکوزه شوه له بامه
هغه مسته گل اندامه

هغه مسته گل اندامه
عاشق ولیده تمامه

عاشق ولیده تمامه
په خندا له الف نامه

په خندا له الف نامه
په وصل نهٔ ده خامه

په وصل نهٔ ده خاصه
احمد ولیده تمامه[1]

د صنعت ردالعجز داسې ښائسته او د روانۍ او سلاست ډک غزل په پښتو کښې ما د بل شاعر نهٔ دے لوستے. دې شعرونو کښې هم دغه صنعت راوړلے شوے دے.

[1] دیوان احمد شاه مح ۱۳۴ ـ ۱۳۵

ACKU

د دلبـــرو ســـپين مخونـــه
ګـــوره زېـــب کـــا شـــنهٔ خالونـــه

ګـــوره زېـــب کـــا شـــنهٔ خالونـــه
زيـــات د زلفـــو بنـــامارونه

ســـرهٔ خندانـــه ډک لـــه ميـــو
مـــخ چمـــن ســـترګې ګلونـــه

مـــخ چمـــن ســـترګې ګلونـــه
پـــه خنـــدا ئـــې ســـپين غابـــونه

پـــه خنـــدا ئـــې ســـپين غابـــونه
چـــې هـــر چـــا پرېـــښوهٔ کورونـــه

چـــې هـــر چـــا پرېـــښوهٔ کورونـــه
پـــرې پېـــزوان لګـــي اورونـــه

پـــرې پېـــزوان لګـــي اورونـــه
احمـــد ځکـــه شـــو داغونـــه[۱]

[۱] ديوان احمد شاه مخ ۱۴۲

ACKU

**صنعت مراعات النظیر** (د یو شان څیزونو خیال او پېژندګلو) :- په کلام یا شعر کښې د یو سلسلې ګڼ څیزونه ذکر کول. چې خپلو کښې مناسبت لري او تضاد پکښې نهٔ وي. دې ته مراعات النظیر وائي. د احمد شاه بابا په شعرونو کښې ددې صنعت هم ګڼې مثالونه موندے شي :-

زړهٔ که هر څولو مارغهٔ دے خلاص به نهٔ شي
دام دانه ئې د قسمت ایښې تر څنګ

بادشاهان ئې پرېباسه له تاج و تخته
چې د عشق لښکرې راغلې څنګ په څنګ

زهٔ بلبل عاشق د ګل یم بلبل ستا د مخ پر ګل
په هر ځائے کښې چې ګلزار وي بلبل ستا د مخ پر ګل

زهٔ هوس بې خپله یاره د هیڅ باغ او چمن نکړم
که هوس کړم دا هوس دے یاره ستا د مخ پر ګل

بیا بهار د عاشقانو دا د یار د مخ ګلزار دے
اور دے ګل ګلزار مئین یم یاره ستا د مخ پر ګل [1]

---

[1] دیوان احمد شاه مخ ۲۲ ، ۲۷

ساقي جام د لاله میوه ماله راکړه
اوس د میو په خمار ستړګې مشال ځم[1]

اوس چې د جبروت په صحرا راغلم
د لاهوت مارغۀ په لاس په ښکار د خال ځم[2]

دې برني شعر کښې د صنعت مراعاة النظير سره سره د تصوف د دوؤ اهمو مقاماتو ذکر هم په ښکلي انداز شوے دے.
د جبروت نه لویوالے او عظمت مراد دے او لاهوت الله تعالی ته د رسېدو هغه مقام دے. چرته چې یو سالک د فنا فی الله درجې ته اورسي. دې لاندې شعرونو کښې هم دغه صنعت دے.

د وحدت د بڼ طوطي وے
اوس ونښتے په لومَ

خال دانه زلفې دامونه
څوک به خلاص شيَ له دې دامَ[3]

او دا شعرونه هم د صنعت مراعاة النظير ښکلي مثالونه دي.

---

[1] دیوان احمد شاه مخ ۸۰
[2] همدغه ، مخ ۸۰
[3] همدغه ، مخ ۸۱

عجب دور د ګلونو دا بهار کا
چې بلبلې همېشه باندې چغار کا

د بلبلو حال ته ګوره په بوستان کښې
چې مدام په هر يو ګل ثنا د يار کا

**صنعت تعلّي** :- فخريه خبرې کول ، ځان اوچتول ، ډېر شاعران په کلام کښې څۀ غتې خبره د ځان پحقله کوي يا خپل صفت او ستائينه کوي .خو د احمدشاه بابا دا تعلي بې ځايه نۀ ده . په حقه ده .او هغه ددې وړنا پوره حق لري.

احمد شاه که د همت توره در واخلې
بيا به وکړې په رقيب باندې ماتم[1]

اے احمده دنيا تېره په هر چا ده
ستا په توره به بل وخت فخر پښتون کړه[2]

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي . مخ
[2] همدغه . مخ

پـه بربـښنا د تـوري ژونـد کـوه احمـده
د بـري جـولان پـه لـور د هـر ديـار کـا[1]

**تجنيس مطرف** :- ( يو ډډيز تجنيس ) دا د تجنيس يو قسم دے چې پکښې د متجانيسنو په آخر کښې د يو حرف کمے زياتے وي. مثال ئې وګورئ :-

لور پـــه لـــوري غشي ولي
زړۀ بـه خلاص نـــۀ وي له باج[2]

**صـنعت الـتفـات** ( بـدلون ) :- د التفات لغوي معنى ده د سترګو په ګوټ کښې کتل او په اصطلاح کښې هغه عبارت ته وئيلے شي چې په يو رنګ يا صيغه کښې روان وي او ناساپي بدل کړے شي ددې څو مختلف قسمونه دي. دلته ئې د احمد شاه بابا کلام نه مثالونه راوړلے شي. کله کله شاعر کلام د خطاب صيغې نه د تکلم صيغې ته واړوي لکه دا شعرونه :-

احمدشاهه کـه صورت لـه مينځـه واخلـې
زۀ به هله دغه ستا صورت خپـل نور کړم[3]

---

[1] ديوان احمد شاه ابدالي مخ ۶۱
[2] هـــــمـــــدغـــه . مخ
[3] هـــــمـــــدغـــه . مخ ۹۲

ACKU

کــــه خـــــان وګـــــورې احمـــــده
لــــه همــــه غبـــــرو ورا يـــــم

احمــــد شـــاه دا امانــــت دے
تــرو بـــه څـــۀ رنـــګ مـــا ســـوا کـــړم[۱]

کله کله کلام د غائب په صيغه کښې روان وي .او ناساپه د متکلم صيغې ته واوړي .لکه دا شعرونه :-

۱

د احمـد لاڤـې پـه خولـه نـۀ دي پـه زړۀ دي
خدائے دې نۀ کا چې په مينه تر چا کم يـم[۲]

احمـد شـاه پـه خپـل دلبـر سـره نـازيږي
بـې دلبـره زۀ بيـا ځـان و جهـان څـۀ کـړم[۳]

پـه دنيـا کـښې يـو ارمـان د احمـد دا دے
که مې خدائے لـه خپله ياره هم پيالـه کړه[۴]

---

[۱] ديوان احمد شاه ابدالي مخ ۷۹
[۲] هــــمــــدغــه . مخ ۸۷
[۳] هــــمــــدغــه . مخ ۸۹
[۴] هــــمــــدغه. مخ ۱۳۱

کله کله کلام د متکلم صیغه کښې شروع وي . او ناساپه د غائب صیغې ته واوړي . لکه دې شعر کښې -

زۀ احمد په دیدن خوښ یم که دیدن وي تل تتل
ولې عمر په شماره ځي عاشق څو کوي هئے [1]

کله کله کلام د خطاب صیغې نه غائب صیغې ته واوړي . لکه دا -

تـۀ خپـل زړۀ سـاته احمـده
یـار پـه هـر زړګـي پوهـان دے [2]

نـور بـه څـۀ وائـي احمـده
یـاران واړه ګلونـه د ګلـزار دي [3]

ACKU

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي مخ ۱۵۴
[2] هـمـدغـه ، مخ ۱۵۸
[3] هـمـدغـه . مخ ۱۲۰

# د احمد شاه بابا
# سیاسي عظمت او اهمیت د نورو دانشورانو ، محققینو او لیکوالو په نظر کښې

---

لکه څنګه چې تر اوسه اوونیلے شول چې احمدشاه بابا د ګڼو خصوصیاتو خاوند ؤ . هغهٔ الله پاک په بې شمېره خوبیو نمانځلے ؤ . هغه د خپل عصر یو داسې نابغه روزګار شخصیت ؤ چې د هغهٔ د کردار ، ژوند او عمل ژور او پاخهٔ نقشونه د تاریخ او قوم په ژوند ثبت شوي دي . خپل او پردي ټول د هغهٔ د ژوند ، کردار او ګڼ اړخیز شخصیت نه متاثره شوي او هغهٔ ته ګڼو دانشورانو ، محققینو او لیکوالو په خپلو لیکونو کښې خراج تحسین پېش کړے دے . او هغهٔ سره ئې په څهٔ نا څهٔ طریقه د عقیدت اظهار کړے دے .

اقبال د مرد کوهستان تعریف اوکړو اولیاء کرامو ډېر خوښ کړو انګرېزانو فیرنیر انفسټن، اولف کیرو، فورسټر، الېګزانډر، جے ډي کننګهم، سائکس، شلم برژه ورته خپلې ډالۍ وړاندې کړې د ګنډا سنګهه، نادر شاه افشار، نظام الملک قلیچ هم خوښ شو ټولو وئیل څهٔ ښکلے باچا او څهٔ ښکلے ولي دے د اسلام غازی دے په مزاج کښې ئې انکساري ده د درویشانو ... ډېر ښکلے انسان دے او د

انسانیت بېرغ ئې اوچت کړو. څۀ بنګلے عادل مزاجه شخصیت ؤ. یوه نادره هستي وه. غېرتي او عزتمند باچا ؤ.

احمد شاه بادشاه په جار وو دا وئیله
د غزا په نېت ور ووزم له کابله
پښتني مغلې لاندې کړې کفارو
دا خبره مې په زړۀ وګرځېدله
یا به قتل کړم کفار په هندوستان کښې
یا به پرې کړمه ګله پرې باندې خپله

دښمنانو دپاره سخت ؤ. د خپلو په وړاندې رحمناک او نرم. په عدل ئې باچائي کوله. په توره او مړانه ئې د هېواد طبعي پولې سمې کړې. په وقایوي (حفاظتي) فتوحاتو ئې د هېواد پولې مضبوطې کړې. د واکمنۍ په ځائے ئې په سیمه کښې یوه لویه ستروا کې ټېنګه او افغاني جمهوري امپراتوري ئې جوړه کړه.[۱]

حکیم الامه علامه اقبال ورته زبردست د عقیدت پېرزوئنې وړاندې کوي.

مرد ابدالي وجودش آیتے
داد افغان را اساس ملتے
آن شهیدان محبت را امام
آبروئے هند و چین و روم و شام

---

(ظهورونه) مخ ۲۲

نـامش از خورشـيد ومرتابنـده تـر
خـاکِ قبـرش ازمـن و تـو زنـده تـر
عـشقِ رازے بـود بـر صـحرا نهـاد
تـو نـه داني جـان چـې مـشتاقانه دار
از نگـاه خواجـۀ بـدر و حنـين
فقـر سـلطان وارثِ جذب حـسين[رض]
رفـت سـلطان زيـن کرائـي هفت روز
نوبـتِ او در دکـن بـاقي هنـوز[١]

ترجمه: د ابدالي بابا وجود يوه معجزه وه. د افغانانو د ملت بنياد ئې کېښودو. د محبت د شهيدانو امام دے د هند، چين، روم، شام آبرو ده. د دۀ نوم د نمر سپوږمۍ نه زيات پړق وهي. ددۀ د قبر خاورې ستا زما نه ژوندۍ دي. عشق يو راز ؤ دۀ په صحرا کېښودۀ. څۀ ښکلے ځان ئې اوسپارو. د بدر د حنين د آقا يعنې رسول الله صلی الله عليه وسلم د نظره ئې په سلطانۍ کښې فقيري راوسته او د حسين رضی الله عنه جذبه ئې رااونغاړله. بادشاه د دې لږ عمري دنيا نه لاړو. په دکن کښې ئې تر اوسه نوبت غږېږي.
يو بل ځائے اقبال فرمائي. ترجمه په ژبه د تقويم الحق کاکاخېل واورئ.
دلته اقبال د احمد شاه بابا په مزار ولاړ دے.

د هغـۀ روښـن ضـمير بادشـاه تربـت
چـې لـه زړۀ ئـې يـو ملـت شـو رااوچـت

---

[١] جاويد نامه. مخ ١٧٢

سپین گنبد ئې خپل حرم گڼه اسمان
نمر سپوږمۍ ئې له فروغه دي روښان
د فاتح غونډې امیر دے صف شکن
لري حکم په اقلیم هم د سخن
د تلاش په خوند ئې پورته کړو ملت
فرښتې ئې درود وائي په تربت
په آزاد لاس د سخي په فراغ زړهٔ
ډیر ملکونه ئې اغستهٔ او پریښودهٔ
اے چې خدائے درکړے زړهٔ دے او نظر
تهٔ د ملک او دین له رازه ئې خبر [1]

اقبال دا هم وائي:

هم سپاهی هم سپه گر هم امیر
باعدو فولاد و با یاران حریر

هم سپائي دے هم تورزن دے هم امیر
د دښمن دپاره سخت دے او دوستانو ته حریر

نکته سنج و عارف وشمشیرزن
روح پاکش بامن آمد در سخن

---

[1] مثنوي مسافر. پښتو ترجمه. پروفیسر سید تقویم الحق کاکاخېل په حواله د پښتو شعر

ښـــهٔ عــــارف دے نکتـــه دان دے او تـــورزن
د دهٔ پـــاک روح مـــا ســـره دے ســـخن زن[۱]

اروابناد ښاغلے بهادر شاه ظفر کاکاخېل په خپل کتاب "پښتانهٔ د تاریخ په رڼا کښې" لیکي:

احمد شاه ابدالي یو بېدار مغزه بادشاه ؤ. هر مؤرخ د دهٔ د ذاتي اخلاقو او انتظامي قابلیت ستائېنه کوي. ډېر پښتون طبیعته او محب وطن بادشاه ؤ.[۲]

میا سید رسول رسا د رحمٰن بابا د دېوان په دیباچه کښې لیکي: په تخت ناست دے. د تصوف غزلې وائي او د پاني پت د درېم جنګ دا لوئے او عظیم فاتح چې د خپلې زمانې تاریخ ته ئې نوے رخ ورکړے دے. او د دنیا په ډېرو لویو فاتحانو کښې شمار دے. د مرهټیانو د لاسه هیڅ فریاد نهٔ کوي ځکه چې د مرهټیانو خو هغهٔ ملا ماته کړې وه.... د مینې اظهار ئې ډېر دے.[۳]

پروفېسر ډاکټر محمد حنیف په خپله مقاله د ډاکټرېټ کښې لیکي چې نورالعېن واقف شاعر احمد شاه بابا ته راغے چې وې لیدهٔ نو دا شعر ئې اووې:

ندیـــده هـــیچ کـــس ظـــل پَیَمبـــر
بحمـــدالله کـــه ظـــل الله دیـــدیم

---

۱ حیات و آثار محمد عمر چمکني، مخ ۳۹۵
۲ د پښتو شعروادب تاریخ، مخ ۹۲
۳ دیوان د عبدالرحمٰن بابا.

يعنې ثوک د پیغمبر سیورے لیدے نۀ شي شکر دے ما سیورے د الله اولیدو.[1]

جے ډي کننګهم (J.DCuningham) مرتب د سکهانو د تاریخ اشاره ورکوي چې احمد شاه ابدالي د مشهور تاریخ دان ټیسیټس (Tacitus) د بیان مطابق د شهنشاه ګیلبه سره برابر[1] راوړي هغه هم ډیر جفاکش، د ارادې خاوند، د تورې مړنے او فاتح ؤ. خو هغۀ نظم و نسق نۀ شو چلولے. د سراولف کیرو په خیال احمد شاه ابدالي د دې درجې نه زیات اوچت باچا ؤ. سراولف کیرو د ډاکټر ګنډا سنګهـ په کتاب احمد شاه دراني خپله تبصره کوي:

"احمد شاه دراني د یو افغان سلطنت بنیاد کیښود چې اوس هم د هغې سلطنت واګې د هغۀ د قبیلې د یو بلې دراني څانګې په لاس کښې دي. زړۀ ورتیا او رعب د هغۀ په ختهه کښې اخښلي وو. هغه په افرادو او قبیلو کښې په تنظیم راوستلو کښې ماهر ؤ. هغه یقیناً د میدان غازي وو. فطرتاً زړۀ سواندے ؤ. سیاست ئې دا ؤ چې تر خپله وسه به ئې د روغې جوړې کوشش کولو. هغه یو داسې بادشاه ؤ چې هیچرې ئې د عوامو سره تړون نۀ ؤ پرېښے. هغه د خدائے په مینه مست ؤ، د خلقو خوښ ؤ، په پښتو ژبه ئې شعرونه وئیل، دیوان ئې موجود دے".[2]

ایلفنسټن (Elphinstan) لیکي "احمدشاه ابدالي یو خوش طبع سخي زړے انسان ؤ. د ښۀ فطرت خاوند ؤ. مذهب ته ډیر مائل ؤ.

---

[1] حیات و آثار حضرت میان محمد عمر چمکني، مخ ۳۹۵

[2] دیباچه دیوان احمد شاه ابدالي، مخونه ی ک ل.

بزرګان، عالمان ئې خوښ وو د کابل نه به چې پنجاب ته تلو نو د ځوکنو د میاعمر صېب به ئې سلام کولو د لاهور او د بټالې د بزرګانو سلام به ئې هم کولو. په دهلي کښې د نظام الدین اولیاء زیارت ئې کړے ؤ. په پاني پت کښې ئې د بو علي قلندر زیارت کړے ؤ غټ غټ منصبداران به ولاړ وو خو سیدان او عالمان به ناست وو، ډېر متقي وو، د تقوئ آخري منزل ته ئې د رسېدو هڅه کوله".[1]

نادرشاه افشار د احمد شاه په حقله داسې بیان کوي

"ما په ایران، توران، هندوستان هیڅ یو انسان داسې نۀ دے لیدلے چې په هغۀ کښې هغه صلاحیتونه موجود وي چې کوم په احمد شاه کښې وو".[2]

فیرئر لیکي

د هغۀ حکومت د وفاقي جمهوري نظام سره مشابه ؤ. په دې نظام کښې د احمد شاه حېثیت د خپل واکه بادشاه نۀ ؤ بلکې دے یو مشر لګېدۀ[3]. د ملک د انتظام چلولو دپاره دۀ د نهو سردارانو یومشاورتي مجلس یا جرګه سازه کړې وه. احمد شاه بابا په افغانانو کښې د خودداري او آزادۍ جذبه پېدا کړه. د شاهي دربار د تعظیم رسم ئې ختم کړو د سلام دپاره صرف تندي ته لاس اوچتول کافي وو تېتېدل نه.

---

[1] (ا) دیوان احمدشاه ابدالي. مخونه م ن (ب) احمد شاه ابدالي. مخ ۳۲۱

[2] هـــمـــدغـــه . مخ ۳۲۰

[3] هـــمـــدغـــه . مخونه ۳۲۸، ۳۲۹

فرئر بل ځائے لیکي:
احمد شاه له دې کبله د تعریف قابل دے چې هغه په مختلفو افغان قبیلو کښې قوانین چالو کړل او هغوئي ئې د امن په خوږو آګاه کړل د خلقو د ښېګړې ئې ډېر کارونه اوکړل د مقدمو په فېصلو کښې ئې د انصاف اعلی ترین اصول اوتاکل د فېصلو به هیچا شکایت نۀ کوو.[1]

بابا ډېر سماجي اصلاحات اوکړل د ښځو مرتبه ئې زیاته کړه، په طلاق ئې پابندي اولګوله د کنډو د وادۀ ئې په تاکید وینا اوکړه. احمد شاه بادشاه سردارانو، امیرانو، او فوځي غېر فوځي حاکمانو نه د خطاباتو عطا کولو رسم باقي اوساتو د ذاتي خصوصیاتو په وجه هم خطابات ورکېدے شول (ایمانداري، وفاداري، بهادري وغېره). څۀ خطابات دا رنګې وو

شاه ولي خان، شاه پسند خان، شاه دوست خان، جهان خان، جان نثار خان، فرزند خان، کفایت خان، خانِ خانان، شرف خان، نظام الدوله، مخلص الدوله، امین الملک، التفات خان، دولدار خان.[2]

د هندوستان یو اهم مؤرخ الیګزانډر دا اولیکل
"احمد شاه د ډیلي د سلطنت د پخواني شان و شوکت بحال کولو دپاره موزون ترین بادشاه دے. که هغه دا باچائي قبوله کړې".[3]

---

[1] احمد شاه ابدالي، مخ ۳۷۲
[2] همدغه ، مخ ۳۷۲
[3] همدغه ، مخ ۳۷۲

احمد شاه بابا يو انسانيت پسند باچا ؤ د زياتي ويني تويولو نه ئې احتراز اوکړو. دښمن ته به ئې سزا نۀ ورکوله. د دۀ په وخت مُثله بنده وه يعني پوزه غوږونه يا نور اندامونه پرې کول.[1]

سائکس د افغانستان مصنف ليکي:

د احمد شاه نه مخکښې افغانستان په وړو وړو رياستونو کښې تقسيم ؤ. ظالمان پرې مسلط ؤ. جنګونه به د دوئي په مېنځ کښې کېدل بيا دا ملک د نورو لويو سلطنتونو صوبه وه. دغه دور ختم شو نو افغانستان بيا ټوټې ټوټې شو او درې ګاونډې ملکونو د دې ټکړې سازې کړې. د احمد شاه په زمانه افغانستان بيا د يو آزاد رياست په حېث راڅرګند شۀ. دا معجزه د احمد شاه له کبله ظاهره شوه.[2]

ډفورسټر ليک: (په کال ۱۷۸۳ء کښې)

احمد شاه د نورو مذهبونو د خلقو سره ښۀ رواداري کوي. ايراني شيعه ډېر متصب دي. ولې احمد شاه د شيعګانو سره ښۀ سلوک اوکۀ. په ايران کښې شيعګان سُنيانو سره خوراک نۀ کئ. په مخ ورته کافر وائي ولې د احمد شاه په علاقه (خراسان) شيعګانو ته پوره شهري او مذهبي آزادي حاصله ده.[3]

ګنډا سنګهـ د خپل کتاب احمد شاه ابدالي په ضميمه کښې ليکي:

---

[1] احمد شاه ابدالي . مخ ۳۲۸

[2] افغانستان سائکس مخ ۳۹۷

[3] فورسټر A Journey from Bengal جلد دوم مخونه ۷۹، ۸۲، ۱۰۳، ۱۳۰

"د احمد شاه دا د ټولو نه لویه کارنامه ده چې هغهٔ افغانان یو قوم اوګرځولو، یو آزاد وطن ئې ورته ورکهٔ. دنیا ورته بابائے افغان او د باني افغانستان القاب ورکړل. احمد شاه اول تا اخر افغان ؤ. ټول ژوند ئې د وطن د عظمت په زیاتولو خرځ کهٔ. څهٔ دوه سوه کاله کیږي چې مړ دے ولې اوس هم په زړونو کښې ژوندے دے. احمد شاه بابا ورته وائي [1]

د پښتنو کومې جرګې چې په کومه جمهوري طریقې احمد شاه خپل بادشاه منتخب کړو. په دې حقله شلم برژه لیکي

"افغانستان په اتلسمه پېړۍ کښې په خپلو پښو اودرېدهٔ، دا ډېره د قدر وړه فېصله وه. او ډېره عظیمه او مهمه کارنامه وه". [2]

مؤرخ سټینلے لین پول اوبار ټولډ لیکي:

"احمد شاه د تاریخ نامتو غړے دے. د خپل حکومت په دوران ئې د افغانستان ټوله پښتونخوا فتح کړه. او بیا ئې هند ته مخه اوکړه. دوئي دا هم اولیکل چې د اسلام نه وړاندې افغانستان ډېر زوړ تاریخ لري". [3]

دانشمند میر محمد غبار لیکي:

احمد شاه د افغانستان په جوړخت کښې د سیاسي وحدت بنیاد کېښود. د دې مقصد دپاره ئې د مساوات حقوق د نظر لاندې اوساتل. دهٔ ته خلقو بابا وې، په غازي به یادېدو. واحد باچا چې تاج

---

[1] احمد شاه ابدالي، مخ ۳۷۴

[2] اوسنے افغانستان د خپل جوړښت په بهیر کښې ، مخ ۱۱۴

[3] د اسلامي حکومتونو تاریخ ، مخ ۱۱۵

ئې په سر نۀ کېښودو. دستار به ئې تړلو. د تخت په ځائے به په مزکه ناست ؤ. د خلقو سره ئې برابر علاقه ساتله. په روڼ تندي به يې خبرې کولې. په انصاف مئين ؤ. عياشي ئې نۀ وه کړې. لالچي نۀ ؤ. چرې ئې د جنګه تېښته نۀ ده کړې. د غېرمذهب خلقو سره ښۀ ؤ. د مثلي (اندامونه پرېکول) خلاف ؤ. په دربار کښې ئې تيتېدل منع کړل. بې ځايه اقربه پروري پکښې نۀ وه. بهترين غړي ئې د مناصبو دپاره اوټاکل. د خپل تاريخي يون په مرحله کښې په ډېر صلاحيت او لياقت په سياسي او انتظامي امور تېر شۀ.[1]

د احمد شاه بابا په حقله مشهور پښتو شناس ايچ جې راورټي چې د اعليحضرت امير دوست محمد خان په عصر کښې ژوندے ؤ. په خپل پښتو ګرامر کښې د احمدشاه بابا ډېر اشعار د مثال او سند په ډول ذکر کړي دي. او وائي.

احمدشاه ابدالي د دُرانو د سلطنت لوئے مؤسس او د پاني پت د مېدان لوئے بريالے ؤ. اشعار ئې يوه عشقي د تصوف پېرايه لري. او د ډېر احترام وړ دي[2].

کرنل جي بي ماليسون G.B.Malleson انګلش مؤرخ د افغانستان په تاريخ کښې ليکلي دي.

احمد شاه يو اتحادي حکومت ,, فيودل سستم ،، جوړ کړو د ملت سرداران ئې په ښارونو مقرر کړۀ او د پښتنو ځخه ئې دا خواست اوکړو چې ,, د خدائے دپاره ننګ اوکړئ او يو موټے شئ.

---

[1] افغانستان درمسير تاريخ، مخ ۲۲، ۲۳

[2] لوئے احمد شاه ، ص ۱۵۹

مستر مکمن (Macmun ) انګلیس په خپل تاریخ کښې د احمد شاه بابا فتوحات د امپرا طور افغاني په نوم په ښهٔ ډول ذکر کوي او د دهٔ فتوحات په ښهٔ ژبه ستائي[1] .

د فرانس مشهور مؤرخ او فیلسوف ډاکټر ,,ګستاف لیبون ،، لیکي :-

د مرهټانو ملا د پاني پت په میدان په ۱۷۶۰ء کال پښتنو، احمد شاه ماته کړه .او دوه لکهه لښکر ئې ورله قتل کړهٔ او له زوره ئې واچوله[2] .

مستر اي مارسډن انګلیسي مؤرخ لیکلي دي

احمد شاه په اسانئ د ډهلي باچا شو او لکه محمود غزنوي او محمود غوري څو واره ئې پښتانهٔ په هندوستان راوبهول او د مرهټانو دوه لکهه لښکر ئې اوؤژل[3] .

سرجان ملکم انګلیسي مؤرخ لیکي :-

احمد شاه څو واره پر هندلښکرې وکړې . هر وار ئې برے اوموند . دهٔ د قوم د فکره سره سم حکومت کاوهٔ . ټول ملت په احترام ورته کتل . د هندوستان او افغانستان لوئے فاتح دے ،مرهټانو ته ئې لویه ماتې په پاني پت کښې ورکړه[4] .

ګرانټ ډف انګلیسي مؤرخ لیکي :-

---

[1] لوئے احمد شاه . مخ ۱۵۲ ، ۱۵۷

[2] هــــــــمــــــــدغــه ، مخ۱۵۲ ، ۱۵۷

[3] هــــــــمــــــــدغــه ، مخ۱۵۲ ، ۱۵۷

[4] دیوان احمد شاه ابدالي ، مخ۱۵۲ ، ۱۵۷

د پاني پت جګړه د هندوستان د مها بهارت تر جګړې روسته لویه جګړه وه. دا په دوؤ ورځو کښې (احمد شاه) دوه لکهه مرهټان مړۀ کړۀ. او فقط شپږمه برخه ئې په ژوند اوتښتېدله[1].

د هندوستان د تاریخ نومیالے مؤرخ الکزانډر ډاؤ په ۱۷۶۷ء کښې وئیلي وو:-

,, که چرې احمد شاه د ډیلي تخت غوره کړي نو د امپرا توری د لرغوني قدرت د را ژوندي کولو لپاره به دے تر ټولو مناسب شخص وي[2]. خو احمد شاه بابا د ډیلي تخت له غوره کېدلو څخه خپل هېواد غوره وګڼۀ.

د هند بل نومیالے مؤرخ او محقق پروفیسر ګنډا اسنګهه د احمد شاه دراني پحقله لیکي:-

هغه ډېر ستر کار چې احمد شاه تر سره کړۀ. دا وو چې افغانان ئې د یوه ملت په توګه متشکل کړل. او دوئې ته ئې یوه خپلواکه زمکه ور اوبخښله. دے له هر څۀ مخکښې په ټوله نړۍ کښې د افغان ملت د پلار په نامه او د اوسني او معاصر افغانستان د جوړونکي په توګه نمانځل کېږي[3].

دا خو ؤ مشهور دانشوران او مؤرخین چې د احمد شاه بابا د سیاسي حېثیت په حقله ئې لیکونه او وېناګانې کړي دي او د

---

[1] دیوان احمد شاه ابدالي، مخ۱۵۲، ۱۵۷

[2] افغانستان د خپل جوړښت په بهیر کښې، مخ ۳

[3] همــــــدغــه مخ ۴

ACKU

احمد شاه ابدالي د صلاحيتونو توري ، مړانې او بريالیتوب ځرګندونه ترې کېږي.

ددې نه علاوه نور هم ددې دور او عصر ګڼ محققين ، اهل قلم او دانشوران احمد شاه ابدالي ته په ډېر درونده نظر ګوري او هغۀ ته ئې د قلم په ذريعه پېرزوئنې وړاندې کړې دي او احمد شاه بابا سره د هغوي د مينې او عقيدت او د احمد شاه بابا د مړانې ، تورې او دانشمندۍ پته ترې لګي.

علامه شکيب ارسلان د بابا په حقله ليکي:

د احمد شاه د مخه د هندوستان اسلامي دولت په خطر کښې ؤ. په ۱۷٦۰ء چې احمد شاه دهلے اونيوؤ نو هندوانو لکه د غزنوي ، غوري حکومتونو په ډول د هند يو نوے حکومت اوبالۀ. د هرې خوا ئې مقابله ورسره اوکړه. مګر دۀ د پاني پت په ميدان په (۷) ــ ۱۸٦۱ء لکه پخوا بېرته اسلام ته برے ورکړو[1].

علامه فريد وجدي د مصر مشهور عالم ليکي:

احمد شاه بابا په هغه مرهټيانو چې تېموري شاهان ئې عاجزه کړي وو ښکاره برے موندلے او لويه ماته ئې ورکړې وه. دے زړۀ ور او پوهه ، عادل او زړۀ سوندے او خازم سړے ؤ. پښتنو لکه د مهربان پلار هسې بالۀ او د بابا لقب ئے ورکړۀ[2].

علامه سيد سليمان ندوي د هندوستان مشهور محقق ليکي.

---

[1] لوئے احمد شاه ، ص ۱۵۸

[2] هـــمـــدغـه ، ص ۱۵۸

احمد شاه ذاتاً لوئې او لوالعزم او تجربه کار او فاتح سپه سالار ؤ . اما لکه نور فاتحین په انتظام نۀ رسېدے ، د هندوستان مسلمانان په دې ددۀ ډېر ممنون دي چې مرهتهان ئې له شمالي هنده اوويستل[١] .

---

١ هـــــمـــــدغه ص ١٥٩

# د احمد شاه بابا کلام او مستشرقین

په اروپائي مستشرقینو او د مشرق د ژبو په پوهانو کښې مسټر راورټي (Raverty) انګلیس خو مشهور او ددې ژبې لوئے خادم دے دۀ د پښتو ژبې دوه مهم کتابونه نشر کړي دي. یو کتاب ئې ګلشن رو دے چې په ۱۸۶۰ء ئې د هرتهرد ښار کښې په حروفي طبع چهاپ کړے او د پښتو ژبې د (۱۲) جلدو زوړ قلمي آثارو څخه ئې انتخاب کړے دے. په دغه کتاب کښې (۱۲) مخه د احمد شاه له دیوانه نقل شوي دي. او راورټي احمد شاه بابا د پښتو یو ښۀ شاعر ګڼي (لکه د مخه چې ذکر شو) بل کتاب د راورټي د پښتو ضخیم ګرامر دے چې په ۱۸۵۲ء په کلکته کښې چهاپ شوے او په دغه کتاب کښې راورټي ډېر د احمد شاه بابا اشعار د سند په توګه ذکر کوي.

° مشهور انګریز مؤرخ ښاغلے الفنسټن د لوئے احمد شاه بابا په باره کښې لیکي:-

ACKU

هغه یو ولي وو ـ شعر به ئې وئیلو او لویه خبره خو دا وه چې فارسي نه بلکې پښتو کښې به ئې شاعري کوله ـ خپله صالح ؤ ـ او په صالح وئیلو به خوښېدو۔ (ترجمه)

دهمېش خلیل د وېنا مطابق داسې ښکاري چې د بابا فارسي عربي شاعري د الفنستېن د نظره نۀ ده تېره شوې[1] ـ

پادري هیوز انګلیس (The Rend.T.P.Hughes) په کلید افغاني کښې چې په ۱۸۹۳ء په لاهور کښې چاپ شوے دے ـ د احمد شاه بابا له دیوانه څنې بدلې انتخاب کړې دي۔

او علاوه پر دغه ډارمیستیټر (J.Darmesteter) فرانسوي مستشرق چې د پښتو په ادب کښې ئې پلټنې کړي دي ـ احمد شاه بابا د ملي شاعر په حېث پېژني د احمد شاه بابا سره د عقیدت او مینې اظهار خپلو پښتنو دانشورانو او د قلم خاوندانو هم په ډېر شدت او اخلاص سره کړے دے او د هغۀ کمالات او خصوصیات ئې په ګوته کړي دي د هغوي لنډېز هم دلته وړاندې کولے شي۔

---

[1] د احمد شاه د ۲۲۰ تلین په مناسبت د یو ورځني سیمینار مقالې ، ص ۴۳

# د احمد شاه بابا

## درونـد شخصيت او د هغهٔ ادبي مقام د پښتنو دانشورانو ليکوالو په نظر کښې

دبابـا د کـلام پـه حقلـه لـوئے اسـتـاد ، محقـق اديـب اروابنـاد عبدالحی حبيبي ليکي :-

ددهٔ له کلامه دغه ښکاره ده چې دا کلام د يوه پښتون وېنا ده ، او د داسې پښتون وېنا ده چې پخپلو ملي ښېګړو او حماسي جذباتو ئې زړهٔ ډک او د توريالي توب او ننګيالي توب مقدس ملي احساسات په سر کښې لري[1] .

دا نوموړے په يو بل ځائے کښې وائي :-

احمد شاه بابا چې هم د عشق او د مينې په دنيا کښې پل کېږدي نو پاخهٔ ويل لري او هر قدم ئې استادانه دے . احمد شاه بابا د عشق په دنيا کښې تر خپل تولـه شاهانه سطوت او جلال تېرېږي . او لکه د حضرت جامي دے هم د عشق دنيا د سر د بائللو ځائے بولي چې ګټه ئې په سربازۍ اړه لري . نهٔ په شاهۍ او نسب[2] .

---

[1] د احمد شاه د ۲۲۰ تلين په مناسبت د يو ورځني سيمينار مقالې ، ص ۴۰

[2] هـــمــــدغــه ، ص ۷۲ ، ۷۷

**د احمد شاه بابا د کلام په باب اوچت محقق او ادیب شاعر همېش خلیل لیکي :-**

د یو شاعر او ادیب په حیث په لوئے احمد شاه د څۀ لیکلو په وخت د شاعر ډېر متنوع اړخونه د لیکونکي مخې ته شي ـ مثلاً د موصوف قومي او رزمیه شاعري ، متصوفانه افکار او د مذهب تبلیغ وغېره ولې زما په خیال مذهبي او ملي افکارو چې شاعر ته د ابدیت کوم مقام ورکړے دے هغه د ډیلي تخت نه هم ډېر اهم دے[1] ـ

دا نامتو لیکوال بل ځائے لیکي :-

د لوئے احمد شاه کامیابۍ او فتوحات اګر که د هغوئي د تورې منت بار دي ـ ولې تر څو چې د هغوي د شاعرۍ تعلق دے هغۀ دیوان هم د جنګ د یو مېدان نه کم نۀ دے ـ کومو حالاتو چې لوئے احمد شاه په تورۀ پورته کولو مجبور کړے ؤ هم هغه حالات د شاعر په کلام کښې محسوسېږي[2] ـ

**محمد صدیق روهي د احمد شاه بابا د تورې او قلم په باره کښې داسې لیکي :-**

لوئے احمد شاه بابا د پښتنو د نورو مشرانو لکه جهان پهلوان ، امیر کروړ سوري ، بایزید انصاري ، شیر شاه سوري ، ستر خوشحال خان او میرویس نیکۀ په شان د تورې او قلم خاوند دے خدائے پاک دا مهرباني تر ډېره حده په پښتنو کړې ده چې داسې یو

---

[1] د لوئے احمد شاه د ۲۲۰ تلین په مناسبت یو ورځنے سیمینار ، ص ۳۵

[2] هـــــــمـــــــدغـــه ، مخ ۳۷

سرزوري او بي اتفاقه قام د ساتني او لانبسودني دپاره ئې داسې مشران چې دوه وسلې (توره او قلم) ئې په لاسو کښې وي پېدا کړي دي[1]

## پروفېسر رسول امين ليکي:-

,, سره ددې چې لوئې شخصيتونه په يو خاص کور ، قوم او وطن کښې پېدا کېږي . ليکن دا لوئې شخصيتونه د يو کور ، قام او وطن څخه ډېر لوئې دي . محدوديت نۀ مني بلکه دغه ډول شخصيتونه د ټولو اولسونو او يا د ټول انسانيت ميراث دے . زما په نظر لوئې احمد شاه هم لوئې شخصيت دے او هغه له افغانانو برسېره ددې منطقي د ټولو قومونو د وياړ ډک ګډ ميراث دے[2] ،،

## اروانښاد مير غلام محمد غبار د احمد شاه بابا په باب کښې ليکي:-

د احمد شاه بابا ارزښت يواځې په دې کښې نۀ دے چې هغه يو افغان واکمن ؤ . بلکه زياتره له دې امله دے چې هغه د دوؤ پېړو په اوږدو کښې افغانستان د ټوټې ټوټې کېدلو او سياسي تجزيې روستو د يو حسابي دولت مؤسس او د افغانستان د سياسي هويت را ژوندي کونکے دے . احمد شاه څومره چې د نظامي فتوحاتو له اړخه يو ستر افغان واکمن ؤ . له دې زيات د هغه خدمت

---

[1] د لوئې احمد شاه د ۲۲۰ تلين په مناسبت يو ورځنې سيمينار ، مخ ۱۹

[2] هــــــــــــدغــه ، مخ ۲۴

له امله د درناوي وړ دے چې د افغانستان د ملي سياسي وحدت لپاره ئې ترسره کړي دي [1].

دې ليکوال د بابا د فني ذوق باره کښې داسې ليکلي دي

خدائے دا لوئے افغان د يو سر باز په توګه پيدا کړے ؤ. په فطري ډول د خلقو لاربنود، رهبر، يو زړۀ سواندے واکمن، يو توانمند اداره چې د پوهې او ادبياتو حامي وو.

غلام محمد زر موال د احمد شاه بابا په حقله خپل خيالات داسې ښکاره کړي دي:-

,, تاريخ، تاريخي شخصيتونه او د هغوئي کارنامې د ملتونو هنداره او د راتلونکي په لور بې د يون او خوځښت چراغونه دي. احمد شاه بابا د افغانستان د ملي ټولنيز او سياسي وحدت باني او وياړمن سمبول دے. بائد د هغۀ له ژوند او کارنامو څخه د وطن ددې اساسي اړتياؤ د خوندي کولو لپاره زده کړه اوشي [2]،،

محمد ګل وطنيال دياني د احمدشاه بابا باره کښې ليکلي دي:-

احمد شاه بابا چې يو زېړېدلے قهرمان، مهربان قائد، او مېړنے عسکر ؤ. په پښتو، فارسي او عربي ادبياتو، فلسفې او ديني علومو کښې هم د ممتاز شخصيت خاوند ګڼل کېدۀ [3].

دا ليکوال د هغۀ باره کښې بل ځائے وائي:-

---

[1] اوسنے افغانستان د خپل جوړښت په بهير کښې، مخ ۳، ۴

[2] همدغه، مخ ۱۱

[3] همدغه، مخ ۲۹

کوم وخت چې احمدشاه بابا د شیر سرخ په ملي او تاریخي جرگه کښې د افغانستان د ټولواک په حېث اوټاکل شو او د دولت چارې ئې په لاس کښې واخستلې نو له ټولو لومړے ئې داسې اقدامات پېل کړل ـ چې د افغانستان سیاسي وحدت او اداري انتظام ته چې د هوتکي سلطنت له ړنگېدو څخه روسته د بهرني لاس وهنې له امله وران ویجاړ شوي نوے جوړول او سمول ورکاندي[1] ـ

غوث خېبري د احمدشاه بابا په بابله لیکلي دي :-

لوئے احمد شاه دراني د داسې یو قوم په همت او وحدت او ددغه نومیالي میړني اولس دپاره د تاریخي افغانستان دننه د یو مرکزي پیاوړي او خپلواک ، یو موټي وغښتلي دولت بنیاد کېښود ـ او ددې لوئے او چې په تاریخ کښې ئې د ورومبي ځل له پاره د افغانانو په خپل کور کښې چې لوئے والے ئې له جېحون نه تر سبحون پورې ؤ د افغاني دولت اساس کېښود او د معاصر افغانستان نوم ئې د نړۍ په نقشه کښې ځائے کړو ـ چې دا د ۱۷۴۷ ء میلادي کال ؤ[2] ـ

جنرل رحمت الله ساپي د بابا پحقله داسې وېنا کړې ده :-

احمد شاه بابا د مور او پلار دواړو له خوا یو وارثي مشر او سردار ؤ د بابا امېرا توري نۀ خېراتي وه او نۀ هم تصادفي ـ دا ټول له سر نه تر پایه ددۀ پلان ؤ چې تطبیق شو[3] ـ

---

[1] اوسنے افغانستان د خپل جوړښت په بهیر کښې ، ص ۲۴

[2] همدغه ، مخ ۳۰ ، ۳۱

[3] همدغه

ددې مشهورو او درنو وېناوو نه علاوه د احمد شاه بابا د ژوند د مختلفو اړخونو او صلاحیتونو باره کښې د پرو پښتنو شاعرانو منظومې پېرزوئنې هم وړاندې کړې دي. د هغې نمونې پېش کول هم دلته ضروري ګڼم.

ډاکټر عارف نسیم صیب د احمد شاه بابا په حقله داسې وېنا کوي:-

د تاریخ پنګه راته وړاندې پرته
دا خزینه ده د لعلونو ډکه
ما اړولې د تاریخ پاڼې
د پښتنو د ملغلرو په لټون وومه زۀ
لعلونه ما د پښتنو لټؤل
په دغه پاڼو کښې یو نمر ډېره برېښنا کوله
عجب یو ښکلے ځلیدونکے نمر ؤ
چې پلوشې ئې په هر لوري ځلیدې پرقیدې
نور افشاني ، ضیاء پاشي ئې لا په بل رنګ وه
در دوران ؤ هغه
مهر تابان ؤ هغه
د پښتون آن ؤ هغه
فخر افغان ؤ هغه
عظیم انسان ؤ هغه
ښۀ مسلمان ؤ هغه
شاهِ شاهان ؤ هغه

بالانشان ؤ هغه
صوفي انسان ؤ هغه
شاعر د شان ؤ هغه
يو پښتون ځوان ؤ هغه
ښهٔ خوږ زبان ؤ هغه
او د اقبال په ژبه
مرد ايمان ؤ هغه
د هر تعريف ستائنې
شايانِ شان ؤ هغه
په انتظام ؤ ښکلے
په هر صفت سپېځلے
په سرېتوب نمانځلے
د ميا عمر ستائيلے
ولي الله چې شاه ؤ
هغهٔ هم پېژندلے
ډېر ئې ؤ ښه تللے
ورته ئې خط ليکلے
تهٔ د اسلام رڼا ئې
د دين ايمان قلا ئې
په رسالت شېدا ئې
او د قرآن صدا ئې
تهٔ ,, مسلمان ،، صفا ئې

ACKU

د مسلمان امسا ئې
ستا د غېرت شهرت
ستا د مړانې صفت
ستا د جرأت هیبت
برصغیر کښې خور دے
هر نظر ستا په لور دے
په هندوستان کښې شور دے
د مرهټه ؤ زور دے
د ظلم بل ئې اور دے
مسلمان قتلوي
د دوئي شاهي ختموي
په دې طرف راشه
ددې مرض دوا شه
او تاریخ دا اولیدل
چې احمد شاه ابدالي
یو توریالے والي
یو مجاهد غازي
د جنوبي هندوستان
مرهټه اوچقول
د پاني پت په میدان
دوئي شول د پښو لاندې دل
د تاریخ مخه ئې بدله کړله

ACKU

او د اسلام ډیوه ئې بله کړله
د پښتنو پښتو ئې برنده کړله
او د کافر سړی ئې کله کړله
او د هغوي د حکومت هسه ئې شله کړله
شمله ئې رنګه کړله
او د اسلام جنډه ئې هسکه کړله

عبدالله غمخور احمد شاه بابا ته داسې عقیدت پیش کوي :-

چې مشرق پرې کوي فخر
او آسیا ترې قربانېږي
چې تاریخ پرې کړي نازونه
او وختونه ترې ځارېږي
چې بختونه ورسره هم
په جلب کښې روانېږي
نهٔ پوهېږمه دا څوک دے چې په زړونو سلطاني کړي
له ډیلي تر اصفهانه تاجداري حکمراني کړي

هم دا شاعر مخکښې وائي :-

د وختونو شهسوار دے
که سالار دے د فوځونو
که عقاب دے زرین باله
د دې دنګو دنګو غرونو

پــه تــاجونو کــوي لــوبې
بې نيازي کړي لـه تختونو

د ډيلي نه زړهٔ کړي صبر چې عاشق په پښتونخوا شي
ددې لوئے وطن شي ستر کې ددې لوئے وطن بابا شي [1]

## شهسوار سنگر وال نيازي د احمد شاه بابا په حقله داسې د منظوم عقيدت اظهار کړے دے

د خوشــحال او احمــد شــاه ننگونــه يــو دي
پــښتنو تــه لــر و بــر وياړونــه يــو دي

د خيبــر پــه شــملو ورو زيــرے اوکــړئ
د ميــرويس او د ابمــل رزمونــه يــو دي

لــه اورنــگ نــه تــر پيرنگــه تــر دې دمــه
مــا او تــا تــه د دښــمن لاسونه يــو دي

تــاتره پــه لپــو لپــو راتــه ژاړي
ولــې بيــل شــوئ د تنــې ســرونه يــنو دي

[1] اوسنے افغانستان د خپل جوړښت په بهير کښې . ص ١٠٢

احمد شاه د زماني حضر ته وايه
د اټک او کندهار ننګونه يو دي[1]

هم دا ليکوال بل ځائے يو ځلوريزه کښې د احمد شاه بابا او خوشحال بابا د ژوند لاره د پښتنو د منزل نخښه ګڼي ـاو د بابا په قدم قدم نهٔ اېښودل ناکامي ګڼي۔وائي:-

که پرون تلل او که نن ځي که صبا ځي
پښتانهٔ د هر بابا په لاره بياځي

ژبه ئې پرېکړې د مغل په لاس ئې ورکړې
چې پښتون وي او بې لارې د بابا ځي[2]

سيد ممتاز علي شاه ممتاز احمد شاه بابا ته داسې منظومې پېرزوئنې وړاندې کړي دي او موجوده حالاتو کښې د هغهٔ د راتلو ارمان کوي۔

ستا يلغارونه په غليم تاريخ محفوظ ساتلي
خو زهٔ پښتونه ستا پښتو ، پښتونولي ستائمه

---

[1] اوسنے افغانستان د خپل جوړښت په بهير کښې ، مخ ۱۰۲ ، ۱۰۷
[2] همدغه ، مخ ۱۰۸

د اور بخـــري ورول بـــه ســـتا د اس سُـــمونو
پـه سـرو لمبـو كـښې دې مړانـه ابـدالي سـتايمه

يـــو خلـــې بيـــا پـــه دې لار راشـــه
د هـــر فرعـــون فرعونيـــت لـــه د كلـــيم چغـــه وې

لاس د شـفقت دې د مظلـوم پـه سر مـدام ايـښې ؤ
چرتـه چې ظلـم بـه سر پورتـه كـړو بيـا سر بـه نـۀ ؤ

د سيالو سـيالـه زۀ خـو سـتا هغـه سيالي ستائمه
يـــو خلـــې بيـــا پـــه دې لار راشـــه

مخكښې ليكي :-

شـملـه وه هـسكه د پـښتون د پګـړۍ ول تـۀ وې
بابـا قلـم نـه دې قربـان ، قلـم دې هـم تـوره وه

د هـــر جـــابر بربريـــت لـــره اجـــل تـــۀ وې
پـه هـر سـنګر دې ګوزارونـه مثـالي سـتائمه

يــــو ځلـــې بيـــا پـــه دې لار راشـــه
پـــه پخوانـــو پلونـــو دې پرېوتـــل ګردونـــه[1]

ښاغلي خېبر افريدي احمد شاه بابا داسې ستائيلے دے۔

پــه يــوه خولــه پــه يــو اواز بانــدې
پــښتنو خــوښ کــړې تــه اعــزاز بانــدې

ابــدالي تــا ؤ کــوم حکمــت زده کــړے
مــونږه خبــر کــړه پــه دې راز بانــدې

د پــلار او مــور خــاوره دا ســتا خوښــه وه
دا پــښتونخواه دې پــه ريــښتيا خوښــه وه

تخــت د ډيلــي بــه ورتــه تــا پرېــښودو
د ستاســو شــومره پــښتونخواه خوښــه وه[2]

بل ځائے ډېر ښکلي انداز کښې بابا سره د عقيدت اظهار کوي او
د هغهٔ ارمان کوي۔

---

[1] اوسنے افغانستان د خپل جوړښت په بهير کښې ، مخ ۱۰۹
[2] همدغه ، مخ ۱۱۴

د ابدال نه دې رنګ واخله نوي کهوله
کړه د ورور سره دې رنګ د نفرت پوله

ژوند په ګوښې ځان هر ګز نۀ شي خېبره
د ژوند لار کښې رورولي کاندئ قبوله

پانه د ابمل او د خوشحال راواړوه
تېر وختونه بيرته د ابدال راواړوه

يو شئ سره داسې نوے حال راواړوه
لږ د احمدشاه بابا احوال راواړوه[1]

د احمد شاه بابا مقام د شير احمد خليل په الفاظو کښې وګورئ :-

د خپل فهم و سياست له برکته
د ملت په ژبه ياد در دوران شو

خپل اولس په يوه خوله سره بادشاه کړو
د خپل وخت د تقاضو قهرمان شو

[1] اوسنے افغانستان د خپل جوړښت په بهير کښې . ص ۱۱۵

پــــه بلنـــــه لاړ د شــــــاه ولــــــي الله
هنــدو بــار تــه د غــزا پــه نيــت روان شــو

د اســلام او د پــښتو بيــرغ ئــې جــګ کــړو
چې ئې وار د پاني پت په لوئے ميدان شو

سـپينه تـوره ئـې ګلګونــه پــه غليـم کــړه
انتقــام بانــدې د هنــد د مــسلمان شــو [1]

---

[1] اوسنے افغانستان د خپل جوړښت په بهير کښې ، مخ ۱۱۲

# احتتامیه

---

د ذهني استعداد په لحاظ مونږ انسانان په درېو غټو ډلو کښې وېشلے شو یو قسم هغه انسانان چې د وخت سره یو شان روان وي.

دوېم قسم هغه خلق دي چې د وخت نه روستو تګ کوي.

او درېم قسم هغه نامتو وګړي دي چې د وخت نه وړاندې زغل کوي دا آخري قسم نابغه روزګار شخصیات د نړۍ په مخ چرته په عمرونو صدو پېړو په خوش قسمته قامونو کښې یو نیم پېدا کېږي چې قامونه او نسلونه پرې فخر او ویاړ کوي او تاریخ ئې پخپله سینه کښې ډېر په احترام او درناوي محفوظ ساتي.

ددې شعر په مصداق چې :-

شبنې خو د باران ډېرې اسمان نه راورېږي
یو نیم وي هغه څاڅکے چې ګوهر ترېنه جوړېږي

(قاضي حنیف)

خو زمونږ د پښتنو دا بدنصیبي ده چې که په دې قام کښې چرته دا قسم د صلاحیتونو خاوندان پېدا هم شي. نو مونږ ئې اول خو پېژنو نه او که هغه لکه د نمر د پلوشو پخپله زمونږ دپوهې سترګې اوبرېښوي. نو بیا ورته هغه مقام نهٔ ورکوؤ کوم چې د هغهٔ حق وي.

هغه د خوشحال بابا خبره چې :-

زۀ ئې چا لره وهم قدر ئې چا زده
پــه اور اوسوزه دا توري قلمونه

په داسې کسانو کښې يو احمد شاه بابا هم دے چې الله پاک په بې بها صلاحيتونو نمانځلے ؤ او بې شمېره خوبيانې ئې ورته ورکړې وي. خو د دنيا او خصوصاً د پښتنو د کمزورۍ او کم علمۍ په وجه ورته په تاريخ کښې هغه مقام نۀ دے ورکړے شوے. د کوم چې حقدار دے.

بلکه د افسوس خبره دا ده چې د تعصب، تنګ نظرۍ، نسلي او مذهبي بدنيتۍ يا د غلط فهمۍ په وجه د هغۀ خلاف هندوستان او ايران دواړو ملکونو کښې د هغۀ پاک او صفا ذات د دروغو په آلودګۍ د خيرن کولو کوشش شوے دے.

هر څو که ګنډاسنګه د هغۀ په ژوند د ستائينې وړ کار کړے دے خو بيا هم ډېرې نيمګړتياګانې محسوسېدې او د ډېر کار ضرورت ؤ.

ددې نه علاوه د احمد شاه بابا په فن کار هم د نيشت برابر ؤ. نو ما د اسم فل د خپلې تحقيقي مقالې دپاره د احمد شاه بابا ,, ژوند او فن،، موضوع خوښه کړه. که يو خوا په دومره بې مثاله او درون تاريخي ادبي شخصيت کار کول ما دپاره د ډېر فخر مؤجب ؤ چې د احمد شاه بابا دمتنوع او ګڼ اړخيز شخصيت او نيک سيرته انسان اصلي څهره د خپل ښائسته خط و خال سره ښکاره شي. نو بل خوا ډېر ګران او د ذمه وارۍ کار هم ؤ.

ما تر خپله وسه پوره کوشش کړے دے چې د هغهٔ د شعر و فن په هره موضوع هم تفصیلي او جامع لیکل اوکړم او د هغهٔ د فن د سمندر د تل نه قیمتي ملغلرې را اوباسم او ددې نه علاوه چې د هغهٔ په توره کوم د بدنیتۍ داغونه لګولے شوي دي .چې د هغې حقیقت هم څرګند کړے شي . دغه کار ما په لاتدینو دغه بابونو کښې راغونډ کړے دے .

په اولني باب کښې مې د ابدالي قوم مختصر تاریخ او د احمد شاه بابا د ژوند پوره حالات بیان کړي دي .ددې نه علاوه مې هم په دې باب کښې داحمد شاه بابا سیاسي رجحانات په تفصیل سره لیکلي دي .

په دویم باب کښې مې په بحث د یو شاعر د احمد شاه بابا د شاعرۍ پوره جاج اخستے دے او د هغهٔ د شعر واړه خصوصیات په ادبي سبک او د هغهٔ د شاعرۍ په مختلفو موضوعاتو باندې مې تفصیلي رڼا اچولې ده .ورسره ورسره مې د هغهٔ د شاعرۍ باره کښې د یو شک ازاله هم کړې ده او په مضبوطو دلیلونو مې دا ثابته کړې ده چې دا شاعري هم د احمد شاه بابا ده .

هم په دې باب کښې مې په بحث د یو پښتون هم د بابا په ژوند تفصیلي کار کړے دے او د هغهٔ په ژوند او شخصیت کښې چې د پښتونولۍ څومره خصوصیات او اوصاف وُ هغه مې په تفصیل سره ذکر کړي دي .په دې باب کښې مې په احمد شاه بابا په

حېث د يو بادشاه هم تفصيلي بحث کړے دے .او هغه ټول جنګونه د هغې اسباب ، کارنامې ، فتوحات مې د بحث لاندې راوستي دي کوم چې د هغۀ د ژوند يو اهمه حصه وه .ددې نه علاوه چې د بادشاه په حېث په بابا کښې څومره صلاحيتونه او دانشمندي وه په کومو شاهانه خوبيو ، چې هغه الله پاک نمانځلے ؤ .هغه مې هم په تفصيل سره بيان کړي دي.

په دريم باب کښې د احمد شاه بابا تصوفي رجحاناتو باندې تفصيلي رڼا اچولې شوې ده .او د هغۀ د پير مرشد باره کښې مې هم ډېر تحقيق کړے دے .دا ښئلي شوي دي چې هم دې رجحان د هغۀ په ټول ژوند ژور اثرات مرتب کړي وو.د هغۀ ټول ژوند کښې هم د هغۀ پير مرشد او د هغۀ تصوفي رجحانات لوئے لاس لري .او د هغۀ د ژوند په کاميابو او کامرانو کښې هم دا خصوصيات په قدم قدم په کار راغلي دي.

په څلورم باب کښې مې د احمد شاه بابا د کلام اوصافو ، موضوعاتو ، مضامينو باندې ژور کار کړے دے او د هغۀ د کلام په ګڼ اړخونو لکه د هغۀ په شاعرۍ کښې پښتونولي ، د هغۀ په کلام او شعر کښې د وطن او قام مينه ، رومانيت او د اسلام او مذهب مينه وغيره مې ښۀ په غور سره راخستي دي او تر خپله وسه مې پرې جامع کار کړے دے .

په پنځم باب کښې مې د احمد شاه بابا په کلام کښې فني لوازمات ، ادبي خوبۍ (شعري محاسن) ښۀ په تفصيل سره په

ګوته کړي دي .چې په دې مخکښې داسې په تفصیل سره چا کار نهٔ ؤ کړے.

دې نه علاوه مې د هغهٔ ادبي مقام او د مختلفو ژبو د پوهانو، عالمانو او شاعرانو په نظر کښې د هغهٔ د ژوند مختلفو اړخونو باندې رڼا اچولې ده.

امېد لرم چې زما دا وړه غوندې ادبي پېرزوېنه به د علم و تحقیق او ادب د تنده غریو تنده څهٔ نا څهٔ ماته کړي.

ACKU

# د احمد شاه ابدالي
# د زکریا رح سره تعلق

## ضمیمه (۱)

لکه ښنګه چې د احمد شاه بابا د ژوند او حالاتو نه معلومه ده چې هغوئي د اولیاؤ کرامو او صوفیاؤ کرامو سره بې انتها عقیدت لرلو. نو دغسې د هغهٔ د دور یو مشهور او رسیدلے صوفي ولي الله شیخ زکریا رح المعروف شهید بابا صاحب د میاں ګجرو کلي هم ؤ. دوئي سره هم د احمد شاه بابا ډېر عقیدت او مینه وه. د شهید بابا سره د هغوي د خاص عقیدت پته دې نه لګي چې هغوئي حضرت میاں صاحب شهید بابا ته د اخراجاتو د کفالت دپاره ډېر کلي د جاګیر په طور ورکړي وو[1].

### د شهید بابا مختصر حالات:

د شیخ زکریا رح اسلاف اباً جد سلسله سلوک و طریقت سره منسلک ؤ. د هغوئي دادا شیخ اورنګ موضع خرکي علاقه داؤدزی (پېښور) کښې اوسېدو. او د حضرت اخون پنجو بابا رح

---

[1] حیات و آثار حضرت میاں محمدعمر چمکني ، مخ ۱۳۲ بحواله تحفة الاؤلیا صفحه ۴۲

(اکبر پوره) د خلیفه شیخ عبدالغفور عباسي ننګرهاري مرید ؤ[1].
حضرت شیخ زکریا (شهید بابا رح) د خپل پلار برزګوار نه چشتیه طریقه کښې بیعت ؤ. پس ته د حضرت سراعظم په لاس بیعت شو او په طریقه نقشبندیه کښې د هغوئي مرید شو. او د خپل پیر طریقت د ارشاد مطابق علاقه داؤدزی کښې آباد شو. نن صبا دا کلے د میاں صاحب شهید د نسبت سره د میاں ګجرو په نامه مشهور دے[2].
حضرت شیخ زکریا طریقه چشتیه سره د تعلق په بناء سماع، وجد او ذکرِ جهر کولو. حضرت میاں صاحب د ښوکنو دا اعمال د طریقه نقشبندیه خلاف ګڼل. په دې وجه به ئې د شهید بابا نه خاطر دروند ؤ او ناراضه به اوسېدو. کله چې حضرت شیخ محمد یحیٰی ته ددې اطلاع اورسیده نو هغوئي راغلهٔ او ددې دواړو ناموړو مریدانو تر مېنځه ئې صلح اوکړه.
د شهادت واقعه:
یو ورځ چې شهید بابا د مازیګر مونځ نه پس مراقبه کښې ؤ نو یو څو کسانو پرې حمله اوکړه او دوئي ئې شهید کړو.

---

[1] حضرت اخوند پنجو بابا، ص ۱۱، ۱۲، ایضاً از میر احمدشاه اکبر پوري، ص ۴۱، ۴۲

[2] حیات و آثار حضرت میاں محمد عمر کښې دا خبره تصحیح کول ضروري ګڼم. هغوئي لیکلي دي چې د علاقه داؤدزو په صاحبے نومې کلي کښې آباد شو او نن صبا د میاں ګجر په نامه مشهور دے. حالانکه صاحبے د بډهنی سره نزدې جدا کلے دے او میاں ګجر د سیند نه پورې بیل کلے دے.

د حضرت میاں صاحب شهید بابا صالح فرزند شیخ محمد صلاح احمد شاه دراني بابا ته د فریادرسۍ درخواست اوکړو۔ بادشاه (احمد شاه بابا) فوراً د مجرمانو د ګرفتارۍ حکم صادر کړو ـ او په بالاحصار کښې ئې د قصاص په طور کیفر کردار ته اورسول [1] ـ

د حضرت میاں صاحب شهید بابا رح مزار شریف د پېښور نه پنځه کلو میټره نمر ختائه طرف ته د دله زاکو په لار د راقم د کلي بډهنۍ [2] سره په خواکښې هدیره کښې دے ـ دا هدیره د صاحبۍ او بډهنۍ په منیځ کښې ده ـ دلته چې کومه ګهړۍ اباده شوې ده ـ د هغې نوم د شهید بابا یو خادم اهل طریقت او سلوک پیرزاده پیر محمد (محله غریب آباد شهید بابا) ایخودلې ده ـ او هم په دې نامه مشهوره ده ـ دحضرت میاں صاحب زکریا المعروف شهید بابا مزار د خاص وعام دتوجه مرکز دے ـ د لرې لرې نه ئې خلق زیارت دپاره راځي ـ کال په کال پرې عرس مبارک کېږي ـ

---

[1] حیات و آثار ، ص ۱۳۲

[2] د بډهنۍ کلي د وجه تسمیه په حقله مختلفې رائې کېدے شي ـ خو زما په خیال چې کومې اهمې ږچې دي ـ یوه دا چې ما د خپل خاندان د یو مشر مشهور عالم دین قاضي عبدالصمد نه اوریدلي وو ـ چې دا د داؤدزو تپې آخري کلے دے نو په دې وجه به ورته انګریزانو باؤنډري وئیله چې رو رو بډهنۍ شوه ـ بله دا چې د یو تحقیق تر مخې داسې کلي چې کومو نامو کښې بدهـ یا بډهـ راځي نو هغه اکثرو کلو کښې د بدهـ مذهب ډهیرۍ (چې ددې مذهب درسګاه وي هم موجودې وي) دغسې بډهنۍ کلي سره خوا کښې هم دوه ډهیرۍ موجودې دي ـ نو کېدے شي چې په دې مناسبت ورته بدهنۍ یا بډهنۍ نوم ورکړے شوے وي ـ زۀ به انشاء الله یوه بله مقاله کښې په دې حقله په تفصیل سره بحث کوم ـ

ددې عرسونو ابتداء باقاعده طور د ۱۹۷۰ ء نه د راقم نيکۀ قاضي حاجي سلطان محمود بدهنی ، صاحبزاده غلام رسول (مشی) او حاجي مراد خان بدهنی کړې ده . چې تر اوسه ددې سالانه عرس اهتمام هر کال په ډېر عقيدت سره کېږي . په ګڼ تعداد پکښې عقيدتمند د لرې لرې نه ګډون کوي . او روحاني فيض حاصلوي .

ACKU

# ضمیمه ( ۲ )

## د عینو کاریز

تاریخ ګواه دے چې احمد شاه بابا د وطن او قام د ننګ ناموس دپاره تل خپل سر په تلي کښې ایښلے ؤ ـ او دغسې د هغهٔ په شاعرۍ کښې هم د ننګ ، پت او غیرت برملا اظهار شوے دے چې د هغهٔ پښتني احساسات او جذبات پکښې غزونې کوي او دغه د ننګ ناموس او د وطن د مینې جذبه د هغهٔ په وینه کښې اخلې وه ـ دغسې به د هغهٔ هغه خلق هم بې حده خوښېدل د چا په زړهٔ کښې چې به د وطن او قوم مینه او د ننګ غیرت جذبه وه ـ

د عینو دا تاریخي واقعه ددې خبرې او د بابا ددې احساس او جذبې پوره پوره عکاسي کوي ـ

واقعه دا ده چې د قندهار ښار ته نزدې یو کاریز دے چې د عینو کاریز ئې بولي ـ عینو یو ننګیالۍ پښتنه مېرمن وه ـ چې د احمد شاه بابا په وختو کښې ئې ژوند کاوهٔ ـ وائي کوم وخت چې احمدشاه بابا د هندوستان په یوه سفر تللو نو ددې مئینې مېړهٔ هم د احمد شاه بابا په عسکرو کښې هغه خواته ولاړ ـ خو احمد شاه بابا چې لهٔ هغه سفره بېرته بریالے او فاتح راؤګرځېدهٔ او د قندهار ښار ته نزدې ئې امر اوکړو چې هلته شپه تېره کړي او سبا د ورځې په ښکاره شان او شوکت ښار ته ننوزي، نو د مېرمن عینو مېړهٔ د

شپې په پته تر نور لښکر د مخه خپل کور ته ولاړ. د کور دروازه ئې اوټکوله. مېرمن عينو دروازې ته ورغله اووې پوښتل څوک ئې ؟ سپاهي خپل ځان ورته معرفي کړ. هغې مېرمنې بيا وپوښتۀ چې څنګه راغلې احمد شاه بابا څۀ شو ؟ لښکر مو بريالے شو ؟
مېړۀ ورته اوويل که مو لښکر بريالے شوے نۀ وے نو زۀ به هم تاته ژوندے نۀ ووم راغلے د پښتنو لويه سوبه او فتح په نصيب شوې ده.

عينو بيا پوښتنه وکړه نو تۀ ولې يوازې راغلې نور لښکر څۀ شو ؟ مېړۀ ورته ؤيل نور لښکر ښار ته نزدې د بابا په امر پروت دے. چې سبا د ورځې په رڼاکښې ښار ته ننوزي. زۀ ستا مينې ناقرار کړم او تر هغو د مخه راغلم. اوس زر دروازه راخلاصه کړه چې سره وينو.

عينو ورته ويل تۀ تر ځا نازولي وې چې ملګري دې پرېښودۀ او د بابا د امر پر خلاف را د مخه شوې ماته راغلې. آيا ستا نورو ملګرو ښځې نۀ درلودې. او کۀ ئې په سينو کښې زړونه نۀ وو؟ دا ټول ؤ خو هغو نۀ غوښتۀ چې د بابا د امر مخالفت وکړي. که سبا نورې پښتنې مېرمنې خبر شي ماته به څۀ وائي ؟ دا ډېر لوئے پېغور دے. هېڅکله تاته دروازه نۀ خلاصوم څه ولاړ شه. تر هغو زما ديد پر تا حرام دے څو بېرته ولاړ نشې او سبا د احمد شاه بابا تر بېرغ لاندې د خپلو نورو ملګرو سره يو ځائے رانۀ شې.

د عينو مېړۀ د خپلې ننګيالۍ ماينې له پېغوره وشرمېدۀ بېرته ولاړ. خو خيمې ته نزدې پېره دارانو ونيۀ. او سبا ددۀ عسکري مشر احمد شاه بابا حضور ته را اوغوښت او عرض ئې وکړو چې دا

سپائي دشپې بې لـه اجازې کورتـه تللي ؤ. احمد شاه بابا پوښتنه وکړه عسکر هغه څـۀ چې ليدلي او اوريدلي ووټول ورته عرض کړل.

احمد شاه بابا د هغې پښتنې پر پښتونواله او افغاني روح باندې افرين اؤايـۀ او د هغې په خاطر ئې ددې عسکر گناه معاف کړه او مېرمن عينو ته ئې دغه کاريز ور وبانبۀ چې تر اوسه پورې د عينو په کاريز مشهور او د قندهار د ښار لمر خاتۀ خواته يو رباط لرې پروت دی[1].

کـه يو خوا ددې پورتنۍ واقعې نه د يو پښتنې ننگيالۍ عينو په وطن د مئينتوب او ننگ ناموس پته لگي او دا ترې هم ښکاره کېږي چې د افغانستان د زنانه ؤ هم د خپل وطن، قوم او احمد شاه بابا سره ځومره مينه او عقيدت ؤ او په زړونو کښې ئې د بابا ځومره احترام ؤ نو بله دا چې احمد شاه بابا هم داسې خلق ډېر زيات خوښول او د هغوي عزت او درناوے ئې کولو .ځوک چې به په وطن او قام مئين ؤ ځکه چې احمد شاه بابا لکه چې ښکاره ده وطن او قام باندې پخپله هم بې شانه مئين ؤ او ددې خدمت دپاره ئې د يو سختې نه هم مخ نۀ اړولو او بې شانه کاميابۍ او خوشحالۍ ئې د وطن د ناوې د غاړې هار کړي دي.

---

[1] د افغانستان د وزارت معارف د لسم ټولگي پښتو درسي کتاب، ص ۱۰۷ تا ۱۰۹

# کتاب نامه

## پښتو


- احمد شاه دراني ګنډا سنګهـ ، کال ۱۳۲۲هـ ش دولتي مطبعه
- احمد شاه بابا د پښتو غزل پلار ، ترتیب و تدوین پروفیسر افضل رضا ، ۱۹۷۸ء یوسف لودي سپین زر سروسز پېښور .
- احمد شاه بابا افغان ، مؤلف غلام محمد غبار ، ژباړن امین الله دریځ ، ۱۳۷۷هـ ش
- ایضاً ، د ستر احمد شاه بابا د اتل ژوند تاریخ ، میر غلام محمد غبار
- ایضاً ، مقاله د احمد شاه بابا شخصیت ، میر غلام محمد غبار
- ایضاً ، مقاله د احمد شاه بابا نسب ، میرغلام محمد غبار
- ادب څهٔ دے ، مؤلف سحر یوسفزے ، منظور عام پریس پېښور


ACKU

- اوسنۍ افغانستان د خپل جوړښت په بهير کښې ، ۱۹۹۷ء پېښور پښتونخوا ، د افغانستان په جوړېدو کښې د احمد شاه بابا ونډه ، مقاله غلام محمد زرموال.
- ايـــــضــــــاً ، د احمد شاه بابا اصلاحات ، مقاله محمد ګل وطنپال
- ايـــــضــــــاً ، احمد شاه بابا او معاصر افغانستان ، غوث خېبري.
- ايـــــضــــــاً ، لويه جرګه ، دوکتور محمد امين
- ايـــــضــــــاً ، د افغانستان په تاريخ کښې د ملي اردو ، جنرال رحمت الله سپائي.
- ايـــــضــــــاً ، په افغانستان کښې د ملت جوړونې ، نبي مصداق
- ايـــــضــــــاً ، د احمد شاه بابا بهرنۍ سياست ، علي خان مسود
- ايـــــضــــــاً ، د کليزې بلندويي ډلې په نمائندګۍ کښې ، زرين انځور
- پښتانۀ د تاريخ په رڼا کښې ، بهادر شاه ظفر کاکاخېل ۱۹۹۹ء پېښور
- پښتانۀ شعراء ، علامه عبدالحی حبيبي ، چاپ ۱۳۱۸ کابل
- پښتانۀ شعراء دريم جلد پښتو ټولنه کابل

- جاوید نامه ، پښتو ترجمه امیر حمزه شنواري
- حیات و آثار حضرت میاں محمد عمر چمکني ، ډاکټر محمد حنیف ، مطبع محله جنگي پېښور
- خلاصة الانساب از حافظ رحمت خان شهید کتب خانه پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي
- رساله مسائل ذبایح ، از حضرت حافظ گل محمد مرغزي، کتب خانه سودائي مُلا صاحب موضوع بام خېل صوابی
- د احمد شاه بابا د اشعارو پښتو شرح ، غلام خان د چاپ کال نۀ لري۔
- د میرزا خان انصاري دیوان ، سمونه او څېړنه ، ډاکټر پرویز مهجور خویشکي ، ۲۵ نومبر ۲۰۰۴ء جدون پرنټنګ پریس پېښور
- د افغانستان نومیالي ، دریم ټوک ، عبدالرؤف بېنوا ، ۱۳۵۲
- د افغانستان تاریخي پېښلیک ، لومړے ټوک ، پوهاند عبدالحی حبیبي ، ۱۳۴۲ س کابل
- د بیدیا گلونه ، سید رسول رسا ، نوے ایډیشن ، یونیورسټي بک ایجنسي د چاپ کال نۀ لري۔
- د پښتونخوا شعر و بهار ، حبیب الله رفیع ، ډارمسټر دریم چاپ ۱۹۸۸ء کابل پښتو ټولنه۔
- د پښتو نوې املاء ، ډاکټر راج ولي شاه ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي ، ۱۹۹۱ء حمیدیه پریس پېښور

- د پښتو شعر و ادب تاریخ ، شیر افضل بریکوټي ۱۹۹۵ء ملت پرنټرز لاهور
- د ځکمنو میاں عمر رح ، عبدالشکور رشاد
- د خلکو سندرې ، حبیب الله رفیع ، ۱۹۸۵ء د افغانستان اکېډمي تاریخ و ادب ټولنه
- دیوان احمد شاه ابدالي ، هدایت الله قاضي پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي چاپ
- دیوان عبدالرحمان ، مولانا عبدالقادر
- د لوئے احمد شاه بابا د ۲۲۰ تلین په مناسبت یو ورځنے سیمینار ، د مقالو مجموعه ، دسمبر ۱۹۹۳ء ، جدون پرنټنګ پریس پېښور
- ایضاً ، لوئے احمدشاه باباد یوشاعرپه حېث ، همېش خلیل
- ایضاً ، د احمد شاه بابا د ادبي او سیاسي ژوند لنډه خاکه، سید صابر شاه صابر
- ایضاً ، د احمد شاه بابا شعري ویي پانګه ، ډاکټر مجاور احمد۔
- زرکانړے ، مشتاق مجروح یوسفزے ، ۱۹۹۸ء تاج پرنټنګ پرېس پېښور
- ساختمان و حرف پښتو ، فرهادي ډاکټران ژباړ او څېړنه ، ۱۹۸۸ء کابل پوهنتون کابل۔
- ظهورونه ، مؤلف ظهور آزاد قریشي ایډوکیټ ، ۲۰۰۰ء وحدت پرنټر پېښور

- ظهورونه ، د پښتون قامي تشکيل او احمد شاه ابدالي ، مقاله افضل خان لالا
- ايضاً ، د افغان ملت پلار ،مقاله ډاکټر شير زمان طائزے
- ايضاً ، د احمد شاه ابدالي لنډه پيژندګلو ، مقاله حافظ محمد منير منير قريشي
- ايضاً ، احمد شاه ابدالي ، مقاله حبيب الله رفيع
- ايضاً ، د احمد شاه بهرنۍ سياست ، مقاله د علي خان مسود .
- کليات خوشحال خان ختک ، مقدمه و حواشي دوست محمد خان کامل ، ۱۹۵۲ء اداره اشاعت سرحد
- لوئے احمد شاه ، عبدالحئ حبيبي ، ۱۳۱۹هـ ش کابل

# اردو

- احمدشاه درانی ، گنڈا سنگھ کال ۱۳۲۲ھ ش ، دولتي مطبع
- التصوف ، اسحاق ، رمضان المبارک ۱۳۹۱ھ
- شریعت اور طریقت ، حکیم الامت تهانوي اشرف علي، سن اشاعت ندارد کتب خانه اشرفیه جامع مسجد روڈ راولپنڈی ،
- اردو میں اصول تحقیق ڈاکٹر جمیل جالبی،سلطان بخش صدر مقتدره قومی زبان اسلام آباد ، مطبعه المکتبة العلمیة ۱۵ لیک روڈ لاهور
- اصطلاحات صوفیه ،محمدعبدالصمد حضرت خواجه ، سن اشاعت ندارد ناشر مکه بکس ۵ بخشی سٹریٹ بیرون موری دروازه لاهور
- اولیائے قصور ، محمد شفیع ،۱۹۷۲ء ، احمد ربانی جیلانی پرنٹنگ پریس لاهور
- پتهان ، اولف کیرو ، اردو ترجمه له سید محبوب علی (ڈائریکتر پښتو اکېډیمي پېښور یونیورستي ) دوېم ځل ۱۹۸۸ ء
- تاریخ تصوف ، چشتی یوسف سلیم پروفیسر ، مجمد

یوسف گورایہ ڈائرکٹر علماء اکیڈمی محکمہ اوقاف پنجاب ،کال ۱۳۹۲ھ ـــ ۱۹۷۲ء ریڈنگ پریس اردو بازار لاهور

- تاریخ مشائخ چشت ، نظامی خلیق احمد ، مکتبه عارفین ، رقبه بلڈنگ پاکستان چوک کراچی ، ایجوکیشنل پریس کراچي
- تاریخ هند اردو ترجمه ، مولوي ذکاء الله
- تذکرة الابرار والاشرار ، اخون درویزه کال ۱۲۸۷ درمطبع محمدي پشاور باهتمام یحيٰ طبع شد
- تذکره صوفیائے سرحد اردو ، مولانا اعجاز الحق قدوسی
- تصوف کی حقیقت ، پرویز علامه ستمبر ۱۹۸۱ء ادارۂ طلوع اسلام گلبرگ لاهور
- جاوید نامه ، محمداقبال ، ۱۹۲۴ء لاهور چاپ
- جاوید نامه محمداقبال ، پانچواں ایڈیشن ۱۹۹۳ء
- عروض و بدیع ، پروفیسر صابر کلوروي ، ۲۰۰۱ء ، منظور پریس لاهور
- فصاحت و بلاغت ، فاروقی محمد ، یونیورستی بک ایجنسي پېښور ۱۲ مارچ ۱۹۵۹ء غنی سنز پرنټرز
- فصول الحکم ، ابن عربی ، اردو ترجمه له مولانا عبدالقدیر ۱۹۴۲ء
- فصاحت و بلاغت مرتبه ډاکټر محمدطاهر فاروقي ، اشاعت پنجم ۱۹۲۱ء ناشر یونیورستي بک ایجنسي

- کشف المحجوب ، هجویری سید علیؒ ، ترجمه او تهذیب
له ابونعیم عبدالحکیم خان نشتر جالندهری ، سن اشاعت ندارد ، شیخ غلام علي اینډ سنز انار کلي لاهور
- مناقب حضرت میاں صاحب چمکنی ، از مولانا مسعود گل ، کتب خانه ، مولانا عبدالقدوس سابق صدر شعبه اسلامیات پشاور یونیورستي
- همفات ، شاه ولی الله دهلوي ، اردو ترجمه له محمد سرو سندهـ ساګر اکیډمي لاهور ، مطبع لاهور آرټ پریس انار کلي-

# لغتونه

- پښتو قاموس ، پښتو فارسی ، د افغانستان
- پښتو ـ پښتو تشریحی قاموس ، د افغانستان د علومو اکیډمی
- د پښتو لغات ، حمیدالله صاحبزاده ، ۱۹۹۲ء ، صاحبزاده کتاب کور پښین کوئټه
- ژبیانګه ، شینوارے دوست سر ، سبا کتابخانه ډهکی نعلبندی قصه خواني پېښور
- ظفراللغات ، بهادر شاه ظفر ، د چاپ کال نۀ لري ، یونیورستي بک ایجنسي پېښور -